



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښځه او اسلام

ليکوال : محمد حسن حقيار

۱۳۹۳ ل کال

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب ځانګړتیاوې

د کتاب نوم : ښځه او اسلام
مؤلف : الحاج قاضي محمد حسن حقيار
د خپرندوی شمېره: (۵)
خپرندوی : د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه
کمپوز : رفیع الله روشن
چاپ نېټه : ۱۳۹۳ ل کال
د چاپ وار : لومړی
شمېر : ۱۰۰۰

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک

سرلیک | مخ


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| د سریزې پرځای | ۱ |
| یوه دعوه او ځواب یې | ۲ |
| ښځه د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې | ۴ |
| ښځه په بېلابېلو مذهبونو کې | ۱۹ |
| مساوات | ۲۸ |
| آیا د مساوات غوښتونکي پر مساوات عمل کوي ؟ | ۴۰ |
| ښځه او کار | ۴۴ |
| په اسلام کې دښځې د کار کولو حکم | ۴۸ |
| د کور څلور دېوالونه د چاپاره ؟ | ۵۲ |
| په اسلام کې د فحاشۍ او بې حیایۍ مخنیوی | ۵۵ |
| په اسلام کې د ښځو منزلت | ۵۸ |
| په اسلام کې د نارینه او ښځې اړیکې | ۶۲ |
| د ښځې د پېدایښت موخه | ۶۵ |
| څو شبهې او ځوابونه یې | ۷۳ |
| حقوق | ۸۷ |
| پېژندنه او نظریې | ۸۸ |
| د لومړي نظر د خاوندانو دلایل له قران څخه | ۸۹ |


www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library


له احاديثو څخه ۹۵
د (لن يفلح قوم) حديث ۹۸
اجماع او تاريخي پېښې ۱۱۱
۱: تاريخي پېښې ۱۱۱
۲: اجماع ۱۱۶
سکوتي اجماع ۱۱۷
قياس او تېر شريعتونه ۱۲۰
د افغانستان په راتلونکي اسلامي حکومت کې ........ ۱۲۹
نظرښکته اچول ۱۵۱
د ښځې کتل پردي نارينه ته ۱۵۴
عورت ۱۵۸
د ښځې عورت د پردي نارينه پر وړاندې ۱۵۹
مخ او مړوند ۱۶۰
محرمو ښځو ته کتل ۱۹۳
د ښځې محرم څوک دی ۱۹۴
د مسلمانو ښځو کتل يوه بلې ته ۱۹۷
هغه چې جنسي ميلان نلري ۱۹۸
د ښځې کتل نارينه محرم ته ۲۰۲
دعورت لوڅول په يوازېتوب کې ۲۰۳
خلوت له پرديو سره ۲۰۵


www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| په یوه بستره کې یو ځای کېدل | ۲۰۷ |
| په ټولنیز ژوند کې د ښځې او نارینه اختلاط | ۲۰۸ |
| د ناروغتیا په وخت کې د ښځې او نارینه لخوا د یوبل پوښتنه | ۲۱۳ |
| له ښځو سره په لاس سترې مه شي | ۲۱۶ |
| ښځې ته د کتلو مباح عذرونه | ۲۲۷ |
| د ښځې غږ عورت نه دی | ۲۲۹ |
| د نرمو او نازکو جامو استعمال | ۲۳۳ |
| د ښځو لپاره د سینګار اندازه | ۲۳۴ |
| د ښکلا ملکه | ۲۳۶ |
| د ښځو لپاره د سرو زرو او وریښمو استعمال | ۲۳۹ |
| د نارینه او ښځو یو پربل د سلام حکم | ۲۴۰ |
| ښځه په سفر کې | ۲۴۵ |
| د ښځو تلل حمام ته | ۲۴۷ |
| زیارتونو ته د ښځو د تللو حکم | ۲۴۸ |
| ځان تشبیه کول | ۲۵۱ |
| د ښځې پر لاس ذبحه | ۲۵۳ |
| ټولنیز عبادت | ۲۵۵ |
| څو مسئلې | ۲۶۹ |
| د ښځو نبوت | ۲۷۳ |
| مأخذ او مراجع | ۲۸۰ |


www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریک یادښت

فرهنګي څانګه د افغانستان ملي تحریک له اساسي څانګو څخه یوه اساسي څانګه ده.
د دې څانګې دنده داده چې هېوادوالو ته فرهنګي خدمات وړاندې او ګټور فرهنګي کارونه ترسره کړي. د تاریخي، ملي، کلتوري ورځو او تاریخي او ملي شخصیتونو نمانځل ددې څانګې نورې دندې دي.
د هېواد د لیکوالو د علمي، دیني، روزنیزو او معلوماتي اثارو چاپ هم ددې څانګې له اساسي دندو څخه ګڼل کېږي. له هغې ورځې راهیسې چې تحریک خپل عملي فعالیتونه پیل کړي دي، نو دې څانګې هم ورسره سم خپل فعالیتونه چټک کړي دي. تاریخي ورځې یې نماځلي، تاریخي واټونو ته یې لوحې جوړې کړي. علمي سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړي دي.
د تحریک دې څانګې د تحریک د عمومي هدفونو په رڼا کې وټیبیله چې په یوځایي ډول (شل عنوانه) کتابونه چاپ کړي. په دې اثارو کې اکثره دیني او علمي اثار شامل دي چې درنو هېوادوالو ته یې وړاندې کوي.
دا اثر (ښځه او اسلام) چې ستاسو په لاس کې دی، ښاغلي (قاضي محمد حسن حقیار) لیکلی او د همدغو شلو عنوانو اثارو له جملې څخه دی. هیله ده درانه لوستونکي ترې ښه ګټه پورته کړي. تحریک خپلو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې په راتلونکي کې به هم خپلو دې ډول هڅو ته دوام ورکړي.

د هېواد د فرهنګ د بډاینې په هیله
په درناوي
د افغانستان ملي تحریک
فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزې پرځای

له ډېره وخته راهیسې د ښځو د حقوقو او په اسلامي ټولنه کې د ښځو د رول او حیثیت موضوع جنجالي بڼه خپله کړېده او په دې وروستیو کې خو دا جنجال خپل وروستي پړاوونه وهي او د ورځې په مهمې موضوع بدله شوې ده .

دواړه خواوې (د ښځو دحقوقو پلویانو او په دې اړه د سخت دریځ لرونکي ) له افراط او تفریط څخه ډک شعارونه ورکوي او خپل مقابل لورى پرې ملامتوي چې متاسفانه د دواړو خواو په دې جګړه کې د اسلام روح ټپي کېږي او په مستقیم او غیرمستقیم ډول د اسلام سپېڅلي او مبین دین د بدنامولو او په اوسني وخت کې د ناچلنده دین د پېژندلو او معرفي کولو هڅې کېږي په اسلام کې دښځو د رول او ارزښت په اړه خو په نورو ژبو کې ډېر کتابونه لیکل شوي دي ، خو په پښتو ژبه کې داسې کتاب چې د لوستونکیو هر اړخیزه تنده ماته  اود اسلام ریښتونی تصویر یې انځورکړی او په دې اړه ټولو پوښتنوته شرعي ، معقول او منطقي ځواب ووایي لا تردې دمه مانه  وو موندلی له همدې کبله مې قلم راواخیست  او لستونې مې را بډوهل .

خطاء ، سهوه او اشتباه له انسان سره ملګرى ده زه دا دعوه نه شم کولای چې همدا کتاب دې په دې اړه لومړنی  او  وروستنی کتاب وپېژندل شي او یا بل چاته د څېړنې او تحقیق اړتیا  نه لیدل کېږي خو  دومره په زغرده ویلی شم چې انشاء الله  د اسلام  اصلي بڼه په کې ښودل شوې ده  او که

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک يې راسره نه مني يا اختلاف کوي نو اختلاف يې په سر سترګو خو بايد چې د اختلاف طرز يې منطقي ، اصولي او شرعي وي او دلايل يې هم ثقه او معتبره وي .

د دې کتاب ليکلو کې مې له عمده ، ثقه او معتبرو ماء خذونو او مراجعو څخه استفاده کړې ده ،هره مسئله مې چې له کوم کتاب څخه رانقل کړې ده نو د همدې مسئلې په پای کې مې د هماغه کتاب نوم هم ورسره ليکلی او حواله مې پرې ورکړې ده .

همدا ډول له ښاغلي رفيع الله روشن او انجنير محمد افضل ذاکر څخه ډيره مننه کوم چې د دې کتاب په کمپوزاو ډيزاين کې يې ډېره ستوماني وزغمله او دکتاب ناوې ته يې د چاپ هار ور په غاړه کړ .

همدارنګه له ټولو هغو ورونو او خويندو څخه ډېره مننه چې د دې کتاپ په چاپ کې يې مرسته کړې ده .

محمد حسن حقيار

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوه دعوه او ځواب يې

لکه چې په پېلامه کې مو ولوستل د اسلام د ښمنان په اسلام تور لګوي چې ښځې ته يې حقوق نه دي ورکړي ، دوی وايي ښځه په اسلام کې هېڅ ازادي نه لري او د وينځې حيثيت لري ، له اسلام او قران څخه نا خبره مسلمانان هم له دوی سره د اشعار زمزمه کوي او په غير شعوري ډول د اسلام د دښمنانو په لاس د مسلمانانو په مقابل کې استعمالېږي ، دا چې دا دعوه څومره حقيقت لري او يا څومره ناوړه تبليغات او پروپاګند دی چې په اسلام پسې کېږي وروسته به لوستونکيو ته جوته شي ، موږ که چېرې له اسلام څخه مخکې د جاهليت وخت ته کتنه وکړو او يا له دې څخه هم لږ وړاندې لاړ شو او وګورو چې په هغو ټولنو او وختونو کې د ښځو حال او حيثيت څه و او بيا په اسلام کې د ښځو له حقوقو څخه ځان خبر کړو نو راته په ډاګه به شي چې ربښتيا هم څومره درناوی او عزت چې ښځو ته اسلام ورکړی په يو بل مذهب کې هم نه دی ورکړل شوی .

د دی دعوې دثبوت لپاره څو قومونه او تمدنونه له اسلام څخه وړاندې او څو قومونه اوتمدنونه له اوسني وخت څخه د بېلګې په ډول يا دوو ، او ګورو چې حتی په هغو ملکونو او قومونو کې چې دښځې د آزادۍ او مساوات چېغې وهل کېږي د دوی حالت په موجوده عصر کې څنګه دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښځه د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې

## الف : په یونان کې

په پخوانیو قومونو کې یونان یو پرمختللی قوم و ، مګر په دې قوم کې ښځې هېڅ حیثیت نه درلود .

په یونان کې به ښځه د انساني ټولو بدبختیو بنیاد ګڼلی شوه، د یونانیانو په نظر کې ښځه د ټیټې پوړۍ مخلوق و. د تهذیب او کار له پرمختګ سره ښځې هم لږ پرمختګ وکړ مګر ورو ورو په یونانیانو بیا شهوت غلبه وکړله په دې وخت کې بدلمنو ښځو دومره پرمختګ وکړ چې په انساني تاریخ کې ساری نه لري او د هر فن خاوندان به له دوی څخه راتاوو .

په یونان کې ښکلا پالنې او د ښکلا ذوق دومره غلبه وکړله چې بلکل خپل ځان ورځنې هېر شو، لویو فیلسوفانو او پوهانو به زنا څه عیب نه بلله، نکاح پکې غېری ضروري وګڼل شوه ، له نکاح څخه پرته یوځای کېدل څه د شرم خبره نه وه ،د کام دیوي لمانځنه په ټول یونان کې رواج شوه ( کام

(c) ketabton.com: The Digital Library

ديوي د ديوتا ښځه وه مګر بيايې هم له نورو درېو ديوتاګانو سره آشنايي درلوده او دهغې په دربار کې د هرچا غوښتنې پوره کېدلې تر دې چې حرامي کېوپړه پيدا شو او بيا دې قوم دېته د معبوديت درجه ورکړله ) فاحشه خانې پر عبادتخانو بدلې شوې، د نکاح اهميت له منځه لاړ په همدې ترتيب ښځې خپل اصالت له لاسه ورکړ ، حتى په يونان کې لکه د ارسطو مشهور فيلسوف د اسبرطي په خلکو پړه اچوي چې له ښځو سره ولې آساني او ښه ګذاره کوي [١].

په يونان کې به ښځې دخارويو او نورو ملکيتونو په څېر پلورل کېدلې ، ( ريموستن ) د يونانيانو يو استازی وايي چې موږ لوڅې ښځې د خوند او صادقې او مهربانه ښځې د جسم د نورو غوښتنو د تامين لپاره غوره کوو [٢].

## ب ـ په روم کې

په روم کې ښځو ته د خاروي په سترګو کتلی شول ، دلته د لوړ کچ يوې غونډې فيصله وکړله چې ښځه ناولی حيوان دی چې نه کرامت لري ، نه عزت او نه درنښت دهغوی سپک ساتل پکار دي او دخدمت لپاره يې استعمالوئ [٣].

دلته سړی دښځو بادارو ، په خپلو ښځو او اولادونو يې پوره مالکانه حقوق درلودل،آن په ځينو حالاتو کې يې دهغوی د وژلو اختيارات هم درلودل خو کله چې په روم کې عملي مدنيت خپور شو نو ښځو هم څه دمه

---

(١) الاسلام بلامذاهب: دکتور مصطفى الشکعه او المرأة في الاسلام : استاد محمد عزه دروزه.

(٢)حياة اليونان، دحميرا بزګر دمونوګراف په حواله

(٣)حقوق المراة في الاسلام عبدالقادر شبية الحمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه اوس هم د پردې دود خونه و اوفاحشه خانې وې مگر عفت او پاکئ ته په درنه سترگه کتل کېدل او داخلاقو معیار هم اوچت و .

یوځل یو رومي سناتور دخپلې لور په مخکې خپله ښځه ښکل کړله د ده دا کار دملي اخلاقو سپکاوی وگڼل شو او په ملي شوری کې پرې د ملامتئ غږ و شو مگر د غربي او شرقي تهذیب او تمدن له پرمختگ سره د رومي قوم په افکارو کې هم د ښځو په هکله بدلون راغی او ورو ورو د نکاح او طلاق په قوانینو کې دومره تغیر راغی چې حالات بلکل سرچپه شول. ښځو به خاوندانو ته پورونه ورکول، خاوندان به د ښځو مرئیان وو په وړه خبره هم طلاق ورکول کېده په دې دور کې به ښځو پرله پسې مېړونه کول .سید مودودي( رح) دیوې ښځې یادونه کوي چې لس مېړونه یې کړي وو .

جودنیل وایي چې یوې ښځې په پنځو کالو کې اته مېړونه کړي وو .

سناتور جوروم له ټولو څخه د یوې باکمالې ښځې یادونه کوي چې هغې د نربچي په وروستي وار درویشتم مېړه کړی و او د مېړه یې هم دا یوویشتمه ښځه وه .

آزاده عشق بازي څه د شرم او عیب خبره نه وه، ښځو او نرانو به یوځای او لوڅ لامبل[۴].

ښځو خو انساني حقوق بالکل نه لرل حتی د روم رسمي قانون هم ښځه نا اهله بلله او داهلیت د نه درلودلو په اسبابو کې یې ښځه توب ـهم مهم لامل باله یعنې یوازې نارینه یې اهل بلل .

---

(۴)پرده سید ابوالاعلی مودودي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ج : په مصر کې

په مصر کې ښځو ځان د خاوندانو وينځې ګڼلې د هغوی خدمت به يې په دې ډول کاوه لکه چې وينځه د خپل بادار خدمت کوي ، هغوی هېڅ ډول آزادي نه درلودله اوخاوندان دهغوی معبودان ګڼلی شول .

په مصر کې ښځو کې خو يو وخت د شهوت رانئ جذبه دې حد ته رسېدلې وه چې د مصر فرعون به هلکان وژل او نجونې به يې د خپل خدمت او دشهوت د اور د سړولو لپاره ژوندۍ پرېښودلې .

الله ج پر بني اسرائيلو د احسان په ډول د دې واقعې يادونه څو ځلې کړې ده فرمايي : (( و اذنجينا کم من آل فرعون يسومونکم سوء العذاب يذبحون ابناء کم و يستحيون نسائکم .....))[٥]

يعنې : ( او ياد کړئ هغه وخت چې خلاص موکړئ د فرعون له خلکو څخه چې در رسولو به يې تاسې ته لوی عذاب، ذبحه کول به يې ستاسې زامن او ژوندئ به يې پرېښودلې ستاسو ښځې ) د هغوی څه نور حيثيت نه و او داسې ظلم به ورسره کېده چې هېڅ حد نه لري .

## د : په هند کې

په هند کې هم د ښځو هغه حال و کوم چې په روم او يونان کې و.

دلته به کله سړيو د ښځو عبادت کاوه او کله به ښځو د سړيو عبادت کاوه، فاحشه خانې په عبادتخانو بدلې شولې. په هند کې دښځو پرمخ د تعليم

---

(٥)البقره ۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازې وتړل شوې او داسې په سپکه سترګه به ورته کتلې شول چې له ښځو سره اړیکو لرونکیو کسانو لپاره یې د نجات او خلاصون دروازې تړلې وې په سند (دپخواني هند په یوه برخه) کې له اسلام څخه د مخه ښځه بالکل بې عزته وه کله به یې چې مېړه مړ شو او سوځاوه به یې دا یې هم ورسره سوځوله ،که دې به انکار وکړ رټل کېدله،بد اخلاقه به ګڼل کېدله، هر چا به ورته دغدارۍ او بې وفا په سترګه کتل او بیا به ورسره هېچا نکاح نه کوله او دهمېش لپاره به له خاوند او زوجیت څخه بې برخې وه، زنا په کې عام رواج و .

د نکاح او کورنۍ ستومانتیا هېچا پر اوږه نه اخېستله اوس هم په هند کې ښځه دټولنې سپکه او ذلیله برخه ده هېڅوک ورته د قدر په سترګه نه ګوري ،په مختلفو پلمو وژل کېږي .

دهند پارلمان ته دیو ورسپارل شوي سند له مخې د ۱۹۸۸_۱۹۹۱ میلادي کلونوتر منځه په هند کې (۱۵۸۹۱) ښځې د واده د جهیز د نشتوالي له کبله وژل شوي دي او یا یې د خلکو د پیغور پر اساس ځان وژلی دی[۶].

و ګورئ چې دواده دجهیز د نشتوالي په معمولي وړه خبره څومره ښځې وژل شوي دي دا دی مساوات ؟دا دی د ښځو حقوق او آزادي ، اوس هم د پخواني جاهلیت په څېر په هند کې د نویو انجونو د وژلو لړۍ ښه توده روانه ده .

---

(۶) شهادت ۱۲\۲۹\۱۳۷۰ هجري لمریز .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پــه بېلابېلـو پلمـو هركـال زرګونـه ښـځې ځانونـه وژنـي د نـوای وقـت ورځپـاڼې د ۱۹۹۹ کـال ګڼـې د يـو خبـر لـه مخـې ، تېـره ورځ د جهيـز د نشتوالي له کبله په هند کې د يوې کورنۍ ۱۷ پېغلو يو ځای او په يوه ورځ ځان وواژه .

## ه : د عربو په جاهليت کې

په عربو کې لـه اسلام څخه وړاندې ښـځې د چانه خوښېدلې د هغوی پـه زېږېدلوبه شرمېدل هغوی به يې دنفقې او جامې له وېرې او يا د جاهلي غيرت له کبله ژوندئ ښخولې په عربو کې به چې د چا پـه کـور کې انجلۍ پيدا شوه ګويا په هغه کور کې به قيامت و د قهر او غضب څپې بـه يې پـه مـخ را ښکاره کېدې شـوې د دوی د دې باطـل رواج او بـاطلې عقيـدې د لـه منځـه وړلـو پـه غـرض الله ج فرمـايي : ((لله ملک السموات والارض يخلق مايشاء يهب لمن يشاء انا ثا ويهب لمن يشاء الذكور او يزوجهم ذکرانا و اناثا و يجعل من يشاء عقيماً انه عليماً قديراً ))[۷]

(( يعني : الله لره دی حکومت په اسمانو کې او په ځمکه کې پيدا کوي څه چې وغـواړي ، بخښـي چاتـه چـې وغـواړي لـوڼې او بخښـي چاتـه چـې وغواړي زامن يا ورکوي جوړه زامن او لوڼې او ګرځوي چا لره چې وغواړي شنډې خدای ج پوه او قادر دی پر هر څه . ))

---

(۷) الشوری ۴۹_۵۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته الله ج لومړی یاد دا نجونو وکړ او هلکان یې وروسته ذکر کړي معارف القران د قرطبي په حواله د واثله بن اسقع قول راوړی چې د کومې ښځې له ګېډې څخه لومړی لور پیدا شي هغه مبارکه وي [۸].
الله ج فرمايي چې دلور او زوی ورکول زما په اختيار کې دي تاسو په هر حال شاکر و اوسئ او د لور په زېږیدلو مه خفه کېږئ.
په جاهليت کې په ښځو داسې ظلم کېده چې حتی هغوی ته د انسان په سترګه نه کتل کېدل، هغه وخت به ښځو لوڅ او بربنډ د بيت الله طواف کاوه.
بربنډ ګرځېدل څه د شرم خبره نه وه، د منافقينو د رئيس عبدالله ابن ابی ابن سلول شپږ وينځې وې چې د هغوی لپاره يې سرايونه جوړ کړي وو، او هغوی يې زنا ته اړ وېستلې، وهلې به يې او له هغوی څخه به يې دومره ډېرې پيسې وغوښتې چې هغوی به يې له ورکولو څخه عاجزې وې او نا چاره به وې چې بد کاري وکړي.
هلته د هر رئيس همدا حال و، ښکاره سرايونه به و او دبېرغ په څېر توتې به پرې زوړندې وې هر چا به پېژندل چې دا د زنا او بدکارئ ځايونه دي.
دمېلمنو لپاره به يې د قدر، درناوي او احترام په غرض انجونې وروړاندې کولې چې زنا به يې ورسره کوله..... [۹]
لنډه دا چې په جاهليت کې له ښځو سره ظلم خپل وروستئ پوړۍ ته رسېدلی و په عربو کې به انجلۍ دومره بده ګڼلی شوه چې هغه به يې ژوندۍ ښخولې واُدالبنات (د ژونديو لورګانو ښخول) په هغوی کې بالکل

---

(۸) معارف القران ج ۱\۲۵ مولانا محمد شفيع
(۹) روائع البيان في تفسير آيات الاحكام محمد علي صابوني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عام رواج و او په دې به يې ويار کاوه ، د خسر او اوښې نوم له ښكنځلې ځخه کم نه و کله به چې چا کره لور پیدا شوه دومره به خفه و چې ګویا غټ غم پرې راغلی دی قرآن د دوی د دې جاهلې او ناوړه عنعنې حکایت داسې کوي (( و اذا بشر احدهم بالانثی ظلت و جهه مسودا و هو کظیم یتواری من القوم من سوء ما بشربه ایمسکه علی هون ام یدسه فی التراب الاساء مایحکمون ))[۱۰]

(یعني : او کله چې خبر ورکړای شي یو تن د دغو کفارو ته په پیداکېدلو) د لورنو وګرځي مخ د ده تک تور له غمه حال دا چې دی ډک وي له قهره ، پټ

ګرځي له قومه(خپل ) دهغه خبر دناخوښۍ له کبله چې ده ته ورکړل شوی دی ایا وساتي دی هغه ( لور) سره د سپکوالي که ویې منډي ژوندۍ په خاورو کې ،خبر اوسئ چې بد دی هغه چې حکم کوي دوئ )

دا ووپه جاهلیت کې د ښځو حال چې د لور په زېږېدنې به یې پلار تندی تروش نیولی وو او ټوله ورځ به یې له خفګانه څهره بدله وه .

د ډېرې غصې ، نفرت، غم او ندېښنې ځخه به سرګردانه و او په دې غلط سوچ کې به و چې که د الویه شي نو زما زوم به وي ، زه به خسر یم او چاته به مخ ښودلی نه شم او که ژوندۍ یې په ځمکه ومنډم او ټول عمر ورځخه ځان او زګار کړم ځیني مفسرین د [ ایمسکه علی هون ] معنا داسې کوي چې هغوی به یې بندیانې ساتلې او داسې به ذلیلې وې چې ګویا له سره د ده اولاد نه وي حتی له سره انسان نه دی ....[۱۱]

---

(۱۰) النحل_ ۵۸_۵۹)

(۱۱) تفسیر کابلی ج : ۳ مولینا محمود الحسن دیوبندی او مولانا شبیر احمد عثماني

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله ج فرمايي : (( و اذاالموؤدة سئلت باى ذنب قتلت )) ......[12]
يعنې (( او كله چې له ژوندئ ښخې شوې لور څخه تپوس وكړلی شي چې په كومه ګناه وژل شوې ده . ))
قيس بن عاصم التيممي اته لوركاني ژوندئ خښې كړې وې .
ښځو په ميراث كې حق نه درلود ..[13]
د خپل مال واک يې نه و دخپلو ورونو او زامنو سره ودونه كېدل يو سړي به لس او شل ښځې كولې كونډې ته په اسانه دبل مېړه اجازه نه وه ، مګر د اسلام د سپېڅلي دين په راتلو دا هر څه باطل دودونه له منځه ولاړل ښځو ته يې عزت او درنښت او ربنتوني انساني حقوق ور په برخه كړل او له وحشت نه ډک دودونه له منځه ولاړل .

## و: په امريكا كې

غربيانو ښځو ته ازادي او ترقي نده وركړې ، بلكه هغوی ته يې ذلت وركړ ،هغوی يې كار ته اړ باسلې چې له نفقې او لګښت څخه يې خلاص شي .
د هغوی كوچنيان يې د هغوی له نظر او روزنې څخه محروم كړل هلته ښځه د نارينه وملعبه ده ، په سرايونو دوكانونو او رقص خانو كې ورځنې كار اخلي لوڅ او له بې حيايۍ څخه ډک فلمونه يې ترينه ثبت كړل .
د سينماګانو په پردو كې يې هغه د حيوان په څېر معرفي كړله ، د هغوی ښايست ،ځواني او ارزښتمن بدن يې له خاورو سره خاورې كړ اوس هغوی نا چاره دي چې د ځان لپاره د نفقې د حاصلولو په غرض شپه او ورځ پر

---

(۱۲) التكوير ۸_۹
(۱۳) روح المعاني علامه الوسي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان یوه کړي او ځان ته نفقه پیدا کړي ځکه سړی خو اوس د خپل شهوت اور په دوی سړوي او نور یې په غم کې نه دي .

یو استاذ چې په لویدیځه نړۍ کې یې ډیر وخت اړولی و موږ ته وویل کله چې ماغربي ښځو ته په اسلام کې د دوی حقوق بیان کړل ډیرو ښځو ژړل او فریاد یې کاوه چې کاش په ختیځ کې له مسلمانانو سره اوسېدلی او له دې ګنده تمدن څخه لیرې وای.

حتی په لندن کې آن په یوولسمې پیړۍ کې هم ښځې پلورل کېدلې هغوی ته په هیڅ هم د تسلط حق نه و [۱۴].

## ز : په فرانسه کې

که د اروپا تیر پیښلیک ته وګورو نو وینو چې هلته ښځه انسان نه ګڼل کېده ، په کال ۵۸۲ م کې فرانسویانو له ډیر کوښښ وروسته ایله ښځو ته دومره خدمت وکړ چې هغوی یې دې پریکړې ته اړ کړل چې ښِځه انسانه ده ، خو سپکه او ذلیله او د خدمت لپاره پیدا شوې ده .

په فرانسه کې ښځه د خاوند تابع ده په خپل مال کې د لاسوهنې (تصرف) حق نه لري ، د هغې ټول مال د میړه په واک کې دی .

ښځه د خاوند له موافقې پرته په هیڅ معامله کې ګډون نه شي کولای هلته خاوند له ښځې څخه خوند او ګټه اخیستلای شي ، خو نفقه یې په خاوند نه شته .. (۱) (۱)..وظیفة المرأة المسلمة علی القاضي .

---

(۱۴) تحفة العروس محمود مهدي استانبولي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په فرانسه کې د ښځو له زړونو څخه د اولاد د مینې او محبت فطري جذبه وتلې ده ، هغوی اوس د اولاد پر مرګ خوښېږي .
دیوې ښځې د شپږو میاشتو کوچنی مړ شو ، نو دا دهغې په وړاندې په ګډا شوه او خپلو ګاونډیانو ته یې وویل : اوس موږ بیخي بل بچی نه زېږوو ، زه اوزما خاوند د دې بچې په مرګ ډېر خوښ یو .
په کال ۱۹۱۸ م د فبروري په میاشت کې د لوار محکمې ته دوه انجونې د بچیو د وژلو په جرم وړاندې شولې ، له دوی څخه یوې خپل بچې په اوبو کې ډوب کړی و ، دویمې د خپل زوی مری خفه کړې وه ، خو هغه ژوندی و ، بیا یې په هغه دیوال راوغورځاوه و سر یې میده میده شو ، خو دا دقانون په آند مجرمې ونه ګڼل شوې .
په همدې کال د مارچ په اتلسمه د ((سن)) محکمې ته یوه رقاصه وړاندې کړل شوه چې دخپل زوی ژبه یې له تالو څخه راویستلې وه ، سر یې ورته مات کړی و او مری یې ورته غوڅه کړې وه ، خو دا ښځه د محکمې پر وړاندې ګناهګاره نه وه [۱۵].

## ح :په نوره اروپا کې

په امریکا او فرانسه کې چې د ښځو کوم تصویر موږ وړاندې کړ ، دا په ټوله اروپا کې چلېږي د ښځو او نارینه وبې قیده ازادئ ، فحاشئ او بد کارئ ته وده وکړه .

(۱۵) پرده : سید ابوالاعلی مودودي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بربنډ تصویرونه ، عشقي افسانو ،ګډا ، سندرو او ...... د اروپا خلک داسې کړل چې له ژوند څخه یې وو یستل هلته کورنی نظام ختم دی ښځه خپله نفقه ځانته پخپله ګټي دخپل فزیکي او طبیعي جوړښت پر خلاف دژوندانه د بوجونو پورته کولو ، دکورني نظام ختمېدلو او... له ښځې څخه بې قدره آله جوړه کړله چې د ژوند غرض یې یواځې په همدې کې خلاصه شو چې د دنارینه وو د شهوت سړولو لپاره پیدا ده او بس ، دې بې قید او شرطه آزادۍ چې د لوېدیځ او اروپا د خلکو لپاره څه ډالۍ راوړلې ان شاء الله وروسته به رایاد شي اوس چې لوېدیځوال له دې ژوند څخه تنګ شوي هر چاته په ډاګه ده چې هلته هره ورځ په سلګونو خپل ځان وژني ، داځکه چې هغوی ته د ژوند غایه او غرض همدا د دنیا څو ورځې معاش ښکاري، سکون ، اطمینان ورسره نه وي او د دنیا په ژوند موړ شي بالاخره په ځان وژنې لاس پورې کړي ، دا په لوېدیځ او اروپا کې د آزادۍ او مساوات ډالۍ ده ، څومره خلک چې ددې آزادۍ په نتیجه کې د اعصابو په ناروغۍ اخته دي د هاغوځایونو روغتونونه یې شاهدان دي .

## ط: په چین کې

چین هم یوله هغو هېوادونو څخه دی چې اوسېدونکي یې داسلام په سپېڅلي دین له کلونو کلونو راهیسې تور لګوي چې ګواکې د ښځو حقوق یې تر پښو لاندې کړي دي ، او په اسلام کې د نر اوښځې مساوات نشته دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجیبه ده چې دوی په اسلام کې د نر او ښځې مساوات غواړي ، خو اوس هم په چین کې له موره نوې پیدا بې ګناه انجونې وژل کېږي .

د چین یو لوړ رتبه مامور د چین پارلمان ته وایي : په چین کې دا نظریه چې سړی پر ښځو غوره دی ژر او آسانه له منځه تللی نه شي او ښځو او سړیو ته مساوي حقوق ورکول په مخه کې اوږده لار لري .

چین چې په اسلامي هېوادونو کې د نر اوښځې د مساوات لپاره له کلونو کلونو راهیسې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي ، پخپل هېواد کې یې د ښځو د حقوقو د ساتلو قانون د ۱۳۷۱ ه ل د وري ( حمل ) په میاشت کې تصویب کړ [۱۶].

## ی : په پخواني شوروي اتحاد کې

دا په لوېدیځه ټولنه کې د ښځو د ژوند تصویر و ، اوس راځئ چې په ختیځه نړۍ کې د ښځو حال وګورو حقیقت دادی چې په شرق کې هم کمونستانو یوائې په خوله دښځې لپاره د آزادۍ او مساوات چیغې وهلې مګر په عمل کې یې له هغې ځخه د ټیټې پوړۍ یو مخلوق جوړ کړ او هغه یې د فطرت پر خلاف ستونزواو ورک لارئ ته مخه کړه ، د هغې د انساني کرامت او فطري نیکمرغۍ په تروړلو کې یې له هېڅ ډول هلو ځلو نه ډډه

(۱۶)شهادت د وري ۹ مه ۱۳۷۱ ه ل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونکړه د کمونیستی د پوچې فلسفې بنسټ ایښودونکي کارل مارکس وایي : (( ښځه باید دخپل ژوند دپایښت لپاره حتماً کار وکړي))[۱۷]
نکاح خو یو مذهبي دستور ګڼل کېده اوکمونېزم خو مذهب هسې هم تاریاك (اپین) او د پرمختګ او تمدن په مخ کې خنډ ګڼي ازاد ګډون او کورنی نظام له منځه تلل د کمونیزم مرام او اصول دي هلته لوی او کوچنی باید کار وکړي ، کوچنیان باید په وړکتون کې لوی شي ، د مور د مینې او محبت څخه له ډکې غېږې ځنې دې لېرې و اوسي هغوی باید په داسې سېستم سره لوی شي چې بیا نه مور وپېژني او نه خور .
په روسیه کې د کمونستانو له بریالیتوب څخه وروسته به حکومتي نشراتو د انساني حقوقو څخه په عامه توګه یادونه کوله ، مګر د ښځو حقوقو ته به یې په ځانګړي ډول هېڅ نغوته نه کوله چې لډ بنه د اندریه زفاروف یو کتاب چې د ( خطر او دهغې سبب) په نامه یې لیکلی و مستثنی دی په دې کتاب کې هغه خطر ته ګوته نیول شوې وه چې دشوروي اتحاد ( د هغه وخت روان موجوده رژیم ) ښځو ته ډالی کې کومې بدني او عصبي ناروغۍ راوړې وې او دښځو ولادت او زېږنده یې کمه کړې وه په ( ۱۹۷۹م) کال د دسمبر په میاشت کې دانساني حقوقو ترعنوان لاندې یو کانفرانس جوړ شو.
څرنګه چې د ښځو د قهر او غضب څپې موجوده رژیم ته مخ په زیاتېدو وې نو له ډېر ټینګښت څخه وروسته یې له حکومت څخه دیوې خپرونې اجازه واخستله چې ( د روسي ښځې د تاریخ ) په نامه خپرېدله په دې نشریه کې

(۱۷) المراة بین البیت و العمل \ دکتور محمد سلالة آدم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شوروي اتحاد کې د ښځو د ستونزو په اړوند مقالې او مضامين خپرېدل مختلف اشعار او تاريخي واقعې چې په دې موضوع پورې اړونده وې په دې خپرونه کې خپرېدلې ، دې خپرونې د روسي تزاري او انسان دښمنه رژيم له منافقت او تګماري څخه پرده پورته کړه هغوی چې په خوله څه ويل او په عمل کې يې څه کول دی خپرونې دا هر څه په ډاګه کړل ليکوالې يې ښځې وې هغوی به د خپلو شراب خورو مېړونو له ناوړه ګذارې څخه ډېر شکايتونه کول دې خپرونې ليکلي دي : روسانو له ښځو سره د مساوات ژمنې کړې وې خو د دې پرځای چې ښځې ته ارامي ، هوساينه او نېکبختي راولي هغوی ته يې د بدمرغۍ او ذلت ډالۍ راوړلې د هغوی د ژوند ستنې يې وړنګولې .

په متوفی شوروي اتحاد کې چې له ښځو سره څومره ظلمونه کېدل څومره بنديانېدلې ، او له هغوی سره چې د وحشت کومې کړنې سرته رسېدلې ، دې مجلې پټ پرېښودلې، دې نشريه کې د نراو ښځې پر مساوات حتی د کار په ساحه کې هم ډېر کلک رد شوی و .

فيلسوفه تانيانا خوتچيفا چې مارکسيستي تعليم لري ليکي : دلته په روسيه کې نارينه نه غواړي چې ښځې وساتي او دهغوی مسئووليت ومني ، دشوروي تعليم او دمارکس نظريات چې د نر اوښځې د مساوات چېغې وهي په حقيقت کې د ښځو سپکاوی دی .

دارژيم د ښځو ازادي نه ،بلکې سپکول غواړي دا نظام غواړي چې له نارينه څخه دې هم ښځه جوړه کړي اوپه هغوی کې د ازادئ ، زړورتيا ، برم او وقار احساس له منځه يوسي د شوروي حکومت د دې نشريې ليکوالې تر تهديد او ګواښ لاندې ونيولې او د دې حرکت ځينې ګړندی غړې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زنداني کړلې لکه د تانيانا ، مابونافا ، ليکوالې او شارې يې تبعيد کړلې (( بلياز پيسکايا)) يې پنځه کاله په بند محکومه کړه .دې حرکت پرافغانستان د روسانو ديرغل د تقبيح ( غندنې ) په غرض پر مختلې مقالې خپرې کړلې او داحرکت اوس هم دنادی مريم په نامه فعاليت کوي .....[۱۸]

www.melitahrik.com
0777 400 116

(۱۸) وظيفه المرآة المسلمة على القاضي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښځه په بېلابېلو مذهبونو کې

## الف : په یهودیت کې

یهودیان ښځې بې ارزښته او بې اهمیته ګڼي د هغوی په نظر ښځه د انساني مصیبتونو سر چینه ده لکه څنګه چې په یهودي خرافاتو کې حضرت (حوا) د انساني مصیبتونو بنسټ ګڼلی شي.

په یهودیت کې خاوند د ښځې د وژلو واکمن و، عزت او شرافت یوازې د سړیو لپاره ځانګړی و، نکاح یو غیر ضروري عنعنه ګڼل کېدله او که چا به نکاح وکړه نو د هغې پابندي اړومرو نه وه، په وړو او معمولي خبره جدايي راتلله.

یهودیان په عیاشۍ او شهوت رانۍ کې دومره ډوب شول چې یوه زنا کاره ښځه د دې قوم معبوده وه او دهغې تعظیم به یې کاوه [۱۹].

www.melitahrik.com 0777 400 116

## ب : په مسیحیت کې

په مسیحیت کې ښځه د ګناه مور او دبدۍ بنسټ او اساس ګڼلی شي د مسیحیانو په نزد ښځه یو داسې سرچینه ده چې خلک د ګناه په لور لمسوي، د جهنم په لور نېغه لاره او د ټولو انساني مصیبتونو پیل هم ښځه بولي، دوی وایي : د دې ښځې والی له ټولو څخه غټ د شرم خبره ده، ښځې ته په خپله ښکلا او ښایست شرمېدل پکار دي ځکه چې دا

(۱۹) پرده سیدابو الاعلی مودودي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شیطان په لاس کې یوه پیاوړې وسله ده ، دې ته پکار دي چې تل دې د خپلو ګناهونو لپاره کفاره ورکړي ځکه د همدې له لامله نړۍ او نړیوال په مصیبت او لعنت ګرفتار دي . «ترتولیان» [Tertllian] چې د مسیحیت په امامانو کې د یو لومړني پیر امام دی د ښځو په هکله وایي : ښځه یوه داسې بدي ده چې رغېدن ترې ، نه کېږي ،یوه پیدا ایشي وسوسه ده ، یو داسې افت دی چې مینه ورته کېږي، یوه ښکلا ده چې لوټل کوي او یو لوی ښکلی مصیبت دی .

د دوی هم اند دادی چې دښځې او سړي ترمنځ عشقي اړیکې پخپل ذات کې پلیتي او د اعتراض جوګه کار دی که څه هم دا اړیکې د نکاح په صورت کې وي ،پیغلتوب داخلاقو معیار وټاکل شو لومړی خو دې هلک او انجلۍ بالکل واده نه کوي او که واده هم وکړي نو صنفي اړیکې دې نه ساتي د کلیسا کارکوونکي په یوازیتوب کې له ښځې سره یوځای کېدلی نه شي ، داسې نظرونو د ښځې حیثیت له حده زیات سپک او کم کړ.

د معاشي حیثیت له مخه ښځه بیخي بې وسه او د سړي په واک کې وه په میراث کې ورته ډېر لږ حقوق و، پخپله ګټه یې هېڅ واک نه درلود ، دهغې د هرڅه واکمن د هغې خاوند و دطلاق او خلعې اجازه بالکل نه وه ، که څه هم د ښځې او خاوند زړونه ډېر بد شي او که له کورڅخه دوزخ یا ګور هم جوړ شي او که د ډېرې سختې اړتیا له کبله د بیلتون لپاره ناچاره شول نو له بېلېدلو څخه وروسته د دویم ځل نکاح اجازه بیا نه سړي ته شته ده او نه ښځې ته . (!)پرده : سیدابوالاعلی مودودي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا په حقیقت کې له لومړي صورت څخه هم ډېر دردمن و ، ځکه چې یا خودې ټول عمر دواړه د راهب او راهبې ژوند تېروي یا دې ټول عمر په ګناه کې تېروي .

د خاوند د مړ کېدلو په صورت کې ښځې ته او دښځې د مړ کېدلو په صورت کې خاوند ته د بلې نکاح اجازه نشته او دا کار لوی عیب ګڼل کېده ، د انګلستان د جمهور رئیس اتم هنري ( ۱۵۰۹_۱۵۴۷ ) م په وخت کې دانګلستان پارلمان فیصله وکړه چې ښځه د مسیحیت کتاب ( عهد جدید ) نشي لوستلی [۲۰].

دا و دښځې حال په هغه مسیحیت کې چې نن سبا یې پر لوېدیځې نړۍ خپل جال غوړولی دی ، او دانسان لپاره د سعادت او نېکمرغۍ چیغې وهي !

دامو د نړۍ د پرمختللو لسګونو هېوادونو او مدنیتونو څخه څو هېوادونو ته د بېلګې په ډول ګوته ونیوله ، هغه چې د مساوات او دښځې لپاره د ازادۍ ډېرې چیغې وهي همدارنګه د نړۍ دلسګونو مذهبونو څخه مو دوه مشهور هغه مذهبونه یاد کړل کوم چې دمساوات ، دښځې لپاره د آزادۍ او دهغې د حقوقو دغوښتلو د تشو شعارونو په نوم مبارزه کې تر هر چا وړاندې قدم ږدي او دا چې په عمل کې یې څه وکړل او تر دې شعار لاندې یې له ښځو سره څه ظلم وکړ هغه لږ خو تېر شو او لږ څه نور به وروسته ولولئ .

---

(۲۰)حقوق المرأة فی الاسلام عبدالقادر شبیة الحمد .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نر او ښځې د مساوات په هکله به هم لنډ بحث وکړو او وبه ګورو چې دمساوات مدعیان په عمل کې څه کوي او آیا د نراو ښځې ترمنځه بشپړ مساوات راتلای شي ؟ مساوات یعنې څه ؟ خو د دی لپاره چې ښه پوه شوو چې دا مساوات د ښځې له فطرت سره ظلم دی که انصاف او د دې مساوات زیانونه د ښځې لپاره په ځانګړي ډول او د ټولنې لپاره په عمومي ډول څه دي ؟ ښه به داوي چې د دواړو ډلو ترمنځ هغه توپیرونه وپېژنو چې فطرت هغوی یو له بل څخه بېل کړي دي .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښځې او نارینه ترمنځ توپیرونه

## الف : بیولوژیکي توپیرونه

د نارینه روغتیايي حالت د ښځې په انډول ښه وي ځکه چې په هغه کومه تاکلې ناروغي نه راځي کومې چې پر ښځې راځي .
د حیض او نفاس حمل او زېږونې ، د تي ورکولو ، د کوچني د روزنې اغېزې د ښځې په بدن پریوځي : مثلاً : په حیض کې د ښځې بدن پر هغې درنېږي د تودوخې درجه يې ټيټېږي ، هاضمه يې خرابېږي ، د بدن غړي يې سستېږي په هرو سلو کې (۲۳) ښځې په حیض کې درد نه لري نورې ټولې له دې دردونو څخه ځورېږي .
علي القاضي د نور سکستشنسکي ، امېل لورک ، لاينسکي ، فان دی فلدا ،مېل نورلاک ، ګبهارد ، کرسي شکنسکي ، کرافت ایبنج او داسې نورو مشهورو ډاکټرانو او پوهانو نظریات را اخیستي دي چې لنډيز يې دادی .
ښځې ته په حیض کې سردرد ، ستوماني ، د اندامونو سستي ، دهډوکو درد ، د اعصابو کمزورتیا ، په مثانه کې پریشاني ، له بدهضمۍ څخه شکایت ، په سینه کې درد ، دتنفس سرعت ، د طبیعت ګډوډ والی او پرېشاني لکه چې ښځه ډېره ناروغه وي ، له نامه څخه لاندې درد چې د زړه تنګوالی به ورسره وي پيدا کېږي ژړېدونکې به وي ، فکر خراب وي ، سکون ، اطمئنان ، سوکالي او آراموالی ورسره نه وي ، خپل ورځنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار نشي کولای ، دبدن غړي يې د ارادې تابع نه وي مثلاً : که کاتبه وي پوره ټايپ نه شي کولای ، د يو ټکي په بدل بل ټکی وهي جمله جوړولای نه شي ، غير اختياري کار ترې وشي ، پدې ورځو کې به ډېر جنګ او لانجې کوي ، د هغې له اخلاقو څخه به په دې ورځو کې هر څوک شکايت کوي ، حتی د هغې اولاد هم.

ډاکټر (وينزج) د خپلو مشاهداتو په رڼا کې ليکي : کله چې د ښځې له پلوه محکمې ته کوم شکايت کېږي نو ودې ګوري ښايي چې هغه د حيض په وخت کې وي ،ځکه چې په دې موده کې د هغې اعصاب کار نه ورکوي ، او دحمل په موده کې هم څو مياشتې کله ناروغه وي او کله روغه او د ولادت څخه وروسته (نفاس کې) هم د ښځې هغه حالت وي کوم چې په حيض کې وي.

ډاکټر( هيولاک ايلس اوبرت مول ) ليکي : ښځه بايد د حمل ( بلاربښت ) په وروستۍ مياشت کې نه د کور کار وکړي او نه د دفتر همدارنګه د نارينه اندامونه کلک او غښتلي وي پلنې او پراخه اوږې لري ، وړه او تنګه کېډه يې وي ، د بدن شحميات ( وازدې ) يې په مناسب ډول په بدن کې وېشل شوې دي ، ږيره او بريتان يې راشي اواز يې غټ او غليظ وي ، مګر ښځه نرمه او ګرده وي ....

ډاکټر شفيق عبدالملک ليکي :

ښځه ښکلې بڼه لري ، تيونه يې په مناسب ځای کې دي چې د کوچني د تغذيې لپاره مناسب او ښايست او ښکلا کې زياتوالی راولي ، ګرده بڼه غوره کړي عورت يې په مناسب ځای کې دی چې کوروالي، حمل او تناسل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ښه برابر دی او څنګه چې د ښکلا غوښتنه ده هماغسې یې اواز نرم دی .[21]

د نر او ښځې ترمنځه د غړو په اړوند نولس (۱۹) توپیره دي ، د نارینه ماغزه د ښځو له ماغزو سره توپیر لري پدې هکله یو عالم چې په (۱۹۱۸ م) کال کې یې د نوبل جایزه واخېستله ډیره څېړنه کړېده یو ته یې نارینه ماغزه اوبل ته یې ښځینه ماغزه نوم ورکړی دی .....[22]

الله ج انسان ته څنګه چې د ښکلا غوښتنه ده ښایسته بڼه ورکړه ، څه چې نارینه په ښکلا کې ډېرښت راولي هغه یې نارینه ته ورکړل ، او کوم څه چې د ښځې په ښکلا کې ډېرښت راولي هغه یې ښځې ته ورکړل . فرمایي :

[ لقد خلقنا الانسان فی احسن التقوم ][23]

یعنې : په تحقیق سره موږ پیداکړی دی انسان په ښه اندازه سره ))

همدارنګه د وزن له نظره نارینه درونـد او د اوږد قامت خاوند دی د نر هډوکي کلک او غښتلي دي ښځه د نرپه پرتله ژر لویېږي بدن یې ژر وده کوي د ښځې بدن د نر په انډول دوازدې د ذخیره کولو ډېر قابلیت لري ، په نارینه کې وازده په سلو کې اتلس ( ۱۸% ) او په ښځو کې (۲۸%) ده .

علي القاضي وایي چې : د هر انسان په بدن کې ( ۲۰ ) میلیونه سوري دي مګرکه په مایکروسکوب کې ځیر شئ پېژندلی یې شئ چې دا دنارینه د بدن سوري دي او داد ښځې .

---

(۲۱) مبادي علم التشریح و وظایف الاعضاء\ دکتور شفیق عبدالملک .

(۲۲)وظیفة المراة علی القاضي

(۲۳)التین ۴ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ب: سیکلوژیکي توپیرونه

د عین الشمس په پوهنتون کې د علم النفس (اروا پېژندنې) استاد دکتور سید فواد البهی لیکي: انجلۍ د خپل عمر د مراهقت تر دورې له هلک ځینې هوښیاره او ځیرکه وي، له مراهقت څخه تر بلوغ هلک هوښیار وي او وروسته بیا دواړه برابر وي [۲۴].

دوه غربي پوهان د هلکانو او انجونو ترمنځ د ازموینې د نتیجې تر کتلو وروسته وایي چې دا دواړه ډلې په نمرو کې سره برابرې دي.

په هر حال د نر او ښځې ترمنځ توپیرونه علماوو روښانه کړیدي، لکه د ښځې عاطفه: نرم طبیعت، د اسرارو (پټو) نه ساتنه ژر تر اغېزې لاندې راتلل په وړه خبره خفګان او خوشحالي ښځې په ستاینه او غندنه کې تر هر چا مخکې، په مدح او ثنا کې پیاوړې دي، بې له کوم دلیل او پلټنې څخه چې څه واروي نو هغه مني صبر او تحمل نه لري.

## ج: فزیولوژیکي توپیرونه

د نارینه اواز سخت، غټ او غلیظ دی او د ښځې اواز نرم او لنډ دی، د غدو او زړه ناروغي په ښځو کې ډېره وي، ډاکټران وایي چې: د دې لامل حمل، حیض، نفاس (ولادت) او رضاعت (تی ورکول) دي.

دا و د ښځې او نارینه و ترمنځ مهم توپیرونه چې فطرت په نر او ښځه کې پیدا کړي دي.

---

(۲۴) وظیفة المراة المسلمة نقل له الزکاة څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې کوم توپیرونه مو په ګوته کړل دا ټول جوتوي چې د ښځې دنده بېله او د نارینه بېله ده .

اوس که څوک له دې سر بېره بیا هم ښځه د کار ډګر او کړاوونو ته راکشوي او هغه درانده کارونه پرې کوي چې هغه یې زغملې نه شي او د فطرت په خلاف یې له ستونزو سره لاس او ګریوان کوي نو دا له ښځو سره ظلم نه نو آخر څه دي ؟ آیا دوی حقیقت کې بې انصافان او د ښځو دښمنان نه دي ؟

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مساوات

په مساوات کې وايي چې ښځه او سړی په اخلاقي مرتبه او انساني حقوقو کې بالکل برابر دي او بايد دواړو ته په يوه سترګه وکتل شي .

په متمدن ژوند کې هم ښځې بايد هغه کارونه وکړي کوم چې سړی کوي او هغه اخلاقي بنديزونه دي د ښځو لپاره هم ورک کړل شي کوم چې د سړي لپاره نشته دواړه ډلې دې اوږه په اوږه کار وکړي ، هرڅه چې دوی وغواړي کولی يې شي صنفي اړيکې د دوی خپل حق دی، په ښځو باندی نوره د سړيو واکداري نشته ځکه دواړه انسانان دي هريو دې يې خپله ګټې او خپله دې يې خوري .

ښځې دې د ژوند په ډګر کې په خپلو پښو ودرېږي او د سړيو له احتياج څخه دې ځان وژغوري دوی که يو له بل لپاره جنسي قرباني ورکول غواړي نو ټولنه دې ورته تندی نه تريووي ، که نکاح کوي نو هم د دواړو دموافقې پر اساس او که څه وخت جدا کېدل غواړي نو جدا کېدلای هم شي دغه مساوات چې په حقيقت کې د وګړنيزو ټولنو لپاره له مصيبت او خطر څخه کم نه و ، انساني ټولنه د تباهۍ او بربادۍ سره مخ کړله .

انساني کرامت يې ترپښو لاندې کړ ، د دې مساوات په ترڅ کې چې کوم زيانونه ټولنې ته مخ شوي دي ډېر زيات دي زه پرته له دې چې د دې مساوات مذهبي اړخ تحليل کړم ، هغوڅو زيانونه چې په عمده ډول د مساوات غوښتونکي ټولنې ورسره مخ دی ګوته نيسم :

(c) ketabton.com: The Digital Library

## الف : دفحاشۍ ډېروالی

کله چې ښځه دکار لپاره بهر نړۍ ته وزي او څه مذهبي تمانع هم ورسره نه وي ، د ګناه خیال د جنت او دوزخ وېره نه وي طبعي منظرې او داسې نور زړه راښکونکي حالات هم ګوري چې دهغې جنسي قوه په اور بدلوي د ټولنې له ملامتۍ څخه هم خلاصه ده نوبیا به ولې د ټولنې د ځوانانو د خوشحالولو لپاره ګډا او رقص نکوي ، ولې به په ستېج سندرې نه وايي ، د هغې لپاره د جنسي اړیکو د ټینګولو په غرض کوم ځانګړی څوک مطرح ندی له هرچا سره یې چې زړه وغواړي خپلې غوښتنې پوره کولای شي نو بیا ولې د چا دنکاح په ولکه کې ځان د تل لپاره ورکړي .

کـه د حرامـي بچـي د زېږېـدلو خطـره وي نـو دحمـل د غورځولـو ( بـرت کنترول ) لاره خو خلاصه ده اوس خو ورته د حمل د پیداکېدلو پورې ګوري هم نـه. هلتـه ښـځه مقنـاطیس ( اوسـپنکښ ) جوړه شوې ده او داتنګې او نازکې جامې ، پړقیدونکي پوډر ، سرخي ، د ډول سینګار سامانونه ، له عشق او محبت څخه ډکې افسانې ، په سینماګانو بربنډ فلمونه کتل او ثبتول ، په اخبارونو کې زړه راښکونکي تصویرونه ، ناولونه او افسانې دا ټول اور مړ کوي نه ، بلکې تازه کوي يې .

په هغه بیان کې چې په ۱۹۷۷ م کال د امریکا د متحده ایالاتو د تحقیقاتو له دفتر څخه خپور شوی و ، وايي : دلته د ښځوله ازادۍ سره جرایم زیات شوي دي عیاشي او فحاشي خپل اوج ته رسېدلې او په دې جرایمو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جین برت او (( برناردین دورن )) په څیر ډېرو هغو کسانو ګډون کړی دی چې دښځو د ازادۍ چېغې او سورې یې وهلې .
دا فحاشي دې حد ته ورسېدله چې د لویو لویو کورنیو ښځو ښکاره زنا ته ملا وتړله او زنا خو چا ته عیب هم نه ښکارېدله او که د چا په طبیعت به دې کار څه ناوړه اغېزه کوله هغه به تنګ نظري او له تمدن او پرمختګ څخه لېرې خلک ګڼل کېدل، د هغو ځایونو حکومتي واکمنان زنا څه عیب نه ګڼي دا اوس په برطانیه کې د دریم ځواکمن سیاسي لیبرال دیموکرات ګوند مشرې پېډي اشډون په پارلمان کې د مطبوعاتي کانفرانس په ترځ کې ومنله چې له خپل سکرتر سره یې زنا کړی ده .
دبرطانیې لوی وزیر په دې خبره هېڅ غوږ ونه ګراوه او ویې ویل چې دا نه کوم سیاسي جرم دی او نه له سیاسي چارو سره څه اړه لري [٢٥].
د کلنټن او مونیکا لیونسکي د معاشقې داستان خو پوره څو میاشتې د خپرونو تغذیه وه .

## ب : د کورني نظم خرابول

د مساوات دې ډول له افراط څخه ډک خیال ښځه له خپلو فطري فرائضو څخه غافله کړه په کومو چې تمدن ولاړو نه یوازې تمدن ، بلکې د انساني نوع پایښت پرې ولاړ وسیاسي کشمکش، دفترونو او کارخانو کې نوکري د موسیقۍ په محفلونو کې ګډون ، ورزش او دمنډو په ډګر کې برخه

(٢٥)جنګ ورځپانه\ ١٠ فبروري ١٩٩٢ م .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخېستل، ځان لپاره د نفقې پیدا کول دا ټول د کورني نظم د خرابېدو لامل او ښځه ترې بېزاره او متنفره شوله ، اوس په لوېدیځه نړۍ کې کورنی نظام ورو ورو له منځه ځي ، ښځه يې د ځان لپاره ګټې او نارینه یې د ځان لپاره ، دوی یو بل ته اړه نه لري د دواړو ډلو ترمنځ له جنسي اړیکو څخه پرته نورې کومې اړیکې پاتې نه شوې چې د دواو یو ځای ژوند تېر کړي او جنسي اړیکې هم ازادې دي او داغوښتنه هم په اسانۍ پوره کېږي نوبیا ولې د چا په ولکه کې خپله غاړه ورکړي .

د ګناه تصور خو له مذهب سره ولاړه ټولنه دا کار بد نه ګڼي او بیا هم که د څه خطره یا وېره وي هغه به د ناروا بچي د زېږېدلو او لویولو ستوماني وي نو لکه چې دمخه مو وویل د حمل غورځول خو هم اوس اسانه شوي دي د زیات تفصیل لپاره وګورئ [۲۶].

نن په غرب او اروپا کې په سلګونو زره انجوني پېغلتوب خوښوي او خپل ژوند په شهوت پالنه کې تېروي د برت کنترول په واسطه نن په غرب او اروپا کې د میلیونونو انسانانو دنیا ته د راتګ مخنیوی کېږي .

د طلاق او بېلتون لپاره وړه خبره هم بس ده د نن صبا ټول علماء او پوهان په دې خبره اتفاق لري چې د نر او ښځې لپاره د نېکمرغۍ او نېکبختۍ ژوند کورنی ژوند دی په کور کې انسان ته سکون ، اطمنان ، ارامتیا او هوساینه ورپه برخه کېږي .

د کوچني روزنه ښه کېږي مینه او محبت ډېرښت مومي د دی مساوات او دښځو د کور د پرېښودلو په ترځ کې ښځه له خپل اولاد سره بالکل مینه نه

(۲۶)پرده سید ابوالاعلی مودودي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي ، لکه څاروی چې هر چېرته بچې وزېږوي بیا یې هېڅ غم او اندېښنه ورسره نه وي حیوان خوبیا هم د خپل بچي د نفقې لپاره سر او تندی وهي خو په دې ټولنو کې دا احساس هم نشه ، د سید مودودي خبره چې اوس په غرب او اروپا کې د مورو الي هغه فطري حس او جذبه نژدې ختمه ده کومه چې دښځو په جذباتو کې تر ټولو لویه ، شریفه او سپېڅلې جذبه ده ، او چې د هغې جذبې په شتوالي یوازې تهذیب او تمدن نه، بلکې پوره انسانیت ولاړ دی .

## ج : لوېدیځوال له اولاد نه پرتېښته دي

په لوېدیځ او اروپا کې د مساوات او د بشر د حقوقو چیغې وهل کېږي خو په حقیقت کې هلته د بشریت عاطفه ، رحم او محبت د چا په زړه کې نشته دی ، له ټولو څخه وړاندې دنسان حقوق لومړی همدوی تر پښو لاندی کړل او بشر یې د بدبختۍ سره مخ کړ ، دا د دوی د فاسد نظام ثمره او نتیجه ده چې د اروپا او امریکا پرمختللي خلک چې سبا به اسمان ته د ختلو اراده وکړي !! له خپل اولاد څخه متنفره دي دا نفرت د دوی په زړونو کې له کومه راپیدا شوی دی ؟ له اولاد سره د مینې او محبت ساری خو دنیا کې نه لیدل کېږي، دا دهمدې فاسد نظام ثمره او دانساني فکر نارسایي ده ، وروسته به ولولئ چې دمور او پلار د وهلو په اثر څومره کوچنیانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی او څومره معیوب شول وګورئ چې په امریکا کې یو پلار او یوه مور خپل اولاد په سل ډالره پلوري ، ډېر یې په زهرو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطرناکو درملونو وژني دحمل غورځول او نسل بندي د څه لپاره ؟ علي القاضي ديوې سيمه ييزې ورځپاڼې په حواله چې د دسمبر په لومړۍ (۱۹۸۱) کې خپره شوې وه ليکي : په جنوبي امريکا کې په لسګونو داسې ښوونځي شته چې يتيم او مور او پلار شړلي کوچنيان په کې روزل کېږي. په کولمبو کې د کوچنيانود پېرودلو او پېرلو بازار دی ، کله چې په روغتون کې صحتمند کوچنی وزېږېږي نو اخېستونکي ولاړ دي او سم لاسي يې په بيه اخلي .

په برازيل کې د کانګرس له جملې څخه يوه کمېټه و ټاکل شوه چې د دې ستونزې تحقيق او څېړنه وکړي هغوی وموندل چې درې ميليونه کوچنيان بې مور او پلاره ژوند کوي ډېره برخه به امريکا او اروپا ته بوتلل کېدل او انساني سوداګري به کېدله .

همدارنګه په لندن کې د يوې اوه نيزې په حواله د يو (۲۷) کلن ځلمي له خولې ليکي : (( مور ته څه مالي ستونزه را پيدا شوې وه په پای کې موپرېکړه وکړله چې په روغتون کې زېږېدلې لور پرېږدو چې بل څوک يې وساتي که هغه مونه وای پرېښې ناچاره وو چې موټر مو پلورلای وای زمور کورنۍ اوس زما او زما له مېرمن او درې اولادو څخه جوړه ده ، هو ښايي هغې ته له مور څخه غوره څه په لاس ورشي ))

د انجلۍ مور په خپلې دې بخښنې او صدقې په ډېر وياړ سره وايي : زه عقيده لرم چې مور ډېر ښه کار کړی دی زه اوس روغتون څخه کورته تلونکي يم او خپله نوې مېلمنه مې دلته پرېښودله زما نظر ناڅاپه پر دې پريووت رښتيا چې دا کوچنۍ ډېره ښکلې او زړه راښکونکې ده لېکن زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې مينه نلرم او زه چې د دې په هکله ځو مره فکر کوم دا به په بل کور کې نېکمرغه وي ))

دا دنړۍ پرمختللی هېواد دی او دا يې له خپل اولاد سره مينه ده

ښه مې په ياد دي چې زموږ کلي کې د يوې ښځې د يوې شپې کوچنی زوی مړشو د هغوی په تندي او وجود د خفګان نښې ښکاريدلې او ژړل يې يو ې ښځې ورته ډاډ ورکاوه د کوچني مور ورته وويل (( د خدای رضا او پريکړه مې قبول ده خو دا سې احساس کوم لکه غلو چې لوټ کړې واوسم ځکه غېږ مې تشه ده .))

خو په لوېديځ کې انسانان پلورل کېږي ، خپل اولاد وژل کېږي ځکه چې هغوی بشر دوستان او دبشر د حقوقو مدعيان دي !! اولکه چې ومولوستل په فرانسه کې محکمې داسې عرض له سره نه اوري خو دا دانساني حقوقو دوستان وګورئ چې له سپيو سره څه کوي نن سبا په ټوله امريکا او اروپا کې په هر کور کې سپی ساتل کېږي د هغو ځايونو د وګړيو په زړونو کې د سپي مينه د انسان په اندول ډېره ده له فرانسې څخه په خپور شوي يو اعلان کې ويل شوي دي چې دهغه هېواد دوه پنځوس ( **۵۲**) ميليونه نفوس دی ( په هغه وخت کې ) او اوه (**۷**) ميليونه سپيان يې له خاوندانو سره ژوند کوي خو دا دتعجب وړ خبر ځکه نه دی چې پاريس له دې څخه هم لږ وړاندې تللی دی هلته په هوټلونو او کورونو کې سپيان او خاوندان يې په يو دسترخوان خوراک کوي .

## د: آيا امريکايي او اروپايي وګړي ځان نېکمرغه بولي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نیویارک کې خپرېدونکې یوه مجله لیکي : په (۱۹۷۸) م کال په برلین کې یو نړیوال کانفرانس جوړ شو او د اتیا ( ۸۰) هېوادونو استازو په کې ګډون کړی وو چې د ګډون کوونکیو دریمه برخه ښځې وې ، ګډون کوونکي دوه ډلې شول یوې ډلې ښځو ته ډېر حقوق غوښتل چې له مېړه یا حکومت څخه په کې ښځې ته مادي اجوره هم شامل وه ، ځکه چې د هغه کور ساتي د هغه کوچنیان لویوي ، بلې ډلې ویل چې خاوند یا حکومت ته پکار دي چې داسې تدابیر ونیسي چې ښځې په راحت کې شي او پر هغې کارسپک شي .

دواړو ډلو له ښځو څخه دفاع کوله یوا ستازي وویل چې : ښځې ته د کور د کار په بدل کې اجوره ( تنخوا) ضروري ده ځکه بې اجورې کار نشته دی او که اجوره نه وي نو دا خو په ښځې پورې ټوکې او ملنډې دي. بل استازي ورته وویل چې آیا نارینه ته څوک تنخوا ورکوي ؟ هغه خو هم دهمدې کور لپاره لګیا دی او کور خو د دواړو ګډ کور دی یوه انګریزه لیکواله (انارود) په خپله یوه مقاله کې لیکي :

که چېرې زموږ لورګانې پخپلو کورو کې د وینځو په څېر کار وکړي دا ورته له بهر کار ځینې غوره ده چې د ژوند رونق او حیثیت یې له منځه ځي بیا په ډېر افسوس سره زیاتوي : کاش چې زموږ وطن هم د مسلمانانو په څېر وای کاش دلته هم عفت او دلوپټو پاکوالی وای ، دا خو د انګرېزانو لپاره د شرم او ننګ خبره ده چې زموږ لورګانې یې د رذائلو نمونې وګرځولې ، په موږ څه شوي چې د دې لپاره کوښښ نه کوو چې ښځه دې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل طبیعت او فطرت سره برابر کار وکړي خپل شرف او ابرو دې وژغوري او د دې ژغورنې لپاره دې په کور کښېني[۲۷] .
یوه بله د انتروبولوجي ( انسان او دهغه تاریخ علم ) امریکایي عالمه مارجریت مید په (۱۹۷۴)م کال کې وایي :د ښځو د کور او ولادت په پرېښودلو او د کور کار شاته په غورځولو او د ژوند ډګر ته په راوتلو سره په نړۍ کې لوی اوښتون راغلی ، دلوېدیځو پوهانو ډېره برخه وایي چې د ښځې لپاره د اولاد روزنه تر هرڅه مهمه او غتېه دنده ده .
روسي ادیب مکسیم ګورکي وایي : دنر او ښځې لپاره دنېکمرغۍ ژوند په کور کې ګډ ژوند دی ، دکتور کېسس کاریل لیکي : د ولادت دنده دښځې په ژوند کې تر هرڅه غوره دنده ده او که څوک دا نه مني له حماقت څخه پرته بل څه نه کوي او دا به له عقل څخه مخالفت وي[۲۸] .
په امریکا کې یو خوځښت جوړ شو ترڅو ښځه اصلي فطري دندې ته مخ کړي هغوی دلوېدیځ له فاسد نظام څخه تنګې شوې وې دې تحریک په لږ وخت کې په ډېر شمېر سره ښځې راښکلې چې زیاته برخه یې لوستوالې وې ، خپرونې یې پیدا کړلې په برطانیه کې د اکسپریس ورځپاڼې یو خبریال ( بوداکر) چې په نیویارک کې یې خبرونه راټولول وایي : ما وکولای شول چې په پټه د درس صحنې ته ځان ورسوم ، ګورم چې ښځې په نیویارک کې په کوچني هوټل کې راغونډې شوې دي او ما امریکایي ښځې ولیدلې چې په پوره چوپه او ارامه فضا کې یې نصیحتونه اورېدل د درس لپاره به یې پنځلس ( ۱۵ ) ډالره فیس ورکاوه ، د عطرو ښایسته

---

(۲۷)منار الاسلام ذي القعدة \ ۱۴۰۱ ه ق .
(۲۸)الانسان ذلک المجهول \ دکتور کیسس کاریل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بویونـه لـه صـحنې څخـه تـر پـوزې کېـدل .دیـوې ښـځې د وینـا یـوه برخـه رانقلوي :

(( ای بي بي ستا خاوند ستا دکور اصلي با دار دی پرتـا لازم دي چې د هغـه په واکمنۍ او مشرۍ اعتراف او خپل ژوند دهغه لپاره اماده کړې .))

د دې خوځښت مشره داګویس افیسون وایي ځنې خلکو خپـل کـورنی ژونـد د مساوات تر شعار لاندې خراب کړ ، خاوند د منني وړ دی پـه ښـځه لازم دي چې د خاوند په کور کې ژوند وکړي او دمسـاوات پـه اړونـد خپـل ټـول فکرونـه او سـوچونه هېـر کـړي ، د خاونـد خبـره بـې لـه کـومې مناقشـې او جګړې څخه ومني ، د هغه د راحت اسباب برابر کړي او پـه کـار ده چـې پـه خندا ورسره مخ شي .

دې خبریال له داګویس دافیسون څخه وپوښتل : که چېرې ښځه او خاوند د یوې فیصلې په هکله بېل بېل نظرونه ولري اغم یې پورته شي   نو کـوم یـو په حقه دی ؟ دستي یې ځواب ورکړ : خاوند : که څه هم خطا او پړ وي .

د خاوند په غلطـه خبـره عمـل لـه دی څخـه زر ځلـه غـوره دی چـې د ښـځې پـه سیي خبره عمل وشي .

هغه خپلو شاګردانو ته وايـي چـې : خپـل ژونـد د خاونـد د خوشـحالۍ لپـاره وقف کړئ او غوره ژوند دادی چې خاوند د کـور امـر ( امـر کـوونکی ) وي د هغه غوښتنې په خوشحالۍ او په پوره اهتمام پوره کړئ  کوښښ کـوئ چـې کله مو خاوند په کور وي حتی په تېلیفون هم ځان بوختې نکړئ .

یوه بله امریکایي لیکوالـه میرامیـل مورګـان لیکـي : سـړی د کـور بـادار ، مشر او د کورنۍ ببړۍ چلوونکی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه امريكايۍ سندرغاړې چې ښوونکې هم وه او خاوند يې هامبورګ کې د غټ منصب خاوند و کله چې يې زوی وزېږاوه نو دهغه د روزنې لپاره يې دنده پرېښودله .

يوه انګريزي ليکواله ليدي کوک وايي :

ښځو ته له نرانو څخه لېرې والی ور وښيئ او له هغې خطر څخه يې خبرې کړئ چې په ګانده کې ورته منتظر دي .

په قاهره کې خپرېدونکې د اعتصام ورځپاڼه ليکي : د امريکا د انديانا ايالت په پوهنتون کې د يو عرب محصل د نورو انجونو همصنفيانو سره بحث شو ده ورته ويل چې اسلام کې د ښځو د حقوقو رعايت تربل هر مذهب ډېر دی ، او هغوی به بيابيا دښځو د آزادۍ خبرې کولې بالاخره دوی د پوهنتون د رياست مرستياله د ريمګړې وټاکله هغې د پوهنتون يوبل يوه استاد له ځان سره کړ او د دواړو دلايل يې واورېدل بيا هغوی فيصله وکړه چې ( ښځې بايد د ازادۍ خبرې پرېږدي او خپل طبيعي ژوند ته راوګرځي د ښځې لپاره ربښتونې نېکبختي کور ده د ښځې وخت کوچنې ته دوا او درمل دی ، د ښځې لپاره غوره لاره هغه ده کومه چې د دې هلک دين (اسلام) ټاکلې ده ، څومره چې موږ مختلف اديان لوستلي دي اصلي حقوق د ښځې لپاره په همدې دين کې دي .)

په پاريس کې د جاپان سفير (نويو اسکاوا) وايي : د جاپان د پرمختګ له لاملو څخه يو داده چې ښځو دخپل اولاد روزنې ته پام وکړ ، امريکايي ليکواله ( هيللن ستانستيری ) د مسلمانانو ټولنه خوښوي او وايي چې : همدا بشپړ او سليم اخلاق دي ، دا وايي : مسلمانانو ته پکار دي چې خپله

www.meltahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنه په اسلامي لاربښونو کلکه وساتي او ښځه دې له نارينه سره يو ځای والي ته نه پرېږدي خصوصاً له شل کلنۍ څخه د مخه .
د نهضت مجله چې په کويټ کې خپرېږي په (۱۹۸۲ م) کال کې ليکي : فبليس شلاقي )) د امريکايي ښځو مشره ښځې له کار څخه لومړی د مېړه ، کورنۍ او اولاد اهتمام ته رابولي او خاوند د کور مشرګڼي .
يوې بلې امريکايي ليکوالې (( ايشير فيلاری)) (( د سړي د تګلارې )) په نامه کتاب وليکه او په ښځه يې تاکيد وکړچې د کور خواته راشي ،په برطانيه کې د ښځو په کلنۍ غونډه کې چې ( د ښځو ازادي او ښځه څه غواړي ) ترعنوان لاندې جوړه شوې وه ، ډېرو ښځو په کې ګډون کړی وو ، يوې اوه لس (۱۷) کلنې پېغلې دا کار ډېر بد وګاڼه دې وويل : زه غواړم دېوې پېغلې په صفت چې ابرو ، حيا او ناموس يې خوندي وي ژوند وکړم او خپله فطري او طبعي دنده ترسره کړم ، زه نه غواړم چې تنګ پطلون واغوندم زه غواړم چې زما او زماد مېړه ترمنځ دې توپير وي زه دې ښځه او زما خاوند دې نارينه وي .
د غونډې ټولو برخوالو ورته لاسونه پړقول حتی د غونډې مشر هم .
په فرانسه کې د ښځو د خوځښت مشره ريينه ماري لوفاجي وايي چې : د ښځې او نر ترمنځ د بشپړ مساوات غوښتنې دواړه دې مرحلې ته رسوي چې د دواړو حقوق ضايع شي[۲۹].

---

(۲۹)الاهرام القاهريه ۱۹۸۰\۵\۲۱ م.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الفامیردال (Alvamyrdal) او فیولاکلین ( Violain) وایي : ښځه دی د کور کار نه پرېږدي هغه باید داسې پروګرام جوړ کړي ، چې هم کور وساتي او هم کار وکړي .

## ه : د اداکارو نظر

اداکارۍ په نړۍ کې ترهرڅا زیات شهرت لري په لوېدیځ کې ډېرې ښاري پېغلې د دې شوق او رغبت لري چې هغه دې یوه مشهوره اداکاره واوسي ، اوس ګورو چې هغوی خپل ځان څنګه احساسوي ، آیا هغوی نېکمرغه دي ؟د دې ځواب به د مارلین مونرو څخه واورو چې ډېره لویه او مشهوره اداکاره وه ، دا

پخپل هغه لیک کې چې دځان د حلالولو په وخت کې یې لیکلی و وایي : زه دنړۍ ترټولو بدمرغه ښځه یم ،ومې نشو کړلی چې مور شمه له ټولو څخه غوره ، شریفه او د سپېڅلي ژوند خاونده هغه ښځه ده چې په کور کې و اوسېږي ، کور ولري ، رښتیا چې کورنی ژوند د ښځې د سعادت او نېکمرغۍ نښه ده ، پر ماخلکو ظلم وکړ، په سینما کې کار خلک بې ارزښته کوي ، که څه هم مشهوره شي .

(۱) (۱) : المراة بین البیت و العمل \ دکتور محمد سلاله آدم نقل له woman two roles :home and wok څخه .

یوه بله امریکایي اداکاره بربارت ستریاند په خپله مطبوعاتي وینا کې وایي : زه په دې تاکید کوم ، چې زما ډېر څه کم دي ماډېر څه پرېښي دي ، ما فنکاري وکړله ، او دانسان اوښځې په صفت خپل ژوند مې هېر کړ ، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس افسوس او ارمان کوم ، چې کاش له ما سره د مېړه د خدمت او اولاد د روزنې لپاره کافي وخت وای ، فن ( ارټ ) او فنکاري ( ارټس ) يعنې هېڅ ربنتيا چې شهرت هېڅ معنی نه لري ، کله چې کورنۍ نه وي ، اهل او عيال نه وي او ښځه پوهه نه شي چې زه ښځه يم ..[۳۰]

دا و دلوېديځ تمدن چې د ټولنې ټيټ وګړي هم پرې نا خوښه دي !!

## آيا دمساوات غوښتونکي په مساوات عمل کوي ؟

ربنتيا خبره داده چې ختيځ کې د ښځو او نارينه وو د مساوات او حقوقو لوېديځوالو غوښتونکيو هېڅکله هم ښځه له نارينه سره برابره کړې نه ده ، هلته هغوی د ټولنې بې برخې طبقه ګڼلې شي ،

د امريکا په ټول کانګرس کې اوه لس (۱۷) ښځې دي او يوه دسنا په مجلس کې اوبس. په فرانسه کې په ( ۴۹۱ ) څوکيو کې (۱۸) ښځې دي په سويس کې دښځو دريمه برخه په ټاکنو کې د رېغ ( رای ) له ورکولو څخه محرومې دي .

په کال ۱۹۵۹ م په امريکا کې دښځو تنخواه له نارينه څخه چې په تعليمي کچه کې برابر او د يوه بري ليک لرونکې وې اوه ديرش (۳۷% ) کمه وه او په ۱۹۷۸ م کال کې دا فيصدي نوره هم کمه شوه چې (۴۲% ) ته

---

(۳۰)المراة بين البيت و العمل \ دکتور محمد سلاله آدم نقل له woman two roles :home and wok څخه . منارالاسلام ذی القعده \ ۱۴۰۱ ه ق .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسېږده .په ایټالیه کې ښځه له نارینه څخه په سلو کې د پرش (۳۰%) کمه تنخواه اخلي .

په فرانسه کې اوه یشت په سلو کې (۲۷%) کمه ده او په جاپان کې څلوېښت په سلو کې (۴۰%) کمه ده ، په امریکا کې هغه سیمه ییزې څوکۍ چې د عامو انتخاباتو په واسطه اشغالېږي پنځه په سلو کې (۵%) ښځې او پنځه نوي (۹۵%) نارینه و اشغال کړي دي او د امریکا نفوس (۵۹%)ښځې او (۴۱%) نارینه دي .

(۵۳%) امریکایي ښځې (په انتخاباتو کې ګډون کوي او بس د جاپان په ټول پارلمان کې درې ښځې دي .

په کال (۱۹۷۲_۱۹۷۷م) په امریکا کې د طب په پوهنځي کې ښځې (۲۵%) ، په سلو کې شپږ په هندسه کې ، په سلو کې (۲۰%) دحقوقو په څانګه کې ، په فزیک کې په سلو کې یوه او په سلو کې اتیا (۸۰%) ښځې له نارینه سره برابره تنخوا غواړي.

په فرانسه کې د ډېرو انستیتیوټونو او ښوونځیو دروازې د ښځو پر مخه تړلې دي .

د سوداګرۍ په انستیتیوت کې له (۵۲۰۰) زده کوونکیو څخه (۷۰) زده کوونکي ښځې دي ، د بریښنا په انستیتیوت کې له (۲۲۰۰) زده کوونکیو څخه (۲۲) زده کوونکي ښځې دي او په طب کې په سلو کې شپږ (۶%) ښځې دي اوبس .

په جاپان کې په لوړو انستیتیوټونو کې په سلو کې لس ښځې دي ، چې ثانوي زده کړه یې کړې وي ، په (۱۹۷۹م) کال په سلو کې شل (۲۰%) له

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنځیو اولوړو انستیتیوتونو څخه فارغې شوې او په حکومت کې استخدام شوې .

په هغوی کې لس په سلو کې ډاکټرانې او اته استادانې وګومارل شوې .

د اروپا د ګډ بازار چې (نهه هېوادونه پکې ګډون لري ) د (۵۵۴۷) څوکیو ځینې (۳۵۷) ښځو اشغال کړې ، په داسې حال کې چې د هغو هېوادو نفوس په سلو کې دوه پنځوس ښځې دي .

په امریکا کې چې کومې ښځې د کارګرئ په اتحادیه کې غړیتوب ونه لري د قانون له حمایې څخه بې برخې او د تقاعد (ریټایرډ) تنخواه نلري ، او تنخواه یې د اتحادیې له غړو څخه په سلو کې پنځه ویشت کمه ده ، له کلنئ رخصتئ څخه بې برخې دي د اړتیا او ناروغتیا رخصت نه لري او که غیر حاضرې (ناسوبې) شي ، تنخوا یې نه ورکول کېږي او د غربې ښځو لپاره چې څه د سر درد جوړ شوی هغه د زېږون په وخت کې د تنخواه نه ورکول او د کوچنیانو لپاره د وړکتون نشتوالی دی په (۱۹۷۸م ) کال د (۵۱۸) میلیونو کوچنیان مورګانو کار کاوه او (۵۱۸) میلیونه کوچنیانو ته د وړکتون اړتیا وه مګر په ټوله امریکا کې د یو میلیون کوچنیانو لپاره په وړکتون کې ځای وو.

د (۴۴۱) ډولـه دندو څخه ښځې یواځې په شل ډولـه دندو ګومارل شوې دي .

دا وو په لوېدیځ کې دښځو مساوات او دهغوی حالات .همدا حال د ښځو په اروپا کې هم دی او په پخواني شوروي اتحاد کې خو مو ولوستل .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښځه او کار

## کومو لاملونو ښځه کار ته وتلو ته اړه کړله ؟:

دا چې کومو لاملونو ښځه کار ته وتلو ته اړه کړله څېړونکي په دې هکله اختلاف لري .

همدارنګه دا کوم اسباب وو چې ښځې ته يې د کور ، حمل او زېږون دنده ورکړله آيا دا بيولوژيکي اسباب وو که فزيکي چې نارينه ته يې ډېر توان او قدرت ورکړ او ښځې ته کم او که دا ټولنيز ، کلتوري يا تاريخي لاملونه وو چې د دنيا ټولې چارې يې د نارينه و په لاس کې ورکړلې .

دکتور محمد سلاله ادم په دې هکله اوږده څېړنه کړې ده

هغه ليکي پخوا د ټولنې ظروفو او شرايطو د دې اجازه نه ورکوله چې ښځه کار ته ووځي او زده کړه وکړي خو کله چې حالات او شرايط برابر شول او بهرته د وتلو اجازه يې ورکړله نو ښځې هم دکار ډګر ته راووتلې د ښځو بهر ته د وتلو لوی او عمده سبب دټولنې غوښتنه وه .

د ټولنې دې غوښتنې هغه اړه کړله چې طب او حکمت زده کړي څکه ښځه حيا کوي چې خپل علاج په نارينه ډاکټر وکړي خصوصاً د ښځينه ځانګړو ناروغيو علاج او يا هغه ته خپل عورت وښيي نو دټولنې د دې ستونزې حل دهغې د وتلو لامل شو .

په خپل مسووليت پوهه او خپله دنده پېژندل ، دا وزګار وخت ډکول ، په عام ژوند کې ګډون د کورنۍ اقتصادي ستونزه پورته کول ، په ټولنه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل حیثیت لوړوالی دا ټول اسباب را یو ځای شول او ښځه یې بهر ته وتلو ته اړه کړله دا چې د ښځې د کار فایدې ډېرې دي او که زیان او تاوان په لنډ ډول به ورته ګوته ونیسو .

## الف : د ښځې د کار ګټې

د ښځې د کار ګټه یا زیان له یوې ټولنې څخه تربلې ټولنې توپیر لري که چېرې ټولنه سالمه او صالحه وي او دفطرت له پلوه له ایښودل شویو پولو څخه تېرې و نشي نو دښځې بهر ته وتل ګټه لري چې دا ګټه د هغه سبب لاس ته راتلل دي کومو چې هغه بهر ته په وتلو اړ وېستې وه مثلاً : د هغې ټولنې ښځې به نارینه ډاکټر ته له ورتګ څنې خلاصې شي د ښځې د ځانګړیو ناروغیو چې اکثره یې نارینه وته ښکارولی څه چې حتی ویلی هم نشي علاج به دښځو په واسطه وشي .

ښځې به له کلتور ، تمدن اومعرفت سره اشناشي .

اسلام خو هم ښځې له وتلو څخه بالکل نه دي منع کړي مګر هغه وتل یې بد ګڼلي چې بې ضرورته وي ، تفریح کوي ، پارکونو ، ټالونو ته ځي او په کوڅه او بازار کې په ناز او نخرو ګرځي ، دا هم لویه ګټه ده چې ښځې خپل مسوولیت وپېژني او کله چې اوزګارې ناستې وي پردي غیبتونه کوي ، دا ورته ښه ده چې په دې وخت کې څه مصروفیت پیدا کړي انسان نارینه او ښځینه دواړو ډلو ته ویل کېږي او ښځه هم نیمه ټولنه ده نو که ښځه په عام ژوند کې له خپل مېړه یا کورنۍ سره څه مرسته وکړي نو دا خو بده نه ده کومې کورنۍ چې د غړیو له مخې هم ګڼې وي اقتصادي حالت یې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمزوری وي که ښځه وغواړي چې داسې يو کار وکړي چې هغه يې له عهدې څخه وتلی شي او اسلامي اصول هم مراعات کړي نو هيڅ ممانعت نشته نن صبا زموږ په ټولنه کې د ښځې د حيثيت د راپريوتلو غټ لامل دا دی چې هغه تيارخوره ګڼلی شي نو که هغه ټولنې ته خدمت وکړي نو طبعي ده چې حيثيت به يې لوړ شي .

او څومره چې د هغې په اولاد پورې اړه لري دکتور محمد سلاله ادم وايي ! کارکوونکې ښځې خپل اولاد ته د استقلال او شجاعت وخت او موقع ورکوي هغه له عملي ژوند سره مخ کوي هغه زېږوي او تکړه اموخته کېږي ، ځکه چې هغه له بهر نړۍ سره تماس لري دکار کوونکې ښځې حس په کارو کې ډېر وي لکه د کور په کار کې، په زده کړه کې ، د ژوند په نورو ساحو کې او همدا احساس خپل کوچني ته منعکسوي او دا احساس په هغه کې ډېر تاثير راولي کومه ښځه چې کار کوي هغه له خپل کوچني سره په مينه مخ کېږي او مينه او محبت ورسره ډېر کوي او کوم وخت يې چې له هغه ځينې ببل تېر کړی دی د هغه بدله ورګرځوي .

يو امريکايي عالم نای (NYE) ۱۹۲۳ م کال کې وايي چې د کار ګرې ښځې زوی ډېر تکړه او د ژوند د ستونزو په زغملو کې تر هر چا وړاندی وي .

## ب : کارته د ښځې د وتلو زيانونه

کله چې چاسره ذاتي تمانع نه وي او نه ورسره د مذهب څه فکر وي ، امنيتي تدابير هم نه وي ، مجرم ته لازمه سزاهم نه وي ، نو رښتيا چې هلته د ښځې بهر ته وتل ډېر ضرر لري دې ضرر ته خو موږ مخکې اشاره هم وکړه لکه چې هلته عياشي ډېره شي هر څوک يې دځان لپاره ګټي او خوري يې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنی نظام له منځه ځي ، څوک دبچي زېږولو ستونزه پر غاړه نه اخلي ، دانساني نوع جرړه ختمېږي .... دکتوره ابدالين وايي : (( په اروپا کې خو د ښځې کار کولو کورنی اقتصاد ښه کړ مګر د اخلاقو مستوی یې ټیټه کړله هلته چې ښځې په کار کې ستړې شي د بچيانو مينه خو يې هسې هم په زړه کې نه وي نو بيا خپل قهر او غصه په هغوی سړوي . ))

په (۱۹۲۷ م ) کال د برطانيې په يو روغتون کې (۲۵۰۰) کوچنيان داخل د بستر وو چې مورګانو يې وهلي وو په هغو کې له سلو څخه شل مړه شول په امريکا او اروپا کې داسې روغتون نه و چې د کوچنيانو دا ډله په کې داخل دبستر نه وه ځينې يې په کې کاڼه ، ګونګيان او وړانده شوي هم دي .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په اسلام کې د ښځو د کار کولو حکم

په اسلام کې کار له ښځې او نارینه و دواړو څخه مطلوب دی او اسلام هر چا ( نراو ښځې دواړو ) ته بېلې بېلې دندې ور سپارلي او دا دندې د هغوی له فطرت سره سمې ټاکل شوې دي ، خو نه خو دښځې فطرت له هر ډول کار سره برابر دی اونه د هغې د بدن جوړښت د هر کار لپاره شوې دی نو په همدې اساس اسلام ښځه له هر ډول شاقه ، درونـد اوسخت کار څخه وبخښله او ښځې ته یې عزت ورکړ او د هغې لپاره یې خوراکه ، جامه او د ژوند ټولې اړتیاوې په خاوند یا نورو نژدې خپلوانو لازم کړلې مگر د انساني فطرت د ښمنانو ښځه په کار مجبوره کړله هغه یې په زور بهر ته و وېستله او دژوند له ستونزو سره یې لاس په ګریوان کړله .

کارل مارکس د کمونېزم بنسټ اېښودونکی وایي : (( ښځه د خپل ژوند د پایښت لپاره هرومرو باید کار وکړي . ))

ښځه هم انسان دی او نارینه هم ، ښځه له سړي څخه پیدا ده او سړی له ښځې څخه .

الله ج فرمایي : (( بعضکم من بعض )) ........ ال عمران :۱۹۵ .

یعني : (( ځینې ستاسې له ځینې نورو یئ . ))

انسان ژوندی موجود دی او طبیعت یې هم داسې عیار شوی دي چې دخپل بدن د جوړښت په نظر کې نیولو سره کار وکړي ، تحرک وکړي ، فکر وکړي او که داسې نه وي نو بیا خو انسان نه شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله ج هم انسانان د کار لپاره پيدا کړی دی ، بلکې عمل او کار يې د خلقت هدف ښودلی دی .

[ ليبلوکم ايکم احسن عملا ] (۳۱)

يعنې : (( چې وازمويي تاسې چې کوم يو له تاسو ډېر ښه دی د عمل له مخې . ))

[ فاستجاب لهم ربهم انی لااضيع عمل عامل منکم من ذکر او انثی .] (۳۲)

يعنې : (( پس قبولې کړلې دوی ته رب د دوی، بېشکه زه چې يم نه ضايع کوم عمل د هېڅ عمل کوونکي له تاسې نه نارينه وي که ښځينه . ))

ښځې ته په اخرت کې هم په ښه کار ثواب او بدله ورکول کېږي ، او په دنيا کې هم .

[ من عمل صالحاً من ذکر او انثی و هومؤ من فلنحيينه حياة طيبه ] (۳۳)

يعنې : (( هر چا چې وکړ نيک عمل له نارينه څخه يا له ښځينه څخه حال دا چې دی مومن وي نو خامخا ژوندون به ورکړو هرومرو هغه ته ژوند پاکيزه .))

[ للرجال نصيب مماکتسبوا وللنساءنصيب مما اکتسبن ] (۳۴)

يعنې : (( شته نارينه ولره برخه په سبب د هغه عمل چې کړی وي دوی او شته ښځو لره برخه په سبب د هغه عمل چې کړی وي دوی . ))

---

(۳۱) الملک : ۲ .

(۳۲) ال عمران : ۱۹۵ .

(۳۳) النحل : ۹۷ .

(۳۴) النساء : ۳۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه نیمه انساني ټولنه ده ، نو له اسلام څخه دا هیله نه شي کېدلی چې نیمه ټولنه ګوډه ، شله ، بېکاره ، عاطله او باطله اعلان کړي او داسې یو حدیث او آیت هم نه موندل کېږي چې له کوره بهر دښځو د کار حرمت ترې استنباط شي .

نو ویلی شوو چې په عمومي ډول ښځو ته کار روا دی ، ان په ځینو وختونو کې ورته مستحب او فرض هم دی لکه کونډه یا طلاقه شوې ښځه چې د کار انرژي هم لري ، اولاد هم ولري او دګټې بله مرجع هم ونه لري ، اوکار ته هم محتاجه وي یا ورته واړه ورونه او خویندې پاتې وي ، یا یې پلار سپین ږیری وي یا یې مېړه بې وسه وي ، نو په دې ټولو صورتونو کې په ښځه لازم دي چې د کورنۍ د بار د اوچتولو لپاره کار وکړي ، لکه د حضرت ابوبکر صدیق رض ، لور ، حضرت اسماء به چې له خپل خاوند سره هر ډول مرسته کوله ، اس به یې ورته ساته ، په سر به یې ورته بار وړه .

ځینې وختونه ټولنه د ښځو کار ته جدي اړه شي بیاهم په ښځه لازم دي چې ټولنې ته د مرستې لاس ورکړي مثلاً : دښځینه ناروغانو تداوي ، د انجونو لپاره ښوونه او روزنه او داسې نور ، خوباید یو ځل بیا هم وویل شي چې د ښځې د کار لپاره مهم ځای دهغې خپل کور ، د اولادونو روزنه ، دکور حفاظت او دکور چارې دي ښځه چې په دې دایره کې څومره ګټوره تمامېږي په بل یو ډګر کې هم دومره بریالۍ نده او همدا نېکمرغه ژوند دی مګر که بیا هم ښځه له کور څخه بهر لکه دفتر کې ماموریت، یا کار خانه کې کار کوي نو ورته روادي خو باید د اسلام هغه قوانین بشپړ مراعات کړلی شي چې ښځو ته یې بهر ته د وتلو په وخت کې ټاکلي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا راز ښځه چې کوم کار کول غواړي نو باید چې هغه کار په خپل ذات کې ناروا نه وي او نه داسې چې حرام کار ته لار هواروي لکه له ځوان سړي سره د پردې په پېغلې یو ځای اوسېدل د خدمتګارې یا ... په توګه یا د داسې چا سکرتریت چې یوائې توب ورسره راځي یا په فلم ، ډرامو ، تیاترو کې رقص او نڅېدل یا په ساقي خانه کې پیالې وېشل یا په الوتکه کې میلمه پاله یا .... باید په خبرو او حرکاتو کې اسلامي اداب مراعات کړي .

[ قل للموء منات یغضضن من ابصارهن ][۳۵]

یعنې : (( وواېه ایماندارو ښځو ته چې ښکته ساتي سترګې ، خپلې ، ساتنه دې کوي د شرمګاهو خپلو او نه دې ښکاروي زینت خپل مګر هغه چې ښکارېږي ، له دوی څخه اوښایي چې وادې چوي پړونی خپل په خپلو ګرېوانونو باندې ... او نه دې وهي پښې خپلې د دې لپاره چې معلوم کړل شي هغه شی چې پټوي یې دوی له زینت خپل څخه . ))

همدا راز بهر نی کار یې باید د کورني کار مخه ونه نیسي د ( مېړه ) کور او اولاد خدمت ترې پاتې نه شي . ځکه چې دا یې اساسي کار دی .

اسلام خو ښځه په سخت کارنه مجبوروي او نه یې هغه له کار څخه منع کړې ده ، اسلام په هر کار کې اعتدال ( منځو مانه لار ) څخه کار اخلي افراط او تفریط دواړه محکوموي او دښځې کار کول یې هم د ښځې په خوښې پورې اړوند کړل ، که چېرې هغه په خپله خوښه کار کول غواړي نو اسلام یې مانع نه ګرځي ، او که هغه ونه غواړي چې کار وکړي یاله کور څخه بهر ووځي نو څوک یې په زوره مجبورولی نه شي دا د اسلام د

---

(۳۵)النور ۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهربانۍ او رحمت لویه نښه ده ، ځکه چې که اسلام ښځې هم هغو ستونزو ته مخ کړې وای کومو ته یې چې نارینه مخ کړي دي نو دابه د ښځې د مصلحت او خاصیتونو ضد کړنه وه .

قران کریم د داسې ښځو مثال بیان کړی دی چې هغوی به کار کاوه او خپل ژوند به یې تېراوه لکه د شعیب ع لورګانې چې پلار یې سپین ږیری او کمزوری و وورور یې نه درلوده نو دوی به په پوره حیا او بشپړې ایماندارۍ سره بهر ته وتلې او رمې به یې څرولې ، او تر هغې به یې صبر کاوه چې نور شپانه خپلې رمې په اوبو مړې کړي او لاړ شي بیا به دوی خپلو رمو ته اوبه ورکولې او تولنه هم باید له ښځو سره داسې چلند او مرسته وکړي او داسې اخلاص ورسره ښکاره کړي لکه چې موسی ع د شعیب ع له لورګانو سره ښکاره کړه .

د رسول الله ص په وخت کې هم داسې ښځې لیدلې شوې دي چې هغوی کار کاوه لکه ( ام معبد ص ) چې له رسول الله ص سره یې د هجرت په وخت کې ډېرې مرستې هم کړې دي ، په مدینه منوره کې یې د نبوي مسجد ترڅنګ سوداګري کوله هغه (رض) سره له دې چې ښه ښکلې ښځه وه ، هلته یې خواړه پلورل خو هېچا پرې اعتراض ونکړ او نه رسول الله ص منع کړله [۳۶].

اوس هم په ډېرو اسلامي هېوادونو کې ښځې په بېلابېلو شرکتونو او ادارو کې کار کوي ، دایران پانګه له پطرولو څخه مخکې قالینې ( غالۍ ) وې چې ښځو به جوړولې او سړیو به پلورلې .

---

(۳۶)الطبقات الکبری لابن سعد اوالاستیعاب لابن عبدالبر .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په افغانستان کې هم په کومو ځایونو کې چې ښځو غالبې جوړولې د هغه ځایونو اقتصاد د ټول افغانستان په انډول ښه و .

## د کور د ېوالونه دچا لپاره ؟

ځېنې خلک وايي چې ښځه يا په کور ده يا په ګور ، ښځه بايد هېڅکله هم له کوره څخه ونه وځي دوی وايي چې ښځه بايد د کور په څلورو د ېوالونو کې ژوند وکړي ، په دې پراخه نړۍ کې د ښځې په برخه همدا د څلور د ېوالونو محوطه ده او ښځه بايد د کور د څلورو ديوالونو په محوطه کې ژوند وکړي .

بايد وويل شي چې دا يوازې تش يو نظر نه دی بلکې ډېرې ژورې ريښې هم لري او په اکثرو ځايونو او په ځانګړې ډول په پښتو قبايلي او اطرافي سيمو کې ورباندې ډېر کلک عمل کېږي تر دې چې که ښځه سخته ناروغه نه شي يا بله کومه سخته اړتيا پيدا نشي نو په کلونو کلونو هم له کور څخه بهر نړۍ نشي ليدلی او دوی دا کار اسلام ته منسوبوي او دليل هم د سوره احزاب دا ايت نيسي : (( وقرن فی بیوتکن .))[۳۷]

يعنې : (( او قرار ونيسئ په خپلو کورو کې )) د ښځه يا په کور ده يا په ګور ، تصور اسلامي نه دی .

اسلام ښځو ته اجازه کړې ده چې په ټولنيز ژوند کې ګډون وکړي خپله هره شرعي اړتيا په پوره اطمينان او ډاډ سره پوره کړي ، بهر ته لاړې شي ، په

---

(۳۷)الاحزاب ۳۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمانځه ، غم اوښادۍ کې ګډون وکړي .خو داهرڅه داړتیا ترحده .له اړتیا پرته ښځه پخپل کور کې درنه ښکاري.

حضرت عمر رض به هم دا نه خوښوله چې ښځې دې ډېرې له کوره بهر ووزي ، یوځل دوه ځله یې ام المؤمنین حضرت سوده رض په غېر مستقیم ډول ټوکلې هم وه ،خو هغې ترې رسول الله ص ته شکایت وکړ، رسول الله ص ورته ونه ویل چې حضرت عمر رض ښه کوي چې تاسې تنګوي ، یا (( ښځه یا په کور ده یا په ګور )) یا تاسې بهر ته مه وځئ، بلکې په صفا ټکو کې ورته وایي چې : [ قد اذن الله لکن ان تخرجن لحوائجکن ][۳۸]

یعنې : (( الله ج تاسو ته د خپلو اړتیاوو دپوره کولو لپاره ، بهر ته د وتلو اجازه کړې ده )) له دې او داسې نورو روایاتو څخه ښکاري چې که فرض کړو د ( وقرن فی بیوتکن ) ایت حکم عام دی بیا هم غرض ترې دا نه دی چې ښځې دې بالکل بهر ته نه وځي او د کور په څلورو دیوالونو کې دې بندې وي .

په کورکې دښځو بند ساتل او په څلورو دېوالونو کې ایسارول غته جزا ده او دا جزا پاکې مسلمانې بي بي ته نه، بلکې بد کارې او مجرمې ښځې ته په کار ده تاسې وګورئ کله چې دزنا کار سړي او زنا کارې ښځې لپاره د جزا وروستي احکام نازل شوبي نه و ، او الله ج د حکمت له مخې هر کار په تدریجي ډول منع کاوه ، نو د کور په څلو دیوالونو کې دبندولو سزا یې د زنا کارې ښځې لپاره ټاکلې وه او دا د زنا کارې ښځې سزا وه ، فرمایي :

---

(۳۸)متفق علیه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

[ واللاتي ياتين الفاحشة من نساء كم فاستشهدوا عليهن اربعة منكم فان شهدوا فامسكوهن في البيوت حتى يتوفهن الموت او يجعل الله لهن سبيلا ] [۳۹]

يعني : (( او ستاسې هغه ښځې چې زناکوي نو شاهدان وغواړئ پر دوی څلور تنه له تاسې نه نو که شاهدي وويله دوی نو بندې کړئ تاسې دا ښځې په کور کې تر هغې پورې چې مړې شي يا وګرځوي الله دوی لره کومه لاره . ))

نو د کور په څلورو ديوالونو کې بندول د زناکارې ښځې سزا وه چې بيا وروسته ورته الله ج لاره پيدا کړله او د زنا دحد احکام راغلل نو کوم منطق به دا ومني چې الله ج بيا دا سزا پاکې ، شريفې د وقار او درناوي خاوندې ښځې ته ورکړي ؟

## په اسلام کې د فحاشۍ او بې حيايۍ مخنيوی :

له اسلام څخه وړاندې فواحش اوبې حيايي له حده ډېره وه او دا څه د شرم او عيب خبره نه ګڼل کېدله د کعبې طواف به لوڅ کېده ، د هغوی لباس به و مګر سينه ، تيونه ، څنګلې ، پنډۍ او ملا به لوڅ و له ډول اوسينګارسره به بهر ګرځېدلې نو الله ج دېته جاهليت و وايه او له دې

---

(۳۹) النساء : ۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه يې منع وکړله ويې فرمايل : [ وقرن فى بيوتكن ولا تبرجن تبرج الجاهلية الاولى ][40]

يعنې : (( په خپلو کورونو کې قرار درنې کښېنئ او د جاهليت د زمانې د ډول سينګار سره ګرځېدل پرېږدئ .)) ( ځينې علماء دا آيت د رسول الله ص پر بيبيانو پورې ځانګړې بولي ) همدا راز بهر به په ناز او نخرو ګرځېدلې او داسې تګ به يې کاوه چې ګويا هر قدم پر ځمکه نه، بلکې د کتونکي په زړه ږدي نو الله ج د داسې قدم پورته کولو ښځه هم منع وکړله ، چې زينت يې ښکاره شي او يا کتونکي له تګ ښځه خوند واخلي .

[ ولايضربن بارجلهن ليعلم مايخفين من زينتهن ][41]

يعنې : (( او خپلې پښې په زوره په ځمکه مه وهئ ځکه چې کوم زينت مو اچولی هغه ښکاره نه شي .))

او که له چا سره د خبرو اړتيا پيښه شي نو نرمې نازکې په خوږ اواز او داسې انداز خبرې مه کوئ چې هره خبره د اورېدونکي پر زړه داغ جوړ شي .

[ فلاتخضعن بالقول فيطمع الذي فى قلبه مرض ] يعنې : (( نوغلې غلې او نرمې نرمې خبرې مه کوئ ځکه چې تمه پيدا نکړي هغه څوک چې په زړه کې يې رنځ دی ))

نو الله ج خپلو بنده ګانو ته امر کوي چې بربنډ او لوڅ مه ګرځئ ، په ګرځېدلو کې ناز نخرې او کرشمې مه کوئ، نرمې او پستې خبرې مه کوئ،

(40)الاحزاب :۲۳ .

(41)النور :۳۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کوم رنځور په غلطه انګېرنه کې پرې نه وزي او ما تاسو ته لباس درلېږلی هغه اغوندئ .

[ یابنی ادم قد انزلنا علیکم لباسا یواری سواتکم و ریشا ][۴۲]

یعني (( ای د ادم اولادې یقیناً موږ درلېږلی تاسو ته لباس ( اغوستن ) چې تاسې خپل جسمونه پرې پټ کړئ او ستاسې لپاره د ا دزینت اوښکلا سبب دی .))

نو د دې وینا له مخې، په نارینه او ښځه د عورت پټول فرض شول او هېچا ته روا نده چې د کومې پردئ ښځې ښکلا او زینت ته وګوري.

رسول الله ص فرمایي : (( چا چې د کومې پردئ ښځې ښکلا ته د شهوت په نظر وکتل نو دقیامت په ورځ به یې په سترګو کې ویلې ( تاوده ) شوي سرب واچول شي .))[۴۳]

یا (( چا چې د اسې ښځې ته لاس وروور چې له هغې سره یې څه روا اړیکې نه وې نو د قیامت په ورځ به یې په لاس د اور سکروټه کېښودل شي ))[۴۴]

حضرت ابوهریره روایت کوي چې رسول الله ص فرمایي (( سترګې زنا کوي او د سترګو زنا پردئ ته کتل دي ، لاسونه زنا کوي او دلاسونو زنا لاس اوږدول دي هغه چاته چې لاس ور اوږدول ورته روا ندي .))[۴۵]

او ددې فتنې زیانونه له هېچا پټ ندي نن صبا خو په اسلامي ټاټوبو کې فحاشي دې اندازې ته رسېدلې ده چې غیر اسلامي هېوادونه هم ورسره

---

(۴۲)الاعراف : ۲۲ .

(۴۳)تکمله فتح القدیر ج : ۸ .

(۴۴)تکمله فتح القدیر ج : ۸ .

(۴۵)بخاري مسلم او ابو داود .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکې سیالي نه شي کولای دلته ښکاره د زنا مرکزونه شته او دا یوه معمولي خبره ګرځېدلې ده دلته خو په حقیقت کې ښځو له نارینه وو سره داسې دښمني راخېستې ده چې د هغوی ژوند یې ورته تباه کړ،دوی که یو قدم هم پرمخ ځي نو د هغوی په زړونو کې بل اور نور هم تازه کېږي دلته د ښځو او سړیو ازاد ، عشق ، په اخبارونو کې لوڅ تصویرونه، په سینما ، تلویزیون یا ویدیو VCR بربنډ فلمونه کتل ، الکولي مشروبات څښل ، په ستیج سندرې او ګډاګانې د رنګینو نرمو او نازکو جامو استعمال ، په بې شمېره رنګونو د وېښتانو جوړول اوبیا لوڅ سر ګرځېدل د پارکو ، بڼو او دریابونو پر غاړه تفریح کول دا هر څه په دې لېونۍ مینه کې نور هم ډېرښت راولي. پر مخ لاسونو ، سترګو ، شونډو او وېښتو کې د داسې شیانو استعمال چې مقابل لوری یې په لیدلو سم لېونی شي او د شهوت سور انګار یې نور هم تازه شي او د «هل من مزید» چیغې ورته وهي رسول الله ص چې د جامو او وېښتانو د جوړښت کوم ډول د قیامت نښې وښودلې نن دوی له هغې څخه هم څو قدمه وړاندې تللي دي .
رسول الله ص په دغسې ښځو لعنت ویلی دی او دا یې هم ویلي دي چې د جنت بوی که څه هم دومره او دومره لېرې وا ئونه ته رسېږي پر دوی حرام دی : «لعن الله الکاسیات العاریات الممیلات المائلات»
یعنې : « د الله ج لعنت دی پر هغو ښځو وي چې په اغوستلو جامو کې هم لوڅې ښکاري د نورو میل ځان ته جلبوي او خپله نورته میلان کوي . »
هر څوک چې پر دې خبر وي چې د ده د کور ښځې خپل عفت ، ابرو او حیا نه ساتي او بیا یې هم مخه نه نیسي نو رسول الله ص هغه ته دیوث ویلی دی او په دیوث د جنت بوی هم حرام دی او داسې ښځې نه څه قدر او

(c) ketabton.com: The Digital Library

درناوی لري او نه څه ارزښت. دوی خپل کرامت پخپله ترپښو لاندې کړی دی. د فقهې یو مشهور کتاب د نصاب په حواله لیکي : ابابکر الاعمش رستاق ته تللو نو دیوې ویالې ترڅنګ ښځو متې را بډوهلې وې او سرونه یې لوڅ وو ، ده پرې هېڅ پروا ونکړله او پرې ورغی نو چا ورځینې وپوښتل چې ولې دې داکار وکړ ؟ هغه ځواب ورکړ چې دوی د هېڅ احترام او درناوي وړندي ځکه چې دوی خپل عزت پخپله ترپښو لاندې کړی دی (۴۶).

## په اسلام کې د ښځو منزلت

په تېرو مخونو کې مو د ښځې د ژوند حالات په بېلابېلو مذهبونو او قومونو کې
ولوستل ومو لیدل چې له اسلام څخه وړاندې به لورګاني ژوندۍ تر خاورو لاندی کېدلې، د هغوی وجود مصیبت ګڼل کېده له خپلو انساني حقوقو څخه محرومې وې میراث نه ورکول کېده ، په زنا مجبوربېدلې ،اوسني جاهلیت هم ښځه د خپلو غوښتنو د تسکین الـه وګرځوله ، هغه یې د ستېوریس په نوم په الوتکو کې د مسافرو د زړه د خوښۍ لپاره وکاروله ؟هغه یې د سوداګرۍ او دتوکیو د نمایش او مشهورتیا لپاره استعمال کړله د هغوی قدر ، قیمت او حیثیت یې هېڅ کړ .

(۴۶)البریقه شرح الطریقه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مگر اسلام ښځې ته له نارينه ځينې ډېر عزت او حقوق ورکړل ، که د رسول ص سيرت وګورو نو وبه وينو چې هغه د ښځې دوست او پر هغوی مهربانه او د هغوی د حقوقو سترساتونکی و .

اسلام ښځې ته سياسي ، اقتصادي او اجتماعي ټول حقوق ورکړل هغه په خپل مال کې د تصرف پوره واکمنه ده ، اسلام ښځې ته دومره درنښت او عزت ورکړ چې د لوېديځ د پرمختللې ټولنې په تصور او خيال کې به هم ونه ګرځي .

اسلام د ښځو نفقه، جامه او دژوند ټول ضروريات له واده څخه دمخه پر پلار ، ورور يا بل نژدې خپل او له واده څخه وروسته پر مېړه فرض وګرځول مېړه ته يې امر وکړ چې له ښځې سره نېکه ګذاره کوه :

(( وعاشروهن بالمعروف ))[٤٧]

يعني : (( او ګذران کوئ له ښځو سره په ښه طريقه .))

د نر اوښځې تر منځ د محبت د لازياتوالي په غرض فرمايي : (( هن لباس لکم و انتم لباس لهن ))[٤٨]

يعنې : (( هغوی ستاسې لپاره اغوستن دي او تاسې د هغوی لپاره اغوستن يئ . ))

له رسول الله ص څخه پوښتنه وشوه چې زما د نېک صحبت ډېر مستحق څوک دی ؟ ځواب يې ورکړ چې مور دې ده ، هغه درې ځلې همداسې

---

(٤٧)النساء ١٩ .

(٤٨)البقرة : ١٨٧ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

وپوښتل هغوی ص به ځواب ورکاوه چې مور دی ده په ځلوم ځل یې ورته وفرمایلی چې پلار دې دی.[۴۹]

رسول الله ص فرمایي : (( په دنیا کې مې له درې شیانو سره ډېره مینه ده چې یوه ترې ښځه یادوي )) ...رواه نسایي :

فرمایي چا چې دوه جینکۍ وپاللې تر هغې چې بالغې شي نو دقیامت په ورځ به زه او هغه په دې ډول راځو او دواړه ګوتې یې یو ځای کړلې[۵۰].

(( دنیا خوند او مزه ده او غوره خوند یې نېکه او صالحه ښځه ده))[۵۱]

همدا راز فرمایي : (( ښځه د نارینه سکه خورګاني دي ، د ښځو عزت نه کوي مګر هغه څوک چې خپله عزتمن وي او دهغوی سپکاوی نه کوي مګر بد اخلاقه او تر هرچا وروسته پاتې ))

رسول الله ص دمرګ په بستره پروت و او ویل یې چې : (( له ښځو سره په نیکۍ کولو وصیت کوئ ))[۵۲]

فرمایي غوره ستاسو هغه دی چې له ښځو سره د خیر اوښېګڼې څخه کار واخلي. اسلام ښځې ته د مېړه د انتخاب حق ورکړ ، د هغې تعلیم یې فرض وګرځاوه ، په کار کولو اړوتې نده او دنر او ښځې یو پر بل مطلق فضیلت او واکمني یې له منځه وېوړه .

الله ج فرمایي : (( هر چا چې نېک عمل وکړ له نارینه څخه یاله ښځو څخه حال دا چې دی مؤمن وي نو خامخا ژوند به ورکړو دوی ته ژوند پاکیزه او

---

[۴۹]متفق علیه .

[۵۰]مسلم

[۵۱]ابن ماجه .

[۵۲]مسلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خامخا جزاء به ورکړو دوی ته اجر د دوی په ډېرو ښو هغو نېکیو سره چې وو دوی چې کول به يې ))[۵۳]

رسول الله ص د خدیجې (رض) د وفات کال عام الحزن ( دغم کال) وباله حضرت عمر رض دیوې ښځې د نظر په هکله وايي : عمر رض خطا شو او ښځه حق ته ورسېدله ، دی مبارک په توره تیاره کې له کور څخه بهرپه مدینه منوره کې ګرځېده یوې ښځې چې د کور دروازه يې ځان پسې تړلې وه د خپل مېړه په یاد کې داسې شعرونه ویل چې د هغه د ملاقات رغبت يې پکې کاوه حضرت عمر د دې کور دروازه و ټکوله ترهغې يې ورته دروازه بېرته نکړه ، ترڅو چې ښه مطمئنه شوه چې ټکوونکی عمر (رض )دی ، عمر هم د هغې په پاکۍ او عظمت مطمئن شو ورته يې وويل چې څه دې لړ مخکې ویل : تکرار يې کړه هغې هم ورته تکرار کړل عمر رض ورځيني وپوښتل چې خاوند دی چېرته دی ؟ هغې ځواب ورکړ چې په فلاني لښکر کې جهاد ته تللی دی حضرت عمر رض د دې لښکر قوماندان ته سړی ورولېږه تر څو د دې ښځې خاوند کورته راولېږي هغه راغی او دحضرت عمر رض په خدمت کې حاضر شو حضرت عمر رض هغه کورته ولېږه بیا حضرت عمر رض له خپلې لور حفصې رض څخه وپوښتل چې ښځه دخاوند د بېلتون څومره تحمل لري ؟ حضرت حفصې رض ورته وویل : (( یوه میاشت یا دوه یا درې په څلورمه میاشت صبر ختمېږي نو حضرت عمر رض همدا نېټه د مجاهدو لښکریانو لپاره وټاکله ))[۵۴]

---

(۵۳)النحل : ۹۷ .

(۵۴) ملامح الشوری عدنان النحوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګورئ حضرت عمر رض د دې ښځې څومره درناوی او احترام وکړ ، د دې لپاره چې پر ښځو د مېړه جدایي سخته تمامه نشي د هغوی لپاره یې نېټه و ټاکله .
کله چې بي بي خدیجې رض رسول الله ص ورقه بن نوفل ته وروست نو د هغه زړه له وېرې څخه ډک او اندېښمن و او کله چې بېرته راستون شو نو خوشحاله ، مطمئن او ارام و .

## په اسلام کې د نارینه او ښځې اړیکې

په اسلام کې د نر او ښځې اړیکې د مینې او محبت ، دوستانې او صمیمیت اړیکې دي هغوی یو بل ته د ژوند په اوږدو کې ډېره اړتیا لري ، او یو له بل څخه ورته بې پروایي ناممکنه ده هغوی یو دبل متمم او پوره کوونکي دي .
ښځه او خاوند یو له بل څخه سترتیا لرې کوي ، دردونه کموي ، یوبل ته د اطمنان راحت ، هوساینې او تسکین لامل دي .
رسول الله ص به چې کوم اطمئنان او سکون له بي بي خدیجې او ام سلمې رض څخه حاصلاوه هغه تاریخ روښانه کړی دی ، په اسلام کې د نورو مذهبونو پرخلاف د نر اوښځې یو ځای اوسېدل او په ګډه سره د ژوند بېړۍ پر مخ بېول د قدر او ستاینې وړ عمل ګڼل کېږي ، په هندوانو کې چې څوک له ښځو سره اړیکې ساتي هغه بدبخته ګڼل کېږي ، او د بریالیتوب او خلاصون دروازې یې پرمخ تړلې دي ، خو اسلام هغوی یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبل جامه ګڼي ، ځرنګه چې انسان جامې ته اړتیا لري همدا راز خپل جنس ته هم اړه لري ، بلکې لـه دې ډېر. الله ج فرمايي : [ هن لباس لكم و انتم لباس لهن ] (۵۵)

يعني : (( هغوی ستاسې لپاره اغوستن دی او تاسې د هغوی لپاره اغوستن يئ .))

اسلام نه يوازې هغوی ته اجازه کړې ده چې د خپل مثل د بقا لپاره په يو شرعي چوکاټ کې سره يوځای شي ، بلکې په دې يې امر ورته کړی دی ، او کله کـه احياناً د دوی تـرمنځ کرکـه ، نفـرت ، زړه بـداوی او نـاخوالې راپيدا شي ، نو له يوبل څخه جدا کېدلی هم شي ، ځکه چې د دوی ترمنځ د يوځايوالي څخه غرض د مينې ، محبت ، دوستۍ او رحمت راپيدا کېدل دي ، او الله ج دابې ساري مينه او محبت او دوستانه دخپل وجود يوه نښه ګرځوي :

[ ومن اياته ان خلق لكم من انفسكم ازواجا لتسكنوا اليها و جعل بينكم مودة ورحمة ] (۵۶)

يعني : (( د هغه لـه نښو څخه دا ده چې ستاسو لپاره يې خپله تاسو څخه جوړې پيدا کړې لپاره د دې چې تاسې له هغو ځينې سکون واخلئ او هغه ستاسو تر منځ دوستي او رحمت ايښی دی .))

[ يا ايها الناس انا خلقنا كم من ذكرو انثى ] (۵۷)

يعني : (( ای خلقو موږ تاسې له يو سړي او ښځې څخه وزېږولئ .))

(۵۵) البقرة : ۱۸۷

(۵۶) الروم : ۲۱

(۵۷) الحجرات : ۱۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښځې او نر اړیکې هېڅکله هم غوښېدلای نه شي ، همدا ښځه ده چې کله به مور وي او کله خو ر، کله به خاله وي او کله ترور او کله .... اسلام خلکو ته څو ځله له مور سره په نېکۍ کولو حکم کړی دی. الله ج له مور، پلار دواړو سره په نیکۍ امر وکړ ، بیا یې مور ځانګړې کړه ، بیا یې د تاکید لپاره په دریم ځل یاده کړله[۵۸].

الله ج نر اوښځې دواړو ته وايي چې له یوبل څخه په بېلتون کې ببره مه کوئ ، د خپل ژوند خوږې ورځې شپې مه هېروئ : [ ولاتنسوا الفضل بينكم ][۵۹]

یعنې : (( په خپلو منځونو کې فیاضي او احسان مه هېروئ . ))

نارینه ته ښوونه کوي چې مېرمنې مو تاسې سره اوسېږي ، نو ښه ګذاره ورسره کوئ ، :

[ وعاشروهن بالمعروف ][۶۰]

یعنې : (( او ګذران کوئ له ښځو سره په ښه طریقه . ))

نر اوښځې دواړه د ټولنې د ترکیب دوه عناصره دي او کله که د دې عناصرو څخه یو کمېږي ، نو ټولنه او ژوندون له منځه ځي او اسلام دواړه له کرکې ، نفرت ، رخې یا حسد او کینې څخه منع کړي دي او هرې ډلې ته یې بېل بېل حقوق ورکړي او ټاکلي دي ، نو دې ته اړتیا نشته چې ښځې په بازارونو اوپارکونو کې غونډې او مظاهرې وکړي او ځان ته حقوق وغواړي ، ځکه د هغوی حقوق څرګند او معلوم دي .

---

(۵۸)لقمان : ۱۴ .

(۵۹)البقره : ۲۳۷ .

(۶۰)النساء : ۱۹ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې د وخت حکمرانان له دوی سره ظلم کوي او اسلامي حدود هم تر پښو لاندې کوي ، نو دا ګناه د چا ده ؟

## د ښځې د پیدا ایښت موخه :

ځینې پرګنې په دې انګېرنه کې دي ، چې له ژوند څخه غرض د نر ، ارام او هوسا ژوند دی ، ښځه د نر د خدمت لپاره پیدا شوې ده ، هغه باید د نر تابع و اوسي د وینځې په څېر دې کار وکړي ، د نارینه غوښتنې دې رفع کړي ، اولاد دې وزېږوي ، کور دې سنبال کړي ، هغوی په عملي ژوند کې برخه اخېستلای نه شي ، تر دې چې له ځینو سره خو لا دا سوچ و چې ښځه له سره انسان نه دی او ځینې په دې شک او تردد کې وو چې آیا ښځه انسان دی او که نه ؟

دا باطلې نظریې اسلام په کلکه غندلې دي ، اسلام چې نارینه په څه مامور کړی دی ، ښځې یې هم ماموري کړي دي ، او له څه څخه یې چې نارینه منع کړی دی ، ښځې یې هم منع کړي دي .

الهي احکام دواړو ته شامل دي .

الله ج فرمايي : [ وما كان لمؤمن ولا مؤمنة اذا قضى الله ورسوله امرا ان يكون لهم الخيرة من امرهم ] (٦١)

یعنې : (( او نه دی لایق چا ایمان دار سړي او یمان دارې ښځې ته هر کله چې مقرر کړي الله ج او دهغه رسول ص څه کار چې دوی لره وي اختیار د خپل کار .))

---

(٦١)الاحزاب : ٣٢ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه ثـواب او ګناه کـې برابـر دي پـه انسـاني کرامـت کـې مسـاوي دي الله ج فرمايي : [ ولقد كرمنا بنى آدم .] (۶۲)

يعني : (( او پـه تحقيق سره موږ عزت ورکړ د آدم اولادې ته . ))

نو د ادم په اولاده کې نارينـه اوښځې دواړه شامل دي ، دلتـه د غـوره والـي او فضيلت معيـار نـر والـی او ښـځه والـی نـه بلكې تقـوا ده : [ ان اکـرمکم عند الله اتقاکم ] (۶۳)

يعنـي : (( بېشـک عـزتمن پـه تاسـو کـې د الله ج پـه نـزد زيـات پرهېزګـار ستاسو دی . )) دلته هر چا تـه خپـل نصيب او برخـه پـوره ور رسـېږي پـه دې خاطر د هغې لـه اجر څخه څه نـه کمېږي چې هغـه ښځه ده ، او نـه د نارينـه توب په سبب ډېرښت مـومي الله ج فرمـايي : [ للرجـال نصيب ممـا اكتسـبوا وللنساء نصيب مما اكتسبن ] (۶۴)

يعني : (( د سړيو لپاره حصه ده له خپلې ګټې څخه او د ښځو لپـاره حصـه ده له خپلې ګټې څخه )) نو هر چاته د خپلې کړنې بدله پخپله ورکول کېږي .

[ مـن عمـل صـالحاً مـن ذكـر او انثـى و هـو مـومن فلنحيينـه حيـاة طيبـة و لنجزينهم اجرهم باحسن ما كانوا يعملون ] (۶۵)

يعني : (( هر چا چې وکړ نېک عمل له نارينه يا له ښځې څخه حال دا چې دا مؤمن وي نو خامخا ژوندون به ورکړو هرومرو اجر د دوی په ډېرو ښـو هغـه نېکيو سره چې وو دوی چې کول به يې .))

---

(۶۲)الاسراء : ۷ .

(۶۳)الحجرات : ۱۳ .

(۶۴)النساء : ۳۲ .

(۶۵)النحل : ۹۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

[ ان المسلمين ولمسلمات و المؤ منين والمؤ منات والقنتين و القانتات والصدقين و الصادقات والصابرين والصابرات والخشعين والخاشعات و المتصـــدقين والمتصـــدقات والصـــائمين والصـــائمات والحـــافظين والحافظات والذاكرين الله كثيراً والذكرات اعد الله لهم مغفرة و اجراً عظيما . ][66]

يعنې : (( بېشکه مسلمانان سړي او مسلمانانې ښځې اوايماندار سړي او ايمانداري ښځې او بنده ګي کوونکي سړي او بنده ګي کوونکې ښځې رښتوني سړي او رښتوني ښځې صبر کوونکي سړي او صبر کوونکې ښځې او خېرات کوونکي سړي او خيرات کوونکې ښځې روژه دار سړي او روژه دارې ښځې حفاظت کوونکي سړي او حفاظت کوونکې ښځې او يادوونکي سړي الله ج لره ډېر او يادوونکې ښځې تيار کړي دي الله ج د دوی لپاره معافي او لوی ثواب. ))

[ فاستجاب لهم ربهم انی لا اضيع عمل عامل منکم من ذکر او انثی بعضکم من بعض ][67]

يعنې : (( بيا قبوله کړله د دوی دعا د دوی رب چې زه نه ضايع کوم محنت د محنت کوونکيو ستاسو څخه سړي وي او که ښځې تاسو پخپلو کې يو يئ .))

نو ددې ياد شويو آيتونو او له داسې ډېرو نورو ايتونو څخه په ډاګه ښکاري چې عمل له نر او ښځې دواړو څخه مطلوب دی ، او دواړه پوښتل

---

(66)الاحزاب : ۳۵ .

(67)ال عمران :۱۹۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي ، څومره حقوق چې نارينه پر ښځه لري هغومره حقوق ښځه هم پر نارينه لري : [ ولهن مثل الذی علیهن بالمعروف ][۶۸]

يعني : (( او ښځې لره هم حق دی لکه څنګه چې د سړيو پر هغوی حق دی .))

دلته لومړی الله ج د ښځو حقوق په سړيو ياد کړي نو معلومېږي چې د ښځو حقوق د نر تر حقوقو مهم دي او بايد ژر ادا شي .

ومو ليدل چې اسلام ښځو او نارينه و ته په يوه او درنه سترګه ګوري د جنس په خاطر يوه ډله له بلې ډلې فضيلت او لوړتيا نلري د لوړتيا او غوره والي معيار تقوا ده همدا راز ومووليدل چې ښځې هم بايد په عملي ژوند کې برخه واخلي دا هم له هغو دوه ډلو څخه يوه ډله ده چې الله ج پر نورو مخلوقاتو عزتمند او اشرف ګرځولې دی ، نو اوس د کوم سليم عقل خاوند دا ويلای شي چې ښځه دنر د خدمت لپاره پيدا ده او بايد د نارينه و د ژوند د هوساينې او ارامتيا لپاره ورڅخه د وينځې په څېر کار واخستل شي .

د تعجب وړ خبره خو داده چې زموږ ځينې علماء هم په دې سهوه او غلطه انګېرنه کې پرېوتي دي او لوی دليل چې دوی پرې استناد کوي ، هغه د ( طه ) سورت دا ايت دی چې : [ فقلنا يا ادم ان هذا عدولک ولزوجک فلا يخرجنکما من الجنة فتشقی ][۶۹]

يعني : (( بيا موږ و ويل ای ادمه دا ستا او ستا د بي بي ( ښځې ) دښمن دی پس ونه باسي تاسو لره له جنت څخه بيا به په تکليف کې پرېوځې ))

نو دوی وايي چې د عملي ژوند دايره ، نيک مرغي او بدمرغي تکليفونه او خوندونه هر څه د نر حق دی، نه ښځه په تکليف کې اچول شوې ده او نه

---

[۶۸] البقره : ۲۷۸ .

[۶۹] طه : ۱۱۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځخه عملي ژوند نه د راوتلو هيله شوې ده او نه دې راوځي د کور په دېوالونو کې دی ایساره اوسېږي ځکه چې الله ج ادم ع ته وويل (( چې بيا به په تکليف کې پرېوځې )) دلته مفرد ضمير استعمال شوی دی ، او که له ښځې ځخه د ژوند په ډګر کې د ګډون امید وای نو الله ج به (( فتشقيا )) ويلي و .

د دوی په ځواب کې باید عرض وکړم چې د ادم ع او حوا کيسه خو په قران کې څو ځله ياده شوې ده بل ځای کې يې وګورئ د همدی ايت ښکته برخې وګورئ نو ستاسو دا غلطه انګېرنه به پخپله رفع شي او په خپلې اشتباه به پوه شئ ، الله ج فرمايي : [ وقلنا يا ادم اسكن انت و زوجك الجنة وكلا منها رغدا حيث شئتما ولا تقربا هذه الشجرة فتكونا من الظلمين فازلهماالشيطن عنها فاخرجهما مما كانا فيه ][٧٠]

يعنې : (( و وېل موږ ای ادمه و اوسه ته او ستا ښځه په جنت کې او خورئ په کې هر څه چې ستاسې خوښ شي ، او چېرته چې مو خوښ شي او نژدې کېږئ مه دې ونې ته بيابه تاسې شئ له ظالمانو ځخه نو و ښويول دوی شيطان له هغه ځای ځخه او ويې خکل دوی له عزت او راحت ځخه چې په هغه کې دوی وو . ))

نو دې ايتونو کې خطاب ادم ع او حوا دواړوته دی ، دواړو ته په جنت کې د اوسېدلو امر و شو دواړو ته د هغه د مېوو خوراک او په جنت کې د ګرځېدو اجازه وشوه او دواړه دې ونې ته له نژدې کېدلو ځخه منع شول او دواړو ته وويل شول چې که دا کار مو وکړ نو له ظالمانو ځخه به يئ ، دلته

---

(٧٠)البقرة : ٣٥_٣٢ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو پر یوځای کې هم نه پر راحت کې تنها ادم ع ته خطاب شوی او نه په زحمت کې بلکه پر ټولو ځایو کې دواړو ته خطاب شوی ، همدا قصه بل ځای بیانوي : [ یا ادم اسکن انت و زوجک الجنة فکلا من حیث شئتما ولا تقربا هذه الشجرة فتکونا من الظلمین ، فوسوس لهما الشیطان لیبدی لهما ماوری عنهما من سواتهما وقال ما نهکما ربکما عن هذه الشجرة الا ان تکون ملکین او تکونا من الخالدین وقاسمهما انی لکما من الناصحین فدلهما بغرور فلما ذاقا الشجرة بدت لهما سواتهما و طفقا یخصفان علیهما من ورق الجنة وناداهما ربهما الم انهکما عن تلکما الشجرة و اقل لکما ان الشیطان لکما عدوا مبین قالا ربنا ظلمنا انفسنا و ان لم تغفرلنا وترحمنا لنکونن من الخاسرین ][۷۱]

یعنې : (( ای ادمه اوسه ته او مېرمن ستا په جنت کې او خورئ او څښئ دواړه له هره ځای چې خوښ مو شي او مه نژدې کېږئ تاسې دواړه دې ونې ته ، نو شئ به تاسې دواړه له ظالمانو څخه ، نو وسوسه واچوله دوی دواړو ته شیطان ، لپاره د دې چې ښکاره کړي ، دوی دواړو ته هغه چې پټ کړای شوي دي له دې دواړو ځینې له غلیظه و عورتونو د دوی څخه او ویل یې ، نه یئ منع کړي تاسې له دی ونې ځینې مګر د دې لپاره چې نشئ تاسې دواړه پرښتې یا چې نه شئ تاسې دواړه له تل پاتې کېدونکیو څخه، سخت قسم یې وکړ دوی ته چې بېشکه زه تاسې دواړه ته له تل خامخا له نصیحت کوونکیو څخه یم ، پس راښکته یې کړل دوی دواړه په فریب نو کله چې و څکله دوی دواړو له ونې څخه ، ښکاره شو دې دواړو ته غلیظه

(۷۱)الاعراف : ۱۹\۲۳ .

www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

عورتونه د دوی او ولګېدل دوی دواړه چې سره ننښلول به يې پر عورتونو خپلو باندې له پاڼو د جنت څخه او غږ وکړ دوی دواړو ته رب د دوی چې ايا ما نه وئ منع کړي تاسې له دې ونې څخه او ويلي ما تاسې ته چې شيطان ستاسې د دواړو دښمن دی ښکاره او و ويل دوی دواړو ای ربه موږ ظلم وکړ پر ځانونو او که ته موږ ته بخښنه ونکړې او په موږ رحم ونکړې نو خامخا موږ به شوله تاوان کوونکيو څخه . ))

له دې ايتونو څخه په ډاګه څرګندېږي چې په جنت کې اوسېدل ، د جنت له مېوو څينې ګټه اخېستل په جنت کې ازاد ګرځېدل د ادم ع او حوا دواړوحق و و الله ج دواړو ته په جنت کې داوسېدلو اجازه وکړه او شيطان دواړه وښويول او الهي عتاب ( پړه ) پر دواړو راغله او دخپلې خطا د بخښنې لپاره دواړو د الله ج حضور ته دعا وکړله. نو دلته خو پرتهولو ځايو کې ادم او حوا يو ځای ياد شوي دي ، نه ادم د ژوند په ډګر کې د تکليفونو لپاره ځانګړی شوی دی او له دی صحنې څخه د حوا په وېستلو باندې هم کوم دليل نشته ، بلکې ټول ايتونه چې موږ وړاندې ياد کړل زموږ د مدعا ثبوت دي اوپه کوم ايت باندې چې دوی استدلال کوي مفسرين وايي : مراد له دې څخه دادی چې ښځه خو دې هم په تکليف کې درسره ګډه ده مګر زيات بوج پرتادی[۷۱]:

امام قرطبي وايي چې : د ښځې د ژوند ټولې اړتياوې د سړي پر ذمه دي د دې په حاصلولو کې چې کوم تکليف او مشقت دی دا ذمه واري يواځې د سړي ده ، نوځکه الله ج فتشقی وويل چې څه محنت ، تکليف او مشقت

(۷۱)معارف القران جزء ۱۲ مفتي محمد شفيع .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول دي هغه به په حضرت ادم ع وي ځکه چې د حضرت حوا ع د ژوندانه د ضرورتونو ذمه وار هم دی ده [۷۲].

نو دلته هم هېڅ معقول دلیل نشته چې ښځه دې له خپل اجتماعي (ټولنیز) دریځ څخه یوه لوېشت هم وروسته کړي او یا دې د ژوند ډګر ته له را وتلو څخه بنده کړای شي او یا دې ځینې بې انصافان هغه له انسانیت څخه حیوانیت ته کش کړي !!

ځینې خلک اوس هم وایي چې دا په حقیقت کې ښځه (حوا) وه چې د انساني بد مرغۍ بنسټ یې کېښود ، دوی دعوه کوي چې همدې حوا ، ادم ع دې ته و هڅاوه چې په جنت کې د غنم دانه وخوري او د الله ج له امر څخه سرغړونه وکړي او ادم ع د همدې په لمسونه او هڅونه د غنم دانه وخوړه ،الله ج د ادم ع په دې نافرمانۍ خفه شو او هغه یې له جنت څخه را ووېست چې له همدې ورځې څخه د انساني بدمرغۍ تاریخ پیل کېږي او که دا سې نه و شوی نو نه ادم ع له جنت څخه راوېستل کېده او نه به دنیوي ستونزې او بدمرغۍ وای .

د دوی په ځواب کې باید وویل شي چې لومړی خو د ادم ع او حوا په کیسه کې دا پورتنی تصور له منحرف یهودیت څخه سرچینه اخلي او دا تصور د یهودیت د (عهد قدیم) صحیفو رانقل کړی دی او هرڅوک چې دا تصور بدرګه کوي په حقیقت کې د یهودیت د مطالعې تر اغېزې لاندې راغلی دی چې اسلام یې په کلکه ردوي .

(۷۲)احکام القران جزء ۱۱۱ عبدالله محمد بن احمد الانصاري القرطبي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په قران ، حديث او نورو اسلامي نصوصو کې داسې کوم دليل نشو موندلی چې پورتنئ دعوه تائيد کړي ، حتی اسلام په کلکه په دې تاکيد کوي چې لومړنی مسئوول په خپله ادم ع دی او همده د خدای ج د فرمان خلاف د غنم دانه وخوړه ( ولقد عهدنا الی ادم من قبل فنسی ولم نجد له عزما ).(۷۲)

يعنې : (( او خامخا په تحقيق سره موږ حکم کړی و ادم ع ته پخوا لد ېنه پس هېر يې کړ او ومونه مونده ده ته استقامت ( صبر له نه کولو ) ثخه .))

# څو شبهې او ځوابونه يې

ځينې خلک چې له اسلام سره حساسيت لري او له اسلامي روح سره اشنايي نه لري او نه يې هم له دين څخه څه لوستي دي داسې فکر کوي چې اسلام نارينه د ښځې پر سرمطلق حاکم ګرځولی دی او ښځه پر هر حال بايد د هغه اوامر ومني که څه هم هغه په ناحقه وي او ښځه بايد له هغه سره د وينځې په څېر ژوند وکړي موږ به انشاء الله د دوی هری غلط فهمئ او اشتباه ته مدلل ځواب و وايو .

## الف : شبهه په قيموميت (واکمنی ) د سړي کې

د دوی يوغټ دليل دا ايت دی .

---

(۷۲)طه : ۱۱۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله ج فرمايي : [ الرجال قوامون على النساء بما فضل الله بعضهم على بعض و بما انفقوا من اموالهم ، فالصالحت قانتات حافظات بما حفظ الله ] (٧٣)

يعنې : (( سړي مقرر دي پر ښځو باندې په دې وجهې چې فضيلت ورکړی دی الله ج ځينو ته پر ځينو نورو په سبب د دې چې خرڅ کوي خپل مالونه بيا کومې ښځې چې نېکې دي، تابعدارې دي، ساتونکې دي پسې شاه د الله ج په حفاظت سره . )) خو د دې ايت مطلب او معنی دا نده چې خاوند يا نارينه دې مطلق ديکتاتور وي هر څه چې وايي بايد ومنل شي او هېڅ خبره يې رد نه شي او نه د دې دليل دی چې هر نر په هرې ښځې فضيلت او بهتري لري .

دنرفضيلت او غوره والی په څو شرطونو پورې اړوند دی داسې نه چې هر نر دې خوښ وي او ځان دې په ښځې غوره ګڼي ، هغه شرطونه الله ج خپله په همدې ايت کې بيان کړي دي هغه دا چې .

نارينه خپل مالونه لګوي ، سترتيا او ستوماني پر ځان مني ، د ژوند تکليف او ترخې په ځان تېروي خو که کله نارينه له ځان څخه په همت کې ښځه او ښځه له ځان څخه نارينه جوړ کړي نو بيا دا ايت د داسې چا د قيموميت دليل نه دی ډېر وخت صالحې ، قانتې ( تابعدارې ) د پټو رازونو ساتونکې ښځې له ډېرو سړيو ځينې غوره دي ، کله چې سړی صحرايي شي او له کور څخه خبر نه وي د ښځې هېڅ پروا ونه لري د هغې نفقه نه ورکوي په کارونو کې تنبل وي ، اويا ښځه د فساد او فتنې خواته کشوي

(٧٣)النساء : ٣٤ .



www.melitahrik.com 0774008116

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو آیا دا دې هم پر ښځو د فضیلت او بهترئ دعوه کوي ؟ د غوره والي او بهترئ شرط خو دادی چې نارینه تکلیف ارام او مطمئن ژوند تېر کړي ، نو بیا دې د کورپالونکی سړی ولې نه وي ؟ او سلیم عقل او طبیعت هم دامني چې په دغسې حالت کې دې دکور مشر نارینه وي ، او د دې معنی دا نده چې ښځه دې بالکل حیثیت ونه لري ، نارینه دې مستبد ، ظالم او دیکتاتور وي او نه خو دا د اسلام له عام مفهوم سره سمون خوري ، اسلام خو په مشوره امر کړی دی حتی کله که ماشوم له تي څخه بېلېږي نو په دومره وړه خبره کې دې هم مشوره وشي ، د مور او پلار په مشوره دې له تي څخه جدا شي ، نو نارینه باید له ښځو سره مشوره وکړي او بل ښځه که کار ونکړي نو بخښل کېږي او غیر مسئووله ده او نارینه مسئوول دی دا تفضیل داسې دی لکه د لومړي وزیر فضیلت په وزیر داخله او ډېر وخت د کورنیو چارو وزارت په خپلو اړوندو چارو کې له لوی وزیر څخه ډېر واک ، اختیار او تجربه لري .

علماء وایي چې په کور کې د نارینه واکمني داسې ده لکه چې یوه بېړۍ یا موټر روان وي او په هغې کې چلوونکي ډېر وي او دبېړۍ یا د موټر د چلولو لپاره یوتن پکار وي او هغه بېړۍ ته کښېني او چلوي یې .نو نارینه هم د بېړۍ چلوونکی دی او په هېڅ ترتیب د دې معنی نه ورکوي چې خاوند دې مطلق واکمن یا بادار وي او ښځه دې د هغه وینځه او خدمتګاره وي .

## ب : شبهه د ښځو په شهادت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې خلک داسې فکر کوي چې رسول الله ص ښځو ته کم عقلې ویلي دي او هغه یې له انسانیت څخه وېستلې دي مګر دا خبره په دې مفهوم سره هېڅ صحېح نه ده چې رسول الله ص به له ښځو سره په مهمو چارو کې مشورې کولې د هغوی د ښو نظریاتو او کتنو څخه به مستفید کېده ، وګورئ بي بي خدیجې رض له رسول الله ص سره د وحي په پیل کې څومره لویې مرستې کړي دي ، هغه ص یې ورقه بن نوفل ته ور وست ، هغه ص ته یې داسې تسلي ورکړله چې کاملاً مطمئن شو .

د حدیبیې په صلحه کې کې د ام سلمی رض کړنه وګورئ ، نو رسول الله ص ښځو ته کم عقلې هېڅکله نه دي وېلي ، دا له حدیث څخه غلط فهمي ده په دې حدیث کې رسول الله ص د عقل او دین کمښت داسې روښانه ( توضیح ) کوي : ( او مورږ وویل چې زموږ د عقل او دین کمښت (نقصان) څه شی دی یا رسول الله ص ؟ هغه ص وفرمایل چې ایا د ښځې ګواهي د نارینه په نیمایي نه ده ؟ موږ وویل هو ! هغه ص وویل همدا یې د عقل کمښت دی بیا یې وفرمایل ایا داسې نه ده چې کله ښځه حایضه شي نه لمونځ کوي اونه روژه نیسي ؟ موږ وویل هو ، هغه ص وفرمایل همدا یې د دین کمښت دی)[۷۴]

نو د ښځې د عقل کمښت په دې حدیث کې په یو څه پورې منحصر شو هغه دا چې د ښځو ګواهي د نر د ګواهۍ نیمه ده ،رسول الله ص یواځې په

---

(۷۴)الشوری واثرها فی الدیمقراطیه ۱ دکتور عبدالحمید اسماعیل نقل له ارشاد الساري شرح صحیح بخاري څخه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې پورې خاص کړ او کوم بل لامل يې ياد نه کړ او دا چې ولې د ښځو ګواهي د نارينه وو د ګواهۍ نيمه ده الله ج يې داسې بيانوي :

[ان تضل احدهما فتذکر احدهما الاخرى ][۷۵].

يعني : (( لپاره د دې چې که هېريې کړي يو تن له دوی څخه نو ياد به يې کړي ورته بله )) نو د ګواهۍ د نيم والي لامل الله ج دهغوی د حافظې کمزورتيا و ښودله چې ژر ژر ورڅخه هېرېږي ، ځکه چې د چاله يو کار سره مخه نه وي نو هغه ته يې پام کم وي ، نو همداسې دا مالي مسايل د ښځو له مخې او توجه څخه لېرې دي او ډېرې کمې اړيکې ورسره لري ، نو د هېرې او دې مسائلو ته د اهتمام د نه کولو وېره ده نو ځکه د دوه ښځو دګواهۍ ته اړتيا پيدا شوله او دا د ښځې د کم عقلۍ اوسپکوالۍ معنى نه ورکوي ځکه چې دا د هغوی ورځنۍ چارې نه دي او که رښتيا هم کم عقلې ګڼل کېدلې نوله سره به يې ګواهي نه قبلېدله او نه به د حديثو په روايت کې په دوی باور کېده ، د حديثو په روايت کې ديوې ښځې په روايت اعتماد اوباور د څه لپاره ؟ او په کوم ځای کې چې دا وېره ( هېروالی) نه وي د دوی ګواهي ضرور قبلېږي وينو چې هغه چارې چې د ښځوورځنۍ اړيکې ورسره دي او د هغوی له دندو څخه شمېرل کېږي نو لکه چې ابن قيم جوزي وايي : دهغوی ګواهي تنها هم په کې قبلېږي[۷۶] .

شيخ محمد شلتوت وايي : په ګواهۍ کې د دوه ښځو يو ځای کول د باور لپاره دي ، د دې لپاره نه چې هغه کم عقله ده ، چې د هغې انسانيت ته پرې صدمه ورسېږي مګر اصلي لامل لکه چې شيخ محمد عبده وايي : دا دی

---

(۷۵)البقرة : ۲۸۲ .

(۷۶)الطرق الحکومية فى السياسة الشرعية ، ابن قيم جوزي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د هغې دنده او چارې مالي مسائل ندي او نه يې مخه دې مسائلو ته ده او نه پېرل او پېرودل کوي ، او کورنۍ چې د هغې ورځنۍ چارې دي او مخه يې ورته ده ګواهي يې په کې يوازې هم قبلېږي .
شېخ محمد شلتوت زياتوي : د دې معنی دا نه ده چې دښځو په ګواهۍ حق نه ثابتېږي او قاضي دې پرې حکم نه کوي ځکه چې قاضي اخر څه غواړي هغه بينه ده .
او علامه ابن قيم جوزي وايي : هر هغه څه چې حق ښکاروي نو بينه ده ، له همدې کبله قاضي په قطعي قرائنو فيصله کولی شي ، حتی کله چې پرې باوري او مطمئن شي نو د کافر په شهادت هم فيصله کولی شي .
(۱) (۱) الاسلام عقيدة و شريعة \ شيخ محمد شلتوت .
دکتور عبدالحميد انصاري وايي : د دې معنی دا نده چې د نر حيثيت ، برم ، شان او رتبه لوړه ده او دښځې ټيټه ،بلکې مطلب دا دی چې حق ثابت شي ، او پلټنه پکې وشي ، او پر ښځو عاطفه ژر غالبېږي ، تاسې وګورئ کوم ځای کې چې د نارينه وو په هکله هم دا وېره ده هلته د نارينه ګواهي هم نه قبلېږي لکه دښځې او خاوند ګواهي يو دبل لپاره .سره لدې چې خاوند يا مېړه نارينه هم دی همدا راز د پلار ګواهي د زوی لپاره چې دلته هم همدا وېره ده نه قبلېږي .
شېخ محمد متولي الشعراوي وايي : له عقل ځينې مراد ماغزه دي چې په هغې کې د انسان معلومات ، خيالونه ، يادشوي شيان ، په ذهن کې منل شوي شيان ثبت وي او ماغزه نر اوښځه دواړه لري ، او سړی کولی شي چې په چټکتيا سره هغه څه ومومي چې په ذهن کې يې ورته ځای ورکړی دی ، اوتصرف پکې وکړي اوعقل هم د تجربو او معلوماتو محصول دی نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه چې ښځه د ټولنې ( سوسایټي ) څخه لرې ده نو نشي کولای چې په اسانه ورته یو څه یاد کې ورشي ، همدارنګه ښځې هم هر څه ته پوره پام نه کوي او که بهر یې هم په څه شي نظر ولګېږي نه یې څېړي او نه پکې فکر کوي ښایي هغه ډېره مهمه واقعه وي مګر دا ورته هېڅ پام نه کوي ، نو ځکه د دوه و ښځو یو ځای والي ته اړتیا پېښه شوله[۷۷] .

دکتور محمد البهي وايي : ښځه بهرنۍ اغېزې ډېر ژر مني ،له نارینه څخه ډېره نرمه د عاطفې خاونده ده ژر تصدیق کوي ، د هغې د قهر ، غصې او خوشحالۍ ترمنځ ، د نرمۍ ، او سختۍ ترمنځ د مخ اړولو او شا اړولو ترمنځ مسافه ډېره کمه ده که الله ج ښځې ته هم هغه مسوولیتونه ورمخ کړي وای نو دا به د ښځې د ښېګړې پر خلاف کار و[۷۸].

په هر حال ومو لیدل چې د یو نارینه پرځای د دوو ښځو و درول په ګواهۍ کې د هغې د عقل او پوهې د نشتوالي په معنی نه دی، بلکې څه نور لاملونه یې درلودل او په اسلام کې ښځې ته هېڅکله هم د کم عقلۍ او لېونۍ نسبت نه دی شوی .

## ج : شبهه په میراث کې

دوی وايي چې (( اسلام په میراث کې ښځې ته د نر نیمه برخه ټاکلې ده، او دا خو د دوی پر وینا ښکاره بې انصافي ده ، ځکه چې نارینه کار هم

---

(۷۷)المراة فی الشریعة الاسلامیة شیخ محمد متولي الشعراوي .

(۷۸)المراة فی الشریعة الاسلامیه \ شیخ محمد متولي الشعراوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولای شي او بهر هم وځي پکار خو دا وو چې نارینه ته دښځې نیمه برخه ورکول شوې وای ، پدې کې خو د ښځو سپکاوی او بې احترامي ده . ))

زه دې ښاغلیو ته وایم چې لومړی باید دوی دې مسئلې ته ژور ورننوزي پدې اړه داسلام ارشادات ژور ولولي او بیا پریکړه وکړي. دوی باید پر اسلام تردې تورلګولو وړاندې خو لږ له اسلام څخه مخکې ټولنو ته هم وګوري چې هلته د ښځو څه حال و بیا په اوسنیو ټولنو کې د ښځو حال هم و ګوري. هلته ښځې ژوندئ ښخېدلې د هغوی وجود غم ګڼل کېده، په پیدا ایښت یې دهر چا تندی تریو و میراث خویې بالکل نه ورکاوه .ځکه چې په عربو کې به چې چا له خپلې قبیلې څخه دفاع نشوه کولای هغه له میراث څیني محروم و، میراث یوازې د نارینه ووحق و ،په یهودیت کې چې نارینه اولاد وي ښځې ته میراث نشته دی [۷۹].

مګر اسلام چې د میراث په هکله کوم قانون ټاکلی هماغه د فطرت او سلیم عقل تقاضا او غوښتنه ده ځکه چې نارینه ته د کور لګښت ، د ښځې او اولاد نفقه او نورې چارې ورترغاړه دي ، او په ښځې خو دا تکلیفونه یو هم نشته حتی د هغې خپله نفقه هم پربل چا ده ، مهر هم اخلي او دهغې جامې ،خرڅ ، خوراک او د ضرورت وړشیان هم پر بل چا دي ، په دې هکله یو عالم وایي : په میراث کې د برخو ټاکل دا معنی نه ورکوي چې نارینه په ښځو بهتر والی لري ، یا ښځې ته په سپکه سترګه کتلی شي ، بلکه دا وېش د ټولنیز نظام او توازن سره سم ټاکل شوی دی چې نارینه و ته د ډېر مال اړتیا ده او باید ډېره برخه ورکړل شي او ښځو ته د کم مال ضرورت دی

(۷۹)المراة فی القران \ استاذمحمود العقاد .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو کم دي ورکړل شي ، بلـه خبره داده چې څوک خو دي یـوه بېلګـه هم را وښيي چې په غیر اسلامي ټولنو کې دې ښځو ته میراث ورکړل شي ؟

## د : شبهه په طلاق کې

له هغو شبهو څخه چې ځینو تـه د اسلام پـه هکلـه پیـدا شـوې دي یـوه هـم د طلاق مسئله ده چې ولې د سړي پـه واک کـې ده ، ځکـه چې پـه دې کـې خو دښځې سپکاوی دی ، دوی وايي چې پکار خو دا ده چې ښځې تـه هم کله يې چې زړه وغواړي د جدايئ حق ورکړل شي .
رښتينې خبره داده چې که څوک د طلاق مسئلې په اسلام کې وڅېړي او لږ پرې ځان خبر کړي ، نو دغه بې ځایه شبهه به يې پخپله ځواب شي ، اسلام يو واقعي دين دی هغه طلاق لـه کـورنۍ ځینې لېرې غـواړي، ځکـه چې پـه طلاق سره د کورني نظم جوړښت او بنه لـه منځـه ځي لـه همدې کبلـه يې پـه حلالـو کـې ډېـره ناکـاره او بـد شـی طـلاق ښـودلی دی ، او لـه سـړي څخـه غوښتنه شوې ده چې که په څه خبره له ښځې ځینې خفه شي صبر او تحمـل وکړي ، او ژر د جدائي خیال زړه ته رانه ولي .
الله ج فرمايي : ] و عاشرو هن بالمعروف فان کرهتموهن فعسـی ان تکرهـوا شیاُ ويجعل الله فیه خیرا کثیرا ] (٨٠)

---

(٨٠)النساء : ١٩

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې : (( او ګذران کوی له ښځو سره په ښه طريقه او که تاسو بد ګڼئ دوی نو شايد چې تاسو نه خوښوئ يو شی او الله ج ايښی وي په دې کې ډېر ښه والی .))

او کله که د ښځې او خاوند ترمنځ اوبه بالکل خړې شي نو اسلام له دواړو څخه د لوی زړه ، حوصلې او عقل نه دکار اخستلو غوښتنه کوي لومړی بايد خاوند ښځې ته نصيحت وکړي او که چېرې نصيحت اغېزه ونکړي بيا به يې بستره ورته جدا کړي اوکه پردې هم ونه شي نو کولای چې تاً ديباً يې سپک ووهي چې زخمي کوونکي نه وي ، په لرګي نه او په مخ نه وي ، او که بيا هم ونشي نو يو مشر به د خاوند او يو مشر به د ښځې له کورنۍ څخه را وغواړي ترڅو د دوی ترمنځ راپيدا شوې ستونزې و څېړي او اصلاح راولي که چېرې د هغوی په نظر د زوجيت د دوام امکان و نو ښه او که نه و نو طلاق دې ورکړي ، او حتی طلاق هم اسلام وايي چې طلاق دې طهر ( پاکۍ) کې وي او يو دې وي او بلـه دا چې ښځې دې د خاوند له کوره څخه نه ووځي تر څو چې د ده دلومړي او دوهم طلاق په عدت کې وي ښايي چې په دې موده کې د خاوند طبيعت ښه شي، د ژوند تېرې خوږې شپې او ورځې ورپه ياد شي ، ښځې ته يې رغبت وشي او رجوع ورته وکړي او که دا هرڅه سر ونه نيسي نو بيا وروستنی علاج جدايي ( بېلتون ) دی او طلاق د نارينه په واک کې ځکه دی چې هغه په هر کار کې سوچ او فکر کوي ، د هغه ټول اړخونه سنجوي ، لنډه منډه نه کوي ، په اسانه او وړه خبره ښځې ته طلاق نه ورکوي او بل دا چې نارينه ښځې ته د مهر په نامه څه مال ورکوي ، او که طلاق د ښځې په لاس کې وي نو هره ورځ به لکه لوېديځه نړۍ په ختيځه نړۍ کې هم مېرمن له مېړه سره يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

میاشت هم اوسېدل نه غواړي ، په وړه خبره هم له هغه شخه بل چاته روانه وي ، د خوند او ذوق لپاره هم څوځو مېړونه کوي، دا خو دهغه اصل غرض خلاف کار دی د کوم لپاره چې نکاح روا شوې ده ، ښځه زړه تنګې ده په کار کې سوچ او فکر نه کوي، د کار مثبت او منفي اړخونه نه څېړي ، فیصله ډېره ژر کوي ، کېدلی شي چې په وړه خبره هم خاوند بېل کړي او دا هر چاته په ډاګه ده او که ښځې ته د طلاق حق ورکړل شوی وای نو کېدلی شو چې ځینو ښځو په هره میاشت یو یا دوه واره مېړونه کول له هغه شخه به یې مهر اخیست ، او د هماغې ورځې په بېګا به یې هغه ته طلاق ورکاوه ، اوله نکاح شخه به یې سوداګري جوړه کړې وای ، څکه له خاوند ځینې په جدا کېدلو په هغې هېڅ تاوان او پړه نشته ، اسلام د همدې لارې د بندېدلو په خاطر هم د طلاق واک ښځې ته ورنکړ .

دا خبره هم غلطه ده چې ښځه بالکل د جدایئ حق نه لري ، اسلام ښځې ته دا حق په بشپړ ډول ورکړی دی ، چې که له خاوند سره یې اړیکې خرابې شي او په هېڅ صورت له هغې سره اوسېدل نه غواړي ، نو ځان دې جدا کړي او دا مال بېرته ورکول خاوند ته هم د همدې لپاره شرط شول چې ښځه له خپل دې حق ځینې ناوړه استفاده ونکړي ، او که خاوند طلاق ورکړي نو له ښځې ځینې هېڅ غوښتلای نه شي .

اسلام چې د جدایئ کوم حق نارینه ته ورکړی هغه یې ښځې ته هم ورکړی دی ، خو د دې لپاره چې دواړه له خپل دې حق شخه ناوړه استفاده ونکړي نو په دواړو یې یو څه شرطونه کېښودل چې که خاوند ښځې ته طلاق ورکوي خپل مال غوښتلای نشي ، د متعې په نامه به یو څه ورکوي او په عدت کې به نفقه ورکوي او که ښځه ځان له مېړه شخه جدا کوي نو دهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مال به بېرته ورکوي چې دښځې دي حق ته په اسلام کې په فقهي اصطلاح د ( خلعی ) حق وايي نو دا شبهه بالکل بې ځايه ده چې په اسلام کې ښځو ته له مېړونو څخه د جدايئ د غوښتنې حق نشته دی .

## ه : شبهه د فتنې په لفظ کې

یوبل حدیث چې اکثره خلک پرې د ښځو پر ضد استدلال کوي خو په مفهوم يې نه پوهېږي هغه دا چې بخاري روایت کړی دی : (( ما ترکت بعدی فتنة هی اضر علی الرجال من النساء . ))

يعنې : (( ما له ځان څخه وروسته سړيو ته له ښځو څخه ضررناکه فتنه نده پریښې ))

دوی ګومان کوي چې دلته له فتنې څخه غرض شر او مصیبت دی چې انسان پرې ازمويل کېږي لکه څنګه چې په نیستمنۍ، ناروغۍ ، ناداری ، ولږې او وېرې باندې ازموېل کېږي ، رښتيا خبره دا ده لکه څرنګه چې د (( فتاوی المراه المسلمه )) مصنف لیکي دلته له فتنې څخه غرض دا ندی چې ګوندې دوی شر ؛ مصيبت يا غمونه دي چې نارينه پرې ازمويل کېږي بلکه ډېر وخت انسان د نعمتونو په ورکړې سره هم ازمويل کېږي او د شر او مصیبت په انډول په نعمت او پراخۍ سره د انسان د ازمويلو پله ډېره درنه ده لکه شتمني ، اولاد او ښه ژوند الله ج فرمايي : (( ونبلوکم بالشر و الخير فتنه))[۸۱]

---

(۸۱)الانبیا : ۳۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

یعنې : ((او ازمایو موږ تاسې پرشر ، ( بدی ) او پر خیر ( نیکی ) سره په ازموینه . ))

الله ج ډېر ځله د انسان د ازمویلو لپاره نعمتونه او په ځانګړې ډول مال او اولاد چې د دنیا ستر نعمتونه او ښکلا بلل کېږي یادوي فرمایي : ((انما اموالکم و اولاد کم فتنه ))[۸۲]

یعنې : ((بېشکه همدا خبره ده چې مالونه ستاسې او اولاد ستاسې یوه فتنه او ازموینښت دی .))

((واعلموا انما اموالکم و اولادکم فتنه))[۸۳]

یعنې : ((او پوه شئ تاسې چې بېشکه مالونه ستاسې او اولادونه ستاسې ازموینه ده ))

او ازموینښت پرې داسې کېږي چې د الله ج پر وړاندې له مسئوولیتونو څخه انسان غافله کوي او بې ځایه یې بوختوي په دې اړه الله ج فرمایي :

((یایهاالذین امنوا لاتلهکم اموالکم و لا اولادکم عن ذکر الله ومن یفعل ذالک فاولئک هم الخاسرون ))[۸۴]

یعنې : ((ای مؤمنانو غافل دې نه کړی تاسې مالونه ستاسې او نه اولاد ستاسې له یاده د خدای ج څخه او هغه څوک چې وکړي دا کار نو همدغه کسان زیانکاران دي . ))

لکه څرنګه چې انسان په مال او اولاد باندې ازمویل کېږي همدا راز په ښځې باندې هم ازمویل کېږي ځکه دا هم نعمت دی لکه څرنګه چې الله ج

---

(۸۲)التغابن : ۱۵ .

(۸۳)الانفال : ۲۸ .

(۸۴)المنافقون : ۹ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسانان وېروي چې مال او اولاد يې د ازمويلو لپاره ورکړی دی همدا راز رسول الله ص هم فرمايي چې خبردار په دنيا کې له هغو نعمتونو څخه چې انسان پرې ازمويل کېږي او فتنه ګڼل کېږي يوه هم ښځه ده ځکه ډېر وخت ځيني ښځې خپل مېړونه له الهي اطاعت څخه منع کوي لکه په جهاد او غزواتو کې له ګډون څخه ، د خدای ج په لاره کې د مال له لګولو څخه ، فردي ګټې ته پرې په ټولنيزو ګټو ترجيح ورکوي د مينې محبت ، حسن او ښکلا ، ناز او کرشمو تر اغيز لاندې يې راځي همدا لامل دی چې الله ج په ډېر صراحت سره خپلو بندګانو ته فرمايي « ان من ازواجکم و اولادکم عدوالکم فاحذروهم »[۸۵]

يعني : « بيشکه ځينې له ښځو ستاسو او له زامنو ستاسو دښمنان دي تاسې نو ځان وساتئ له دوی څخه »

اوپر ښځو د نارينه غټ ازمښت شهواني اړخ دی کله چې ښځه د شهوت تحريکوونکې شي ، په بدن کې جوش او انقلاب راولي ، جاذبيت او کشش پيدا کړي د نارينه وو په زړونو کې د جنسي غريزې اور ژبغړانده کړي نو ايا له دې ستر ابتلا او ازمېښت به بل وي ؟ او همدا ازمېښت دی چې تر شاه يې ډېر مفاسد اومصالح پټ دي ، د ټولنې برخليک د همدې ازمېښت ترشا دی .

پرښځو د انسان ازمويل دي لکه الله ج چې انسان ته د پراخې ، خوشحالۍ او نورو نعمتونو په وخت کې اخطار او خبرداری ورکوي رسول الله ص فرمايي : « په خدای سوګند چې زه پر تاسو له نېستۍ څخه نه وېرېږم ، په

---

(۸۵)التغابن : ۱۴ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې به دنیا داسې پراخه شي لکه له تاسې وړاندې چې نورو ته پراخه شوې وه چې هغوی یې هم په لاس ته راوړلو کې یو له بل سره مسابقه پیل کړه (یو له بل نه مخکې کېدل) بیا به تاسو هم داسې هلاک کړي لکه هغوی یې چې هلاک کړل .))[۸۶]

د دې حدیث معنی دانده چې ګوندې رسول الله ص خپل امت ته فقر او نېستي خوښوي او پراخې ناخوښه بولي رسول الله ص له فقر څخه امان غوښتی دی ،ان له کفر سره یې پیوست کړیدي .

دلته مطلب دا دی چې رسول الله ص خپل امت ته زیګنال ورکوي چې هوښیار او با خبره اوسئ ترڅو د دنیا په مینه کې الله ج هېر نه کړي دلته په دې حدیث کې هم مسلمانانو ته خبر داری دی چې رسول الله ص د خپل امت نارینه ووته فرمايي چې الله ج تاسو د ښځو په څېر په غو نعمتونو چې هر نارینه ورته طبعي تمایل لري ازموي نو خبردار چې حرام کارته لاس وانه چوئ ، یا مو دخپلو ښځو مینه له شرعي مسئوولیتونو څخه غافل نکړي د دې معنی دا نده چې ګویا ښځې غم یا مصیبت دی .

(۸۶)متفق علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حقوق

## الف : اقتصادي حقوق

اسلام چې څومره حقوق په دې اړوند نارينه وو ته ورکړي دي په هماغه پيمانه يې ښځو ته هم ورکړي دي په کوم ځای کې چې نارينه ته د کار اجازه ورکړل شوې ده ښځو ته هم شوې ده ، او يوه دروازه يې هم پرې نه ده تړلې د ژوند يو باب هم داسې نه شته چې هلته د نارينه لپاره د کار او تجارت ( سوداګري ) اجازه وي او پر ښځو تړلې وي ښځه په خپل ټول مال کې د تصرف ( لاسوهنې ) پوره حق لري ، هغه سوداګري کولی شي له بخښنې ، اجارې او صدقې څخه يې هېڅوک ايسارولې نشي ، نه خاوند د هغې واکدار دی او نه پلار او نور ترڅو چې د هغې تصرفات شرعي بڼه ولري او کله چې تصرفات شرعي بڼه و نه لري نو بيا خو د نارينه مخه هم نيول کېږي د دې ډېرې بېلګې د اسلام په تاريخ کې شته دي چې په صدر د اسلام کې به ښځو سوداګري کوله، په اسلام کې تصور داسې دی چې هر چاته د خپل زحمت په اندازه برخه ورکول کېږي الله ج فرمايي : [ للرجال نصيب مما اکتسبوا وللنساء نصيب مما اکتسبن . ][87]

يعنې : (( سړيو ته برخه ده له خپلې ګټې څخه او ښځو ته برخه ده له خپلې ګټې څخه . ))

ښځې ته که د ميراث ، مهر ، سوداګرئ يا کومې بلې لارې څخه څه په لاس ورځي نو چې څه وغواړي هغه پرې کولای چې له خپل خاوند ، پلار او

---

(87) النساء ۳۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورور څخه پرته بل چاته يې ورکړي ، اسلام چې په دې اړوند څومره حقوق ښځو ته ورکړي په بل يو مذهب کې هم ندي ورکول شوي هغه که هر څومره شتمني ولري خو بيا هم نفقه يې پر خاوند فرض ده همدا راز ښځه کولی شي چې د خپل شتمنۍ لپاره يو پردی سړی وکيل و ټاکي او هېڅوک پرې د اعتراض حق نه لري .

## ب:سياسي حقوق

## پېژندنه او نظريې

### الف : پېژندنه

يعنې هغه حقوق چې په غوښتنه يې خلک د دولت په اداراتو کې ګډون کوي ، په ټولپوښتنه (( ريفرنډم )) او انتخاباتو کې ځان ته د ګډون او د پارلمان د غړيتوب او د جمهوري رياست لپاره د ځان د کانديد حق حاصلوي .

### ب : نظريې

د ښځو د سياسي حقوقو په هکله فقهاء ، بيلابېلې نظريې لري له افراط او تفريط څخه ډک غبرګونونه ښودل کېږي ، او د دې وخت له تر ټولو جنجالي مسئلو څخه بللی شي ، چې مونږ به د هرې ډلې نظر او دلايل له بلې ډلې سره د مناقشې په توګه و څېړو تر څو پياوړی نظر پخپله روښانه شي .

١ : د ډېرو پخوانيو او ځينو معاصرو علماوو نظر ښځه له دې حق څخه بې برخې کول دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ : ډېر معاصر علماء وايي چې ښځه سياسي حقوق لري ، خو ولايت عظمی (صدارت او جمهوري رياست) ته ځان نه شي کاندیدولای .
۳ : ځيني پخواني او ډېر معاصر علماء وايي چې ښځه ټول سياسي حقوق لري ، اسلام نه د دولت له رياست څخه منع کړې ده او نه په حکومت کې له کار څخه په پخوانيو فقهاء و کې لکه : امام ماوردي په الاحکام السطانيه او ابن خلدون په المقدمه کې د خلافت شرطونه ياد کړي دي ، خو نارينه توب يې نه دی ياد کړی ، همدا رنګه دکتور احمد شلبی په السياسة فی الفکرالاسلامي کې نارينه توب د خلافت لپاره نه دی شرط کړی .
ـ دکتور قطب محمد قطب طبيله په الوسيط في النظم الاسلاميه .
ـ او مولانا ګوهر الرحمن په اسلامي سياست کې وايي چې ښځه په ټولو دولتي اداراتو کې ګډون کولی شي ، خو د دولت د رياست حق نه لري ، سيد ابوالاعلی مودودي (رح) وايي سياسي حقوق د هر عاقل ، بالغ سړي او ښځې ثابت حق دی .

## د لومړي نظر د خاوندانو دلايل له قران څخه

۱ ـ [ الرجال قوامون على النساء بمافضل الله بعضهم على بعض و بما انفقوا من اموالهم ][۸۸]

يعنې : (( سړي مقرر دي پر ښځو په دې وجه چې غوره والی ورکړی دی الله ج ځينو ته پر ځينو په سبب د دې چې خرڅ کوي خپل مالونه . ))

(۸۸)النساء : ۳۴ .



www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی وایي چې الله ج قیمومیت په نارینه و پورې خاص کړ ، او د استازو غونډه ( پارلمان ) په ټول دولت واکمن او قیمومیت لري ، ځکه چې هغوی عملاً په هېواد کې ټولې سیاسي چارې پر مخ بیایي .

ځواب : دا ایت په یوه ځانګړې واقعه کې نازل شوی دی ، چې تر کورني ژوند او هماغې خاصې پېښې پورې اړه لري .

د پورتني ځواب رد : په اصول الفقه کې قاعده دا ده چې : [ ان العبرة بعموم اللفظ ] . یعنې : اعتبار د لفظ عاموالي ته دی او د سبب او واقعې خاصوالي ته هېڅ اعتبار نشته دی .

ځواب : د دې قاعدې په منلو سربېره مګر بیاهم د نرقیمومیت ( واکمنی ) پرښځه په کورنیو چارو کې دی او د سیاسي مسایلو سره هېڅ اړه نه لري ، په دې خبره دلیل د دې ایت وړاندې او وروسته برخه ده او که د نارینه قیمومیت هر چېرې او په هره برخه کې هم ومنل شي نو له سیاسي حقوقو ښځه د بې برخې کولو فکتور په کې څه شی دی ؟ او له کومې برخې یې ښکاري . ؟

۲ _ [ ولهن مثل الذي علیهن بالمعروف وللرجال علیهن درجة ][۸۹].

یعنې : (( او شته دی ښځو لره حقوق په شان د هغو حقوقو چې پر دوی دي په ښه وجه سره او شته دی نارینه و لره غوره والی پر دې ښځو ))

دا ایت څرګندوي چې نارینه پر ښځو غوره والی لري چې هغه قیمومیت دی او دا یوازې په کورني ژوند پورې اړوند نه دی ، ځکه د دولت

---

(۸۹)البقرة : ۲۲۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

واکمني د کور له واکمنۍ ځینې ډېره مهمه ده او الله ج هم دا قیمومیت او واکداري په کور پورې خاص نه کړله .

ځواب : که دلږو خت لپاره پر ښځه د نر د درجې لوړتیا او له درجې څخه د قیمومیت مانا ومنو مګر بیا هم وینو ، چې دا ایت د هغو ایتونو په منځ کې راغلی دی چې په نکاح او طلاق پورې اړوند مسایل په کې څېړل شوي دي دا هم د تېر ایت په څېر په کور کې د سړي په ریاست پورې خاص دی ، ځکه چې نارینه مسؤولیتونه او کورنۍ ستونزې مني او بل دا چې د یوې کورنۍ بې سرپرسته پرېښودل حکمتاً هم ښه نه دی ، نو حتمي ده چې نارینه به یې مشر وي .

۳ ـ ] ولاتتمنوا مافضل الله به بعضکم علی بعض للرجال نصیب مما اکتسبوا وللنساء نصیب مما اکتسبن ][۹۰].

یعني : (( او ارمان مه کوئ ، تاسې د هغه شي چې غوره کړی دی الله ج په هغه شي سره ځینې له تاسې په ځینو نورو ، شته نارینه وو لره برخه مقرره په سبب د هغې عمل چې کړی وي دوی ))

دا ایت دلیل دی چې سړی پر ښځه غوره دی نو په دې خاطر هغه په ټولو کارونو کې واکمن دی .

ځواب دا ایت په کورنۍ پورې ځانګړی دی ، او په مطلقه توګه د نارینه وو دفضیلت دلیل کېدلای هم نه شي ، دا د وروستني ایت په شاهدۍ سره په میراث پورې خاص دی او مونږ دلته سیاسي حقوق څېړو .

۴ ـ ] وقرن فی بیوتکن ولاتبرجن تبرج الجاهلیة الاولي ][۹۱]

---

(۹۰).النساء : ۳۲ .

(۹۱)الاحزاب : ۳۳ .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې : (( او قرار ونيسئ په خپلو کور کې او مه ښکاروئ ، ښکلا خپله ( پردوته ) په څېرد ښکاره کولو د ښکلا د جاهليت وړومبني ))

**۵ _ [ و اذا سالتموهن متاعا فاسئلوهن من وراء حجاب ]**(۹۲)

يعنې : (( او کله چې غواړی له دغو ( سپېڅلو بيبيانو څخه ) د کار کوم شی پس غواړی يې له پردې څخه د باندې .))

## د استدلال وجه :

خدای ج ښځې ته په کور کې پر اوسېدلو امر وکړ او بې ضرورته لـه وتلو څخه يې منع کړله او په پردې ورته امر وشو ، له سړيو سره له اختلاط څخه منع شوله نو لازمه ده چې د سياسي ژوند څخه هم ګوښه و اوسي او دا د رسول الله ص په بيبيانو پورې خاص نه دي که داسې وای نو بيا به د نورو مسلمانانو ښځې په ډول او سينګار سره بهر ته وتلې او نه دا خبره صحيح ده چې د رسول الله ص بيبيانې د دې کار ( د سياست له ډګر ) څخه عاجزې وې .

ځواب : د لومړي ايت وروسته او وړاندې برخې ته په کتلو سره معلومېږي چې دا حکم د رسول الله ص په بيبيانو پورې خاص دی : لکه :

[ يانساء النبي لستن کاحد من النساء ان اتقيتن فلا تخضعن بالقول فيطمع الذي فی قلبه مرض وقلن قولا معروفا وقرن فی بيوتکن ..](۹۳)

---

(۹۲)الاحزاب ۵۳

(۹۳)الاحزاب : ۳۲_۳۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

یعنې : (( ای ښځو د نبي ص نه یاست تاسو په څېر دبل ټولګي د محمدي امت د ښځو نو که چېرې پرهېزګاري کوله تاسې پس مه کوئ نرمي په ویلو کې چې په طمع کې به پرېوځي هغه څوک چې په زړه کې یې رنځ وي او وایئ تاسې خبره ښه ( زیړه ) او قرار ونیسئ په خپلو کورونو کې ....))

نو دلته الله ج سپېڅلو بیبیانو ته خطاب کوي چې تاسو د نورو سره توپیر لرئ ځکه چې تاسې د رسول الله ص بیبیانې یې ، تاسو له نورو ښځو څخه غوره او شریفې یاستئ تاسو ته الله ج د خېرل الخلائق ص د ملګرتیا نېکمرغي در په برخه کړله نو ډېر احتیاط کوئ او د ځان په هکله د نورو په څېر فکر مه کوئ.

لکه څنګه چې د پردې ایت د رسول الله ص په بیبیانو پورې خاص دی.[۹۴]

[ و اذا ساءلتمو هن متاعا فاسئلو هن من وراء حجاب ][۹۵]

یعنې : (( او کله چې تاسې غواړئ له دغو بیبیانو څخه کوم د کار څیز پس غواړئ یې د پردې تر شاه ))

لکه څنګه چې د رسول الله ص له وفات څخه وروسته د نورو خلکو سره د نکاح حرمت هم په همدې بیبیانو پورې خاص و او لکه څنګه چې په ګناه کولو ورته دوه برابره عذاب ورکول په همدوی پورې خاص دي .

دکتور عبدالحمید متولي د سید مودودي د دې وینا په ځواب کې چې (( درسول بیبیانې دکومې کمزورئ له کبله په کور کې پر کښېناستلو ماموري شوې او نورو ښځو ته بهر ته د وتلو اجازه وشوه )) وایې دا خویو نیک اقدام د قدر او احترام وړ عمل دی چې د هغوی عزت او وقار پرې

(۹۴)(( الشوری واثر هافی الدیمقراطیه \ دکتور عبدالحمید اسماعیل الانصاري .))
(۹۵)الاحزاب : ۵۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوندي او امتياز ورته حاصلېږي نو دا عجز نه ،بلکې امتياز او درناوی دی ځکه هغوی ته په ارام ،باوقاره مطمئن او له ستونزو څخه خالي ژوند تېرولو امر وشو او دانه څه عېب دی او نه د هغوی په قدرت ، عزت او درناوي کې څه کمښت، بلکې دا یو ځانګړی امتیاز دی[۹۶].

دکتور فواد عبدالمنعم وايي : یو له هغه دلایلو څخه چې د حجاب په نه عاموالي دلالت کوي د غض بصر ایتونه دي د خدای ج له طرفه ښځې او نارینه وو ته پرنظر ښکته اچولو امر پر دې دلالت کوي چې په هغه وخت کې د مخ لوڅوالی روان ( جاري) ، مباح او مروج و او یوله دې دلایلو څخه د فضل ابن عباس حدیث دی[۹۷].

په همدې کتاب کې د (مخ او مړوند ) سرلیک وګورئ

رسول الله ص د فضل مخ بلو پلو ته واړاوه او پر هغې ښځې یې د مخ لوڅوالي او لنډ کارئ هېڅ پړه وانه چوله او لکه څنګه چې حجاب په لمانځه او حج کې نشته دی[۹۸].

حضرت ابوبکر صدیق ( رض ) له عکرمه بن ابي جهل ( رض ) سره د رسول الله ص دوینځې په نکاح سخته غصه وکړه او غوښتل یې چې رجم یې کړي مګر حضرت عمر ( رض ) ورته وویل: (( نه خو داد امهات المومنین (رض ) له ډلې څخه ده، نه ورسره رسول الله (ص) یو ځای شوی دی او نه ورته په حجاب امر شوی دی .))[۹۹]

---

(۹۶)مبادي نظام الحکم \ دکتور عبدالحمید متولي .

(۹۷)( بخاري او ترمذي)

(۹۸)الشوری واثر ها فی الدیمقراطیه \ دکتور عبدالحمید اسماعیل .

(۹۹)الطبقات الکبري لابن سعد ، تاریخ لامم ولملوک ابن جریر طبري جلد ۳ مخ ۲۲۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دحجاب احکام په پنځم هجري کال کې نازل شوي دي او په نهم هجري کال کې د حنېن په غزوه کې ښځو ګډون کړی دی ، نو دا خبره به څوک ومني چې ښځه دې په جهاد کې عملي ونډه هم واخلي او پرده دې هم وساتي داخو نشي کولای چې په پټه وجنګېږي نو جوتېږي چې د حجاب احکام په امهات المومنین (رض) پورې خاص دي او حتی د رسول الله (ص) بيبيانې خو هم دې ايت له وتلو څخه مطلق منع کړې نه وې ، که داسې وای نو رسول الله (ص) به د دی ايت له نزول څخه وروسته ولې حج او عمرې ته بېولې او نه به يې غزواتو او دمور او پلار ملاقات ته پرېښودلې . نو اسلام ښځې ته اجازه کوي چې کار وکړي، تړون وکړي ژمنې او معاملې وکړي ، په رسمي چارو کې ګډون وکړي کله چې اسلامي اداب مراعاتوي (۱۰۰).

## له احاديثو څخه :

۱ : ځينې وايي چې رسول الله (ص) ښځو ته ناقصات العقل والدين ويلې دي. د دې ځواب مخکې ورکړل شوی دی ، وګورئ ( شبهه د ښځو په شهادت کې ) سرليک

۲_د ځينو روايتو نسبت رسول الله (ص) ته شوی دی لکه : ( شاورو هن وخالفوهن )

(۱۰۰) مبادي نظام الحکم \ دکتور الحميدي متولی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې : (( مشوره وکړئ له ښځو سره او مخالفت يې وکوئ )) مولانا ګوهر الرحمن ليکي چې دا روايت ملا علي قاري په مرقاة کې دقد ورد په الفاظو را نقل کړی دی او راوي يې معلوم نه دی او موضوعات کبير کې ورته بې اصله ،باطل او ضعيف وېلې دی[۱۰۱].

قرضاوي وايي : دا موضوعي دي چې علمي ارزښت هم نلري .

ـ شيخ ناصر الدين الباني وايي : دا روايت هېڅ اصل نه لري .

د تحفه الاحوذي خاوند وايي : د مجمع البحار خاوند په خپل کتاب تذکرة الموضوعات کې ليکلي چې ماته مرفوع نه ښکاري .

۳ : ( هلکت الرجال حين اطاعت النساء )[۱۰۲]

دا حديث وايي (( هلاک شول سړي کله چې د ښځې مننه وکړي . )) د دې حديث په هکله دکتور عبدالحميد اسماعيل د مختلفو محدثينو وېناوې رانقل کړې دي لکه شيخ الباني وايي : دا ضعيف دی سره له دې چې حاکم او ذهبي صحيح ګڼلې دی . ابن معين وايي چې دا هېڅ ده .

: ابن عدي وايي چې دا حديث د ضعيفو له جملې څخه دی او معنا يې دام سلمه (رض) له حديث سره ټکر لري .

۴ : ( طاعة النساء ندامه ) يعنې د ښځو خبر منل پښېماني ده .

د تحفه الاحوذي خاوند وايي چې ضعيف دی .

: الباني وايي چې موضوعي دی .

: صنعاني وايي چې (( د دې روايت نسبت عايشې ته شوی دی مګر موضوعي دی ))[۱۰۳]

---

(۱۰۱) اسلامي سياست ۱ مولانا ګوهر الرحمن .

(۱۰۲) المستدرک للحاکم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

: سخاوي او سیوطي ورته ضعیف ویلی دی .
: ابن قیم جوزي وایي چې ، دا صحیح حدیث نه دی .
۵ : حضرت عمر (رض) ته د یو روایت نسبت شوی دی چې ( خالفوا النساء فان فی خلافهن البرکة ) یعني : (( د ښځو مخالفت کوئ ځکه چې د دوی په مخالفت کې برکت دی ))
: الباني وایي چې دا ضعیف دی .
۶ : حضرت انس (رض) ته د یو روایت نسبت شوی دی چې رسول الله ص فرمایلي دي : (لایفعلن احدکم امرا حتی یستشیر فان لم یجد من یستشیر فلیستشیر امراه ثم یخالفها فان فی خلافها برکه .)
یعني : (( نه دې کوي یو له تاسو څخه کوم کار ترڅو چې مشوره وکړي نو که څوک یې پیدا نکړي چې مشوره ورسره وکړي نوله ښځې سره دې مشوره وکړي اوبیا دې د هغې مخالفت وکړي ځکه چې د هغې په مخالفت کې برکت دی .))
د تحفة الاحوذي خاوند وایي چې : د دې حدیث په سند کې عیسی دی او هغه ډېر ضعیف دی همداراز منقطع هم دی [۱۰۴].
: مولانا ګوهر الرحمن د تنزیه الشریعه په حواله لیکي : دا حدیث ابن لال د حضرت انس (رض) په حواله روایت کړی دی خو په سند کې یې عیسی ابن ابراهیم الهاشمي دی او دی په دروغ ویلو متهم دی [۱۰۵].

---

(۱۰۳)الشوری واثرها فی الدیمقراطیه \ عبدالحمید اسماعیل .
(۱۰۴)الشوری واثرها فی الدیمقراطیه \ عبدالحمید اسماعیل .
(۱۰۵)اسلامي سیاست \ مولانا ګوهر الرحمن .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷ـ: لـه رسـول الله ص څخـه روايـت دی چـې ( اذا کـان امـرائکم شـرار کـم و اغنيائکم بخلائکم و امرکم الی نساء کم فبطن الارض خير من ظهر ها )
يعنې : (( کله چې وي امـران ستاسـو ، ستاسو لـه ټولـو څخه بـد خلـک او شتمن موبخيلان شي او کارونه مودښـځو پـه لاس شي نـو دځمکـې ګېډه غوره ده د ځمکې له شاه څخه ))
داستدلال وجه
ښځو ته سياسي حقوق ورکول د دی سبب ګرځي چې د ټولنې واکمني ښـځو ته وسپارل شي .
ځواب : دا حديث لکه څنګه چې ترمـذي وايي غريب دی او کـه صـحيح هـم شي ښځو ته سياسي حقوق ورکول دا معنا نه لري چې د ټولنې ټـولې چـارې په عمومي ډول ښځو ته وسپارل شي او نارينه دې کرار ناست وي .
: استاد عبدالمتعال صعيدي د دې خبرې په ځواب کې وايـي : زمـوږ چـارې به هغه وخت په ټوله معنا دښـځو پـه لاس کـې شي چې کلـه وضع بدلـه شي نارينـه دښـځو پـه کـار ( پخولو،ګنـډلو ، وينځلـو) او ښـځې د نارينـه وو پـه چارو اخته شي او که چېرې د نارينه وو تر څنګ ښـځې هم پـه ځينـو کـارونو کې ګډون کوي نو ددې معنـا دا نـده چې واک د ښـځو پـه لاس کـې شـو او د حديث مطلب هم همدا دی چې وضعه په ټوله معنا بدله شي يعنې نارينـه پـر کور کښېني او ښځې حکومت په لاس کې واخلي [۱۰۶].

## ۸ـد (( لن يفلح قوم )) حديث

(۱۰۶)من اين نبداء \ استاد عبدالمتعال صعيدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بخاري ، امام احمد په خپل مسند کې او نسايي له ابي بکره څخه روايت کړی دی چې ((لما بلغ رسول الله ص ان اهل فارس تملکوا عليهم بن کسری قال (( لن يفلح قوم ولو امرهم امراة )) دې حديث ته ترمذي غريب ويلی دی : يعنې (( کله چې رسول الله ص ته داخبره ورسېده چې د فارس خلکو پر ځانونو د کسری لور واکمنه کړځولې ده نوهغوی ص وفرمايل (( هرګز به بريالی نشي هغه قوم چې واکمنه يې ښځه وي )) او په دې کې شک نشته دی چې پدې کې زيان دی او له زيان څخه ځان ساتل واجب دي او ټول هغه څه چې دی ضرر ته لمن وهي ځان ساتل ورڅخه واجب دي چې هغه دښځې ولايت دی او د ( امرهم ) صيغه عامه ده ټولې چوکۍ په کې شاملې دي مګر هغه خاص ولايات چې په اتفاق د علماووښځې ته ثابت دي او دحکم علت ښځې والی دی او دښځې والي مقتضی د علم ، پوهې نشتوالی او له معرفت څخه لېری والې نه ،بلکې د ښځې والي مقتضی دهغې عاطفه او هغه طبعي عوارض دي کوم چې دښځو معنوي ځواک کمزوری کوي او دهغوی برم ته صدمه وررسوي ، دوهمه ډله داسې ځواب ورکوي : داحديث په امامت عظمي پوری خاص دی ځکه چې :

الف ـ په حديث کې کلمه د ( امرهم ) راغلې ده چې په امر کې ټول شيان او دټولنې ټولی چارې شاملې دي او دا يوازې په امارت عظمی ( لوی رياست ) کې کېدلای شي چې ټولې چارې يې په واک کې وي .

رد : په اصولو کې پر عام حکم د کليت په معنی راځي نو دعام حکم په ټولو افرادو او شاملو اجزاو باندې کېږي نو معنا داسې شوه چې هغه قوم به بريالی نه شي چې ښځه په کې وزيره شي ، هغه قوم به کامياب نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ښځه په کې جمهور رئیسه شي ، هغه قوم به بریالی نه شي چې ښځه پکې لومړئ وزیره شي .
نو مراد ترې ټول دولتي ارګانونه دي یوازې امامت عظمي ندی .
ځواب ـ که چېرې ومنو چې حکم دلته عام دی نو قرینه یې د اصول پوهانو په اتفاق سره د ټولو شاملو افرادو او اجزاوو څخه یوازې امامت عظمی ته اړوي (یعنې غرض یوازې لوی ریاست دی نه ټول ولایات) لکه چې وایي : سړي درنې درنې تیږې پورته کوي نو ښکاره خبره ده چې ټول نارینه خو درنې تیږې نه شي پورته کولای .
ب : دا حدیث په امامت عظمي پورې ځکه خاص دی چې ښځې د نورو ولایاتو اهلیت لري او عامه قاعده د نر او ښځې مساوات دي مګر هغه چې په جوت دلیل سره استثنی شوي وي او دولایت عظمی خاص کول په نارینه وو پورې په حدیث باندې ثابت دي او دښځو منع هم ورڅخه په حدیث ثابته شوې ده او له استثنی څخه استثنی نه شي کېدلای او نه روا ده (چې په ولایت عظمی باندې نور منصبونه قیاس کړو)
ج : علماء په دې کې هم د نظر اختلاف لري چې له (امرهم) څخه غرض جنس دی او که عهد یعنې ایاد حدیث غرض عام دی چې که په هر قوم کې ښځینه واکمنه شي بریالي به نه شي او که څه چې د رسول الله ص په ذهن کې معهود و چې هغه د فارس واقعه ده ، دوهم دا چې ایا ښځې ټول واک په لاس کې واخلي او که کوچني منصبونه هم خو قرینه ثابتوي چې دلته مطلب یا معهود فی الذهن یوازې او یوازې ولایت عظمي ده او وړې او وړې څوکۍ په اتفاق د فقهاو وسره ښځې ته ورکول روا دي .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ښځو ته د جمهوري ریاست په شمول د ټولو سیاسي حقوقو د ورکوونکیو دلایل :

الف : دا حدیث په یوې خاصې پېښې پورې اړه لري دا ځکه چې دا حدیث له رسول الله ص څخه هغه وخت صادر شو کله یې چې واورېدل چې د فارس پر خلکو د کسری لور حکومت کوي دا ځکه چې په هغوی کې داسې نارینه نه وپاتې چې حکومت یې کړی وای ، ولې چې الله تعالی ورته د خپل حبیب ص خبرا قبولې کړی وې .
هغه داسې چې کله چې رسول الله ص کسری ته لیک ورولېږه نو هغه دا لیک څیري کړ نو هغوی ص ورته خبرا وکړلې چې خدای ج دې د هغه پاچاهي هم همداسې ټوټې کړي نو الله ج ورته دا خبری قبولې کړلې او یو د بل په وژلو یې پیل وکړ نو هلته داسې نارینه نه وپاتې چې حکومت یې کړی وای ، او ښځې د حکومت واکې په لاس کې واخېست او طبعي ده چې هر قوم دې حالت ته ورسېږي هغه به ناکام او پاتې وي نو دا حکم په دې واقعی پورې اړوند دی په اصول الفقه کې دامسئله اختلافي ده ، امام غزالي وایي چې : د خاص سبب لپاره د عام وارد بدل هغه له عمومیت څخه نه غورځوي [١٠٧].
او دلته کېدلې شي چې تکیه قرینې ته وشي ځکه چې رسول الله ص د یو خاص قوم له کیفیت او څرنګوالي څخه خبر شو او د هغوی حالاتو ته په کتنه او مطالعې سره یې داسې حکم صادر کړ نو دا په همدی پېښې پورې

(١٠٧) المستصفی امام غزالي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاص دی ځکه چې زموږ په عصر کې او زموږ د سترګو پر وړاندې په ډېرو هېوادونو کې ښځو حکومت کړې دی خو په خپلو چارو کې بریالۍ شوې دي .

ب : دا حدیث که څه هم بخاري روایت کړی دی خو له احادو څخه دی او د احاد حکم ظني وي شیخ محمد عبده به احاد احادیث له سره نه منل(۱۰۸).

امام ابوحنیفه (رح) به په مشهورو احادیثو عمل کاوه او په احادو نه .

استاد عبدالمتعال صعیدي وایي : دا حدیث قطعي (پرېکنده) دلیل نه دی چې عمل پرې حتمي شي او قطعي عمل پرې وشي ، لکه وجوب د لمانځه ، روژه ، زکات او دا یو ظني حدیث دی او د ظني مخالفت پر نورو دلایلو روا دی (۱۰۹).

ځواب : منو چې دا حدیث د احادو له جملې څخه دی او ظني دی خو له خوارجو معتزله و پرته ټول جمهور علماء پرې عمل کوي ځکه چې قوي ګومان د عملي چارو لپاره بس دی ، ډېر شرعي احکام له احاد حدیث څخه اخېستل شوي دي .

دا خبره چې امام ابو حنیفه (رح) په احاد حدیث عمل نه کاوه سیې نده ، اکثره حنفیان ، شوافع ، حنابله او مالکیان په احاد حدیث عمل واجب ګڼي ، سره له دې چې احاد حدیث ظني وي .

رد : که چېرې ومنو چې په احاد حدیث عمل او پر پیاوړي ګومان اکتفاء (بس والې) سیې ده خو بیا هم دا په مدني حقوقو او جنایي قوانینو کې

---

(۱۰۸)الشوری واثر ها فی الدیمقراطیه\ دکتور عبدالحمید اسماعیل .
اسماعیل

(۱۰۹)من این نبداء \ استاد المتعال صعیدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، په سياسي چارو کې نه ځکه چې دا ډېره مهمه او خطرناکه موضوع ده نو پکار دي چې په ظني حديث عمل ونشي ترڅو چې مشهور او متواتر نه وي ، کله چې علماء دا شرط ګڼي چې په مصلحت مرسله کې بايد مصلحت حقيقي او يقيني وي نو دلته خو په اعلى ډول سره بايد دليل ظني نه وي ځکه چې دا مستقلې چارى دي ، او قران يې دومره څېړنه نده کړې ، او بل دا چې دا ستر خطر دى چې يو احاد او ظني حديث په سياسي قانون کې په کار واچول شي او غتې غتې سياسي مسئلې ترې راو وېستل شي .

ځواب : قاضي د ګواهانو په ګواهۍ فيصله کوي له دې ګواهۍ نه خو يقين نه ثابتيږي مګر د ګومان پياوړتيا .

رد : دا قياس صحيح ځکه نه دى چې دلته خبره دهغو حديثو ده چې قانون او قضا شمېرل کېږي او له دې سره سره بيا هم قاضي د يوتن پر ګواهۍ اکتفاء نه کوي دوه ګواهان او کله ناکله څلور ګواهان رابولي او سياسي احکام له مدني او جنايي احکامو څخه په خطر کې کم نه دي نو پکار دي چې له ډېر احتياط څخه کار واخستل شي .

لنډه دا چې په سياسي مسائلو کې به په مشهورو او متواترو احاديثو عمل کوواو احاد حديث به هغه وخت منو چې مسئله مستقله ( ازاده او ځانګړې ) نه وي مثلاً : د احاد حديث په واسطه مجمل تفصيل شي په مقيد ، مطلق ، خاص او عام کې يې منو او په مستقله مسئلو کې چې په قران کې نه وي بيان شوى نو عمل پرې نه کوو ، مګر کله چې په مشهورو او متواتروا حاديثو ثبوت شي .

او که چېرې په احاد حديث عمل ضرور و ګڼو نوبيا هم حديث په دوه ډوله دى .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ ـ هغه چې حکم يې د هر وخت او هر ځای لپاره شريعت وي لکه چې له رسول الله ص څخه ثه د رسول الله ص او مبلغ په حيث صادر شوي وي او مقصد ترينه عام شريعت وي ، او قرائين ( نښې نښانې ) په دې دلالت وکړي لکه حلالول او حرامول ، امر او نهي نو دا عام شريعت او عمل پرې واجب دی .

۲ ـ هغه احکام چې ديوې ځانګړې مودې او ځانګړي ځای لپاره وي نو دا عام شريعت نه دی لکه د لښکرو لېږل ، د قاضيانو مقررول ، د تړونونو لاسليک ، دمالي چارو تدبير او .... ځکه چې دا احکام له رسول الله ص نه دامام او جمهور رئيس په صفت صادر شوي دي ، نو دا شريعت نه ګڼل کېږي او سياسي چارې هم له همدې ډول څخه دي .

همدارنګه ثه چې له رسول الله ص څخه د قاضي په توګه صادر شوي وي اوغوثه قرينه دلالت وکړي چې په دې کې د يوې خاصې ټولنې د مصلحت مراعات شوی دی ، داهم شريعت نه دی يعنې د يوې خاصې ټولنې مصلحت ته کتل او دهغې مراعاتول شريعت نه ګڼل کېږي او ښکاره خبره ده چې سياسي شريعت ( د شريعت دې ثانګه ) کې د قانون د جوړښت په وخت کې چې د ټولنې مصلحت په ثه کې وي هماغه مراعاتوي نو همدا لامل دی چې هرځای او هر وخت کې وينو چې هر قانون د ټولنې او وخت سره توپير لري او د ټولنې او وخت له بدلېدو سره بدلېږي .

لنډه دا چې په دې حديث کې هم ديوې خاصې ټولنې مصلحت ته کتل شوي دي او په يوې خاصې ټولنې پورې اړه لري ځکه چې :

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ : دا حديث له رسول الله ص څخه د وخت د امام او جمهور رئيس په توګه صادر شوی دی او د رسول الله ص او مبلغ په توګه ورڅخه نه دی صادر شوی نو عام شريعت نه دی او نه پرې عمل واجب دی .

۲ : په دې کې د يوې خاصې ټولنې مصالح تر نظر لاندې نيول شوي دي چې د حکم د صادرولو په وخت کې دغه مصلحتونه د هغې ټولنې غوښتنه وه او قرينه دا ده چې دا حديث له سياسي چارو سره اړه لري او په سياسي چارو کې د يوې خاصې ټولنې مصالح مراعاتېږي نو ځکه د هر وخت او هر ځای سره بدلېږي[۱۱۰].

دکتور صلاح الدين د بوس د دکتور عبدالحميد متولي ځواب داسې ورکوي : حديث په هر حال دليل دی که په سياسي احکامو کې وي او که په جنايي کې که ظني وي او که قطعي ځکه چې : فقهاء وايي : (( العبرة بعموم اللفظ لابخصوص السبب ))

يعنې : (( اعتبار د لفظ عاموالي ته دی نه د سبب خاصوالي ته ، يعنې کتنه بايد د لفظ عاموالي ته وشي نه هغه خاص سبب او واقعې ته چې په هغه کې صادر شوي دي .))

۲ : دا چې په سياسي احکامو کې د خاصې ټولنې مصالح مراعات شوي دي ، دا په دې غوڅه قرينه کېدلای نشي ، چې دا حديث دې له خپل مفهوم څخه وغورځوي ځکه که دا خاصيت په وضعي قانون ( د انساني ذهن محصول قانون ) کې مراعات شي نو مراعات به شي مګر په اسلامي

(۱۱۰)مبادي نظام الحکم \ دکتور عبدالحميد متولي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریعت کې نشته دی ، په اسلامي شریعت کې له نصوصو څخه د احکامو د وېستلو ځانته لارې دي .

۳ : که په سیاسي چارو کې د ټولنې مصالح تر نظر لاندې نیول کېږي نو پکار دي چې په جنایي ، مدني او ..... احکامو کې هم مراعات شي او که داسې وشي نو حدیث له پامه غورځول کېږي[۱۱۱] .

رد : دکتور عبدالحمید متولي وایي چې : زه نه وایم چې په حدیث دې عمل نه کېږي زه وایم چې هغه حدیث دلیل او حجت کېدلای نشي چې احاد وي او مستقله مسئله ثبتوي چې په قران یا متواترو او مشهورو احادیثو ثابته نه وي لکه سیاسي مسائل ، نو هغه یوازې احاد حدیث حجت نه ګڼي خو کله چې راویان دوه شي بیا یې په منلو کې د هغه په نزد هیڅ ممانعت نشته دی .

۲ : د فقهاوو دا قاعده چې (( العبره بعموم اللفظ لابخصوص السبب )) مطلقه نه ده او که دا قاعده هم ومنو نو دا د اصول الفقه قاعده ده او ظني ده نه قطعي او معاصر علماء په اصول الفقه کې د اجتهاد امکان ویني او دوی له امام شاطبي سره موافق نه دي چې د اصول الفقه قاعدې قطعي دي[۱۱۲] .

ځکه په قطعي قاعدې یا نص کې د اختلاف ځای نه وي او دلته ځینې مسائل دي چې اختلاف پکې شته دی لکه مثبت د یو په نظر او منفي د بل په نظر ، او لکه اختلاف په مصلحت مرسله ، استحسان ، شرع من قبلنا ، دا صحابي قول ، استحصاب حتی په قیاس او اجماع کې ، سره له دې چې

---

(۱۱۱)الخلیفه تولیته و عزله \ دکتور صلاح الدین دبوس .

(۱۱۲)الموافقات ابو اسحاق شاطبي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولې قاعدې له قران او سنت څخه اخېستل شوې دي لکه چې هم داسې د نظر اختلاف په عام ، خاص ، مطلق ، مقید ،ناسخ او منسوخ کې هم شته دی نو همداسې اختلاف د احاد حدیث په احتجاج کې هم شته دی ځینو یې د قبلولو لپاره شرطونه ټاکلي دي :

۳ : دا وینا چې وضعي سیاسي قانون ( د انساني ذهن محصول قانون ) کې خو به د یوې خاصې ټولنې مصالح تر نظر لاندې نیول کېږي مګر دا په اسلام کې نشته ده غلطه ده. فقهاوو دې خبرې ته پام کړی دی چې هغه څه چې له رسول الله ص څخه د امام او جمهور رئیس په توګه صادر شوي وي هغه شریعت نه دی .لکه د لښکرو لېږل ، د قاضیانو مقررول د معاهداتو تړون او .....

۴ : دا چې په سیاسي چارو کې د یوې ټولنې مصالح تر نظر لاندې نیول کېږي باید په نورو احکامو کې هم ونیول شي ، موږ دا خبره منو هر کله چې ثابته شي چې په فلانۍ مسئله کې د خاصې ټولنې مصالح تر نظر لاندې نیول شوي و او د هغې په بدلون سره باید حکم هم بدل شي او سمه قرینه وجود ولري نو څه مانع نشته دی چې هغه هم لنډ مهالې ( مؤقتي ) وګڼل شي او له عام څخه خاص ته واوړي مثلاً : د اوښ د ورکېدلو حکم ، له مسجد څخه په و رځ کې د ځوانو ښځو ایساربدل ، د زوی لپاره د پلار د ګواهئ نه منل ، د مېرمنې په حق کې دخاوند د ګواهئ نه قبلېدل ، نرخنامه ورکول ،د قران په تعلیم پیسې اخستل او .....

څه پېژندل کېږي چې دا حکم له رسول الله ص څخه د امام او د دولت د رئیس په صفت صادر شوی دی او دا حکم ورڅخه د رسول الله ص او مبلغ په توګه صادر شوی دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکتور یوسف قرضاوي داسې لیکي :
۱ : قراینو او حالاتو ته په کتنه .
۲ : چې د حدیث موضوع مصلحت وي او سیاسي ، یا اقتصادي یا عسکري او یا اداري چارو پورې اړه ولري .
۳ : چې د هغه مخالف نصوص وجود ولري ترڅو وپېژندل شي چې دا امر د یو خاص وخت لپاره و ، اوبس لکه د [ من قتل قتیلا ....] حدیث چې د غنیمت د وېش له ایت سره ټکر لري او دمجاهدو په نیت اغېزه کوي او قرینه هم وجود لري چې هغه جهاد ته د مجاهدینو ترغیب او تشویق دی نو داسې احادیث ( لنډ مهالي موقتي ) دي او لکه امام مالک رح چې وایي : دا په امام پورې اړه لري چې ورکوي یې او که نه [۱۱۳].
شیخ محمد شلتوت وایي چې کېدلای شي چې دا حدیث هم له همدې ډلې څخه وي [۱۱۴].
صلاح الدین دبوس وایي : که په ټولو احکامو کې مصلحت مراعات شي نو سنت له پامه غورځول کېږي .
ـ ځواب : پر دې سنت له منځه نه ځي ، فقهاء وایي چې له رسول الله ص څخه چې دامام یا قاضي په صفت او یا د خپلو تجربو په اساس کوم حکم صادر شوی وي او قرینه پرې نه وي چې دا حکم عام دی نو پر دې ډول سنتو عمل واجب ندی [۱۱۵].

---

(۱۱۳)فقه الزکاة \ دکتور یوسف قرضاوي اودا الاحکام فی تمیز الفتاوي من الاحکام امام قرافي څخه عبدالحمید اسماعیل را نقل کړي دي .
(۱۱۴)الاسلام عقیدة وشریعة \ شیخ محمد شلتوت .
(۱۱۵)فرد او دولت \ دکتور عبدالکریم زیدان .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او څه چې له هغوی ص څخه د رسول او مبلغ په صفت صادر شوي دي پر هغه عمل واجب دی ، بل دا چې سیاست ځان ته ځانګړی طبیعت او له نورو قوانینو سره توپیر لري ګورو چې په قران کې د شرعي احکامو ایتونه د نورو ایتونو په پرتله کم دي له (۶۶۶۶) ایتونو څخه د (۲۰۰) په شاوخوا کې دي او بیا وینو هغه ایتونه چې په سیاست پورې اړه لري ډېر کم دي او بیا په عباداتو او نورو معاملو کې یې تفصیل کړی دی مګر سیاسي چارې یې مجمله پرېښې دي . فقهاء وایي : ( القران فصل فیما لایتغیر وجمل فیما یتغیر ) یعني : قران هغه څه چې تغیر نه خوري په تفصیل سره بیان کړي دي او څه چې تغیر خوري هغه یې مجمل پرېښي دي اوباید په یاد ولرو چې زموږ خبره په هغو احادیثو کې ده چې احاد وي او مستقله موضوع څېړي چې نه په قران کې وي او نه په مشهورو او متواترو احادیثو کې.

څه چې له رسول الله ص څخه د دولت د رئیس یا قاضي په توګه صادر شوي دي هغه عام شریعت ندی لکه چې رسول الله ص فرمایي : (( چا چې په جنګ کې څوک ووژه او ثبوت یې درلود نو دجنګ سامان یې ده همده دی . )) نو دا حدیث عام ندی چې په هر وخت کې د عمل قابل وګرځي[۱۱۶].

امام کاساني وایي چې وژونکي ته دا سامان او شیان ورکول د انعام په ډول د تشویق لپاره دي او امام خوښمن دی چې ورکوي یې او که نه ، او که ور یې نه کړي نو څه ګناه پرې نشته دی[۱۱۷].

---

(۱۱۶)صحاح الستة مګر نسایي، موطا امام مالک ، مسند احمد او بیهقي .

(۱۱۷)البدائع الصنائع .

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا راز په سياسي احکامو کې ځينې احاديث شته چې ځينې فقهاء وايي ، دا امر له رسول الله ص څخه د امام يا دولت د رئيس په توګه او ځينې وايي چې دا امر له رسول الله ص څخه د رسول او مبلغ په صفت صادر شوی دی مثلاً : رسول الله ص فرمايي : (( من احيا ارضا ميتة فهی له )) يعنې : (( چا چې اباده کړله شاړه ځمکه نو هغه د همده شوه )) نو امام ابو حنيفه رح وايي چې دا امر له رسول الله ص څخه د امام او د دولت د رئيس په صفت صادر شوی دی نو د داسې ځمکو په ابادولو کې د امام يا د دولت د رئيس اجازه شرط ده ، خو امام شافعي رح وايي چې دا امر له رسول الله ص څخه د رسول او مبلغ په توګه صادر شوی دی نو د امام اجازې ته د داسې ځمکو په ابادولو کې اړتيا نشته ده .

همدا رنګه حديث د ( لن يفلح قوم ) ځينې وايي چې دا عام شريعت دی ځکه چې له رسول الله ص څخه د دولت د رئيس په صفت صادر شوی دی ، تر څو چې دا احتمال په دی حديث کې موجود وي نو د څېړنې قابل ( جوګه ) دی .

عبدالوهاب خلاف وايي : هغه څه چې د رسول الله ص له وينا او کارونو څخه شريعت ندي دا دي :

١ : هغه څه چې ورڅخه د انساني طبيعت په غوښتنه صادر شوي و لکه ناسته ، ولاړه ، خوب ، خوراک ، څکل او ..... ځکه ددې کارونو مصدر د هغوی ص رسالت نه ، بلکې د هغوی ص انسانيت دی خو کله که داسې څه ورڅخه صادر شي او دليل پری قايم شي چې غرض تری عام شريعت دی نو بيا اقتداء ورپسې واجب ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ : هغه څه چې د انساني پوهې په اثر ترې صادر شوي وي لکه د هغوی ص د زیرکتیا او تجربو پر اساس، لکه د هغوی ص تجربه په سوداګرئ او کرونده کې ، د لښکرو په تنظیم کې ، جنګي تدبیر کې ، د ځینو دواګانو پېژندلو او .... مثلاً ، د بدر په غزا کې رسول الله ص د خپل فکر پر اساس یو ځای مرکز نیسي .خوبیا د خباب بن منذر رض د مشورې پر اساس هغه ځای ته تغیر ورکوي ، همداراز رسول الله ص ولیدل چې د مدینې او سېدونکې د خرما ونې صافوي رسول الله ص ورته وفرمایل : (( چې مه یې صافوئ )) هغوی همداسې وکړل چې په پای کې یې مېوه له لاسه ورکړله بیا ورته رسول الله ص وفرمایل چې تاسو په خپلو دنیوي چارو کې ډېر ښه پوهېږئ .

۳ : هغه څه چې له رسول الله ص څخه صادر شوي وي خو دلیل پرې ثابت دی ، چې دا د هغوی ص پورې خاص و لکه له څلورو څخه له ډېرو ښځو سره نکاح کول ، د خزیمه رض په ګواهئ باندې په یوازې توګه عمل کول[۱۱۸] .

نو ښکاره خبره ده چې هر حدیث شریعت نه وي شاید دا حدیث ( لن یفلح قوم ) هم د رسول الله ص د تجربو ، پوهې ، استعداد زیرکتیا او حالاتو په کتنه له هغوی ص څخه صادر شوي وي چې د همدې وړاند وینې ( پېشبیني ) سره سم هغه پاچاهي ټوټې ټوټې هم شوه .

---

(۱۱۸)اصول الفقه \ عبدالوهاب خلاف .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اجماع او تاريخي پېښې

## الف :تاريخي پېښې

اوله ډله وايي چې د اسلام له پېل څخه تر اوسه پورې دا لړۍ روانه ده چې حکومتي کارونه او مهم پکې د دولت رياست او په پارلمان کې غړيتوب شريعت په نارينه وو پورې خاص کړي دي .سره له دې چې په صدر د اسلام کې د سپېڅلو بيبيانو په څير با کلتوره ، مهذبې مثقفې غوره او عالمې ښځې وې او اړتيا هم احساسېدله د رسول الله ص په عصر کې بيا د صحابه وو په وخت کې ډېرې شوراګانې وشوې خو يوه ښځه يې هم ورته را ونه بلله ، ابن قدامه ليکي : ښځه نه د امامت عظمى مستحقه ده او نه د نورو ولاياتو او د امامت له شروطو څخه يو هم نارينه والى دى[119].

ـ ځواب : په مطلقه توګه دا ويل چې په صدر اسلام کې ښځې په کارونو نه دي ګومارل شوې غلط دي .

د حضرت عمر رض په هکله روايت دى چې هغه ام الشفاء (رض) پر ښار نګرانه چې په ننني اصطلاح ورته د ژاندارم يا د امنيې قوماندانې ويل کېږي ټاکلې وه او د ښار امنيت د عامه ولاياتو يا لوړو چوکيو له جملې څخه دى .

---

(۱۱۹)المغني لابن قدامه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ رد : ابن عربي مالكي په الاحكام القران كې او شيخ عبدالعال عطوه دا روايت صحيح نه ګڼي ځکه چې دا د (لن يفلح) له حديث سره مخالف دي[۱۲۰].

او بل دا چې د حجاب فكر له هر چا څخه وړاندې له حضرت عمر رض سره پيدا شو نو هغه څنګه له خپل فكر څخه مخالف كار كوي ؟

ـ ځواب : د كتور ابراهيم وايي : دا ښكاره خبره ده چې حضرت عمر رض ام الشفاء د ښار پرامنيت نګرانه ټاكلې وه او هېچا پرې اعتراض ونكړ نو دا لكه اجماع داسې شوه . ام شريك رض چې د ډېر عمر خاونده وه د رسول الله(ص) په وخت كې به وركره صحابه تلل او راتلل او ډېرو صحابه و به وركره شپې صبا كولې ، او منو چې د حجاب فكرله هر چا لومړى له حضرت عمر رض سره پيدا شو مګر دا د رسول الله ص په بيبيانو پورې خاص دى.

۲ : يو هم له هغو دلايلو څخه چې په سياسي چارو كې د ښځو پر ګډون دلالت كوي دام المومنين حضرت عايشې رض كړنه ده چې د درې زره كسيزه جنګېدونكي لښكر په سر كې له مكې څخه بصرې ته ووتله او له حضرت علي رض سره يې بيعت (ژمنه) ونكړه او د حضرت عثمان رض د وينې غوښتنه يې كوله ، د هغې رياست په قوم ثابت او حيثيت يې لكه د دولت د رئيس داسې و خلكو به ورته په ديني او سياسي چارو كې رجوع كوله، مثلاً كله چې قوم د لمانځه پر امامت مختلف شو چې ځينو به ويل چې دلمانځه امامت به طلحه رض كوي او ځينو به زبير رض ياداوه نو

(۱۲۰)نظام القضافی الاسلام.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت عایشې رض مروان ته وویل چې دلمانځه امامت به عبد الله د زبیر زوی رض کوي اوښکاره خبره ده چې څوک د لمانځه امام وياکي هغه د دولت رئیس وي .

کله چې عایشه رض بصرې ته و رسیده له یوه ډله خلک ورته راغلل ، چې په هغوی کې ابوبکره رض د (لن یفلح قوم د حدیث راوي) هم و کله یې چې ولیدل چې د لښکر ټول اختیارات د عایشې رض په لاس کې دي،هغه واکمنه ده امر یې چلېږي او خلکو له طلحه او زبیر رض څخه لومړی دې ته رجوع کوله نو په لښکر کې یې شامل نشو او بېرته ورګرځېد او ویل به یې چې د جمل په ورځو کې ماته یوې خبرې چې له رسول الله ص څخه مې اورېدلې وه ګټه وکړله که نه نژدې و د عایشې رض له لښکر سره یو ځای شم[۱۲۱].

نو هغه، د عایشې رض له لښکر سره یوازې له همدې کبله یو ځای نشو چې د لښکر ټوله واکمني له عایشې رض سره وه ، د هغې ریاست له دې څخه معلومېږي چې د بصرې خلکو او احنف بن قیس ته یې لیکونه ولېږل حضرت عایشه رض د معمولي خلکو په سر رئیسه نه وه چې پر هېڅ نه پوهېدل په هغوی کې لوی لوی صحابه لکه : طلحه ،زبیر او عبد الله د زبیر زوی رض شامل وو .

استاد ظافر القاسمي لیکي : د عایشې رض په ریاست کې له بیعت څخه پرته نور هېڅ کم نه وو یعنې عایشه رض په ټوله معنا رئیسه وه[۱۲۲].

(۱۲۱) الشوری واثرها فی الدیمقراطیه \ دکتور عبدالحمید اسماعیل نقل له شرح النهجه څخه .
(۱۲۲)نظام الحکم فی الشریعه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ځواب : عایشه رض نه جنګ ته وتلې وه او نه د جنګي لښکر په سر امیره وه بلکې هغه د عثمان رض د وینې د غوښتنې لپاره وتلې وه ، نو دا خو عام ولایت نه دی ( سره لدې چې د دوی په نظر ولایت عامه په ټولنیزو چارو کې پر یو کار هم سلطه او واک درلودل دي . )

ـرد :استاد عبدالمتعال صعیدي وایي : دا صحیح ندي چې عایشه رض یوازې د عثمان رض د وینې د غچ اخستلو لپاره راوتې وه ، بلکې هغه د یو جنګېدونکي لښکر په سر کې د وضعې د اصلاح او د شورا د چارو د اعادې لپاره راوتې وه او هغې ټول سلطات او لازم اختیارات درلودل لکه ابوبکره رض چې د هغې بشپړه واکمني ولیدله .

ـ سید ابو الاعلی مودودي رحمة الله علیه وایي : عایشه رض دلښکر رښتوني امیره وه او لښکر به هم د عایشې رض د لښکر په نامه یاد بده[۱۲۳] .

ـ ځواب : دا دعایشې رض خپل اجتهاد و او خطا شوله، صحابه وو هم دهغې دا کار بدوګانه ، ویې غنده ، هغې خپله هم پرې اعتراف وکړ او پښېمانه شوله .

ـ رد: که دا ومنو چې دا دعایشې رض خپل اجتهاد و نوځنګه چې هغه له هر چاځخه لومړی د اجتهاد وړ او اهله وه نو مورږ ورسره موافق یو او د دوی په څېر مجتهدي له هر چا ډېرې د تقلید وړ دي او که څوک ووایي چې خطا شوله نو د هغې په خلاف خبره دې عمل وکړي او د ( وقرن فی بیوتکن ) ایت خاص د حجاب لپاره و چې پردوی فرض و او دولایت او ریاست سره هېڅ اړه نلري له عایشې رض سره ډېر صحابه و چې د هغې

(۱۲۳) الخلافه ولملک سید ابوالاعلی مودودي دارالقلم الکویت ص ۸۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

قیادت به یې مانه نو بیا پکار دي چې ووېل شي چې هغوی هم ددی قیادت په منلو کې خطا شول [۱۲۴].

دا خبره چې ښځو په صدر د اسلام کې په سیاست کې ګډون ندی کړی په ټوله معنا غلطه ده د عقبی په دوهم بیعت کې ښځو ګډون کړی دی .

د ابوبکر صدیق رض د سیاست په اړوند د حضرت فاطمې رض دریځ (له ابوبکر صدیق رض) سره له ژمنې څخه د ( خپل خاوند ایسارول )، له حضرت عمر رض سره د مهر په هکله د یوې ښځې جګړه ، ( چې هغه وخت کې مسجد د پارلمان حیثیت درلود ) همدارنګه د نائلې رض د حضرت عثمان غني رض د مېرمن دریځ د حضرت علي رض د سیاست په اړوند دا ټول په ټولنیزو چارو کې د ښځو ګډون دی .

کله چې د معاویه او حضرت علي ترمنځ جنګ پای ته ورسېد او د سولې خبری رواني شولې نو هغوی عبدالله ابن عمر رض چې په دې جګړه کې یې د چاپلوي نه وه کړې د صلحې په خبرو کې د ګډون لپاره وباله .عبدالله رض نه غوښتل چې ولاړ شي مګر بیا یې له خپلې خور ام المؤمنین حضرت حفص سره مشوره وکړه هغې ورته ووېل چې دا د خیر غونډه ده او ته باید حتماً ولاړ شې هغه رض د حفص په دې مشوره چې په یو سیاسي او ټولنیز کار کې یې ورکړله عمل وکړ او جرګې ته ورغې په بخاري کې وایي ( فلم تدعه حتی ذهب )[۱۲۵]

یعنې تر هغه یې پرېنښود تر څو چې ولاړ شو .

---

(۱۲۴)من این نبدا استاد عبدالمتعال صعیدي او عمر بن خطاب \ دکتور سلیمان طحاوي ص : **۱۳۵** .

(۱۲۵)صحیح البخاري کتاب المغازي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله ص د حدیبیې په صلحه کې چې یوه مهمه او سیاسي موضوع وه له ام سلمی رض سره مشوره کړې ده ، حضرت عمر رض به له ښځو سره مشورې کولې ، دکتور سلیمان طحاوي وایي چې : په ټولنیزو چارو کې د ښځو ګډون د هغوی خپل حق دی او دا دحضرت عمر رض له نوښتونو څخه نه شمېرل کیږي ، همدا راز عبدالرحمن بن عوف رض د دریم خلیفه په منبر ودرېد او رږغ به یې کړ چې ای خلکو ماته مشوره راکړئ نو حتماً په دې خلکو کې به ښځې هم وې او هېڅوک دا نه شي ثابتولای چې دا به ټول نارینه وو .

دکتور شوقي فنجري وایي : رسول الله ص به له جګړې څخه وړاندې صحابه وو سره مشوره کوله او صحابیې ښځې به هم شورا ته راتللې ، همدا راز ښځو په غزواتو کې ګډون کړی دی چې دا ټول سیاسي اوټولنیز مسائل دي .

## ب : اجماع

که چېرې له اجماع غرض د صحابه وو اجماع وي نو دا خو صحیح څکه نه ده چې په دی هکله کومه ډاګیزه اجماع وجود نلري او نه تاریخ دا روښانه کړې ده چې صحابه راغونډ شوي او په دې هکله یې کومه پرېکړه کړې وي او نه دا خبره چا کړې ده ترڅو یې سکوتي اجماع و بولو سره له دې چې دا اجماع هم نه ګڼل کېږي څکه چې چپ ته د وینا نسبت نه کېږي او که چېرې وویل شي چې هلته د (لن یفلح قوم) له حدیث څخه عام فهم موجود و دکتور عبدالحمید اسماعیل وایي چې : په دی حدیث کې افهام مختلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، د هر چا ذهن مختلف برداشت کوي که داسې نه وای نو عایشه رض به ولې دلوی لښکر په سر کې وتله .که چېرې وویل شي چې صحابه و هېڅوک له ښځو څخه په عامو ولایاتو نه دي ټاکلي که دا هم ومنو ( که څه هم لکه چې وړاندې مو بېلګې وښودلې په مطلقه توګه دا ویل غلط دي ) نو دا خونه د دی معنا ورکوي چې د ښځو مقررول رواندي او نه یې په روا والي دلالت کوي او نه دا اجماع ګڼل کېږي ، ځکه چې هغه وخت کې دې ته اړتیا نه وه هغه وخت ( څه کم یونیم زر کاله وړاندې ) منصبونه کم وو ، د ښځو رغبت په سیاسي چارو کې لږ و او دټولنې طبیعت په دې پیاوړی وو چې ښځه په ټولنیزو چارو کې ګډون ونه کړي ، که چېرې ومنل شي چې د فقهاوو اجماع وروسته دا منلې ده موږ وایو چې آیا ټول مجتهدین په دې متفق او یو شوي دي ؟ایا د ټولو کتابونه موږ ته رارسېدلي ! هو داسې فقهاء وجود لري چې د هغوی نظریات له دوی سره مخالف دي او موږ ته یې کتابونه رارسېدلي نه دي نو بیا دا اجماع نه شوه ځکه چې اجماع په یو وخت کې پر یوه مسئله د ټولو فقهاء و راغونډ بدل او متفق کېدل دي ، آن که په لږه پیمانه اختلاف هم وجود ولري هغه اجماع نه ده دکتور ابراهیم عبدالحمید وایي : ایا قضاء له خلافت څخه اسانه ده ؟ هغه له اوږې څېړنې څخه وروسته لیکي چې قضاء دښځې صحیح ده مطلق ولایت یې صحیح دی احکام یې نافذ دي او عملي تطبیق روښانه کړې ده چې ښځې په قضاء کې بریالئ شوي دي لکه په المغرب کې ، په سودان کې ، او ...... او د عاطفې وېره اوس له منځه تللې ده[۱۲۶].

(۱۲۶)نظام القضافی الاسلام دکتور ابراهیم عبدالحمید .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سکوتي اجماع :

اسلامي تاريخ ګواه دی چې ښځو په ټولنيزو چارو کې ګډون کړی دی لکه د عقبی په دوهم بيعت کې[١٢٧].

د رسول الله ص له وفات څخه وروسته د فاطمې په واسطه له ابوبکر صديق رض سره د علي رض له بيعت څخه منع کول ، مسجد د مرکزي شورا ځای و او نارينه او ښځې به دواړه ورته راتللې ، او کله به چې د دولت رئيس خپلې ستونزې بيان کړلې بيا به نارينه او ښځو په ګډه د خپل نظر څرګندونې کولې ، دلته دحل او عقد اهل موجود وو ، خو هېچا منع نه کړلې ، په مسجد کې حضرت عمر رض باندې يوې ښځې د مهر په هکله اعتراض وکړ او عمر رض دهغې اعتراض په ځای وګاڼه حضرت عايشه رض د درې زره کسيزه لښکر په سر کې د حضرت علي کرم الله وجهه مقابلې ته ووتله ، نائلې رض به حضرت عثمان رض ته مشورې ورکولې ، د هغې له مړينې څخه وروسته يې د هغه په وينو ککړ کميس معاويه رض ته شام ته ورولېږه چې د پنځوس زره کسانو څخه ډېر د انقلاب ( اوښتون ) په ډول د هغه دوينې غوښتلو ته راووتل د علي رض حاميانې او مرستندويه ښځې هم وې ، حضرت عبدالرحمن بن عوف رض د دريم خليفه په ټاکلو کې له ښځو سره مشوری کولې ، حضرت عمر رض ام الشفاء رض په بازار نګرانه ټاکلې وه او هېچا په دی ټولو صورتونو کې اعتراض ونکړ، چې داخپله په سکوتي اجماع د ښځو د سياسي حقوقو ثبوت دی

---

(١٢٧)مبدالمساوات فی الاسلام\ دکتور فواد عبدالمنعم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځينې وايي چې : صحابه د عايشې رض د احترام لپاره د هغې په کار چوپ پاتې شول ، مګر دا خول دليل ځکه ندی چې د صحابه و چپوالي د روا والي دليل دی ځکه چې هغوی په ناروا کار هېڅکله هم چپ نه پاتې کېدل که څه هم د هغه د کوونکي رتبه ، شان ، برم او مقام څومره اوچت وي رسول الله ص وليدل چې سمراء د نهيک اسدي لور رض په بازار کې ګرځي په نېکئ امر او له بدئ څخه منع کوي او خلک په دې هکله په قمچين ( متروکه ) وهي خوله د ثعلبه لور رض به په عامو لارو کې د حضرت عمر رض ته نصيحت کاوه[١٢٨].

ځينې وايي چې : سياسي چارې غواړي چې انسان اوزګار وي ښځې او نرګڼ ژوند او يوځای سفر وکړي او دا به ستونزې ايجاد کړي چې ښځې کار هم وکړي او د کور چارې هم سنبالې کړي .

ـ ځواب : دکتور عبدالحميد اسماعيل داسې ځواب ورکوي :

موږ عربي ښځې وليدلې چې په ټولنيزو چارو کې يې ګډون وکړ او له نارينه سره يې اوږه په اوږه کار وکړ اوس هم او په صدر د اسلام کې هم. موږ ډېر داسې شواهد لرو ( لکه چې پورته مو ولوستل ) نه ټولنيز ژوندانه او چارو ته کوم زيان او صدمه ور رسېدلې او نه کورني نظام ته .

دکتور عبدالحميد متولي وايي : د علم ، عبادت ، کار او عمل په ډګر کې د اسلامي ادابو له مراعات سره دنر اوښځې ګډ ژوند روادی او داکېدلی چې ښځه نه له پرديو سره خلوت وکړي او نه تنها سفر[١٢٩].

(١٢٨)مبادي نظام الحکم \ دکتور عبدالحميد متولي .
(١٢٩)مبادي نظام الحکم \ دکتور عبدالحميد متولي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن صبا موږ وينو چې کوم ولسمشر يا لوی وزير چېرته ځي نو څومره خلک ورسره وي .

د ښځو د سياسي حقوقو ستونزه ديني او قانوني ستونزه نه، بلکې دا ټولنيزه سياسي ستونزه ده چې د ټولنيزو ظروفو په نظر کې نيولو سره سم بايد حل شي تر څو د ښځې له ښه استعداد او ذکات څخه محروم نشو او ښځو تنها د شهواني قوې ملعبه ونه ګرځي .

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قیاس او تېر شریعتونه (شرع من قبلنا)

## الف: قیاس

دا څو صورته لري:

١: ښځه په پنځه وخته لمانځه کې، د جمعې په لمانځه کې، د اخترونو په لمانځه کې امامت نشي کولی نو لوی ریاست (صدارت عظمي) هم نشي کولای او علت په کې ښځه والی دی.

_ ځواب: منو چې ښځه په دې ځایونو کې امامت نشي کولای مګر دانه منو چې علت په کې ښځه والی دی او دا مامتونه د تعبد له وجې نشي کولای مګر ښځه د ښځو لپاره امامت کولای شي او ښايي چې حکمت په کې هماغه وي لکه چې سید مودودي (رح) يې وایي هغه دا چې په میاشت کې څو ورځې داسې وي چې ښځه پکې نه لمونځ کولای شي او نه روژه نیولی شي او شاید په امامت کې به يې دا لوی راز افشاشي  چې ښځې يې هیچاته ښکارول نه غواړي او که چېرې دا هم ومنو چې علت په کې ښځه والی دی نو بیاهم داقیاس مع الفارق (چې دمقیس اومقیس علیه ترمنځ څه مشابهت او مناسبت نه وي) دی ځکه چې لمونځ محض عبادت دی او ځان ته خاص شرطونه لري او ولایت عظمی له لمانځه څخه ځانته مختلف شرطونه لري نو دا قیاس صحیح ندی که چېرې وویل شي چې: د صدارت عظمي او جمهور رئیس له شرطو څخه یو شرط دادی چې امام دې د لمانځه د امامت اهلیت ولري او ښځه د دې جوګه نده، بلکې مسجد ته له تللو څخه هم منع ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکتور عبدالحمید اسماعیل وايي : موږ دا شرطونه نه منو ځکه چې کوم دليل پرى نشته دى او نه خو د امام ( خليفه ) ياد هغه د نائب وجود په لمانځه کې شرط دى ځکه خلک تنها هم لمونځ کولاى شي او امام دا هم کولاى شي چې د خپل ځان په عوض بل څوک د امامت لپاره نائب وټاکي ځکه چې خليفه خو هر مسجد ته تللى نشي او ښځه هم دا کار کولاى شي لکه حضرت عايشې رض چې عبدالله د زبير زوى رض وټاکه .

۲ : ښځه قضاء کولاى نه شي نو امات عظمى هم کولاى نشي او علت يې ښځه والى دى ځکه چې دهغې غوښتنې او طبيعت عاطفې ته غاړه ايښودل دي ، ژر اغيزې لاندې راځي قصد يې کمزورى دى او سستوالى لري او د طبعي عوارضو د تکرار له کبله هم دا کار نشي کولاى .

ـ ځواب :

۱ : موږ نه د امامت عظمى قياس په قضا منو نه دا مقيس او نه يې مقيس عليه. د اثابته ده چې ښځې قضاء کولى شي او د ښځه والي سبب يې له حکم او فيصلې څخه منع کولى نشي همدا راز ولايت عظمى هم کولاى شي اوعلت په ولايت باندې قدرت دى او عموم او خصوص ته کتل پکار ندي او دا قدرت له ښځې سره شته او دا خوهم شرط ندى چې امام دى حتماً قاضي هم وي همداراز محمد ابن جرير طبري د قضا قياس پر امامت صحيح نه ګڼي او وايي چې ښځه د سړي په څېر کولاى شي چې دخلکو ترمنځ فيصله وکړي او دا عام حکم دى چې خاص والى يې ، پرته له نص څخه روا ندى[۱۳۰].

---

(۱۳۰)مبادي نظام الحکم فى الاسلام ۱ دکتور عبدالحميد متولي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ : عامه قاعده نارینه او ښځینه مساوات دی او په ځینو شرعي احکامو کې چې د دوی ترمنځ څه توپیر راغلی دی هغه استثنی ګڼل کېږي او په استثنی قیاس صحیح ندی[۱۳۱].

## مصلحت :

دا مصلتاً ښه نده چې ښځه دنارینه و غونډې ته ، د قضایا پارلمان غونډې ته راشي ځکه چې دا د اسلام له ادابو سره سمون نه خوري اسلام د ښځې ابرو او عزت خوندي ساتل غواړي .

ـ ځواب : څه چې منع دي هغه له پردیو نارینه و سره ځان منښل ، له پردیو سره یوازې کېدل ، اوسېدل ، ځان لوڅول او دځان سپکوالی دی دانه چې د دین او دنیا د مصلحت ( ښېګڼې ) څخه ډک مجلس ته د اسلامي ادابو د مراعات په حدودو کې راشي او دې کې شک نشته دی چې په حقه قضا کول لوی ثواب دی او مور د نماینده ګانو او د ټولنې او ملت او له دین څخه د دفاع غونډې ، د ستونزو د هوارولو غونډې همداډول ګڼو او ټول یو ثواب بولو ، اسلام نارینه او ښځو ته برابر حقوق ورکړی دی .

الله ج فرمایي : (( ولهن مثل الذي علیهن بالمعروف ))[۱۳۲]

یعنې : (( او خامخا په تحقیق سره مور ډېر عزت ورکړی دی اولاد دادم ته ))

اود ادم (ع) اولاد نارینه او ښځینه دواړو ډلې دي چې مساوي حقوق لري .

۲ : [ ولقد کرمنا بني ادم ][۱۳۳]

---

(۱۳۱)اصول الفقه \ عبدالوهاب خلاف .

(۱۳۲)البقرة : ۲۲۸ .

(۱۳۳)الاسراء : ۷۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

یعنې : (( او خامخا په تحقیق سره موږ ډېر عزت ورکړی دی اولاد د ادم ته )) او د ادم ع اولاد نارینه اوښځینه دواړه ډلې دي چې مساوي حقوق لري .

۳ : [ والمؤمنون والمؤمنات بعضهم او لیاء بعض یاء مرون بالمعروف وینهون عن المنکر ویقیمون الصلاة ویوتون الزکاة و یطیعون الله ورسوله ] [۱۳۴]

یعنې : (( او مؤمنان او مومنانې ځنې د دوی دوستان دي د ځینو نورو حکم کوي په نېکیو او منع کوي له بدیو څخه او قایموي (اداکوي) لمونځونه او ورکوي زکات او حکم مني د الله ج او د هغه د رسول ص ))

دکتور فوائد عبدالمنعم وایي چې : دا ایت په ټولنیزو ، سیاسي ،قانوني او قضایي چارو کې د ښځې او نر د مساوات معنا لري [۱۳۵] .

۴ : [ یا ایهالذین امنو ا اتقوا ربکم الذي خلقکم من نفس واحدة وخلق منها زوجها وبث منهما رجالا کثیرا ونساء ] [۱۳۶]

یعنې : (( ای خلکو و وېرېږئ له خپل رب څخه هغه رب چې پیدا کړي یې یاست تاسې له نفس یو څخه (چې ادم ع دی ) او پیدا یې کړ ،له دې نفس څخه جوړه د ده چې (حوا ) ده او خپاره یې کړل له دې نفس څخه سړي ډېر او ښځې ډېرې ))

---

(۱۳۴)التوبه : ۷۱ .

(۱۳۵)مبداء المساوات فی الاسلام \ دکتورفوائد عبدالمنعم .

(۱۳۶)النساء، ۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵** : [ یا ایهاالناس انا خلقنا کم من ذکر و انثی وجعلنا کم شعوبا وقبائل لتعارفوا ان اکرمکم عندالله اتقاکم ](۱۳۷)

یعني : (( ای خلکو موږ تاسې پیدا کړي یاست له یو سړي او یوې ښځې څخه او جوړ مو کړئ تاسې ذاتونه او قبیلې چې یوبل وپېژنئ بېشکه عزتمند په تاسو کې د الله ج په نزد پرهېزګار ستاسو څخه دی .))

دکتور عایشه عبدالرحمن وایي : د دې ایتونو له غوښتنې سره سم ښځې ته د ټولو انساني حقوقو او دنیایي ستونزو د پورته کولو تثبیت شوی دی ، د دې حقوقو سبب او علت یو دی چې هغه عقل دی(۱۳۸) .

**۲** : [ و عدالله الذین امنوامنکم و عملوا الصالحات لیستخلفنهم فی الارض ](۱۳۹)

یعني : (( وعده کړې ده الله تعالی له هغو خلکو سره چې ایمان یې راوړی دی له تاسو څخه او کړي یې دي نېک کارونه چې حاکمان به کړي دوی په ځمکه کې .)) او په مؤمن کې خو مؤمنې ښځې او مؤمن سړي دواړه ډلې راځي او الله ج هم له دواړو سره وعده کړې ده استاد محمد عزه د روزه وایي چې الله ج په قران کې په دیني او دنیوي چارو کې د ښځو او نارینه و دواړو رسالت ښکاره کړی دی ، او دا د الله ج له پلوه د مساوي حقوقو په ورکولو دلالت کوي(۱۴۰) .

---

(۱۳۷)الحجرات ، ۱۳ .

(۱۳۸)دام درمان په پوهنتون کې د عایشې محاضره . ۱۹۲۲_۱۹۲۷ م تعلیمي کال دکتور فواد عبدالمنعم په مبدا المساوات کې رانقل کړې ده .

(۱۳۹)النور . ۵۵ .

(۱۴۰)المراه فی القران والسنه \ استاد محمد عزه دروزه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له احاديثو څخه :

۱ : رسول الله ص ښځو ته په سياسي ډګر کې د ګډون حق ورکړی دی لکه په جنګ کې کفاروته امان ورکول .

۲ : رسول الله ص په دوهمه عقبه کې له انصارو سره بيعت وکړ چې دوه پکې ښځې وې دکتور فواد عبدالمنعم وايي چې د دې بيعت په اساس ښځو په يو مهم سياسي تړون کې ګډون وکړ[۱۴۱] .

استاد ظافر القاسمي وايي : قران او سنت د شريعت لپاره دوه مهم مصدره دي او په دې دواړو مصدرو کې داسې څه نشته چې ښځه له نارينه سره له بيعت څخه منع کړي .

## ب : تېر شريعتونه

قران بيانوي چې په تېرو قومونو کې هم ښځو د شاهۍ دوره تېره کړې ده او په ښه تدبير او حکمت سره يې پای ته رسولې ده .

همدا راز د هغوی په اهليت ، عقل او ذکاوت اعتراف کوي .

قران د سباملکه ( بلقيس ) دبېلګې په ډول يادوي او وايي چې هغه يوه هوښياره او په سياست پوهه ښځه وه ښه حکومت يې کاوه کله چې حضرت سليمان ع هغې ته ليك ورلېږي نوهغه پرخپل سلطنت او تاج نه مغروره کېږي او دا ليک د خپلې شورى غړيو ته وړاندې کوي او د دې لپاره چې د شورا غړي په ناخبرۍ کې دې ليک ته سخت ځواب ونه وايي هغوی يې په دې پوه کړل : [ اني القي الى كتاب كريم ] يعنې : (( يقيناً را اچول شوی دی ماته يو

(۱۴۱)مبدا المساوات \ دکتور فواد عبدالمنعم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیک قدرمن .)) د هغې فهم او هوښیار تیا له دېنه ښه څرګندېږي چې لیک قدرمن وګاڼه ترڅو یې قوم د : (الاتعلوا علی واتوني مسلمین)[142]
یعنې : (دا چې زور مه کوئ زما په مقابله کې او راشئ ماته حکم منونکي) په جمله قهر او غصه نشي او دا پرې سخته تمامه نشي بیا ورته وایي : [ یا ایهالملؤ افتوني فی امری ماکنت قاطعة امرا حتی تشهدون ][143]

یعنې : ((ای اشرافو فتوی (مشوره) راکړئ تاسې ماته په دغه کار زما کې نه یم زه فیصله کوونکې د کوم کار هغې پورې چې حاضر شئ (مشوره راکړئ))
مشوره کول د هغې د ذکاوت بل ښکارندوی دی ځکه مشوره یوه غوره لاره ده چې ډېرې ستونزې هواروي قوم یې ورته وایي چې موږ خاوندان د زور او ځواک یو او ښه جنګیالي خلک یو او نور اختیار ستا دی چې څه حکم کوې موږ یې منو. سره له دې چې قوم یې ورته د بشپړې مرستې زور او ځواک پوره ډاډ او تسلي ورکوي مګر دا بیا هم نه مغروره کېږي اوبیا هغه د نبي او د سیاسي لیډر د پېژندنې لپاره څومره ښکلی تدبیر په کار اچوي.
[ ان الملوک اذا دخلوا قریة افسدوها وجعلوا اعزة اهلها اذلة ][144]
یعنې : ((ببشکه بادشاهان کله کوم کلي ته ننوزي نو خرابوي کوي او دهغه ځای سرداران او د عزت څښتنان بې ابرو کړي.)) نو د دې لپاره چې و پېژني چې هغه بادشاه دی که نبي هغه ته ډالۍ ورلېږي نو که ډالۍ یې قبوله کړله

(۱۴۲)النمل : ۳۱ .
(۱۴۳)النمل : ۳۲ .
(۱۴۴)النمل : ۳۴ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو تش سیاسي لیډر دی او جنګ ورسره په کار دی او که قبوله یې نکړله نو نبي دی او مننه ( اطاعت ) یې لازم دی کله چې د سلېمان ع حضور ته ورغلله نو هغه د بلقیس د فهم ، ذکاوت او استعداد د معلوملو لپاره ترې وپوښتل .

[ اهکذا عرشک ][145]

یعني : (( ایا داسې دی تخت ستا)) د دې لپاره چې د هغې په تخت کې یې تغیر او بدلون راوستی و او په بشپړ یقین سره نه پېژندل کېده چې هغه تخت همدا دی نو څنګه چې د هغې تخت ته ورته و نو داسې مناسب ځواب یې ورکړ : [ کانه هو ] لکه چې هغه همدا وي )) او کله یې چې ولیدل چې سلېمان ع بادشاه یا سیاسي لیډر نه بلکه خلیفه او نبي دی نو سمدستي یې ایمان راوړ او خپل قوم یې د هلاکت او بدبختۍ څخه خلاصون او نېکبختۍ ته راښکه .

همدا راز د فرعون مېرمن ( اسیه ). هغه سره د دې چې د مصر د فرعون ( بادشا ه ) مېرمن وه چې مال ، دولت ، عزت او هر څه یې ډېر و ، مګر له عقل څخه کار اخلي او دفرعون د بې ځایه دعوو تر اغېزې لاندې نه راځي که فرعون یې هر څومره تعذیبوي او ربړوي یې خو بیا هم د خپل حق دریځ څخه نه اوړي او له الله ج څخه په جنت کې ورته د کور جوړولو دعا کوي .

ځیني وایي چې : دا پخوانی شریعت دی او مننه یې پر موږ لازمه نده ځکه هغه اوس په اسلام سره منسوخ شویدی .

---

(145)النمل : ۴۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب : عبدالوهاب خلاف په اصول الفقه کې ليکي : هغه احکام چې په پخوانيو شريعتونو لازم و او قران او يا رسول الله ص ترې موږ ته خبر راکړی وي خو د هغې په منسوخ کېدلو او يا پر موږ باندې د لزوم څه دليل نه وي نو د جمهورو فقهاء و ( احنافو ، شوافعو او ځنو مالکيه و رحمهم الله تعالی ) په نزد دا احکام زموږ لپاره شرع ده او پر موږ يې اطاعت لازم دی .

له همدې کبله د احنافو په نزد مسلمان په ذمي او نر په ښځه قصاص کېږي ځکه چې په پخواني شريعت کې همداسې و ، لکه چې الله ج فرمايي :

[ وکتبنا عليهم فيها ان النفس باالنفس ][146]

يعني : (( او ليکلي وو موږ په دې کې چې بېشکه نفس دی و وژلی شي په بدل د نفس کې )) اوکه څوک ووايي چې : دلته ناسخ د ( لن يفلح قوم ) حديث دی نو ددی ځواب وړاندې ورکړل شو چې دی کې ډېر احتمالات او دنظر اختلافات دي چې حجت کېدلای نشي ، نوسياسي حقوق ښځو ته په اسلام کې ثابت دي .

بخاري ، مسلم ،مسند احمد ، الطبقات الکبري لابن سعد ، سيرت ابن هشام ، تاريخ امم والملوک ، الکامل فی التاريخ .

تول ليکي چې ښځو د رسول ص سره په بيعت کې ګډون کړی دی ، همدارنګه مسلمانه ښځه کولی شي چې کافر ته امان ورکړي او دا دهغې خپل سياسي حق دی[147] .

---

(۱۴۶)المائده : ۴۵ .

(۱۴۷)الفقه الاسلامي وا دلته ۱ دکتور وهبة الزحيلي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله ص ام هانئ (رض) ته وفرمایل تا چې چاته پناه ورکړله موږ هم پنا ورکړله[۱۴۸].

www.melitahrik.com
0777 400 116

---

(۱۴۸) بخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دافغانستان په راتلونکي اسلامي حکومت کې د ښځو دګډون لپاره څو مشورې

لکه چې دمخه مو وویل ښځه د ټولنې نیمه برخه ده او د دوی اوزګارې پرېښودل لکه یو بې ګټې او ناکاره شی ښه نه دی ، پکار دی چې د دوی د عقل ، استعداد او ښو تجربو څخه ګټه او فائده واخېستل شي تر څو له یوه پلوه ټولنې ته کار وکړي او له بلې خوا دخپلې کورنۍ اقتصادي ( مالي ) ستونزی پورته کړی شي او د دې لپاره چې دالله ج بنده ګي په ښه ډول وکړي او دخپل اولاد په اسلامي روزنه کې بریالی شي پکار ده چې له اسلامي روح سره اشنا شي نو د افغانستان راتلونکې اسلامي حکومت ته پکار دي چې لاندې ټکي مراعات کړي .

١ : د ښځو لپاره دې د کار داسې زمینه مساعده کړلی شي چې شرعي حجاب پکې مراعات او ښځې او نر ګډ نشي او دواړه کار هم وکړي .

٢ : ښځو ته داسې کارونه وروسپارل شي چې دهغوی له طبیعت او فطرت سره برابر وي .

www.melitahrik.com
0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳** : د ښځو د زده کړې لپاره باید بېل تعلیمي مرکزونه (ابتدايي ، متوسطې، لېسې او پوهنتونونه) جوړ شي او د هغوی لپاره باید تعلیمي اسانتیاوې برابرې شي .
**۴** : د ښځو لپاره باید بېل روغتونونه جوړ شي او په کې یوازې ښځې استخدام شي .
**۵** : په مسجدونو کې دې دښځو لپاره خاص ځای جوړ شي .
**۶** : داسې پروګرام دې جوړشي چې ښځه په کور کې هم مصروفه و اوسي ځیني پروژې او تولیدات لکه غالۍ اوبدل ، ګنډل ، (ګلدوزي) د چرګانو او مچیو ساتل باید کورو ته نقل شي .
**۷** : په دولت کې د ښځو لپاره د کار وخت نسبت نارینه و ته کم و ټاکل شي او د ورځې له پنځو ساعتو څخه باید ډېر کار ونکړي تر څو کور ته هم ورسېدلای شي .

## د زده کړې حق :

اسلام تعلیم ته تر هر څه ډېر ارزښت ورکړی او په نر او ښځه یې فرض وګرځاوه ، ځکه چې تعلیم د دین او دنیا ذریعه ده .
اسلام وګړي د ناپوهۍ له تورو تیارو څخه د علم او معرفت روښنايي ته را وبلل وړومبنیو او وروستنیو علماوو لیک او لوست ته ځانګړی ارزښت ورکړی دی .
کله چې الله ج خپل محبوب په رسالت مبعوث کړ نو ترهرڅه لومړی یې ورته په لوستلو امر وکړ او د قلم لویي او عظمت یې ورته ورڅرګند کړ لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې فرمايي : [ اقرا باسم ربک الذی خلق خلق الانسان من علق ، اقرا وربک الاکرم الذی علم بالقلم ،علم الانسان مالم يعلم ] [149]
يعنې : (( ولوله د خپل رب په نوم سره چې د ټولو پيدا کوونکی دی پيدا کړي يې دی انسان له ټوټی د وينې څخه ، ولوله رب ستالوی کريم دی کوم چې علم وښودلو په قلم سره او ويې ښودلو انسان ته هغه څه چې دی پرې نه پوهېده .))
د الله ج له دې وينا څخه د علم اوقلم مقام او عظمت ښه څرګند ېږي چې دلومړئ وحی او د خپل کلام پېل يې پرې وکړ بل ځای کې فرمايي : [ ن ، ولقلم ومايسطرون ] [150]
يعنې : (( قسم دی په قلم او څه چې ليکي ))
ټول مفسرين په دی متفق دي چې الله ج په هغه څه سره سوګند يادوي چې په هغه کې لويه ګټه او ارزښتمن وي .
الله ج خپلو بندګانو ته لارښوونه کوي چې له الله ج څخه په علم او پوهه کې د زياتوالي دعا وغواړي .
[ وقل رب زدنی علما ] [151]
يعنې : (( و وايه ای ربه زما زياد کړه علم زما ))
حضرت قتاده ص فرمايي : (( قلم د الله تعالی لوی نعمت دی که قلم نه وای نو نه به د دين څه پاتې و او نه به د دنيا څه کار وبار کېده )) [152]

---

(۱۴۹)العلق : ۱_۵ .
(۱۵۰)القلم : ۱ .
(۱۵۱)طه : ۱۱۴ .
(۱۵۲)معارف القران مولنا محمد شفيع جزء ۳۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعلیم انسان له نورو حیواناتو څخه پورته او اشرف ګرځوي نو لکه څنګه چې روښانه ده چې د دین احکام نارینه او ښځینه دواړو ډلو ته شامل دي ، نو بیا به هېڅ داسې معقول دلیل نه وي چې د هغه په سبب ښځه له تعلیم څخه محرومه وګرځولی شي ، رسول الله ص فرمايي :

( د علم طلب په هر نر او ښځې دواړو فرض دی )

یوه ښځه د رسول ص حضور ته راغلله او عرض يې وکړ چې يا رسول الله ص نارینه ستا خبرې اوري او عمل پرې کوي نو موږ ته هم له خپله پلوه یوه ورځ وټاکه چې تاته راشو او څه چې الله ج د رښودلي دي موږ ته يې راوښيې ، رسول ص ورته و فرمايل چې : ښه ده په فلانۍ ورځ په فلاني ځای کې راغونډې شئ .

هغوی به په همغې ټاکلې ورځې هلته راغونډېدلې او رسول الله ص ورته تعلیم کاوه[153].

حضرت شفاء بي بي رض فرمايي : (( زه له حفص رض د رسول الله ص له مېرمن سره ناسته وم ، چې رسول ص راغی او راته يې وفرمايل چې : ته دېته د سرخ باد (پر بدن سری داني راخېژي) په ځينو روايتونو کې د سرخ پرځای میرږي هم ياد شوي دي ، دم ولې نه ښيې لکه څنګه دې چې ورته لیکل ښودلي دي ))[154]

صحابه و به ښځو ته علم ورښود په صحابه و کې لکه عايشه رض لويې عالمانې وې هغوی به لویو لویو صحابه و ته تفسیر ، حدیث او فقهې درس ورکاوه .

---

(153)متفق علیه .

(154)ابوداود متفق علیه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په البریقه شرح الطریقه کې لیکي : که د ښځې خپل مېړه عالم و نو له همغه څخه دې زده کړه کوي او که نه و نو بهر ته د علم د حاصلولو لپاره وتلو ځینې ایسارولای نشي ، اسلام نه تنها دا چې د دیني تعلیم اجازه کړې ده بلکې د دیني او داسې علم چې انسان ورته په ورځنې ژوند کې اړتیا لري زده کول یې په نر او ښځې دواړو لازم کړي دي .پدی هکله امام ابو الاعلی مودودي رح وایي : (( هغه علمونه چې له انسان څخه پرې انسان جوړېږي د هغه اخلاق پرې ښایسته کېږي د هغه له کبله تری یوه مؤدبه ښځه جوړېږي د داسې علمونو زده کول هرې ښځې ته ضروري او که د نورو علمونو زده کول غواړي نو اسلام د هغې په مخکې نه خنډ کېږي په دې شرط چې د اسلام حدود مراعات کړي ))(۱۵۵)

په کورنۍ کې چې پوهه ښځه وي د کورنۍ نظم ښه وي د اولاد روزنه ښه کېږي په ښځو کې د پوهې او استعداد خاوندانې ډېرې دي او پکار ده چې د دوی استعداد عبث او بې ځایه نشي ، ځینې علوم دي چې ښځه یې هرومرو باید زده کړي او له هغو څخه په ناخبرۍ کې ورته ستره ستونزه ده او داسې مسائل هم شته چې نارینه و ته د هغې ښکارول د شرم او ننګ خبره ده نو پکار دي چې ښځې خپل علاج پخپله وکړي ، او داسې مسائل زده کړي لکه په شرعي علومو کې ، حیض ، نفاس ، په طبي علومو کې د ښځینه ځانګړیو ناروغیو علاج او د ښته اړتیا پېښه نشي چې د پردي نارینه په وړاندې خپل عورت لوڅ کړي .

(۱۵۵) پرده سید ابوالاعی مودودي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه هدايـه کې وايـي .....[ وينبغـي للمراة ان تعلم مداوتها لان نظر الجنس الجنس اسهل . ]

يعنې : (( او مناسب ده چې ښځه د ښځې د ناروغۍ علاج زده کړي ، ځکه چې خپل جنس ته کتل اسان دي . ))

په اسلام کې نه يوازې دا چې پر اشرافو علم فرض دی ، بلکې وينځو او مرئيانو ته هم د علم د حاصلولو حق ورکړل شوی دی، آن هغوی ته پـه تعليم ورکولو حکم شوی دی ، رسول الله ص فرمايي : ( ايما رجل کانت عنده وليدة فعلمها فاحسن تعليمها وادبها فاحسن تاديبها ثم اعتقها و تزوجها فله اجران . )[۱۵۶]

يعنې : (( هر څوک چې وينځه ولري او ور تـه تعليم ورکړي او ښه ادب او تهذيب ورزده کړي ، بيايې ازاده کړي او واده يې کړي ، نو هغه لره دوه اجره دي .)) او له تعليم څخه بايد د ښځې غرض يوازې دماديت ، شتمني او د خلکو د زړه د خوشحالولو طريقې او چلونه ، او دا اداګانو زده کول نه وي او نه دا يکشن او فن ( ارټ ) زده کول ، چې په فلمونو کې کار وکړي .

لوېديځ ، ختيځ او اروپا ته د پوهې لپاره د ښځو د تللو په هکله بايد وويل شي چې اسلام خو ښځو ته اجازه نه ورکوي ، چې يوازې په دومره واټنو کې سفر وکړي ، چې هلته انسان تـه مسافر وويـل شي نو بيا د نړۍ ګوټ ګوټ ته په يوازې ځان څنګه ځي ؟ او هلته يوازې کلونه کلونه څنګه تېروي ؟ او کله چې ټولنه هم د لويديځ او ختيځ په څېر فاسده ټولنه وي ،

---

(۱۵۶)بخاري



www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

منم چې رسول الله ص خو دعلم په وتلو پسې امرکړی دی ، که څه هم د نړۍ په بل ګوټ کې وي او امریکا اروپا او .... ته په علم پسې تلل خو هم شرعاً کوم ناروا عمل نه دی ، خو اوس چې د هغو ځایونو اوسېدونکي د شهوت په اور کې سوځي ، ښځې خو لا څه چې ان نارینه هم ، د هغه ځای د ناوړه اخلاقو تر اغېزې لاندې راځي خو کله که دا ټولنې صالحې او دښو اخلاقو خاوندانې شي بیا نو هلته د نارینه و ښځو ټول سفر په شرعي چوکاټ کې د تعلیم په غرض او بې تعلیمه روا او جائز دی خو نن سبا حالت د دې سرچپه دی او اوس خو دې هېوادو ته دتعلیم لپاره د ښځو د تللو اړتیا هم نشته ، ځکه چې په اسلامي هېوادنو کې په هرفن کې ښوونځي او پوهنتونونه جوړ شوي دي ، د لویدیځ او اروپا له تعلیم څخه راغلي ښاغلي خو موږ ولیدل چې اسلامي هېوادو ته یې له ځانو سره څه ډالۍ راوړلې د هغوی فکر اوعقیده په کوم پلو ګرځیدلې ده ؟

## د: داولاد حق

تر هر څه د مخه باید مور اوپلار کوښښ وکړي چې په خپل اولاد اسلامي نوم کېږدي او د داسې نومونو له ایښودلو څخه دې ډډه وکړي چې له اسلام سره سمون نه خوري ، د رسول الله ص د یو زوی یا لور نوم هم بې معنی او بې مفهومه نه و ، او په اولاد ښه نوم اېښودل د اولاد له حقوقو څه دي او لوی د ثواب کار دی .

دلته زموږ په ټولنه کې خو داسې نومونه هم شته دي چې ژبه یې په ویلو شرمېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغوی له حقوقو څخه یو دا دی چې په کوچنیوالي کې د هغوی د ژوند ټولې اړتیاوې پوره شي ا و باید هلکان په کوچنیوالي کې ختنه کړلی شي .
د هغوی له حقوقو څخه یوه هم نفقه او جامه ده ،چې په پلار لازم دي ، چې کار وکړي ، پر ځان زحمت او تکلیف تېر کړي ، او اولاد لپاره خرڅ ، خواړه او نورې اسانتیاوې برابر کړي او په کار دي چې دخپل قدرت او توان په اندازه لګښت وکړي ، که قدرت او توان لري اوبیا هم خرڅ ډېر کم کوي ، نو ګناه ده .
او د هغوی له حقوقو څخه دا دی چې د هغوی سره مینه او محبت وکړي ، هغوی ته مخلص و اوسي د هغوی د هوسایۍ او آرامۍ لپاره ټول کوښښ وکړي .
او د هغوی له حقوقو څخه دادی چې د هغوی تر منځ توپیر ونکړي ، او باید ټول اولاد ته په یوه سترګه وګوري ، او خصوصاً باید هلک او نجلۍ تر منځ توپیر ونه شي ، ځکه دا توپیر د الله ج له قضا څخه له نارضتیا پرته بله مانا نه لري .
رسول الله ص فرمايي : (( د چا چې خور ، لور ، یا .... وي او هغه یې ژوندئ ښخه نکړله ، سپکه یې ونه ګڼله او زوی یې پرې غوره نه کړ نو الله ج به یې جنت ته ننه باسي ))
د هغوی له حقوقو څخه داولاد ښوونه او روزنه ده چې مور او پلار باید خپل اولاد تعلیم ته کښېنوي ، دیني ضروري مسائل باید وروښیي ، له ټولنې سره د چلند لازمې لارې وروښیي ، که خپله نه پوهېږي ، هغه دې مدرسو او ښوونځیو ته ولېږي ، چې دا تعلیم په راتلونکې کې دواړو ته ګټه رسوي ، او دواړو ته خدای ج لوی اجرونه ورکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ﻫ : دمور حقوق

الله ج د مور او پلار احترام او درناوی په اولاد فرض گرځولی دی ، او په نړۍ کې یې که د چا اطاعت او بې ساری عزت او احترام د خپلې بنده گۍ ځخه وروسته په بنده گانو لازم کړی دی نو هغه مور او پلار دي .

الله ج څو ځله په خپله بنده گۍ له امر کولو ځخه وروسته سمدلاسه له مور او پلار سره په نېکۍ امر کوي او په قران او سنتو کې چې دمور او پلار سره په نېکۍ څومره تاکید شوی دی دبل هېڅ شي په حق کې هم نه دی شوی ، الله ج فرمایي : [ وقضی ربک الاتعبدوا الاایاه وبالوالدین احسانا اما یبلغن عندالکبرا حدهما او کلاهما فلاتقل لهما اف ولاتنهر هما وقل لهما قولا کریما و خفض لهما جناح الذل من الرحمة وقل رب ارحمهما کماربیاني صغیرا ][157]

یعني : (( او امر کړی دی رب ستا چې بنده گي مه کوه مگر دهمده او له مور او پلار سره په نېکۍ او کله چې ورسېږي تاسره زوړوالی ته یو له دې دواړو ځخه او یا دواړه نو مه وایه ورته (اف ) قدرهم او مه یې رټې او ووایئ ورته نرمه او ښه وینا ، وغوړوه دوی دواړو ته وزرونه د عاجزۍ له رحمته خپل او ووایه ای ربه په دوی رحم وکړه لکه ځنگه یې چې زما پالنه وکړله په کوچنیوالي کې .))

دلته الله ج له مور او پلار سره په نېکۍ امر کړی دی اوله خپلې بنده گۍ ځخه یې سمدستي وروسته له مور او پلار سره دنېکۍ کولو یادونه وکړله

(157)الاسراء :۲۳_۲۴ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خصوصاً کله چې هغوی عمر خوړلي او کمزوري وي ، ځکه دوی په دې وخت کې دبل مرستې ته سخت اړ وي او دهغوی په وړاندې يې د ( اف ) په اندازه د وړې کلمې له استعمال څخه هم ممانعت وکړ ، تر څو ناراحته نه شي .

هغوی ته له ناوړه وينا او دهغوی له رټلو څخه يې يې هم کلک ممانعت وکړ ، او هغوی ته پر دعا غوښتلو يې بنده ګانو ته امر وکړ، او د هغوی د وړوکوالي له ستونزو څخه ډک عمر وريادوي بل ځای کې فرمايي :

[ ووصينا الانسان بوالديه حملته امه وهنا على وهن وفصاله فی عامين ان شكرلی ولوالديک الی المصير ](١٥٨)

يعنې : (( او موږ تاکيد کړی دی انسان ته د ده د مور او پلار په حق کې ځکه چې ګېډه کې ساتلې دی ده لره مور د ده بوج په بوج او له تي ځينې بيلول د دې په دوه کالو کې دا چې په حق ومنه زما او د خپلې مور او پلار ، اخر ماته راتلل دي . ))

دلته الله ج انسان ته هغه وخت وريادوي کله چې هغه ناتوانه او مور د ده خدمت کاوه په ځان يې تکليف منلی و ، او دا يې په ګېډه ګرځاوه ، او پوره دوه کاله يې تی ورکړی دی اوس خو په کار دي چې د هغې شکرانه ادا شي بل ځای فرمايي : [ و عبدو الله ولاتشركوا به شيا وبالوالدين احساناً ](١٥٩)

يعنې : (( او د الله ج بنده ګي وکړئ او له هغه سره هيڅ شی شريک مه ګرځوئ او د مور او پلار سره نيکي وکړئ . ))

---

(١٥٨)لقمان : ١۴ .

(١٥٩)النساء: ٣٦ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

[قل تعالوا اتل ما حرم ربكم عليكم ان لا تشركوا به شياء و بالوالدين احساناً ] (١٦٠)

يعني : (( و وايه راشئ ولولو هغه څه چې حرام کړي دي پر تاسو رب ستاسو چې شريک مه ګرځوئ هيڅ شی له هغه سره او له مور او پلار سره په نيکی ))

محمد علي صابوني وايي : په يو شي امر کول منع ده له ضد څخه يې ، دلته الله ج له مور او پلار سره په نيکی امر وکړ ، مطلب دا شو چې بدي کول ورسره حرام دي ، نو ځکه يې د محرماتو په ليکه کې ياد کړ. (١٦١)

رسول الله ص د مور او پلار پر حقوقو ډېر حريص و ، فرمايي : (( که څوک جنت غواړي ، نو جنت د مور تر قدمو لاندې دی . )) .....بخاري ، مسلم ، ابن ماجه ، نسايي او دار قطني .

عبدالله بن عمر رض وايي يو سړي رسول الله ص ته وويل : زه له تاسره په هجرت او جهاد کولو بيعت ( ژمنه) کوم او له الله ج څخه اجر او ثواب غواړم ، رسول الله ص ورته وفرمايل چې ايا ستاسو له مور او پلار څخه کوم يو ژوندی شته ؟

هغه ورته وويل چې هو ،بلکې دواړه .هغوی ص ورته وفرمايل چې له الله ج څخه اجرا وثواب هم غواړې ؟هغه وويل ولې نه ، رسول الله ص ورته وفرمايل چې ولاړ شه له مور او پلار سره دې نيک صحبت او دهغوی خدمت کوه (١٦٢).

---

(١٦٠)الانعام : ١٥١ .

(١٦١)صفوه التفاسير محمد علي صابوني ، ج_٢ .

(١٦٢)بخاري ، مسلم او د ارقطني .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدل کېږي چې رسول الله ص له هجرت او جهاد څخه هم د مور او پلار خدمت ته ډېره پاملرنه وکړله که د انسان مور او پلار کافر هم وي ، نو هم د خپل لطف او مرحمت دروازې به پرې نه تړي او دهغوی خدمت به کوي .

حضرت اسماء د ابوبکر رض لور وايي چې زما مور د رسول الله ص په وخت کې ماته راغلله او هغه مشرکه وه ، ماله رسول الله ص څخه د هغې په هکله وپوښتل چې زه له هغې سره خپله صله رحمي وکړم او که نه ؟ هغوی ص ځواب ورکړ ، چې هو کوه يې ورسره(۱۶۳) .

حضرت ابو هريره رض روايت کوي چې له رسول الله ص څخه پوښتنه وشوه چې زما د نيک صحبت ملګريتوب او ښه چلند ډېر مستحق څوک دی ؟ هغه ص وفرمايل مور دې ده ، هغه وويل بيا ؟ ځواب يې ورکړ مور دې ده ، هغه وويل بيا ؟ هغه ص وفرمايل موردې ده ، هغه وويل بيا ؟ هغه وفرمايل پلار دې دی(۱۶۴) .

همدا راز حضرت ابو هريرة رض روايت کوي چې رسول الله ص فرمايي : پوزه دې يې خړه شي ، پوزه دې يې خړه شي ، بيا دې يې پوزه خړه شي ، چا چې مور او پلار په زوړوالي کې وموندل يو يې وموند اويايې دواړه وموندل او جنت ته داخل نه شي . )(۱۶۵)

د مور ازارول او د اولاد عاق کېدل د مور او پلار په واسطه کبيره ( لويه ) ګناه ده .

---

(۱۶۳)متفق عليه

(۱۶۴)متفق عليه .

(۱۶۵)مسلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله ص فرمايي : ( له ټولو څخه لويه ګناه ( اكبرالكبائر) له الله ج سره شريک ګرځول او د مور او پلار له خوا عاق ده )[۱۶۶]

په حديث کې اوه ( ۷ ) ګناهونو ته هلاکوونکې ګناه ويل شوی دي ، يوه پکې د مور او پلار عاق دی او د اولاد په عاق کې دا حتمي ندي چې هغوی دې په خوله ووايي ، يا دې په ورځپاڼو ، راډيوګانو او نورو خپرونو کې اعلان وکړي .

بلکه کله چې د هغوی په ازارولو کې ډېر ښت وشي او دهغوی زړونه ازار وکړي اولاد په خپله عاق کېږي .

## و : پر ښځه د مېړه حقوق

خاوند په خپله مېرمن ډېر حقوق لري الله ج فرمايي : [ الرجال قوامون على النساء بما فضل الله بعضهم على بعض وبما انفقوا من اموالهم فالصالحات قانتات حافظات للغيب بما حفظ الله ] [۱۶۷]

يعنې : (( نارينه پر ښځو مقرر دي په سبب د دې چې خپل مالونه خرڅ کوي نو کومې ښځې چې نېکانې وي هغوی د خپلو څښتنانو متابعت کوي ، او دهغوی د مالونو حفاظت د هغوی په غياب کې کوي ، هغه مالونه چې الله ج د هغې حفاظت په دوی لازم کړی دی .))

دلته الله ج د نېکې او صالحې ښځې ستاينه کوي چې هغه د خاوند د امر منونکې او دهغه په نشتوالي کې د هغه د مال ساتونکې وي پر ښځه د

---

(۱۶۶)بخاري ، مسلم و ترمذي .

(۱۶۷) النساء : ۳۴ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاوند د حقوقو اندازه له دې حدیث څخه ښه څرګندېږي چې ابوهریرة رض يې روايت كوي [ لو كنت امرا احدا ان يسجدلاحد لامرات المراة ا ن تسجد لزوجها ] (۱۶۸)

يعني : (( كه چېرې واى زه چې امر مې كولې يو چاته چې سجده وكړي يوبل كس ته نو خامخا امر به مې كړى و ښځې ته چې سجده وكړي خپل خاوند ته ))

ام سلمه رض روايت كوي چې رسول الله ص فرمايي : [ ايما امراة ماتت وزوجها عنها راض دخل الجنة ] (۱۶۹)

يعني : (( هره ښځه چې وفات شي او خاوند يې ورڅخه خوښ وي نو جنت ته به ننوځي ))

په ښځه د خاوند اطاعت ( مننه ) واجب ده ، او اطاعت دا دى چې د هغه په كور كې و اوسېږي او هره روا خبره يې ومني او دهغه له خوښې پرته به بهرنه ګرځي او نه به بل چاته اجازه وركوي چې د دې كورته ننوزي او د هغه له اجازې پرته په نفلي روژه هم نه نيسي ، رسول الله ص فرمايي : [ لايحل لامراة ان تصوم وزوجها شاهد الاباذنه ولا تاذن في بيته الاباذنه ] (۱۷۰)

يعني : (( نده رواه هېڅ ښځې ته چې روژه ونيسي او خاوند يې موجود وي مګر د هغه په جازه او اجازه دې نه وركوي د هغې په كور كې ( د ننوتلو ) مګر د هغه په اجازه ))

(۱۶۸)ترمذي :

(۱۶۹)ترمذي

(۱۷۰)بخاري ، مسلم و ابو داود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د دې څلورو شرطونو په موجوديت کې په ښځه واجب دي چې له مېړه سره د هغه کور ته ولاړه شي .
۱ ـ چې معجل مهر يې ورته پوره کړی وي .
۲ـ چې په کور کې يې د اړتيا وړ ظروف او سامان ( هغه څه چې په ورځني ژوند کې ورته اړه پيدا کېږي ) موجود وي .
۳ـ چې په کور کې د ښځې دنفس او مال امن وي له ګاونډيو څخه لرې نه وي په دا ډول چې که په دې کور کې د څه پېښې له امله فرياد وکړي نو خلک ورته راورسېږي .
۴ـ چې خاوند د هغې خيال وساتي او هغه په امن او سکون کې وخت تېر کړي ، او د مېړه هغه امر به په ځای کوي چې د کورنۍ په هکله وي او د ښځې په ځانګړيو تصرفاتو پورې اړه ونه لري ( لکه د هغې په مال کې تصرف ) او دا امر شريعت منع کړی هم نه وي او بل دا چې خاوند هم د ښځې حقوق ادا کړي او د خاوند له اجازې څخه پرته به له هېچا کره شپه نه صبا کوي .
او کله که ښځه بدګذرانه شي نو خاوند کولی شي چې هغه د ادب لپاره و وهي او د خاوند له حقوقو څخه د اده چې ښځه له ټولو هغه کارو څخه ځان وژغوري چې هغه د مېړه برم ، شرف او وقار ته زيان رسوي او داسې کارونکړي چې د هغه په واسطه د خاوند په زړه کې څه شک او اندېښنه پيدا شي او د خاوند د شتمنۍ خيال به ساتي ، بې ځايه به يې نه لګوي هر چاته به يې نه ورکوي او هغه چې عادتاً خلک لکه فقيرانو او ملنګانو ته خيرات ورکوي پروا نه لري او دهغه له حقوقو څخه دا دي چې د هغې بسترې ته په چټکتيا سره ورشي او که شرعي مانع لکه ( حيض او نفاس )

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وي د هغه جنسي غوښتنې دې پوره کړي ، رسول الله ص فرمايي : [ اذا دعا الرجل امراته الى فراشه فابت ان تجىء اليه فبات غضبان عليها لعنتها الملائكه حتى تصبح .] (۱۷۱)

يعنې : (( کله چې کوم سړی خپله ښځه خپلې بسترې ته را وبولي او هغې انکار وکړ له دې څخه چې ده ته راشي او هغه شپه په هغې په قهر او خفګان کې صبا کړه نو ملائکې ( پرښتې ) پرې لعنت وايي تر هغې چې صبا شي .))

همدا راز فرمايي : [ اذ دعا الرجل امراته الى فراشه فلم تأته فبات غضبان عليها لعنتها الملايكه حتى تصبح ] (۱۷۲)

يعنې : (( کله چې را وبولي يو سړی خپله ښځه خپلې بسترې ته او هغه ورته رانه شي او هغه شپه په قهر او خفګان کې پرې صبا کړه نو ملايکې پرې لعنت وايي تر هغه چې صبا شي .))

د خاوند د حقوقو لنډيز

۱ : اطاعت او منته

۲ : د خاوند د عزت او ابرو ساتنه

۳ : له خاوند سره محبت او مينه

۴ : د خاوند درناوی عزت او احترام کول

۵: د خاوند خدمت

۶: د هغه د کور او شتمنۍ ساتنه

۷: خاوند ته زينت، ارايش او ځان ښايسته کول

---

(۱۷۱) بخاري .

(۱۷۲) بخاري ، مسلم ، ابوداود ، ابن ماجه و مسند احمد .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸:دکورنۍ نظم جوړول
۹:له کور سره مینه ، دلچسپي او علاقه
۱۰:د اولاد تربیت ( روزنه )
۱۱: له خاوند سره له وس سره سم په کار کې مرسته او هغه ته د ژوند ټولې اسانتیاوې برابرول
۱۲: د خاوند له دوستانو سره ښه تګلاره او ښه اخلاق
۱۳: د ژوند په ټولو مختلفو حالاتو صبر او قناعت
۱۴:له خاوند سره اخلاص او صداقت

د یادونې وړ ده چې په یهودیت کې خاوند پر ښځه مطلقه سلطه لري او بې قېد او شرطه د هغه په واک کې ده او هر څه چې وغواړي پرې کولې یې شي .

www.melitahrik.com 0777 400 116

## و:سسپر مېړه د مېرمنې حقوق

څنګه چې خاوند پر ښځه ډېر حقوق لري همدارنګه ښځه هم پر خاوند ډېر حقوق لري چې مهم یې دلته یادوو .

دا چې عاجل مهر به ورکوي که چېرته یې د نکاح په وخت کې ټاکلی و ، او که ټاکلی یې نه و نو څه چې دود وي او که ور یې نکړ نو ښځه کولی شي چې ځانته یې را پرېښږدي که څه هم لومړی راضي وي او دخول هم شوی وي اوبل دا چې هغې ته نفقه او جامه ورکړي او د هغې له شان سره مناسب کور ورته پیدا کړي چې هغه په کې راحت کې وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاویه القشیري (رض) روایت کوي چې یو سړي له رسول الله ص څخه وپوښتل چې د ښځې حقوق پر خاوند څه دي ؟ هغوی ص ځواب ورکړ چې هغې ته خوراک ورکړه ، کله چې خواړه خورې او په جامه کې یې پټه کړه کله چې ځان پټوي په مخ یې مه، وهه بدې خبرې ورته مه کوه رټه یې مه ، ورځنې جدا کېږه مه مګر په کور کې[۱۷۳].

رسول الله ص د حجة الوداع په خطبه کې وفرمایل : (( خبر اوسئ چې د هغوی حق په تاسو دادی چې هغوی ته ښې جامې او نفقه ورکړئ او له هغوی سره ښېګړه وکړئ .))[۱۷۴]

که بله ښځه یې وي نو د هغوی ترمنځ به له عدل او انصاف څخه کار اخلي ، ښځه د خاوند له اجازې څخه پرته هم د مور او پلار او نورو محرمو ملاقاتو ته تللی شي ، د ښځې بل مهم حق پر خاوند دادی چې دیني ، ضروري مسائل لکه لمونځ ، روژه ، حیض اونفاس ور وښیي[۱۷۵].

او که خاوند یې نه پوهېده دا کولی شي چې له بل عالم څخه ځان پوهه کړي د کور په کار لکه پخول ګنډل او داسې نورو به یې نه مجبوروي او خاوند به ورسره نېک اخلاق کوي له هغې سره به مینه ، او محبت ساتي ، دهغې اسرار او پټ رازونه به نه رسوا کوي له هغې سره به ښه خندا او خوشحالي کوي له دوستانو سره به یې ښه اخلاق کوي ، ناز او نخرې به یې مني ځومره چې کولای شي ځان به له طلاق څخه ژغوري د کور په کارو کې به

---

(۱۷۳)ابو داود ، ابن ماجه او مسند احمد

(۱۷۴)مسلم .

(۱۷۵)احیاء العلوم امام غزالي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسره مرسته او لاربنوونه کوي ، بل دا چې يوائې په اسلام کې ښځې ته دا حق ورکول شوی دی چې پر خپل مال پوره ولايت لري ( کله چې هغه عاقله او بالغه وي ) او که خاوند د هغې له اجازې څخه پرته د هغې په مال کې لاسوهنه کوي نو غاصب دی حتی که ښځه لېونۍ هم وي نو په مال کې يې ولايت د خاوند حق ندی ،بلکې د پلار او يا د نېکه حق دی .

مګر په يهوديت کې ښځه له مهر څخه پرته نوره هېڅ شتمني نلري ، هرڅه يې د مېړه دي ټوله سرګرداني او تکليف يې د خاوند لپاره دی او مهر به هم يا له طلاق څخه وروسته ورکوي اويا ه يې د هغې له مرګ څخه وروسته د هغې ورثه و ته ورکوي او په اسلام کې خاوند حق نه لري چې ښځه په کور کې د هغې د مال لګښت ته اړه باسي بې ځايه يې نه وهي له هغې سره به له نرمۍ اومهربانۍ څخه کار اخلي ، حضرت عمر رض فرمايي : (( انسان بايد په خپل کور کې له خپلې ښځې او اولاد سره دکوچنې په څېر وي چې له سختۍ څخه کار وانخلي . ))(۱۷۶)

يو ځل يو سړی حضرت عمر رض ته ورغی چې له خپلې ښځې څخه ورته شکايت وکړي کله چې دروازې ته ورسېد نو د حضرت عمر رض د بي بي ام کلثوم رض اواز يې واورېد چې له حضرت عمر رض سره يې خبرې اړولې نو دی سړي له ځانه سره وويل چې ما خو غوښتل چې زه خپل شکايت ده ته وړاندې کړم داخو هم په هغه څه کې ګير دی چې زه پکې ګير يم .

(۱۷۶) احياء العلوم امام غزالي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت عمر رض هغه راوغوښت او ورڅخه يې وپوښتل هغه ورته خپل عرض وړاندې کړ خو حضرت عمر رض ورته وويل : (( زه د ښته ډېر تېرېږم ځکه چې دا پرما ډېرحقوق لري لکه :

۱ ـ دا زما او دوزخ ترمنځ پرده ده ، زما زړه پرې له حرامو څخه تسل مومي .

۲ ـ کله چې زه بهر ته ولاړ شم نو زما دکور او مال ساتونکې ده .

۳ـ زما جامې راته مينځي .

۴ـ زما اولاد ته شېدې ورکوي .

۵ـ زما کورته ډوډۍ او ... پخوي . ))

هغه سړي ورته وويل : کوم خدمت دې چې ښځه تاته کوي هغه خو ماته هم کوي څنګه چې ته ورته تېرېږې زه به هم ورته تېرشم[۱۷۷].

دا و له ښځو سره د صحابه وپه تګلاره ، راشئ اوس زموږ په ټولنه کې له ښځو سره د مېړو تګلاره وګورئ چې بې ګناه ورسره په کوم اندازه ظلم کوي او څومره يې وهي .

ح : ګډ حقوق :

۱ : يو له بل سره به نېک سلوک کوي ، يوبل ته به مخلص وي يوبل ته به ښه نيت لري ، يوله بل سره به محبت کوي ، پټ او ښکاره به يې يوبل ته يوشان وي ، يوله بل څخه به د ژوندون د ستونزو په لېرې کولو کې هڅه کوي الله ج فرمايي : ] ولهن مثل الذي عليهن باالمعروف )[۱۷۸]

---

(۱۷۷)البريقه شرح الطريقه .

(۱۷۸)البقرة :۲۲۸ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

یعنې : (( او ښځولره حق دی لکه ځنګه چې د سړیو پرهغوی حق دی د دستور مطابق . ))

۲ : له دواړو خواو څخه حرمت مصاهرت ثابتېږي ( چې څوک چاسره نکاح وکړي نو دبل خوانژدې دوستان پرې حرامېږي )

۳ : یوله بل څخه میراث وړي ، کله چې ښځه مړه شي نو که اولاد یې درلود نو خاوند څلورمه برخه اخلي او که اولاد یې نه درلود نو د مال نیمه حصه اخلي او که خاوند مړشو او اولاد یې ونو اتمه حصه اخلي او که اولاد یې نه درلود نو څلورمه حصه اخلي .

۴ : همدا راز یو له بل څخه ټول هغه جنسي خوندونه اخېستلای شي چې شریعت ورته رواکړي دي .

## حیا ـ

سېد مودودي رح  حیا  داسې راپېژني :

د حیا معنی شرم دی د اسلام په ځانګړې اصطلاح کې له حیا څخه مراد هغه شرم دی چې هغه یوانسان د خپل فطرت او خپل خدای ج په وړاندې هغه وخت محسوسوي چې د یو منکر ( ناوړه ) کارپه لور مایل کېږي حیا هغه ځواک دی چې انسان د بد کاریو او منکراتو ته له اقدام کولو څخه منع کوي[۱۷۹] .

الله ج پر حیا خوښېږي او خپل حیاناک بنده خوښوي او مسلمانانو ته یې په حیا کولو امر کړی دی .

---

(۱۷۹)پرده سید ابو اعلی مودودي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

[ قل للمئومنين يغضوا من ابصارهم ].(۱۸۰)

يعني : (( او مسلمانانو ته ووايه چې خپل نظرونه ښکته واچوئ .)) يعنې کله چې په چا پردئ موسترګې ولګېدلې نو سمدستي سترګې ښکته واچوئ او حيا وکړئ او بيا ورته مه ګورئ .

ابو هريره رض روايت کوي چې رسول الله ص فرمايي : (( د قيامت په ورځ به الله ج اوه (۷) کسانو ته د عرش تر سيوري لاندې ځاى ورکړي پداسې حال کې چې له دې سيوري څخه پرته بل سيورى نه وي يو له هغو څخه هغه ځوک دى چې کومه ښکلې انجلۍ يې ځانته راوبولي او دا ورته له الله ج څخه د حيا له کبله و وايي چې زه له خداى ج څخه وېرېږم .))(۱۸۱)

رسول الله ص فرمايي : (( د قيامت په ورځ به ټولې سترګې ژاړي مګر هغه چې د الله ج له وېرې او د حيا له کبله يې پرديو ښځو ته له کتلو څخه ډډه کړې وي .))

فرمايي : (( هر دين اخلاق لري او د اسلام اخلاق حيا ده .)) .(۱۸۲)

((کله چې حيا نه لرې نو کوه هغه څه چې ستا زړه يې غواړي )) .

ابو داود ابن ماجه .

همدا راز فرمايي : [ الحياء شعبه من الايمان ] يعنې : (( حيا د ايمان يوه برخه ده )) (۱۸۳)

---

(۱۸۰) النور :۳ .

(۱۸۱)متفق عليه

(۱۸۲)ابن ماجه .

(۱۸۳) متفق عليه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیا په انسان کې یو جوهري شی او د خدای ج یو نعمت دی بې حیا انسان په ټولنه کې هېڅ عزت او درنښت نه لري هر څوک ورته په سپکه سترګه ګوري د هېچا نه خوښېږي ، حیا په انسان کې په زور راتلای نه شي او نه په زوره څوک حیا لرونکې ښځه بې حیا کولای شي او نه په کور کې په ایسارېدلو او بهر ته په نه وتلو په انسان کې حیا پیدا کېږي او نه هره بهر وتونکې ښځه بې حیا وي ، او نه هم چادري او پرده د بشپړې حیادارۍ دلیل کېدلای شي ،عفت ، پاکي ، حیا او ځان ساتنه له ایمان څخه سرچینه اخلي .

پاکه ښځه پاکه ده که په کور کې وي او که په کوڅه کې ،د ښځې لپاره اصلي حیا له الله ج سره اړیکې او په خپل دین او مذهب منګولې لګول او خپل عزت او ابروته کتل دي .

که څوک خپل عزت او ابرو ته ونه ګوري که هغه هر څومره د کور په دیوالونو کې بنده وساتلای شي بیا هم پاکه پاتې کېدلای نه شي .

وګورئ هنده د ابي سفیان ښځه دغه د جاهلیت د وخت ښځه او په جاهلیت کې هم ډېره سرکښه ښځه چې د رسول الله ص د مبارک تره سیدالشهداء حضرت حمزه رض په شهید جسم یې څه وکړل ، دهغه زړه یې په غاښونو ژیرې کړ ، خو کله چې پاکه وه او خپل عزت ، ابرو او حیا پرې ګرانه وه کله چې رسول الله ص له هغې څخه د زنا د حرمت په هکله بیعت (ژمنه) اخستل غوښتل نو هغه حیرانه شوله او په ډېر تعجب سره یې وپوښتل چې : ایا ازادې او اصیلې ښځې هم زنا کوي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګورئ چې رسول الله ص سره يې په هر څه بيعت وکړ خو کله چې د زنا موضوع راغلله نو حيرانه شوله او دا يې په تصورکې هم نه راتلل چې ګوندې ازادې او اصيلې ښځې دې هم زنا وکړي .

## نظر ښکته اچول يا ( غض بصر )

د سالم فطرت تقاضا ده چې د بل ناموس ته په درنه سترګه وګورئ تر څو هغه هم ستاسو ناموس ته په درنه سترګه وګوري ځکه که ته دبل ناموس او حيا له منځه وړل غواړې نو هغه هم ستا ناموس او حيا رژول غواړي ځکه دا ټولې ښځې ضرور دچا لورګانې د چا خورګانې دي ، اسلام هم وايي کله که مو په پردۍ ښځې سترګې ولګېږي نو نظرښکته واچوئ ، بيا بيا دهغې خواته مه ګورئ ، لومړی ځل خو چې غير اختياري او د انسان په واک کې ندي درته معاف دي ، الله ج فرمايي : [ لايکلف الله نفسا الاوسعها ] (١٨٤)

يعنې : (( الله ج تکليف نه ورکوي چاته مګر څومره چې د هغه طاقت وي .)) او دنظر ښخول او بيابيا کتل منع دي .

[ قل للمؤمنات يغضضن من ابصارهن ويحفظن فروجهم ] (١٨٥)

يعنې : (( و وايه مؤمنانو ته چې ښکته ساتې خپلې سترګې ساتنه دې کوي د خپلو شرمګاهو .))

[ وقل للمؤمنات يغضضن من ابصارهن و يحفظن فروجهن ]. (١٨٦)

---

(١٨٤) البقره : ٢٨٦ .

(١٨٥)النور : ٣ .

(١٨٦)النور : ٣١ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې : (( و وايه مومنانو ښځو ته چې ښكته ساتئ خپلې سترګې ساتنه كوئ د خپلو شرمګاهو ))
الله ج خپلو بندګانو ته امر كړی دی چې كله كه ناڅاپه مو سترګې په چا پردئ ولګېدلې نو نظرښكته واچوئ او بيابيا ورته مه ګورئ .
رسول الله ص حضرت على رض ته وفرمايل : ( ياعلي لاتتبع النظرة النظرة فان لک الاولى وليس لک الاخرة ) [187]
يعنې : (( ای علي له لومړي ځل څخه دوهم ځل مه ګوره لومړی خو درته معاف دی مګر دوهم نه )) همدا راز فرمايي : ( سترګې زنا كوي او د دوی زنا كتل دي حرام شخص ته ، لاسونه زنا كوي او د دوی زنا لاس اوږدول دي حرام شي ته پښې زنا كوي او د دوی زنا تلل دي حرام ځای ته ) [188]
حضرت ابن مسعود رض روايت كوي چې رسول الله ص فرمايي : ( النظر سهم مسموم من تركها مخافتی ابدلته ايماناً يجد حلاوته فی قلبه ) [189]
يعنې : (( كتل زهرناک غشی دی هر چاچې زما له وېرې پرېښود په بدل كې به داسې ايمان وركړم چې د هغې خوږوالی به په زړه كې ومومي . ))
حضرت جريربن عبدالله رض وايي : چې ماله رسول الله ص څخه د ناڅاپه نظريو پريوتلو په هكله وپوښتل هغوی ص وفرمايل ( سمدستي سترګې واړوه ) . [190]

---

(۱۸۷)ابوداود ، ترمذي او مسند احمد .
(۱۸۸)بخاري ، مسلم او ابو داود .
(۱۸۹)طبراني او المستدرک للحاكم روايت له ابن مسعود څخه .
(۱۹۰)مسلم مشكوة .

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا راز حضرت جرير رض له خپل پلار او هغه يې له نيکه څخه روايت کوي چې ما همدا پوښتنه له رسول الله ص څخه وکړله هغوی ص وفرمايل ( سمد ستي سترګې واړوه )[١٩١]

د خثعم دقبيلې يوې ښځې د حجة الوداع په وخت له رسول ص د څخه دحج په هکله پوښتنې کولې او فضل بن عباس درسول الله (ص)دتره په هغې سترګې ور ښخې کړلې رسول الله ص د هغه مخه بل پلو ته واړاوه )[١٩٢]

همدا سې نور ډېر روايات شته چې په هغوی کې لومړی ځل کتل معاف مګر بيابيا کتل منع ګڼل شوي دي بعضې پرګنې دی ته ذوق جمال وايي نو لکه چې سيد مودودي رح فرمايي : ( ذوق وصال خو هم له همدې ذوق جمال څخه جوړېږي ، د هرې فحاشۍ بنسټ کتل دي نو الله ج د دی بنسټيزه مخنيوی وکړ تر څو وګړي په لويو ګناهونو کې اخته نه شي ، اسلام خو د ذوق جمال مخالف ندی او نه يې منع کړې دی اسلام وايي چې څوک دې خوښ شي د هغې ښکلا اوښايست دې تر تاثير لاندې راولي ، او د ښکلا ګکل يې غواړي نو په حلاله نکاح ورسره وکړه که يوه کفايت نه کوي نو دوه ، درې ان څلور وکړه . )

سيد محمد عابد بن الحسيني ليکي : (( من )) په دغه آيت کريمه : [ قل للمؤمنين يغضو امن ابصار هم ] کې د بعضيت لپاره دی نو د دې څخه په ډاګه کېږي چې ځينې کتنې لکه د ضرورت په وخت کې يا محرم ته جايز

(١٩١)سنن دارمي .
(١٩٢)بخاري او ترمذي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي اوپه (( يحفظوا فروجهم )) کې (( من )) نشته نو معنا دا شوه چې زنا بالکل رخصت نه لري حتی د ضرورت په وخت کې هم )) .[۱۹۳]

امام نووی رح وايي چې دا ټول روايات په دې دلالت کوي چې په لارې کې مخ پټول پر ښځه واجب نه، بلکې مستحب دي[۱۹۴].

خو په دې وخت کې چې فساد او د خلکو سترګې هرپلو ته اوړي او راوړي نو ټولو ښځو ته پکار ده چې بهرته وزي نو پټ مخ ووزي او خپل بدن د الله ج په حضور کې له مسؤوليت څخه خلاص کړي ، الله ج فرمايي : [ ان السمع والبصر والفواد کل او لئک کان عنه مسؤلا ] [۱۹۵]

يعنې (( بېشکه غوږونه، سترګې او زړه هر يو له دغو نه له انسان څخه پوښتنه کېږي ))

## د ښځې کتل پردي نارينه ته :

د سترګو د کنترولولو په هکله چې کوم احکام نارينه وته راغلي دي هغه ښځو ته هم راغلي دي يعنې که د شهوت او فتنې وېره وه نو ښځې هم بايد هېڅ پردي نارينه ته قصداً ونه ګوري او که ناڅاپه يې نظر ولګېد نوښکته به ګوري ځکه چې د الله ج احکام دواړو ډلو ته شامل دي .

په دې هکله اتفاقي خبره ده چې د پردي سړي يا ښځې عورت ته کتل حرام دي برابره خبره ده چې داکتل په شهوت سره وي او که له شهوته پرته وي او

---

(۱۹۳)البريقه شرح الطريقه .

(۱۹۴)شرح النووي .

(۱۹۵)الاسراء ۳۲ .



www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ناڅاپه پرې سترګې ولګېدلې نو سمدستي به يې اړوي : (( د ښځو او نارينه د عورت حدود مو مخکې په همدې کتاب کې روښانه کړل . ))
له عورت څخه پرته نورې برخې لکه مخ ، لاس ، سر ، ځنګلې ... په کتلو کې هم ټول فقهاء په دې متفق دي چې که چېرې نارينه د بدن کومې برخې ته کتل د فتنې او فساد لامل ګرځي نو دا ډول کتل منع دي ځکه الله ج مؤمنو ښځو ته هم په غض بصر باندې امر کړيدی خو که د فتنې اوفساد يا د شهوت د تحريکولو ويره نه وه نو دلته فقهاء د نظر اختلاف لري ، دفقهاوو لړه برخه په دې نظر ده چې له لومړي ځل او ناڅاپي کتلو پرته ښځې ته هم روانده چې بيابيا پردي سړي ته وګوري او دلايل يې هم يو [ قل للمؤمنات يغضض من ابصارهن ](١٩۶)
يعنې : (( وو ايه مؤمنانو ښځو ته چې ښکته دې ساتي خپلې سترګې )) بل دا حديث چې رسول الله ص له خپلې لور فاطمې څخه وپوښتل چې (( د ښځو لپاره ترټولو غوره شی څه دی ؟)) هغې ځواب ورکړ چې : (( دا چې سړي ونه ويني او سړي دا ونه ويني )) رسول الله ص دا خبره ومنله او د تائيد په ډول يې د اايت ولوست چې [ ذرية بعضها من بعض ] يعنې : (( او لاده ځينې د دوی له ځينو نورو څخه )) دوهم د ام المؤمنين حضرت ام سلمی هغه حديث چې روايت کوي : (( زه ( ام سلمه) او ميمونه ناستې وو چې په دې کې ام مکتوم راغی ( ام مکتوم په دواړو سترګو ړوند و) نو رسول الله ص موږ ته امر وکړ چې له ده څخه پرده وکړئ موږ وويل : ايا دا ړوند نه دی چې نه مو

(١٩۶)النور : ٣١ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويني او نه موپېژني ؟ رسول الله ص راته وفرمايل ايا تاسو هم ړندې يئ تاسويې هم نه وينئ ....)) [۱۹۷]

حضرت عايشې ته يو ړوند راغی او هغې ورڅخه پرده وکړله نو پوښتنه ترې وشوه چې له ده څخه ولې پرده کوې دا خو تا نه ويني هغې وويل : زه خويې وينم .... [۱۹۸]

دوهمه ډله چې دفتنې او شهوت د نشتوالي په صورت کې پردي نارينه ته دښځو کتل روا بولي داسې ځواب ورکوي چې د غض بصر ايت د فتنې او شهوت په شتوالي پورې اړه لري اوپه دې صورت کې په اتفاق سره يو بل ته کتل دواړو خواووته حرام دي او دفاطمې پورتنې حديث ضعيف حديث دی چې هېڅ علمي ارزښت نه لري او داحکامو يو معتبر کتاب هم ندی رانقل کړی ، يوفقيه هم پرې استدلال نه دی کړی حتی هغو خلکو هم پرې استناد نه دی کړی چې نارينه ته د ښځو په کتلو کې سخت دريځ لري او حرام يې بولي ، دا حديث امام غزالي په احياء علوم الدين کې رانقل کړېدی چې حافظ عراقي يې په تخريج کې ويلي دي : (( دا حديث بزاز او دار قطني په افرادو حديثو کې رانقل کړی دی چې سند يې ضعيف دی ))

بزاز وايي چې سند کې يې داسې څوک دی چې زه يې نه پېژنم .

او دام سلمی حديث هم ابن قدامه په مغنی کې رد کړی دی ددې حديث په سند کې ( نبهان ) دی او امام احمد وايي چې نبهان دوه عجيب حديثونه روايت کړی دی يو همدا حديث .بل دا چې (( امام احمد په ضمني ډول دواړه حديثونه ضعيف او دحديثو له اصولو څخه مخالف ګڼلي دي . ))

---

(۱۹۷)ابوداود ، ترمذي او موطاامام مالک .

(۱۹۸)ابوداود، ترمذي ، مسند احمد او موطا امام مالک .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن عبدالبر وايي چې : نبهان مجهول الهويه سړی دی او دا احتمال هم لري چې لکه امام احمد ، امام ابوداود او اثرم چې وايي د نبهان او د عايشې حديثونه په امهات المومنين ( رسول الله ص بيبيانو ) پورې خاص وي .
کله چې رسول الله ص د اختر له لمانځه څخه فارغ شو نو ښځو ته راغی وعظ يې ورته وکړ او په صدقې يې ورته امروکړ او له ده سره بلال هم ونو ښکاره خبره ده چې دې ښځو به دواړو ته کتل بل دا چې که نارينه ووته کتل هم منع وای نو په سړيو به هم د نقاب او حجاب اچول لازم و ، ددې لپاره چې څوک ورته ونه ګوري دلته دا يادونه هم ضرور ده چې ښځه که څه هم ډېروخت مطلوبه ( غوښتل شوې ) او نارينه طالب (غوښتونکی ) وي ، د ښځې شهوت ويده دي او دا نارينه دی چې تل ددی شهوت راويښوي بلکه ډېر نارينه هم د ښځې زړه وړي د هغه ځواني ، ښکلا ، توان ، غيرت په ښځه اغېزه کوي ان مينه يې د زړه پردې هم څيرې کوي ، لکه قران کريم چې د مصر دعزيز دمېرمن چې ځيني مورخين يې زليخا بولي (( او د يوسف ع په کيسه کې له دې راز څخه پرده پورته کوي او وايي چې د يوسف مينې د زليخا د زړه پردو ته لاره موندلې وه او هغه د شاعرانو خبره د يوسف مينې زليخا لېونۍ کړېوه هغه يې په خپل زړه کې د مينې د بل اور د مړ کولو لپاره راوغوښت او د زنا غوښتنه يې ترې وکړه همدا راز قران دا هم وايي چې زلېخا په خپل همدې هوډ ولاړه وه او ويل يې چې که يوسف زما داهيله تر سره نه کړي نو جزاء به ورکړم ، قران کريم وايي چې د يوسف ښکلا د هغه ښار په ټولو ښځو تاثير وکړ د هغه ښکلا ، ځوانۍ تازګۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېنار تولې ښځې ( بې هوښه او بې خوده ) کړې تردې چې د یوسف له مخ نه یې سترګې اړول زړه نه غوښتل او تردې چې خپل لاسونه یې غوڅ کړل.[199]
نو کله که داسې پېښېږي، او د سړي کتل د ښځې شهوت راپاروي یا دفتنې او فساد لامل ګرځي نو باید چې ښځه سترګې واړوي او که وایې نه اړوي او له کتلو خوند اخلي نو همدې ته رسول الله ص د سترګو زنا ویلې ده .

حضرت عایشه رض روایت کوي چې د حبشیانو یوه ډله راغله او د نبوي مسجد په انګړ کې یې یوه ننداره وښودله او رسول الله ص دا ننداره پخپله ماته راښودله.[200]

او له تاریخ څخه ثابته ده چې دا وفد په اوم هجري کال راغلی و او دبي بي عایشې( رض) عمر دپنځلسو او شپاړلسو ( ۱۵_۱۲ ) کالو په منځ کې وو بخاري کې وایي چې رسول الله ( ص) به په عایشه رض په څادر پټوله .

کله چې فاطمه د قیس لور د طلاق په عدت کې وه نو رسول الله ص ورته وفرمایل چې ام شریک انصار یې( رض )سره اوسېږه بیا یې ورته وفرمایل :
(( هغه شتمنه ښځه ده هغې کره صحابه ډېر ځي او راځي نو ته دام مکتوم( رض ) کره اوسېږه هغه ړوند دی ته به هلته بې تکلیفه ژوند تېر کړې ))

## عورت :

(۱۹۹)یوسف :۲۳_۳۲ .

(۲۰۰)مسلم او مسند احمد .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

عورت په لغت کې نقصان او عیب او هغه شي ته چې بد ګڼل کېږي وایي او عورت ځکه په دې نوم ونومول شو چې لوڅېدل یې بد ګڼل کېږي .

## د ښځې عورت د پردي نارینه په وړاندې :

اسلام یو رېښتونی دین دی او په هره معامله کې له اعتدال ( منځومانه لار) څخه کار اخلي که له یوې خوایې ښځې ته اجازه وکړه چې که ضرورت درته پېښ شي نو د پردیو نارینه و په مخ کې خپل مخ لوڅولای شي او د نارینه و په منځ کې خپل ضرورت رفع کولی شي مګر له بلې خوا نارینه وو ته امر کوي چې که کومې ښځې مخ لوڅ کړ تاسي سترګې ښکته واچوئ د هغې له اړتیا څخه ناوړه استفاده مه کوئ او په برندو برندو سترګو ورته مه ګورئ الله( ج )ښځو ته امر کړی چې : [ ولایبدین زینتهن الاماظهر منها ] (۲۰۱)

یعني : (( او ندې ښکاروي خپل سینګار مګر هغه چې ښکاره شي له دېنه )) ټول فقهاء په دې متفق دي چې ښځې ته روا ندې چې خپل سینګار چاته وښیي مګر هغه څه چې له دوی ځینې ښکارېږي فقهاء په دې کې د نظر اختلاف لري چې له ماظهر منها څخه هدف څه دی ؟ د ځینو په نزد له دې څخه مراد ګاڼه ده او هغه څه چې د ضرورت په وخت کې لوڅېږي اوس فقها پدې اړه اختلاف لري چې داړتیا په وخت کې باید کوم ځایونه لوڅ شي چې د هغې په لوڅولو کې د پردي نارینه په وړاندې ترالهي عتاب لاندې رانشي. ټول فقها پردې متفق دي چې ښځه باید د پردي نارینه پر وړاندې د خپل مخ ( چې دیو غوږ له نرمۍ څخه پیل د بل غوږ د نرمۍ پورې

---

(۲۰۱)النور : ۳۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د زنې لاندې برخې څخه پيل په تندي کې د ويښتانو د زرغونېدلو ترځايه پورې )د ورغوو څنګلو او قدمو څخه پرته د نور بدن کومه برخه ښکاره نکړي او په قدمونو او څنګلو کې هم اختلاف دی .
حنبليان او ځينې شوافع رحمهم الله وايي : د ښځې ټول بدن عورت دی حتی نوکان هم .(۲۰۲)
او دليل يې هم دا پورتنی ايت دی او له ماظهر منها څخه مراد د دوی په نزد هغه دی چې دوی يې د خوځېدلو ، کښېناستلو او پاڅېدلو په وخت کې اختيار نلري .

## مخ او مړوند

د ستر او حجاب موضوع هم له هغو موضوعاتو څخه ګڼلی شي چې د اسلام له صدرڅخه تر اوسه پورې د فقهاوو ترمنځ اختلافي ده او تر اوسه پورې په دې اړه هم فقهاء په يو نظر راټول شوي ندي ، خو داسې شوي دي چې په يو وخت کې به د يو نظر خاوندان ډېر ا ودبل نظر کم شوي وي او په بل وخت کې به بيا د دی مقابل نظر خاوندان ډېر شوي او د هغه بل کم شوي وي د بېلګې په ډول يو وخت داسې شوي دي چې د هغو علماوو شمېره ډېره وه چې د پرديو نارينه وو په وړاندې د ښځو مخ لوڅی به يې ښه نه باله او په مقابل کې به د هغو علماوو شمېره کمه وه چې هغوی د پردي نارينه په وړاندې د ښځو مخ او لاسونه ( ورغوی ) عورت نه بلل او بيا د دې برعکس د هغو علماوو شمېره ډېره شوې ده چې هغوی د ښځو مخ او

(۲۰۲)المغني ، نهايه المحتاج ، سراج الوهاج او غايه المنتهي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورغوی عورت نه بولي ،او د پردیو نارینه وو پروړاندې په لوڅولو کې یې څه باک نه ویني او د هغو علماوو شمېرکم شوی دی چې مخ او ورغوی عورت بولي خو هېڅکله یې هم په حرمت یا کم تر کمه مکروهوالي باندې او یاد لوڅولو په جواز باندې علماء متفق شوي ندي .

او د اختلاف ختمېدونکی هم ندي ځکه چې هره ډله ځانته دلایل لري او اختلاف یې ځانته بېلابېل لاملونه او وجوهات لري چې دا وجوهات به د قیامت تر ورځې دوام مومي چې په اسلامي فقه کې د ( اسباب الاختلاف الفقهاء ) تر عنوان لاندې ډېر کتابونه لیکل شوي دي او د یوه ځانګړي علم په توګه تدریس کېږي خو فقهاوو هېڅکله هم پر هغه چا چې د ده له نظرسره مخالف دي د کافرفتوا نده لګولې ځکه چې هغوی هم د شریعت په مصادرو کې پلټنه اوا اجتهاد کړی دی او هغه مسئله ورته حق ښکاره شوې ده چې اوس یې خپل نظر ګرځولی دی او د اجتهاد حق هرهغه چاته چې لیاقت یې ولري شته دی د صحابه و په زمانه کې هم د نظر اختلافات وو حتی د پیغمبر(ص )ژوند کې هم وو خو څرنګه چې هغه( ص) ژوندی و او وحې پرې راتلله نو اختلافات به ژر حل کېدل او رسول الله (ص) هم اجتهاد تائید کړی دی حتی د هغه چالپاره یې چې په اجتهاد کې تېروزي او ناسم نظر یې غوره کړی هم د رټلو په ځای د یو اجر زېری ورکړی دی خو متاسفانه چې زموږ د دورې ځیني علماوو د بېلابېلو انګیزو او تمایلاتو له مخې دومره ژر د کفراو ارتداد ټاپې ولګولې چې سړی ورته هک حیران شي ، چې دا فتواګانې هم هېڅ شرعي بنسټ نلري او اکثره د سلیقوي ، ذوقي او ګوندي اختلافاتو له مخې صادرېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما هيله له درنو لوستونکو څخه داده چې تعصب يوې خواته پرېږدي او ليکنه د حق په سترګو ولولي او دحق په تله قضاوت وکړي که زموږ نظر يې خوښ شو او دا نظر ورته حق ښکاره شو نو راسره دې يې ومني او که دا نظر خطا بولي نو مهرباني دې وکړي د دې نظر پر مخالف نظر دې عمل وکړي چې نه به ورته موږ کافر او يا منحرف وايو او نه به دې موږ د کفر او انحراف په ټاپو او القابو نمانځي .

تر اوسه پورې چې د ستر او حجاب پر موضوع څومره ليکنې شوې دي ډېره برخه يې له افراط او تفريط څخه ډکه ده ځينې خلکو له اسلام څخه سره سکروټه جوړه کړې ده او نړيوالوته يې د يوې بلا په توګه ورپېژندلې او يو تت انځور يې ترې کښلې دې حتی د ښځو د رنګينو چادرونو سيورى هم حرام بولي او مسلمانان پر هغه څه مکلفوي چې له وس نه يې بهر خبره ده او ځينې نور بيا د غرب او اروپا د کفري ټولنې د زرق او برق تر اغېزې لاندې راغلي دي او د ورېځو په اوښانو يې خطا شوي دي دوى وايي چې د نقاب او حجاب مسئله په اسلام کې ځاى او اصل نه لري هېڅ فقهي مذهب کې ستر او پرده نشته او دحجاب او سترنظر په اسلامي ټولنه تحميل شوى دى، دوى وايي چې څرنګه ستر او حجاب په اسلام کې نشته ده نو دا بدعت او ګمراهي ده ،دوى وايي چې په ښځو باندې مخ پټول د هغه څه حرامول دي چې خداى(ج) حلال کړي دي ، چې حلالول او حرامول يوازې د يو الله ج کار دى .

په داسې حال کې چې اسلام دا دواړه نظرونه ردوي او د اعتدال دين دى نو منځومانه لاره خوښوي که د شريعت عام مفهوم ته وکتل شي نو سړى پوهېږي چې اسلام د سختئ او شدت په ځاى اسانۍ او نرمۍ ته ترجيح

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوي قران ځوځو ځایه وایي چې په دین کې حرج او سختي نشته دی ، قران وایي چې انسان ترخپله وسه پر دی رسول الله ص چې خپلو صحابه و ته امر کوي چې (( یسر ولاتعسر )) اساني کوه او سختي مه کوه .
نو په کار ده چې په اسلام کې په اختلافي مسایلو کې په هغه نظر عمل وشي چې خلکو ته په کې اساني ډېره وي .
د ښځو د پردې او حجاب په هکله د معاصرې اسلامي نړۍ ستر مفکر علامه شیخ دکتور یوسف قرضاوي هم دیوې پوښتنې په ځواب کې دا مسئله څېړلې ده او د ( النقاب للمرأة ) تر عنوان لاندې یې خپره کړې ده چې زموږ د دې څېړنې ډېرې برخې هم له همدې رسالې څخه اقتباس شوي دي هیله ده چې په غور او له تعصب څخه په لېرې فضا کې یې ولولئ .
د مخ او ورغویو دلوځولو حکم :
د حجاب او ستر په هکله په عمومي ډول دوه نظره وجود لري لومړی نظر دا دی چې د ښځې مخ او ورغوی تر مړوند پورې عورت ندی او نه یې پټول فرض دي البته په استحباب کې یې هیڅوک هم څه نه وایي .
دوهمه ډله وایي چې د ښځې ټول بدن عورت دی او پردې ته د مخ او لاسونو لوځول حرام دی موږ به لومړی د لومړئ ډلې نظر وڅیړو او په دوهم قدم کې به د دوهمې ډلې نظر وڅیړو چې حق نظر په خپله څرګند شي .
د مخ او ورغویو لوځول روا دي :
جمهور فقهاء په دی نظر دي چې دمخ او روغویو پټول واجب ندي او ښځې ته روا دی چې د پردي نارینه پر وړاندې مخ او ورغوي لوڅ کړي .
د امام ابوحنیفه نظر :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حنفي فقهې په مشهور کتاب الاختيار کې ليکي ( اصيلې ښځې ته دې نه شي کتلی مګر مخ او ورغويو ته يې ) خو که د شهوت وېره نه وه او امام ابوحنيفه ورسره قدمونه هم زياتوي چې ورته کتل روا دي ځکه کارته په راکړه ورکړه کې او معاملو کې ضرورت دی دليل يې د الله ج دا وينا ده [ ولايبدين زينتهن الاماظهر منها ].[٢٠٣]

يعني : (( او نه دې ښکاره کوي خپل سينګارونه مګر هغه چې ښکاري .)) له دېنه اکثره صحابه د دې ايت په تفسير کې وايي چې له ( ما ظهر منها ) څخه غرض رانجه او ګوته او ګوتې او د رنجو ځايونه دي ځکه چې خپله رنجو ، ګوتې او ګانې ته خو کتل خپلو او پرديو ټولو ته روا دي .

او دقدم په هکله هم روايت شوی د ی چې کتل ورته روا دي او عورت ندی ځکه چې په تللو کې يې پټول سخت کار دی اوبل دا چې مخ او لاسونه تر قدم ډير مهم دی نو چې د مخ او ورغويو لوڅول روا دي نو د قدم خو په حتمي روا وي.[٢٠٤]

## د امام مالک مذهب :

په (( اقرب المسالک الی مذهب امام مالک )) کې ليکي چې : (( د پردي نارينه پر وړاندې د ښځې عورت له مخ او ورغويو پرته ټول بدن دی او دا دواړه عورت ندی . )) د صاوي په حاشيه کې وايي چې کتل ورته روا دي خو چې د لذت نيت نه وي.[٢٠٥]

---

(٢٠٣)النور : ٣١ .

(٢٠٤)الاختيار لتعليل المختار ، عبدالله ابن محمود ابن مودود :١٥٢\١۴ .

(٢٠٥)په شرح المصغير د صاوي حاشيه د مصر د دارالمعارف چاپ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د امام شافعي مذهب :

امام شیرازي په المذهب کې لیکي : (( اصیله ښځه ټوله عورت ده مګر مخ او لاسونه یې . ))

د امام احمد بن حنبل مذهب :

ابن قدامه حنبلي په المغنی کې لیکي : (( ... زموږ ځینې ملګري وایي چې د ښځې ټول بدن عورت دی ځکه په حدیث کې راځي چې (( د ښځې ټول بدن عورت دی )) (ترمذي دې حدیث ته غریب ویلی دی .)

مګر هغې ته د مخ او ورغویو د لوڅولو اجازه ورکړل شوې ده ))[۲۰۶]

امام احمد وایي چې د ښځې ټول بدن عورت دی مګر یوازې مخ یې .[۲۰۷]

له امام ابو حنیفه (( امام شافعي او امام مالک څخه پرته امام نووی ، ابن حزم ، او زاعي ، ابو ثور ، ثوري او مزني ( رحمهم الله ) وایي چې د مخ لوڅول روا دي .))

د دې ډلې دلایل :

تفسیر د [ ما ظهر منها ]

دا ډله وایي چې د صحابه وو جمهور ( اکثره تابعین او تبع تابعین وایي چې له [ ماظهر منها ] څخه هدف مخ او ورغوی دی حافظ سیوطي په خپل تصنیف ( الدر المنثور فی التفسیر الماثور )) کې ډېری داسې نمونې رانقل کړي دي .

---

(۲۰۶)المغنی لابن قدامه ،

(۲۰۷)المجموع امام نووي ۱۲۹۱۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن منذر وايي چې حضرت انس رض ترې مراد رانجه او ګوته اخستې دي .

سعيد بن منصور ، ابن جرير ، عبد ابن حميد ، ابن منذر او بيهقي وايي چې عبدالله ابن عباس ( د مفسرينو سردار ) ترې هدف رانجه ،ګوته ، چارګل او غاړه کۍ اخيستې دي .

عبدالرزاق او عبدابن حميد په بل روايت کې وايي چې عبدالله بن عباس له ( ماظهر منها) څخه هدف د لاس نکريزې او ګوته اخيستې ده .

ابن شيبه او ابن ابی حاتم وايي چې ابن عباس ترې هدف مخ ، ورغوي او ګوته اخيستې ده او له همدوی څخه يو بل روايت دی چې ابن عباس ترې مراد د مخ دايره او د ورغوي دننه برخه اخيستې ده .

ابن ابي شيبه ابن جريح ، عبد ابن حميد ، اين منذر او بيهقي په سنن الکبری کې وايي چې له عايشې( رض ) څخه د ( ماظهر منها) د تفسير پوښتنه و شوه نو ويې ويل چې له دې څخه مراد بنګړې ( کړه ) او فتح ده[۲۰۸].

ابن جرير وايي چې سعيد ابن جبير ترې مراد مخ او ورغوی اخيستې دی، همدا راز ابن جرير له عطاء څخه هم همداسې روايت کوي ابن جرير او عبدالرزاق له مسور بن مخرمه څخه روايت کوي چې هغه ترې مرادبنګړې ( کړه ) ګوته او رانجه اخيستی دي .

خو عبدالله ابن مسعود تری مراد جامې او جلباب اخلي عبدالله جار الله په ( المراة المسلمه ) کې د جلباب تعريف داسې کوي ( دا هغه ځوړنده جامه

---

(۲۰۸)فتح د ګوتې په څير د سرو يا سپينو زرو وړه حلقه ده چې په بنصر ګوته کې ( د وړې ګوتې ترڅنګ دوهمه ګوته کې ) په ګوته کېږي .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ټول بدن پټوي ) جلباب هغه څادر ته ورته ټوټه ده چې ښځې يې په سر اچوي او پر مخ يې را ځړوي (( د جلباب دا تعريف شېخ عبدالله ابن حميد سلفي چې د ښځو د مخ پټولو سر سخته پلوی دی کړېدی چې مقابله خوا ورسره موافقه نده.(٢٠٩)

خو دکتور قرضاوي او ځيني نور علما وايي چې دلته د ابن مسعود په پرتله د عايشې، ابن عباس او انس نظر پياوړی دی ځکه چې په دې ايت [ ولايبدين زينتهن الاما ظهر منها ] کې له ماظهر منها يعني (( هغه څه چې ترې ښکاري)) د زينت د ښکارولو له حرمت څخه مستثنی ده چې دا په اسانۍ او رخصت دلالت کوي يا په بل عبارت دايې له هغه حرمت څخه مستثنی کړې او حتمي ده چې مستثنی د اسانۍ او رخصت لپاره ده او د جلباب ، څادر يا هغه جامې چې خپله ښکاري په ښکاره کولو کې خو هېڅ اساني نشته ده او پټول يې هېڅ ممکن ندي ښځه خوبه زينت او ښکلې جامې په چادري پټې کړي او که له دې استثنی څخه هدف چادري شي نو هغه خو هسې هم نه پټېږي نو بيا دې استثنی ته څه ضرورت و ؟ همدا لامل دی چې د ابن عباس رض نظر ډېرو مفسرينو لکه ابن جريرطبري ، قرطبي ، امام رازي ، بيضاوي او د مذهبونو څلورو واړو امامانو خوښ کړی دی ، او په دې اړه ډېر احاديث هم شته دي چې ښيي د ښځې مخ او ورغوی تر مړوند پورې عورت ندی لکه : حضرت عايشه رض روايت کوي چې زما دموررني ورور عبدالله ابن طفيل لور ماکره سينګار شوې راغله کله

(٢٠٩)فتاوی المراة المسلمه جلد ١ .))

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې رسول الله ص رانغلوه او دایې ولیدله نو مخ یې ترې واړوه ماورته وویل چې ای د خدای رسوله (ص) دا زما وربره ده هغه (ص) وفرمایل : (( کله چې انجلۍ پېغله شي نو روا نده چې ښکاره شي ورڅخه مګر مخ یې او دومره ( چې د خپل لاس په څنګل یې موټی کېښود او د خپل موټې او ورغوي ترمنځ یې د یو موټي په اندازه ځای پرېښود . ))[210]

همدا راز حضرت عایشه (رض) روایت کوي چې ( د هغې خور اسماء د رسول الله ص خښینه راغله او نرمې او نازکې جامې یې اغوستې وې رسول الله (ص) چې کله ولیدله نو ترې مخ یې واړاوه او ویې فرمایل : (( ای اسماء کله چې ښځه پېغله شي نو روا نده چې ورڅخه ښکاره شي مګر دا او دا (( اشاره یې وکړه مخ او لاسونو ته ))[211]

**۲** _ د ټیکریو د اچولو حکم په ګریوانونو ( ټټرونو ) باندې دی نه پر مخ : همدا نیوکه عبدالله په المرءة المسلمة کې کړې ده ، دا چې الله (ج) مؤمنو ښځو ته خطاب کوي [ ولیضربن بخمرهن علی جیوبهن ] ..... النور **۳۱** .

یعنې : ( را وادې چوي ټیکري خپل په خپلو ګریوانونو باندې ) کابلی تفسیر ورسره زیاتوي چې ټټریې ښکاره نه شي ) خمر د خمار جمع ده چې ټیکري ته وایي او جیوب د جیب جمع ده چې ګریوان او ټټر ته یې وایي.[212]

---

(۲۱۰)جامع البیان عن تاویل اي القران ، المنثور امام سیوطي او تفهیم القران .

(۲۱۱)ابو داود شیخ الباني هم پرې استناد کړی ده او صحیح جامع الصغیر هم رانقل کړی دی .

(۲۱۲)المرءة المسلمة

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله (ج )ښځو ته داسې امرکوي چې ټيکري داسې په سرکړئ چې غاړه او ټټر موهم ورسره پټ شي او د جاهليت د وخت په څېر دې ټټر اوسينه لوڅ نه پرېږدي ، نوکه د مخ پټول هم فرض وای نو الله ج به په پوره صراحت سره د مخ په پټولو هم امر کړی وای او ويلي به يې و چې ټيکري په مخونو هم را وځړوئ لکه څنګه يې چې پر ګريوانونو امر وکړ او همدا لامل دی چې امام ابن حزم وايي : (( الله ج ښځو ته امر وکړ چې ټيکري پر ګريوانونو واچوئ او دا دليل په ستردعورت د غاړې او سينې .او دا دليل دی د مخ د لوڅوالي پر روا والي.))

د دې ايت د تطبيق عملي بڼه د پښتو په قومي خلکو کې ښه ترسترګو کېږي چې پلو ورته وايي يعنې سر او ټټر دواړه په څادر پټ وي او مخ لوڅ .

۳ _ نارينه وو ته د سترګو په کنټرول او ښکته ساتلو امر :

په قران او حديثو کې نارينه وو ته امر شوې دی چې کله مو په کومې پردئ مخ لوڅې ښځې باندې سترګې ولګېدې نو خپلې سترګې کنټرول کړئ او نظرونه مو ټيټ واچوئ .

[ قل للمؤمنين يغضو امن ابصارهم ] (٢١٣)

يعنې : (( و وايه مؤمنو سړيو ته چې خپل نظرونه دې ښکته وساتي . ))

رسول الله (ص) فرمايي : ( تاسو ماته د شپږو شيانو ضمانت راکړئ زه به تاسو ته د جنت ضمانت درکړم ... او نظرونه ښکته ساتئ ) .(٢١٤)

---

(٢١٣) النور ٣٠ .

(٢١٤) مسند احمد ، بيهقي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول لله (ص) حضرت علي( رض) تـه وفرمايـل : (( يـا علـي لاتبـع النظـرة النظرة فان لک الاولی ولیست لک الاخره . )) [۲۱۵]

يعني : (( ای علي (رض) له لومړي ځل څخه پرتـه دوهـم ځل مـه ګوره لـومړی درته معاف دی مګر دوهم نه .))

نو که ټولې ښځې په نقاب کې وای او دټولو مخونه پټ وای نو څه ضرورت و چې سړيانو تـه پـه غـض بصر امـر کېـده ؟ او کـه مخونـه لـوڅ نـه وای نـو حضرت علي ته به يې ولې وېل چې لومړی ځل درته معاف خو دوهم ځل پـام کوه او کله چې سترګو هېڅ نه ليدلای او مخونه پټ وای نو په حديث کې به ولې ويل کېدل چې : نکاح د نظر کنټرولـوونکې ده . دا او داسې نـور ډېر روايات شته چې ترې جوتيږي چې د پـردئ ښځې پـه مخ مـو کـه سـترګې ولګېدلې نو مخ واړوئ )) چې دا هرڅه د ښځې د مخ پـه لوڅوالي دلالـت کوي .

**۴ _ اګر که د هغوی ښکلا ستا هرڅومره خوښه وي .**

الله( ج) رسول الله (ص )ته فرمايي : [ لايحل لک النساء من بعد ولا ان تبدل بهن من ازواج ولو اعجبک حسنهن ] [۲۱۶]

يعني : (( له دې وروسته ستا لپاره نورې ښځې روا ندي او نـه د دې اجازه ده چې د دوی پر ځای نورې ښځې راولې اګر که د هغوی ښکلا ستا هر څومره خوښه وي . ))

نو کله چې د هغوی مخونه پټ وي نـو دهغـوی حسـن او ښـکلا بـه څـه ډول و وينې چې د ده خوښه شي ؟

---

(۲۱۵) مسند احمد ، ابوداود ، ترمذي .

(۲۱۶) الاحزاب :**۵۲** .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵ ـ کله چې له تاسې څخه چا کومه ښځه ولیدله او خوښه یې شوه .**

ډېرې پېښې او نصوص د دې څرګندوی دي چې په صدر د اسلام کې له ډېرو کمو ښځو څخه پرته نورې ټولې مخ لوڅې وې او نقاب یې نه درلود له دې څخه یوه نمونه : حضرت جابر (رض) روایت کوي چې رسول الله ص یوه ښځه ولیدله چې خوښه یې شوه نو زینب( رض) ته راغی په داسې حال کې چې هغې پوستکی سولاوه او رنګ کاوه یې نو خپله غوښتنه یې له هغې سره پوره کړله ...... بیا یې وفرمایل (( کله چې له تاسو څخه کوم یوه ښځه ولیدله او خوښه یې شوه نو خپلې ښځې سره دې کوروالې وکړي ځکه دا له منځه وړي هغه څه چې د ده په نفس کې دي . ))[۲۱۷]

مشکوة او دارمي له ابن مسعود څخه همداسې روایت کوي خو په دومره توپیر چې هلته د زینب په ځای د سوده( رض) نوم راغلی دی او په کې ویل شوي دي چې (( هر چا چې کومه ښځه ولیدله او خوښه یې شوه نو خپلې ښځې ته دې راشي ځکه له دی سره هم هغه شي دی چې له هغې سره دی .)) په یوبل روایت کې راځي چې فلانئ زما تر څنګ تېره شوه نو زما په زړه کې د ښځو شهوت را وپاریده ...)) دا حدیث د دې څرګندوی دی چې رسول الله( ص) کومه معلومه ښځه لیدلې ده او دهغې په لیدلو یې د بشریت او نارینه توب له فطري غوښتنې سره سم شهوت را پارېدلې دی او دا کار هغه وخت ممکن دی چې مخ یې ووینې تر څو چې فلانئ پرې له نورو بېله

(۲۱۷) مسلم ، کتاب النکاح .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي او ليدل يې هم داسې وي چې بشري شهوت راپاروي نو څرګنده شوه چې هغه وخت ښځې مخ لوڅې ګرځېدلې .

۶ ـ نظريې پرې پورته او ښکته وګرځاوه .

بخاري او مسلم له سهل ابن الساعدي نه روايت کوي چې يوه ښځه رسول الله ص ته راغله او ويې ويل چې يا رسول الله زه راغلې يم چې تاته خپل نفس ( ځان ) در وبخښم نو رسول الله ص هغې ته وکتل او نظر يې پرې ښکته او پورته وګرځاوه بيا يې سر ښکته کړبيا هرکله چې دې ښځې وليدل چې رسول الله ص حاجت نه لري نو کښېناستله د رسول الله (ص) يو ملګرى پاڅېد او عرض يې وکړ چې اى د خداى رسوله (ص) که ته ورته اړتيا نه لرې نو ماته يې په نکاح کړه ... )) نو که دا ښځه مخ لوڅې نه واى نو رسول الله ص نشو کولى چې هغې ته وګوري او پورته او ښکته پرې سترګې وګرځوي او د هغې مخ لوڅې د خطبې په نيت هم نه وه ځکه که دخطبې په نيت واى نو بيا به يې ببرته خپل مخ پټ کړى واى بلکې په حديث کې راځي چې دا ښځه بيا هلته کښېناستله او ځينو صحابه و هم وليدله تردې چې يو صحابي ورسره د نکاح وړانديز هم وکړ .

۷ ـ د خثعميه او فضل ابن عباس حديث .

دا حديث هم بخاري ، مسلم او ترمذي روايت کړى دى (( فضل (رض) د رسول الله (ص) شاته ناست و چې دخثعم دقبيلې يوه ښځه راغله او له هغه ص نه يې د حج په هکله پوښتنې کولې او فضل ابن عباس د رسول الله (ص) د تره زوى په هغې سترګې ورښخې کړې رسول الله ص د هغې مخ بل خواته واړوه .)) امام ابن حزم وايي چې که د ښځې مخ عورت واى نو رسول الله ص به د دومره خلکو په وړاندې د دې ښځې په مخ لوڅې چپ نه پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېده او که مخ يې پټ وای نو ابن عباس به د هغې له بد رنګوالي او ښکلا څخه څه خبرېده ، په ترمذي کې دا کيسه داسې راغلې ده : (( رسول الله( ص) د فضل څټ بل خواته واړوه نو عباس( رض) له رسول الله (ص) څخه وپوښتل چې ولې دې د تره د زوی غاړه و ګرځوله ؟ )) رسول الله (ص) ورته وفرمايل چې ځوان هلک او ځوانه نجلۍ مې وليدل نو د شېطان له لمسونې څخه باوري نه وم ) امام شوکاني وايي چې له دې حديث نه استنباط کېږي چې د فتنې څخه د امن په وخت مخ ته کتل روادي همداراز که حضرت عباس نه وای پوه چې د ښځې مخ ته کتل روادي نو ولې به يې له رسول الله ص څخه پوښتنه کوله ؟ نو داسې ښکاري چې عباس پوه و چې دښځې مخ ته کتل روا دي او دا چې فضل ورته کتل او رسول الله (ص) يې مخ واړوه نو عباس ته سوال پيدا شو ، فضل ابن عباس وايي چې هغه ښکلې ښځه وه )) معنی دا چې مخ يې لوڅ و او فضل يې ښکلا ته هم پام کړی دی ، په نيل لاوطار کې وايي چې دا حديث په دې خبره د استدلال لپاره ډېر ښه دی چې د [ واذا ساء التمو هن متاعا فسئلو هن من وراء حجاب ] ايت د رسول الله ص په بيبيانو پورې خاص دی ځکه چې دفضل کيسه په حجة الوداع کې پېښه شوه او د حجاب ايتونه په پنځم هجري کال کې نازل شوي دي .

٨ ـ نور احاديث :

جابربن عبدالله رض وايي چې (( له رسول الله ص سره په يوه لمانځه کې حاضر وم لمونځ يې له خطبې مخکې ادا کړ ... جابر رض ووېل : بيا تېر شو تر دې چې ښځو ته راغی نو وعظ يې ورته وکړ او پند يې ورته وکړ ورته يې وويل : (( خيرات ډېر کوئ ځکه ستاسو ډېره برخه د جهنم لرګي دي )) بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښځو له منځه يوه غوره ښځه را پاڅېدله چې سوربخن تور رنګه اننګي يې درلودل )) نو که د دې ښځې مخ پټ واى نو حضرت جابر څه پوهېده چې اننګي يې سور بخن تور رنګه دي ، مسلم او ابو داود له حضرت جابر څخه روايت کوي چې رسول الله ص د اختر په ورځ له خطبې څخه وړاندې په لمانځه پيل وکړ بيا يې خلکو ته خطبه واوروله بيا کله چې د خداى ج نبي ص فارغ شو او ښځو ته راغى نو وعظ او پند يې ورته وکړ په داسې حال کې چې دبلال په لاس يې تکيه کړې وه او بلال خپله جامه غوړولې او ښځو په کې صدقې اچولې وايي : (( ښځې به خپله ګوته په کې اچوله او ....))

ابن حزم وايي : که ورغوى عورت واى نو هغوى به نه لوڅاوه او که ورغوى يې نه وي لوڅ کړى نو د ګوتو اچول څنګه ممکن شول ؟

حضرت عايشه رض وايي : (( موږه مؤمنې ښځې به له رسول الله ص سره د سحر لمانځه ته راتلو ، په داسې حال کې چې په خپلو پړونو کې به تاوې وو بيا به ګرځېدلو خپلو کورونو ته کله به مو چې لمونځ اداکړ ، نو د تيارې له کبله به نشو پېژندلى . ))(٢١٨)

د دى حديث مفهوم په دې دلالت کاوه چې دوى له تيارې پرته پېژندلې شوې او دا په هغه وخت کې پېژندل کېږي چې کله مخ لوڅې وي .

مسلم روايت کړى دى چې سبيعه د حارث لور د سعد بن خوله مېرمن وه ، سعد د بدر په غزا کې هم ګډون درلود خو په حجة الوداع کې په داسې حال کې وفات شو چې مېرمن يې ( سبيعه ) حامله وه ، کله يې چې حمل وزېږاوه او له نفاس څخه هم پاکه شوه نو د نوي واده لپاره يې غوښتونکيو ته ځان

(٢١٨) مسلم ، ابوداود ، ترمذي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې کړ چې ابو سنابل بن بعک ورغی او ورته یې و وېل چې (( ولې دې ښکلې او سینګار وینم ؟ لکه چې واده غواړې !

ـ نه والله چې ستا نکاح روا نده تردې چې څلور میاشتې او لس ورځې در باندې تېرې شي .... )) دا حدیث په دې دلالت کوي چې سبیعه د ابو سنابل په مخ کې ښکلې او جوړه شوې ښکاره شوه نو که دا مخ لوڅې نه وای نو ابو سنابل څه پوهېده چې دې ارایش کړی دی ؟ او ابو سنابل د هغې محرم نه وتر دی چې بیا یې ترې دنکاح غوښتنه هم وکړه حضرت عمار ابن یاسر روایت کوي چې یو سړی د یوې ښځې ترڅنګ تېر شو نو خپلې سترګې یې ورپورې وګنډلې ( یعنې دومره یې ورته وکتل چې بالکل یې ترې سترګې نه اړولې ) تردې چې دا سړی په یو دیوال برابرشو چې له دیوال سره په جنګېدلو یې مخ ټپي شو بیا رسول الله ص ته په داسې حال کې راغې چې پر مخ یې وینې بهېدلې ، رسول الله ص ته یې وویل چې : ای د خدای رسوله ما داسې وکړل ، رسول الله ص ورته وفرمایل کله چې الله ج بنده ته د خیر اراده وکړي نو جزا یې په دنیا کې ورکوي ... )

دا حدیث هیثمي په مجمع الزوائد کې را اخیستی دی چې وایي : دا حدیث طبراني روایت کړی دی او سند یې جید دی ، و دې کتل شي.[219]

دا حدیث په دې دلالت کوي چې هغه وخت کې ښځې مخ لوڅې وې او ځینې داسې ښکلې ښځې هم په کې وې چې دځینو خلکو زړه نه کېده چې سترګې ترې بل خوا واړوي تردې چې له دېوال سره به هم ټکر شو ، او تردې چې په مخ یې وینې و بهیږي .بخاري له عبدالله ابن عباس رض څخه

(۲۱۹)النقاب للمراه دکتور یوسف القرضاوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا د اختر کیسه روایت کوي وایي : زه د اختر په لمانځه کې له رسول الله ص سره حاضر وم رسول الله ص له لمانځه څخه وروسته خطبه ولوستله بیا ښځو ته راغی چې بلال هم ورسره و چې وعظ یې هم ورته وکړ او پند یې هم ورکړ او امر یې ورته وکړ چې صدقه ورکړئ ، ابن عباس وایي «ما ولیدل چې لاسونه به یې اوږدول او صدقې به یې د بلال په جامه کې اچولې » ابن حزم وایي چې ابن عباس د رسول الله ص په شتوالي کې د دې ښځو لاسونه ولیدل نو ثابته شوه چې د ښځې ورغوی او مخ عورت نه دی »

**۹ _ صحابه وته نقاب اچول نا اشنا عمل برېښېده .**

په روایاتو کې راځي چې کله به کومې ښځې نقاب واچاوه نو دا به صحابه ووته نا اشنا کار ښکارېده او پوښتنې به ورته راولاړې شوې ، ابوداود له قیس ابن شماس څخه روایت کوي چې « د ام خلاد په نوم یوه ښځه د رسول الله ص حضورته راغله په داسې حال کې چې نقاب یې اچولی و او دخپل وژل شوي زوی په هکله یې پوښتنه کوله ، د رسول الله ص ځینې صحابه وو د دې نقاب په لیدلو په تعجب سره ترې و پوښتل چې راغلې یې د زوی پوښتنه کوې او نقاب دې هم اچولی دی ؟ هغې ورته ووېل « چې که خپل زوی مې له لاسه ورکړی دی نو خپله حیا خو مې نده ورکړې . »

نو که هغه وخت کې نقاب رواج او عادت وای نو دحدیث راوي به ولې ویلې چې نقاب یې اچولې و او صحابه و به ولې تعجب کاوه او دا کار به ورته نا اشنا ښکارېده او ولې به یې ورته وېل چې : « د زوی پوښتنه دې هم کوې او نقاب دې هم اچولی دی ؟ » او د ښځې ځواب هم په دې دلالت کوي چې نقاب دخدای ج او د رسول الله ص امر ندی بلکې د خپلې حیا په خاطر

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې اچولی دی او که نقاب فرض يا واجب وای نو ورته به يې ويلی و چې دا فرض يا واجب دی ځکه مې اچولی دی، بلکې له سره به دا سوال نه وای پيدا شوی ځکه چې يو مسلمان له بل مسلمان څخه نه پوښتي چې ولې دې لمونځ وکړ ؟ يا ولې روژه نيسې .

۱۰ ـ ورځنۍ معاملې د هغې پېژندګلوي واجبوي .

په ورځني ژوند کې له خلکو سره د معاملې اړتيا دا واجبوي چې معامله کوونکيو ته هغه معرفي وي او د ښځې شخصيت او څهره وپېژني لکه د پېرودلو او پېرلو په وخت کې ، يا دا چې وکيله وي او يا څوک وکيل ونيسي ، خپله قضا کې ګواهي ورکوي او يا په دې باندې ګواهي ورکول کېږي ، همدا لامل دی چې فقهاء په دې متفق دي چې کله ښځه محکمې ته وړاندې کېږي نو واجب ده چې مخ يې لوڅ وي د دې لپاره چې مقابل پلو او قاضي يې ښه وپېژني .

د هغو خلکو دلايل چې نقاب واجب بولي .

دا پورته مو چې ولوستل دا د جمهورو علماو و غټ غټ دلايل دي نو د دوی د مخالفينو چې اقليت هم دي دلايل څه دي ؟ دکتور يوسف قرضاوي وايي : رښتيا خبره داده چې ما د هغو خلکو لپاره چې نقاب اچول او د مخ او لاسونو ( ورغويو ) پټول فرض يا واجب بولي صحيح ثابت ، صريح ، دلالت کوونکي له معارضې خلاص دليل چې زړه يې په مطمئن اندازو ومني او قانع شي ونه موند او ټول هغه څه چې دوی يې وړاندې کوي متشابهات دي چې محکم نصوص او واضح دلايل يې ردوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغو ډېر پیاوړي دلایل دادي:(۲۲۰)

۱ ـ [ یا ایها النبی قل لازواجک وبناتک و نساء المئومنین یدنین علیهن من جلابیبهن ذالک ادنی ان یعرفن فلا یوء ذین ] ..(۲۲۱)

یعنې (( ای نبی ص خپلو بیبیانو ، لورګانو او د مسلمانانو بیبیانو ته ووایه چې هغوی دې پر ځان د څادرونو پرده کوي په دې ترتیب د دې خبر زیاته توقع ده چې دوی به و پېژندلې شي او تکلیف به نه شي ورکول کېدلی )) نو عبدالله ابن مسعود ، عبیده السلماني او عبدالله ابن عباس څخه روایت شوي دي چې دوی له دې ایت څه دا مطلب اخېستی دی چې له یوې سترګې پرته دې د ښځو ټول بدن پټ وي .

د تعجب وړ خبره خو داده چې دلته ابن عباس ته هغه لفظ منسوبوي چې په سورت النور کې ترې د دې نظر د مخالف نظر روایت شوی دی او ځینو مفسرینو خو بیا په سورة النور کې ترې هغه نظر روایت کړی دی او دلته یې ورته دا نظر منسوب کړی دی .

دلته لومړی خو مفسرین د جلباب په مراد متفق ندي چې جلباب یعني څه ؟ امام نووي له نضربن شمیل څخه روایت کوي چې وایي : جلباب له څادر څخه لنډه او پلنه ټوټه ده چې ښځې پرې خپل سر پټوي .

ځینې وایي : دا پراخه ټوټه ده چې ښځې پرې خپلې شاګانې او سینې پټوي چې په لویوالي کې څادر ته نه رسېږي ځنې وایي چې جلباب پرتوګ ته وایي ځینې وایي چې ټېکري ته وایي.(۲۲۲)

---

(۲۲۰)فتاوي المرءة المسلمة د ابو محمد اشرف عبدالمقصود او المراة المسلمة دعبدالله بن جارالله کتابونه دي وکتل شي.

(۲۲۱) الاحزاب : ۵۹ .



www.meltahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هر حال له دې ایت څخه نه عرفاً او نه لغتاً د ښځې د مخ پټوالی ثابتېږي او نه له قران ، حدیث او اجماع څخه کوم دلیل لري او ځینې مفسرین چې له جلباب څخه د مخ پټول مراد اخلي نو نور مفسرین ورسره موافق ندي .

۲ ـ د ابن مسعود لخوا د (( الا ما ظهر منها )) تفسیر .

عبدالله ابن مسعود وایي چې مراد له [ الا ماظهر منها ] څخه څادر او ظاهري جامې دي .

خو د ابن مسعود له دې تفسیر سره د عبدالله ابن عباس ، عایشې ، عبدالله ابن عمر په څېر مفسرین او جلیل القدره صحابه موافق ندي دوی وایي چې له [ الاماظهر منها ] څخه مراد رانجه او ګوته او دهغوی ځایونه ( مخ او لاسونه ) دي . ابن حزم وایي چې له صحابه و څخه دا روایت بالکل رښتیا ، صحیح او د صحت په وروستئ درجه کې دي .

علامه احمد ابن احمد شنقیطي په (( مواهب جلیل من ادلة خلیل )) کې وایي چې د قران د ېر غوره تفسیر هغه دی چې قران په قران سره تفسیر شي او قران د زینت تفسیر په ګانې سره کړې دی فرمایي [ ولایضربن بارجلهن لیعلم ما یخفین من زینتهن ][223]

یعنې : (( او نه دې وهي پښې خپلې (په ځمکه ) لپاره د دې چې معلوم شي هغه څیز چې دوی یې پټوي له زینت څخه )) دلته له زینت څخه هدف بوټان ، نور د پښو کولو شیان ، د تن ګاڼه ، پاولي ... دي ، مور ورانديې هم وویل چې استثنا د اسانتیا او رخصت معنی لري او بهرنۍ جامې لکه څادري ، چپن او ..... دا خو هسې هم ښکاري چې نه پکې رخصت شته او نه اساني .

---

(۲۲۲)مسلم د نووي شرحه .

(۲۲۳)الاحزاب : ۳۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳ _ [ فاسئلوهن من وراء حجاب . ]**

د ((اضواء البيان)) مصنف او ځني نور علماء وايي چې الله ج مومنانو ته امر کړی دی چې [و اذا ساء التمو هن متاعا فاسئلو هن من وراء حجاب ذالکم اطهر لقلوبکم و قلوبهن ](۲۲۴)

یعنې : (( او کله که له هغوی څخه څه د کار سامان غواړئ نو د پردې ترشاه یې غواړئ په دې کې ښه پاکي ده ستاسې زړونو او دهغوی زړونو ته . ))

دلته چې د حجاب د وجوب لپاره کوم علت ښودل شوی دی هغه د مؤمنو ښځو او مؤمنو سړیو د زړونو پاکوالی دی له هرډول شک څخه او دا هېڅ هم ندي ویلي چې د رسول الله ص له بیبیانو څخه پرته نورې بیبیانې د زړه پاکوالي ته اړه نه لري.(۲۲۵)

دکتور یوسف قرضاوي ځواب ورکوي چې د دې ایت مخکې او وروستئ برخې ته په کتلو سره سړی ویلی شي چې هغه پاکوالی او دشک له منځه تلل چې د رسول الله ص بیبیانو ته د حجاب پواسطه منځته راځي دا له هغه مفسد او ناکاره فکر څخه پاکوالی ندی چې د نورو په اړه یې فکر کېږي ځکه چې نه له امهات المومنین څخه دا تصور کېدلی شي او نه هم له نورو خلکو سره دا ناوړه خیال او دا ناوړه جرئت و ، دلته چې کوم پاکوالی یاد شوی دی د ا له هغه ډول اندېښنې نه پاکوالی دی چې دوی ته د رسول الله ص له وفات څخه وروسته د هغه له بیبیانو سره دنکاح فکر پیدا شوی و .

(۲۲۴)الاحزاب : ۵۳ .

(۲۲۵)فتاوي المراة المسلمة او المراة المسلمة عبدالله جارالله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او که څوک په [ فاسئلو هن من وراء حجاب ] استدلال کوي نو دا استدلال موجه ندی ځکه چې دا ایت د رسول الله ص په بیبیانو پورې خاص دی او که څوک وایي ........العبرة بعموم اللفظ لابخصوص السبب .
یعنې : اعتبار د لفظ عاموالي ته دی د سبب خاصوالي ته ندی ، نو دا قاعده دلته د تطبیق وړ نده ځکه چې دا ایت عام ندی إو درسول الله ص په مېرمنو باندې د نورو مېرمنو قیاسول قیاس مع الفاروق دی ځکه چې درسول الله ص پرمېرمنو څه شدت او سختي نوره هم زیاته وه هغه چې په نورو عامو ښځو نه وه همدالامل دی قران وایي ﴿یا نساء النبی لستن کاحدمن النساء.....﴾[226]
یعنې : ((ای د نبي ص مېرمنو نه یئ تاسو په څېر د یوې ښځې ﴿دبل تولګي د محمدي امت﴾
۴ محرمه ښځه دې نقاب نه اچوي .
بخاري او مسند احمدله ابن عمر رض څخه روایت کوي چې رسول الله ص فرمایي ﴿لاتنتقب المراة المحرمة و لا تلبس القفازین﴾ : ((یعنې محرمه ښځه دی نقاب نه اچوي اونه دې دستکشې اچوي )) دا په دې دلالت کوي چې نقاب او دستکشې له احرام څخه پرته رواج او عام وي خو د دوی مخالفین وایي چې موږ له دې سره کوم مخالفت نه لرو چې له احرام پرته دې ځیني ښځې په خپله خوښه نقاب او دستکشې واغوندي خو په دې کې دادلیل چېرې دی چې نقاب واجب دی ؟؟بلکه معقوله خبره داده چې پر دې حدیث باندې ددوی دوینا برعکس استدلال وشي ،یعنې وویل شي چې

(۲۲۶)الاحزاب ۳۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ښځې د مخ او لاسونو پټول واجب ندي ،ځکه چې په احرام کې د ډېر هغه شیان حرام دي کوم چې په اصل کې مباح او روادي ،لکه د ګنډلو جامو اغوستل خو شبولګول ،ښکار کول ،په دې کې داسې شی نشته دی چې په اصل کې یې کول واجب وي او بیا په احرام باندې منع شوی وي .

**۵** ـ پر مخ د جلباب را ځړولو په هکله د عایشې رض حدیث.[۲۲۷]

حضرت عایشه رض وایي : (( سپاره به زموږ په څنګ کې تېرېدل او موږ ښځې به درسول الله ص سره د احرام په حالت کې وو نو کله به چې هغه خلک زموږ خواته نژدې کېدل نو موږ به په خپلو څادرونو خپل مخونه او سرونه پټول ، چې هغوی به تېر شول موږ به بېرته څرګند کړل ))[۲۲۸]

د دې حدیث په اړه د النقاب للمراه مصنف داسې لیکي : پر دې حدیث د څو لاملونو له مخې استدلال نه کېږي :

۱ : د دې حدیث په اسناد کې یزید ابن ابي دی او هغه ضعیف دی نو دا حدیث ضعیف دی او په احکامو کې پهر ضعیف حدیث استدلال نه کېږي .

۲ : دا کار د عایشې رض دی چې په وجوب دلالت نه کوي ځکه چې حتی د رسول الله ص خپل فعل هم پر وجوب دلالت نه کوي عایشه خو لا پرېږده کله چې صراحتاً امر ونه کړي .

۳ : په اصولو کې وایي چې په هره معامله او پېښه کې چې احتمال پیدا شو نو د اجمال جامه وراغوستل کېږي او استدلال پرې نه کېږي او دلته دا احتمال دی چې دا حکم په امهات المومنین پورې خاص وي لکه له

---

(۲۲۷)فتاوي المراة المسلمة .

(۲۲۸)بیهقي، ابوداود ، ابن ماجه ، مسند احمد ، فتح الباري او مشکوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله ص ښځه وروسته له نورو سړیو سره د نکاح حرمت چې په همدوی پوې خا ص و.[۲۲۹]

۴ : ښځې عورت دی ترمذي روایت کوي چې (( المراة عورة فاذا ترجت استرقیها الشیطن)ترمذي وایي چې دا حدیث حسن او غریب دی یعنې (( ښځه عورت دی کله چې بهر و وځي نو شیطان ورپسې شي )) سمه خبره داده چې دا حدیث هغه کلیه نه افاده کوي چې دوی یې وایي بلکې په دې دلالت کوي چې ښځه باید پټه اوپه سترکې وي ، نه لوڅه اوذلیله ، او د دې هدف د تر سره کېدلو لپاره دا کفایت کوي چې دبدن ډېره برخه باید پټه وي ، او که له حدیث ښځه همدأ ظاهري معنی واخېستل شي نو ښځې ته به روانه چې په لمانځه اوحج کې د بدن کومه برخه لوڅه کړي ،اوکه مخ ، ورغوی اوقدم ښکاره کړي څوك به دا تصور وکړي چې مخ او ورغوی یې عورت وي په داسې حال کې چې په لمانځه کې یې په لوڅولو اتفاق دی او په احرام کې یې لوڅول واجب وي ؟! دا حدیث هم دومره قوي ندی چې أستدلال پرې وشي ، د حدیثوپه دومره کتابونو کې یوائې ترمذي رااخیستې ده او ترمذي هم ورته صحیح نه دی ویلی بلکې په ( حسن غریب ) سره یې ستایلی دی او ځینې راویان یې هم د قبول ترحده پیاوړي او ثقه ندي لکه عمروبن عاصم او همام بن یحیی .

سدالذریعه .

علامه شیخ قرضاوي وایي : (( کله چې د نقاب پلویانو کوم قاطع دلیل ونه موند او هر ډول وسلې یې کار ونکړ نو د (( سدالذریعه )) سیوري ته یې

---

(۲۲۹)مواهب جلیل من ادلة خلیل ۱۸۵\۱ وګورئ النقاب للمراة

(c) ketabton.com: The Digital Library

پناه وروړه او له سدالذریعه څخه هدف د یو مباح شي منع کول دي له دې وېرې چې حرامو ته رسېږي نو دوی وایي که مخ لوڅي رواهم وي خو په دې خاطر چې حرامو ته زمینه برابروي نو ناروا شوه ځواب دادی چې دفقهې او اصولو علماء وايي چې د سدالذریعه په خاطر د یو کار په منع کولو کې مبالغه داسې ده لکه د هغه اصل کار په ازاد پرېښودلو کې مبالغه لکه څرنګه چې دیوې ذریعې ازاد پرېښودل دمفاسدو او ټولنیزو زیانونو لامل ګرځي همدا راز دهغه په مخنیوي کې مبالغه هم ډېرې ګټې له منځه وړي او مفاسد رامنځته کوي .))

دوهم دا چې کله چې شارع په خپله په نصوصو او قواعدو سره یو کارته اجازه ورکوي نو موږ ته څه مناسب ده چې په خپل فکر سره یې بندوو ، او په خپل فکر او ذوق سره هغه څه حراموو چې الله ج حلال کړي دي یا هغه څه حلال ګرځوو چې الله ج حرام کړي دي .

دریم دا چې زما په فکر الله ج چې د مفاسدو د مخنیوي لپاره کوم احکام اواداب ټاکلي دي لکه شرعي لباس ، د تبرج مخنیوی، له نارینه وو سره د یوازېتوب حرمت ، په خبرو او تګ کې دوقار او درنښت او دغض بصر وجوب نو همدا کفایت کوي که الله ج مناسبه ګڼلې وای چې په دې اړه نور شدت هم په کار دی نو هغه خو هر څه کولی شول او داخو هم د ځینو پخوانیو خلکود بې ځایه شدت او سدالذریعه پایله ده چې نه مود دټولنې انجونو مدرسه ولیدله نه مسجد ،نه یې ښوونځي ولید نه پوهنځی ، نه یې لمونځ یاد کړ ، نه اودس حتی په ټول عمر کې یې یورکعت لمونځ هم سم ادا نه کړ ،سره له دې چې د تعلیم په وجوب یې ټول قانع هم دي .

له ډېرې مودې راهیسې د مسلمانانو عام دود .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی یو دلیل دادی چې له ډېرو پېړیو راهیسې دمسلمانانو دود داسې دی چې مخونه پټوي .

د دې دعوې رد .

د کتور قرضاوي داسې ځواب ورکوي .

۱ : دا دود عام دود نه دی اونه په عام ډول تېر شوی دی په ځینو ځایونو کې خوبه تېر شوی وي خو په ځینو نورو کې بیا نه و په ښارونو کې به و خوپه کلیو اوبانډو کې کې نه و او که په کلیو او بانډو کې ونو په ښارونو کې نه و .

۲ : که فرض کړو چې دا عام دود و نو دا دود د نبوت د وخت له دود سره مخالف دی نه یوازې د نبوت د وخت له دود سره، بلکې د صحابه و له عصر او خیرالقرون سره هم مخالف دی او همدا دورې دي چې باید اقتدا ورپسې وشي .

۳ : که فرض وکړو چې دا دود و نو دنبي ص فعل د وجوب معنی نه ورکوي چې رسول او معصوم هم دی ، بلکې د جواز او روا والي معنی ورکوي ( لکه همداسې چې د اصولو قاعده ده ) نو د نورو عمل به څنګه د وجوب معنی ورکړي ؟؟

۴ : له دې پخواني عام دود سره د اوسني وخت ظروف او شرایط توپیر لري اوس د ژوند بڼې تغییر موندلی دی داوس وخت انجلۍ هغه پخوانۍ ساده ، نالوستې ، ناپوهه انجلۍ نده ، اوس د کور په څلورو دېوالونو کې بندي او ناسته نده هغه اوس د کار او عمل ډګر ته وتلې ده په ټولنیز نظم او ژوند کې بدلون راغلی دی نو اوسنی عصر او وخت له هغه پخواني سره ډېرتوپیر لري نو څکه باید په هغه پخواني وخت باندې قیاس نه شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستۍ شبهه د زماني فساد اوفتنه .

ځيني خلک چې دښځې د ژوند د دايرې له محدودوالي سره مينه لري وايي چې : موږ هغه دلايل منو چې دښځې په مخ لوڅئ دلالت کوي او داهم منو چې درسول الله ص په وخت او خيرالقرون کې له کمو ښځو پرته نورونقاب نه درلود خو بايد پوه شوو چې هغه خيرالقرون و ، نمونه يې وخت و ، د روحي ارتقا او روحانيت وخت و ، هغه وخت کې ښځو ته خطر مخ نه و ، او اوس خو دفتنې او فساد وخت دی اوس که ښځه لوڅ مخ بهرته ووځي نو په لاره کې به يې وږي لېوان ښکار کړي نو اوس بايد ښځه مخ پټې و اوسي .

علامه قرضاوي وايي چې دا شبهه په څو دلايلوردوم .

١ _ د نبوت لومړنۍ زمانه که څه هم مثالي او نمونه يي زمانه وه او بشريت يې په پاکوالي او تقوا کې بېلګه نده ليدلې مګر بيا هم د بشر زمانه وه له بشر سره خواهشات او غوښتنې هم وې او کمزورۍ او خطاګانې هم ، په همدې خاطر دوی کې زنا کوونکي هم پيدا شوي دي داسې خلک هم وچې حدود پرې تطبيق شوي دي ، فساق او فجار هم پکې و ، داسې خلک هم په کې و چې په خپل ناوړه چلند سره يې ښځو ته زيان رساوه چې قران يې هم ګواه دی الله ج مؤمنو ښځو ته وايي چې جلبابونه را وځړوئ تر څو وپېژندل شئ چې دوی پاکې ښځې دي ( فلايوذين ) نو توقع ده چې تکليف به نه شي ورکول کېدلی.[٢٣٠]

(٢٣٠)احزاب : ٥٩ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

قران په دې شاهد دی چې هغه وخت کې هم فاسقان منافقين او وړي لېوان و [ لـئن لـم ينتـه المنـافقون والـذين فـى قلـوبهم مـرض والمرجفـون فـى المدينه ... ] (۲۳۱)

يعنې : (( سوګند دی چې کـه منـع نـه شـول منافقـان او هغـه کسـان چـې پـه زړونو کې يې رنځ دی ( د زنا اوبدکاريو ) او بدې اوازې اچوونکي په مدينه کې نو خامخا به مسلط کړو موږ تا پر دوی))

۲ ـ کله چې دا دلايـل صحـيح او صريح ثابت شول نو حکم يې هم عـام او دائمي دی او داسې دليل نشته دی چې دا فلانی حکم تريـوې يـا دوه پېړيـو پورې د تطبيق وړ دی ، او بيا دې پرې عمل نه کېږي او که داسې وشي نو شريعت به لنډ مهاله او يو ځانګړي وخت لپاره شي په داسې حال کې چې د شريعت ټول احکام دائمي او دقيامت تر ورځې د عمل وړ دي .

۳ ـ که دا دروازه خلاصه شي چې دا فلانـی حکـم مـوقتي او فلانـی دائمـي دی نـو شـريعت بـه مـو پـه خپـل لاس لـه منځـه وړی وي ځکـه سـخت دريځـه علماء به اسانوونکي احکام له منځه وړي .

او داسانې پلوي علماء به هغه احکام له منځه وړي چې نسبتاً سخت دي ، او دواړه ډلې به له خپل ميل سره سم په کې لاس وهنې کوي او رښـتيا خبره ده چې شريعت محکـوم نـه حـاکم دی، تـابع نـه متبـوع دی او پـه کـار ده چې احکـامو تـه يـې غـاړه کېښـودل شـي ، [ ولواتبـع الحق اهـواء هـم لفسـدت السموات والارض ومن فيهن ] (۲۳۳)

---

(۲۳۱)الاحزاب : ۲۰ .

(۲۳۳)الموء منون : ۷۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې : (( او كه چېرې حق د دوى په غوښتنو پسې تللى واى نو دځمكې او اسمان او په هغو كې دننه هر څه نظام به ګډوډ شوى و )) دكتور قرضاوي په النقاب للمراة كې ليكي چې : زه باوري يم چې د دواړو خواو د دلايلو له څېړلو وروسته جوته شوه چې د جمهورو دلايل پياوړي دي خو زه به له دې دلايلو سره ځينې نور دلايل هم يو ځاى كړم چې دې دلايلو ته لاقوت وركوي .

له صحيح او صريح نص څخه پرته تحريم او مكلفيت نشته دى د اصول فقهي قاعده ده چې اصل په چارو كې روا والى او د ذموبرائت ( خلاصى ) دى نو هېڅ لزوم او تكليف (( ديو كار په كولو كې مكلفيت )) نشته دى مګر دا كار به صحيح او صريح نص وكړي نو يو كار چې موږ حرام بولو معنى دا چې دا كار په صحيح او صريح نص سره حرام شوى دى چې بيا هېڅ ډول انعطاف او تساهل په كې روا ندى او صحابه و به د تحريم د كلمې په استعمال كې ډېر احتياط كاوه او هرڅ ته به يې حرام نه ويلې مګر كله به چې حرمت په صريح نص سره ثابت و نو كله چې دكوم كار دحرمت په اړه صحيح او صريح نص نه وي هغه كار روادى او د روا والي د دليل پوښتنه به يې نه كېږي او دمخ لوڅي او د ورغويو د لوڅولو د حرمت په هكله كوم صريح او صحيح دليل نه وينم كه الله ج غوښتل چې داكار حرام وګرځوي نو په صراحت سره به يې ويلي وو چې هېڅ ډول شک ته ځاى پاتې نه دى .

[ وقد فصل لكم ما حرم عليكم الاما ضررتم اليه ][۲۳۴]

---

(۲۳۴)الانعام : ۱۱۹ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې : (( په تحقيق سره واضح کړي دي الله ج تاسې ته هغه چې حرام کړي يې دي پر تاسې مګر هغه محرمات چې اړ کړ شوي يې، تاسې هغوی ته . ))

نو که موږ هم مباحات حرام وګرځوو بيا الله ج موږ ته هم هماغه وينا کوي چې له موږ مخکې هغه قوم ته يې کړې وه چې ځينې خواړه يې په خپله په ځان حرام ګرځولي وو (( قل ء الله اذن لکم ، ام علی الله تفترون ))[۲۳۵]

يعنې : (( و وايه ايا الله ج اجازه کړې ده تاسې ته بلکې په الله پورې تاسې دروغ تړئ ))

**۲ ـ د وخت له تغيرسره د فتوی تغير :**

فقهاء په دې متفق دي چې فتوی د رواج او حالاتو په تغير سره تغير خوري او زه په دې باور يم چې اوسنی وخت د دې غوښتنه کوي چې د ښځو په اړه دې د شريعت اسان اړخونه عملي شي په هغو اقوالو او ويناوو دې عمل وشي چې ښځې ته شخصيت ورکوي ځکه نن سبا ټول کافران د اسلام په ضد د ښځو د حقوقو او په اسلامي نړۍ کې د ښځو د بدحال حربه استعمالوي او بيا دا ناوړه وضعه اسلام ته منسوبوي او غواړي چې نړيوالو ته د اسلام تصوير خړپړ او په دی وخت کې د چلند نه وړ ښکاره کړي نو ځکه په دې باور يم چې په اختلافي نظرياتو کې دې هم په هغه نظر عمل وشي چې ښځو ته شخصيت ، درناوی او دهغوی حقوق ورکوي .

**۳ ـ عامه بلوی :**

---

(۲۳۵)يونس : **۵۹** .

(c) ketabton.com: The Digital Library

فقهاء او داصولو علماء وايي چې عامه بلوى هم د آسانۍ او تخفيف لامل ګرځي او په دې وخت کې عام نظر او عام عمل دا دى چې انجوني ، مدرسو ، ښوونځيو او پوهنځيو ته ولاړې شي ، کار وکړي ، بازارونو او روغتونو ته ولاړې شي او دپخوا په څېر په کور کې بندې ونه اوسي او داټول ښځه دې ته اړباسي چې مخ او ورغوى يې لوڅ وي ځکه چې معاملو ( راکړې ورکړې ، پېرلو او پلورلو ، افهام او تفهيم ) کې د مخ او ورغويو لوڅولو ته ضرورت دى .

**۴ _ تکليف او مشقت آساني غواړي :**

دا داصول فقهي قاعده ده چې سختي اساني غواړي د ورغويو او مخ پټول ښځوته خصوصاً په دې وخت کې تکليف ، سختي او زحمت دى او دا ټول هغه څه دي چې الله ج فرمايي چې په دين کې سختي او ستونزې نشته دى او د سختۍ په بدل کې د اسانۍ ، تخفيف او ترحم غوښتونکى دى .

[ وما جعل عليکم فى الدين من حرج ]. (۲۳۶)

يعنې : (( اونه يې دي ګرځولي په تاسې په دين کې هيڅ حرج مشقت )او ستونزې ))

[ يريد الله بکم اليسر ولا يريد بکم العسر] (۲۳۷)

يعنې : (( اراده لري الله ج په تاسو د اسانتيا او اراده لري په تاسو د سختۍ . ))

[ يريد الله ان يخفف عنکم و خلق الانسان ضعيفا] (۲۳۸)

---

(۲۳۶)الحج : ۷۸ .

(۲۳۷)البقره : ۱۸۵ .

(۲۳۸)النساء : ۲۸ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې : (( اراره لري الله ج د دی چې سپک کړي ( بار) له تاسې او پيدا کړی شوی دی انسان کمزوری . ))

رسول الله ص فرمايي : (( بعثت بحنيفية سمحة )) [٢٣٩]

يعنې : (( رالېږل شوی يم زه له هغه دين له باطل څخه حق ته مايل او اسان سره )) نو دا دين په عقيه کې حنيف او په احکامو کې د اسانۍ دين دی رسول ص څو څو ځايه په اسانۍ امر او له سختۍ او شدت څخه منع کوي او وايي چې خلکو ته زيری ورکوئ او له دين څخه يې تېښتې ته مه مجبوروئ )) [٢٤٠]

(( تاسو اسانوونکي لېږل شوي ياست نه سختئ کوونکي .)) [٢٤١]

او دا د اصول فقهي قاعده ده چې (( مشقت او سختي د اسانۍ غوښتنه کوي . ))

ځينې مهمې يادونې :

١ ـ ځينې علماء وايي چې ښکلې ښځې به نقاب اچوي او ورغوی به چاته نه ښکاره کوي او بدرنګه ښځه که مخ لوڅ کړي يا ورغوی څرګند کړي نو څه باک نشته دی د دوی په ځواب کې بايد وويل شي چې حسن او ښکلا هغه سمندر دی چې هېڅ ساحل نه لري هېڅوک تر او سه پردې ندي توانيدلي چې د حسن لپاره کوم خاص معيار ياحد وټاکي هرڅوک ځان ته بېل معيار او طبيعت لري او ښکلا هم يوه ذاتي او بخښل شوې پديده ده چې د انسان خپل اختيار او عمل په کې ډېر کم اغېز لري ډېر ځله يو انسان د يو چاپه

---

[٢٣٩] مسند احمد

[٢٤٠] دا حديث بخاري او امسلم روايت کړی دی .

[٢٤١] بخاري ،ترمذي ، نسايي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظر ښکلی وي خو دبل په نظر بیا هغه بدرنګه وي ، یو یې په مینه کې لېونی وي ، خوبل ته عادي انجلۍ وي ، د یو محیط ښکلاهم د بل محیط له ښکلا سره توپیر لري، دیو وخت ښکلې په بل وخت کې ښکلې نه ګڼل کېږي ، د ښکلا لپاره دلویدیځ معیار د ختیځ له معیار سره توپیر لري ، دښاریانو د خوښې ښکلا د اطراف د خلکو د خوښې له ښکلا سره یوه نه وي زموږ اکثره خلک سپین ګرد مخ ، اوږدې او غبرګې غبرګې زلفې ، غټې او نرګسي سترګې ، لنډه زنه ، د ناک په څېر غټه او جګه پوزه نرۍ نرۍ ګلابي شونډې ، هسکه غاړه ، تېره تېره بانه ، کږې کږې وریځې ، لکه سروه لوړه ونه ، نرۍ ملا ، د منې په څیر سره سره اننګي او دړلۍ په څیر سپین غاښونه خوښوي او دښکلا معیار یې بولي خود افریقې د خلکو لپاره په دې تول پوره انجلۍ ښکلې نده ، هغوی تور اوږد مخ په تور مخ کې توری غټې شونډې ، اوږده غاښونه ، ګنجی سر یا ګرګوتي ویښتان او غټه زنه د ښکلا معیار بولي ، د جنوبي افریقې مبارز جمهور رئیس نیلسن منډیلا له داسې معشوقې سره دمینې لپاره د جمهوري ریاست دمقام دپرېښودلو اعلان کوي چې یو افغان به یې دعکس په لیدلو هم ټکان وخوري ، قیس دتورې لیلی مینې مجنون (لیونی) کړ خود نورو لپاره لېلی عادي انجلۍ وه ،هسې خبره بل خوا لاړه هدف مو په دې کې وچې دښکلا لپاره به څوک معیار وټاکي چې دا فلانۍ انجلۍ ښکلې ده نوبايد چې مخ او ورغوی پټ کړي ، او دا بله بیا ښکلې نده که مخ او ورغوی یې لوڅ وي نو پروا نلري ؟؟ ځینې مولفین وایي چې که چېری کوم سړي د کومې ښځې دښکلا له لیدلو څخه خوند اخسته نو پهر ښځه لازم دي چې خپل مخ پټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي نو پوښتنه داده چې دا ښځه به څنګه پوهېږي چې د اسږی زماد ښکلا له لیدلو څخه خوند اخلي ؟د هغه له زړه او وجدان څخه دا څه خبره ده ؟

۲ ـ د مخ لوڅول دا معنی نه لري چې ښځه دې لس ډوله سرخي پوډر کریمونه ..... په مخ وتپي ، په ښو دې څو ډوله رنګ ومښي او دلاسونو لوڅول هم دا معنی نلري چې ښځه دی نوکان اوږده کړي ، او دنوکانو رنګ دې پرې ومښي ،ښځه باید درنه اوبا وقاره له کوره ووځي ، دابن عباس له وینا سره سم د کوم زینت ښکارول چې روا دي هغه سپک او کم زینت دی لکه رانجه ، نکریزې او ګوته .

۳ ـ دا خبره چې نقاب واجب نه دی په دی معنی نده چې ګویا نقاب روا نه دی او یا څوک دې نقاب نه اچوي موږ وایو چې دنقاب اچول ښه کار دی ، هره ښځه یې باید استعمال کړي ، ان که ښکلې وي ځان پېژني او پوهېږي چې دمخ لوڅول یې فتنې راولاړوي نو د داسې ښځې لپاره نقاب مستحب دی حیا داره ښځه د خدای ج هم خوښېږي او په ټولنه کې یې هم درناوی او عزت ډېروي ، موږ وایو چې نقاب فرض او واجب ندی چې په هرې ښځې یې اچول حتمي شي ، او د نورو واجباتو په څېر یې ښځه په اچولو مکلفه وګرځول شي خو که په خپله خوښه یې کوم څوک اچوي نو ثواب لري اوښه کار هم دی .

۴ ـ د مخ لوڅې او مخ ته د کتلو ترمنځ هېڅ تلازم نشته دی یعنې دا خبره د دې معنی نه ورکوي چې که دکومې ښځې مخ لوڅ وي نو نارینه ووته ورته کتل روا دي او حتمي دې ورته وګوري ځینې علماء داسې دي چې مخ لوڅول روا خوبیا بیا کتل ورته حرام بولي خو دوی هم لومړنی ناڅاپي نظر معاف بولي ، ځینې علماء هغې برخې ته چې لوڅول یې روادي کتل هم روا

(c) ketabton.com: The Digital Library

بولي خو له شهوت نه پرته او کله که شهوت پیدا شو نو کتل ورته حرام دي دا نو د هر سړي په خپل وجدان او نفس پورې ړه لري یوه بله د یادونې وړ خبره داده چې ځینې علماء چې دښځې لپاره په مخ پټولو دومره اصرار کوي او د اجتماعي مفاسدو ذریعه یې بولي ، نو ایا د ټولنې اصلاح او دځوانانو ښوونه او روزنه هم د دې ټولنیزو فسادونو دمخنیوي لپاره مهمه نسخه نه ده ؟ دوی چې په مخ پټولو او ستر او حجاب دومره ترکیز کوي آیا د ټولنې د اصلاح لپاره یې هم کوم عملي اقدام کړی دی ؟آیا د دې هڅو په لسمه برخه هڅه یې هم د ټولنې او د ځوانانو د ښوونې او روزنې او اصلاح لپاره کړېده ؟آیا کله یې په زړه کړې هم دا فکر پیدا شوی دی ؟ [ اللهم ارنا الحق حقاً و ارزقنا اتباعه و ارنا الباطل باطلاً و رزقنا اجتنابه . ] آمین

## محرمو ښځو ته کتل

دا هغه څوک دي چې په ده یې نکاح د تل لپاره حرامه ده که په نسب وي ، که په رضاع او که په مصاهرت ( خسر ګنۍ ) دخپل محرم پر وړاندې د ښځو د عورت په هکله فقهاء د نظر اختلاف لري :

امام شافعي رح وایي : د محرمو ښځو ټول بدن ته کتل روا دي ، مګر له نامه

لاندې او د زنګنونو څخه پورته برخې ته .ځینې علماء وایي چې : د محرمې ښځې د بدن هغومره برخې ته به ګورې چې د خوارئ او کار په وخت کې ښکاري لکه سر ، غاړه ، لاسونه ، څنګلې او پښې ترزنګنونو پورې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالکیان وایي : د محرمې غاړه ،سر څنګلې ، دقدم شاه ټولو ته کتل جایز دي او پنډۍ ، تیونه ، ګېډه ، او شاه ته کتل جایز ندي .[۲۴۲]
امام احمد بن حنبل رح وایي چې : د محرمې دبدن هغې برخې ته کتل جایز دي چې عادتاً ښکاري لکه : سر ، ورغوي ، قدمونه او هغه څه چې نه ښکاري کتل ورته ناجائز دي لکه سینه ، او نور[۲۴۳]
امام ابن حز وایي چې : د محرمو ښځو ټول بدن ته کتل جایز دي مګر فرج ( قبل) او د برته فقط.[۲۴۴]

## د ښځې محرم څوک دی ؟

په کومه دائره کې چې ښځه له خپل پوره ډول او سینګار سره اوسېدلای شي هغه کسان دادي : الله ج په دې هکله فرمایي :
[ ولایبدین زینتهن الالبعولتهن او اباء هن او اباء بعولتهن او ابناء هن او ابناء بعولتهن او اخوانهن او بنی اخوانهن اوبنی اخواتهن ، او نسائهن او ماملکت ایمانهن او التابعین غیر اولی لاربة من الرجال او الطفل الذی لم یظهرو اعلی عورات النساء ] [۲۴۵]
یعنې : (( او نه دې ښکاره کوي خپل سینګار مګر دخپل خاوند پر وړاندې یا دخپل پلار ، یا دخپل خاوند دپلار پر وړاندې یا دخپلو ځامنو یا د ځامنو د خاوندانو په وړاندې ، یا دخپلو ورونو ، یا دخپلو وریرونو ، یاد

---

(۲۴۲)الشرح الصغیر .
(۲۴۳)المغنی لابن قدامه
(۲۴۴) المحلی لابن حزم .
(۲۴۵)النور : ۳۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو خورينو ، ياد خپلو ښځو ، ياد خپلو لاسونو دمال ( وينځو مريانو) ياد خدمتګارانو ، هغه سړيو چې څه غرض نلري ، ( د ښځو خيال يې نه وي ) يا هغه هلكان چې دښځو په رازونو لانه پوهېږي . ))

ښځه چې دچا پر وړاندې په پوره ډول سينګار سره راوتلای شي او ټول بدن ورته ښكارولی شي او له هغه ځخه هر رنګ خوند اخستلای شي هغه يوازې د ښځې خپل خاوند دی .

د پلار په كلمه كې نبكه ، مشرنيكه .... همدا رنګه د مور پلار نيكه ټول شامل دي ، د مېره د پلار په جمله كې دمېړه نيكه ، دمېره د مور پلار ټول شامل دي ، په زامنو كې د زوی ، لور لمسيان ، كړوسيان ټول شامل دي د مېره زامن په دوی كې بنزيان ، پركتيان ټول شامل دي ، په آيت كې له ( خپلو ښځو )ځينې مراد مسلماني ښځې دي او دكفارو ښځو مخ كې سينګار ښكارول مناسب ندي .

همدا رايه د ابن كثير هم ده حضرت عمر رض ابوعبيده رض ته وليكل چې ما اورېدلي دي چې ځينې مسلماني ښځې له نامسلمانو ښځو سره حمام ته ځي پداسې حال كې چې كومه ښځه په الله ج او د اخرت په ورځ ايمان لري هغې ته روا ندي چې دهغې جسم باندې د خپل ملت له كسانو ځخه پرته دبل چارسترګې ولګيږي.[۲۴۶]

د سيد مودودي رح په ګډون بله ډله وايي چې : له دې ځخه مرادطبعي ښځې دي هغه د پېژندګلوئ ښځې ، له هغوی سره اړيكې لرونكې ښځې ، د هغوی په چارو كې لاسوهونكې ښځې ، كه هغه مسلمانې وي كه كافرې

---

(۲۴۶)ابن كثير ، بيهقي او ابن جرير طبري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي او هدف تری د هغوی ښځو وېستل دي چې پردئ وي ، ظاهري ښه یې د اشتباه وړ وي او د اخلاقو او تهذیب حال یې معلوم نه وي .

امام رازي وايي چې : له دې څخه مراد ټولې ښځې دي ، خو که آیت ته وګورو وینو چې هلته لفظ د ((خپلو ښځو)) رواړل شوی دی ، چې مراد ورځنۍ مسلمانې ښځې کېدلای شي او بس ځکه که کافره ښځه هرڅومره شريفه شي ، بیاهم د اعتبار وړ نه ده او مسلمانې ښځې هم هغه ښځې چې له هغوی سره یې اړیکې وي او په پرده کې ترې ورته ستونزې پیدا کېږي مراد دي او کومه ښځه چې په فسق او فجور کې مشهوره وي که څه هم مسلمانه وي له هغې څخه ستر لازم دی ، نو مطلب دا شو چې نا مسلمانې ښځې خو بالکل له دې حکم څخه ووتلې او په مسلمانو کې هم حیا لرونکې او پاک لمنې مراد دي .

رسول الله ص فرمايي : (( هېڅ ښځه دې د داسې ښځو په مخ کې خپله ښکلا نه ښکاروي ، چې بیا یې مېړه ته داسې ستايي ، چې ګويا مېړه یې همدا اوس ورته ګوري ))[247]

جمهور فقهاء وايي د مسلمانې د عورت حکم د کافرې پر وړاندې داسې دی، لکه د پردي سړي پر وړاندې د ښځې عورت.[248]

ابن عباس رض وايي : مسلمانې ښځې ته روا نه دي چې يهودي يا مسيحي ښځه یې وويني .

---

(۲۴۷)بخاري ، مسلم او رياض الصالحين

(۲۴۸)المغنی المحتاج .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سید محمد عابدین الحسیني لیکي : څرنګه چې د کافرې ښځې پروړاندې عورت پټول لازم دي ، همدا راز دفاسقې ، فاجرې ، بدکارې مسلمانې په وړاندې هم دعورت لوڅول حرام دي ، ځکه چې علت په کې ګډ دی .[249]
امام احمد بن حنبل رح وایي : دکافرې ښځې کتل مسلمانې ښځې ته داسې دي لکه د مسلمانې ښځې کتل بلې مسلمانې ته خوبیا هم دا بد ګڼي ، چې کافره ښځه دې د ولادت په وخت کې دمسلمانې قابله شي .[250]

د هغه دلایل دا دي ، چې دا هل کتابو ښځو به رسول الله ص کره تللې چې نه به ورځنې بیبیانو پرده کوله اونه به ورته رسول الله ص امر کاوه او داسې نور .
خو دا دلایل د جمهورو د دلایلو پر وړاندې نه شي تم کېدلی ، ځکه که درسول الله ص کور ته به اهل کتابې راتللې نو دا د دې مانا خو نه ورکوي ، چې هغوی دې لوڅې وې او دوی به ورته کتل ، او دا د مخ له لیدلو څخه ډېر دبل شي د لیدلو مانا نه لري ،او دحضرت اسماء رض په حدیث کې دمور سره د ترحم او نرمۍ اود نیک سلوک خبره ده او دبدن د پټوالي یا لوڅوالي په هکله په کې هېڅ نشته .

## د مسلمانو ښځو کتل یوه بلې ته :

[249] البریقه شرح الطریقه .
[250] المغنی ، سراج الوهاج ، بدائع الصنائع او البریقه شرح الطریقه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمهـور فقهـاء وايـي ، چـې مسـلماني ښـځې تـه روا دي ، چـې د خپلـې مسـلماني خور د بـدن هغـومره برخـې وګـوري څـومره چې يـو نارينـه بـل تـه کتلی شي ، ( د نامه لاندې تر زنګنونو پورې )[۲۵۱]

او د احنـافو معتمـد مـذهب هـم دادی ، خـو د امـام ابوحنيفـه رح څخـه يوبـل روايت هم شوی چې علماوو کمزوری ګڼلې دی ، هغـه دا چـې يـوه مسـلمانه ښځه دبلې مسلماني دبدن هغومره برخې ته کتلی شي ، څومره چې نارينـه د خپلو محرمو بدن ته کتلی شي.[۲۵۲]

ظاهريان وايي چې : مسلمانه ښځه دبلې مسلماني ښځې ټول بـدن تـه کتلـی شي ، مګر قبل او دبر ته .[۲۵۳]

جمهور فقهاء وايي دلته دفساد او فتنې وېره نشـته دی ، او نـه پـه مصـيبت کې د پېښېدلو خطرشته دی ، ځکه يـې بـدن تـه کتـل جائز دي او کلـه کـه دا وېره پيدا شي نو لکه چې لومړی مو وويل بيا ورته ستر پکار دی.[۲۵۴]

همدا رازد ولادت په وخت کې ، د بکـارت د معلومولـو پـه غـرض يـا دکـوم ټپ له کبله د فرج ته کتلی شي.[۲۵۵]

## هغه چې جنسي ميلان نه لري :

(۲۵۱)البدائع الصنائع او المغني .
(۲۵۲)الدرر المنتقي او البريقه شرح الطريقه .
(۲۵۳)المحلي .
(۲۵۴)البدائع الصنائع او سراج الوهاج
(۲۵۵)البدائع الصنائع او سراج الوهاج .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـه همـدې ایـت کـې د [ اولتـابعین غیـر اولـی لاربـة مـن الرجـال ] ( یـا خدمتګاران هغه سړیو چې څه غـرض نـه لـري ) جمله راغلې ده د دې ترجمه داسې ده هغه خلک کوم چې ماتحت وي ، د ښځې په لور میلان ونه لري .

حافظ ابن کثیر ( رح ) ورڅخه مراد مزدور ، نوکر ، تابعدار سړی کوم چې د ښځو سیالان نه وي ، ګړندی او تېز نه وي ساده وي ، دښځوپه لور شهواني مینه هم ونلري اخلي .

تفسیر ابن کثیر همداراز له دې څخه مـراد کم عقـل ، سـاده ، بې وزلـه ، نـا اهله لاس لاندې، محکوم سړي چې هېڅ شهوت یې په یاد نه وي اخلي .

امـام مـودودي ( رح ) وایـي چـې د شـهواني مینـې د نـه درلـودلـو دوه صـورته ممکن دي یو دا چې په هغوی کې له سره شهوت نه وي ، لکـه ډېر بـوډا ، یـا پیدایشي ایزک ( هجړا ) دوهم دا چې په هغو کې جنسي قـوت او دښـځو پـر لور طبعي میلان وي ولې د خپل محکومیت او لاس لاندې تـوب لـه امله دوی د کور له ښځو سره څه ډول شهواني اړیکې نشي ټینګولای نو څوک چې دا ورڅخه ستر نه کوي او خپـل سنګار ورتـه ښکاروي پکـار ده چې دا دوه صفتنه ولري. (۲۵۶)

خو کله چې خپله شهوت ونه لري مګر د ښځو د ښکلا ستاینه نورو تـه کـوي لـه هغـې څخـه ستر واجب دی پـه مدینـه منوره کـې یـو ایـزک اوسیده چې بیبیانو او نورو ښځو به ترې ستر نه کاوه او له هغوی سره ناستې پـاڅې تـه بـه یـې پرېښـوده یـوه ورځ کلـه چـې رسـول الله ( ص ) ام سـلمي ( رض ) کـره تشریف یوړو نو دهغې خبرې یې واورېدلې چې دعبدالله بـن امیـه سره یـې

(۲۵۶)پرده سیدابو لاعلی مودودي .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولې او ورته يې ويل : که صبا طايف فتح شي نو د غيلان ثقفي لور باديه هرومرو د ځان کره بيا يې د هغې د جسم او ښکلا ستاينه پيل کړله حتى د هغې دمخصوصو اندامونو ستاينه يې هم پيل کړله حضور (ص) د دې خبرې په اورېدلو ورته وفرمايل : دخداى (ج) دښمنه تا خو پر هغې سترګې ښخې کړې دي )) بيا يې امر وکړ چې له ده څخه ستر وکړئ او له دې وروسته دې دې کورته نه راځي ، بيا رسول الله (ص) هغه او نور ايزه کان له مدينې څخه وويستل .[٢٥٧]

اوبل هغه هلکان چې د ښځو په رازونو لانه پوهېږي يعني جنسي غريزې لاپکې ژوندى شوي نه وي دا له مراهقت څخه ښکته دوره ده لکه د نهو ، لسو يا دولسو کالو هلکان د دى نه د زيات عمر هلکان که څه هم نابالغه وي په هغوى کې جنسي غريزې را ژوندى کېدل پيل کېږي .

سيد محمد عابدين الحسيني ليکي : ماماګان ، او کاکا ګان يې ځکه ياد نه کړل چې د خپلو زامنو په مخ کې د دى ستاينه ونکړي چې فتنه او فساد را پيدا نشي مګر په ياد مو وي چې محرم کسان يواځې دا ندي چې په ايت کې ياد شول .

شېخ محمد الاباصبري د دې ايت په تفسير کې ليکي : نو ښځې ته روادي چې خپله ښکلا هغه دوستانو ته وښيي چې په ايت کې ياد شول او ټولو هغو دوستانو ته چې له هغه سره يې نکاح د تل لپاره حرامه ده لکه ، تره ماما ،زوم ، اولکه محارم د رضاعت له لامله ځکه چې رسول الله (ص) فرمايي : ( يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب )[٢٥٨]

---

(٢٥٧)متفق عليه ابوداود ، نسايي ، مسند احمد او مشکوة .

(٢٥٨)بخاري ، مسلم ، ابن ماجه او نصب الرايه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې : (( حراميږي د شيدو ( تي ) په واسطه هغه څوک چې حراميږي په نسب باندې ))

د همدې قول تائيد حسن بصري ، ابوبكر الجصاص ، او د احكام القران خاوند هم كړی دی.[۲۵۹]

رسول الله ( ص ) عايشې ( رض ) ته اجازه ورنكړله چې له خپل رضاعي تره څخه ستر وكړي .

د ابوالقعيس ورور افلح حضرت عايشې ( رض ) كره راغی او د ننوتلو اجازه يې وغوښتله نو څنګه چې د حجاب حكم راغلی و عايشه ( رض ) فكرمنه شوله چې څه وكړي خو اجازه يې ورنكړله هغه ځواب ورولېږه چې ته خو زما وربره يې تا زما د ورور ابوالقعيس د ښځې شيدې رودلي دي خو بيا هم حضرت عايشه ( رض ) فكر منه وه چې ايا دې رشته كې به هم ستر پرېښودلی شي ؟ په دې وخت كې رسول الله (ص ) خپله تشريف راووړ حضرت عايشې (رض) ورته مطلب څرګند كړ ، رسول الله ( ص) ورته وفرمايل چې : هغه ستا څنګ ته راتلای شي.[۲۶۰]

له كومو دوستانو سره چې دښځې ابدي حرمت نه وي ، لكه د تره او ترور زوی ، د خور خاوند له دوی سره بايد څه چلند وشي ؟

په دې هكله كه رانقل شويو رواياتو ته كره كتنه وشي ، د مسئلې بڼه هماغه راوځي ، څنګه چې سيد مودودي وايي : دا دوستان نه د محرمو كسانو په ليكه كې دي ، چې ستر ورځنې ونه شي او سينګار ورته

[۲۵۹]تفسير سوره النور شيخ الاباصيري .

[۲۶۰]صحاح السته او مسند احمد .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاره شي او نه دغیر محرموخپلوانو په جمله کې دي ، چې ښځه دې بالکل ورڅخه ستر وکړي .
د دغو حدودو ترمنځ خه چال چلند په کار دی د دې چلند اندازه په شریعت کې نه ده ټاکل شوې ، او د سړي د عمر او رشتې پورې توپیر لري .
د رسول الله (ص) خپله کړنلاره دا وه ، چې حضرت اسماء (رض) د رسول الله (ص) خښینه (د ښځې خور) وه د هغې او د رسول الله (ص) ترمنځ د ژوند تر پایه پورې د مخ او لاسونو تر حده کومه پرده نه وه.(۲۶۱)
همدا رنګه ام هاني (رض) چې د ابوطالب لور (د رسول الله (ص) د تره لور) وه تر پایه پورې یې له رسول الله (ص) څخه مخ پټ نکړ.(۲۶۲)

## د ښځې کتل نارینه محرم ته :

اکثره علماء په دې اتفاق لري چې ښځه د خپل نارینه محرم له عورت څخه پرته نور ټول بدن ته کتلی شي محرم که په هر ډول وي خو چې د شهوت وېره نه وي ، څه چې کتل ورته روا دي مسه کول او لاس وروړل هم ورته روا دي.(۲۶۳)
او دبل چا د وینځې د بدن هغومره برخې ته کتلی شي لکه چې څوک د خپلې محرمې بدن ته کتلی شي او محمد بن مقاتل وایي چې د نامه لاندې تر

---

(۲۶۱) ابو داود ، جلد :۱ .

(۲۶۲) ابوداود ، جلد :۱ .

(۲۶۳) البدائع الصنائع ، حاشیه ابن عابدین ، درالمختار او نهایه المحتاج .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګنونو پورې برخې ته يې کتلی نشي نورټول بدن ته يې کتلی شي ځکه وينځې کار او خدمت کوي او خپله پرده ساتلې نشي.[263]

## د زړې ښځې په هکله :

په چا چې ډېر عمر تېر شوی وي او دهغې جنسي غوښتنې مړې وي احناف وايي : له داسې ښځو سره مصافحه او مخ ته کتل دواړه روا دي خو چې دې ښځې ته هم اشتها رانشي او د شهوت امن وي الله (ج) فرمايي : [ و القواعد من النساء التی لایرجون نکاحا فلیس علیهن جناح ان یضعن ثیابهن ]

[264]يعنې : او هغه چې ناستې وي په کورونو کې ستاسو د هغو ښځو څخه چې اميد يې نه وي پاتې شوی د نکاح په دوی څه ګناه نشته چې وباسي خپلې جامې ))

رسول الله (ص) به چې له ښځو سره بيعت کاوه نو له زړو ښځو سره به يې په لاس بيعت کاوه .[265]

حضرت ابوبکر صديق (رض) به ځينو قبيلو ته چې ده پکې تی رودلی وو ورته او زړو ښحو ته به يې لاس ورکاوه.[266]

يوی زړې ښحې به د عبدالله بن زبير (رض) سر او پښې زور کولې.[267]

---

(263)مختصر القدوري .

(264)النور : ۶۰ .

(265)الفتاوي الهنديه .

(266)فتح القدير ، المبسوط او البريقه شرح الطريقه .

(267)المبسوط او البريقه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بل دا چې پردې ښځې ته لاس وروړل یا کتل چې منع دی نو دفتنې اوفساد له وېرې او دلته خو دا وېره نشته ده څنګه چې له دې ښځو سره مصافحه روا ده همدا راز خلوت هم ورسره روا دی .

## د عورت لوڅول په یوازېتوب کې :

کله چې انسان یوازې وي او که عورت لوڅ کړي نو د بل لخوا د هغه دلیدلو خطره نه وي نو پدغسې حالت کې د عورت د پټولو حکم څه دی ؟

مالکیان وایي : د سخت عورت ( دبر اوقبل او دهغی شاه وخوا ) پټول په تنهایي کې له ملایکو څخه د حیا له امله مستحب او بې ضرورته لوڅول یې مکروه دي.[۲۶۸]

احناف او شافعیان وایي : په یوازېتوب کې د عورت پټول واجب دي مګر د ضرورت په وخت کې لکه غسل کول ، حاجت ته تلل ، استنجا کول.[۲۶۹]

له رسول الله (ص) څخه پوښتنه وشوه : ( فاذا کان احدنا خالیا ؟) یعنې : (( کله چې یو له موږ څخه په یوازېتوب کې و اوسو ؟ رسول الله (ص) ځواب ورکړ : (( الله احق ان یستحیا منه )) یعنې : الله (ج) ډیر وړ دی چې حیا ترې وشي.[۲۷۰]

او دهمدې حدیث مخکې برخې کې د عورت پټول عام یاد شول پټ انسان د الله ( ج ) سره په ادب کې وي او لوڅ د ادب تارک وي حضرت عبدالله بن عمر (رض) فرمایي : (( ځان وساتئ له لوڅوالي څخه ځکه له تاسو سره هغه

---

[۲۶۸] بدایة المجتهد .

[۲۶۹] المجموع او مغنی المحتاج .

[۲۷۰] ابو داود ، ترمذي ، ابن ماجه او مشکوة .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک دی ځوک چې نه جدا کېږي له تاسې نه مګر دحاجت په وخت کې او کله چې انسان ښځې ته نژدې کېږي له هغوی څخه حیا وکړئ او دهغوی عزت وساتئ ))[۲۷۱]

دا حدیث په یوازېتوب کې د عورت په پټولو دلیل دی ځکه چې ملایکې له انسان ځینې نه جدا کېږي مګرپه دوه حالاتو کې ، ځینې علماء وایي : چې دعورت لوڅول په یوازېتوب کې مکروه دي ځینې وایي مباح دي ، مګر سیي خبره داده چې د عورت پټول په هر حال واجب دي ، ځکه دا محال نده چې د ده پام نه وي او نه بل څوک خبر وي او ناڅاپه ورشي او ويې ګوري او یا داسې حالت پرې راشي چې بیا به ځان هم پټولې نشي لکه بیهوښي یا څه بله حادثه او خپل عورت ته کتل هم له ادب ځینې لرې کار دی حضرت عثمان ( رض) په دې ویاړي چې هېڅکله یې هم خپل عورت ته نه دي کتلي نو پکار دی چې خپل عورت په هرحال پټ وساتو او له ډېر احتیاط ځینې کار واخلو .

## خلوت له پردیو سره :

د محرمو خپلوانو په نشتوالی کې نورو خلکو ته که څه هم خپلوان وي له یوې ښځې سره په تنهایئ کې لیدنه ، کتنه او کښېناستل منع دي الله (ج ) فرمایي : [ و اذا سالتموهن متاعا فاسئلو هن من وراء حجاب ذلكم اطهر لقلوبكم وقلوبهن ] [۲۷۲]

---

[۲۷۱] الدرایه ، ترمذي او مشکوة .

[۲۷۲] الاحزاب : ۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې : (( او کله چې غواړې له ښيبيانو څخه څه دکار څيز ، نو غواړئ يې د پردې شاته پدې کې ښه پاکي ده ، ستاسو زړونو ته او دهغوی زړونو ته .))

دلته الله (ج) مسلمانانو ته لارښوونه کوي چې کـه لـه ښيبيانو څخه څه غواړئ او يا څه ضرور خبره ورسره کوئ نو د پردې ترشاه ورسره ارتباط ونيسئ او له هغې سره مخامخ کېږئ مه او همدا د پاکۍ ښه لاره هم ده .

ابـن عبـاس (رض) روايـت کـوي چـې رسـول الله (ص) فرمـايي : (( لا يخلـون احدکم بامراة الا مع ذی محرم ))[٢٧٣]

يعنې : (( ندې پوازې کېږي يو ستاسو هم له ښځو سره مګر دښځې د محرم په شتوالي کې . ))

همدارنګـه حضرت جابر (رض) روايـت کـوي چـې رسـول الله (ص) فرمـايي :

(( من کان يؤ من بالله واليـوم الاخر فلا يخلون بـامراة لـيس معهـا ذو محرم منها فان ثالثها الشيطان )).[٢٧٤]

يعنې : (( څوک چې په الله (ج) او د اخرت پر ورځ ايمان لري هغه هېڅکله لـه يوې ښځې سره نـه يـوازې کـېږي تـر څو چې دښځې محرم نـه وي ځکـه چې دريم په دوی کې شيطان دی . ))

د رسول الله (ص) خپل چلند داسې : و چې يو ځل د شپې لـه حضرت صفيې (رض) سـره د هغـې د کـور خواتـه روان و پـه لاره کـې دوه تنـه انصـار پـرمخ ورغلل حضـور (ص) هغـوی ودرول او ورتـه يـې وفرمايـل چـې : زمـا ملګـرې زمـا مېـرمن صـفيه (رض) ده هغـوی عـرض وکـړ چـې يـا رسـول الله (ص) ايـا ستاسو په حق کې هم بدګوماني کېدلای شي ؟ هغـوی (ص) ځـواب ورکـړ

---

[٢٧٣] متفق عليه .

[٢٧٤] مسند احمد .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې شیطان په انسان کې د وینې په څیر ګرځي ، زه اندېښمن شوم چې ستاسو په زړونو کې بد ګوماني پیدا نکړي ))
ابوداود .

عقبه ابن عامر (رض) روایت کوي چې رسول الله (ص) فرمایي : (( ایاکم والدخول علی النساء فقال رجل من الانصار ، افرایت الحمو قال : الحمو الموت . )) (۲۷۵)

یعنې : (( ځان وساتی له تنهایئ نه له پردیو ښځو سره له انصارو څخه یو سړي وویل : د لېور ( یا دمېړه نور دوستان لکه وراره د تره زوی ...) په هکله مو خبر کړه ، هغه (ص) ځواب ورکړ چې لېور د ښځو لپاره مرګ دی . ))

نو له دې روایاتو څخه څرګندېږي چې هېچاته روا ندي که څه هم دښځې نژدې دوست وي چې د محرم په نشتوالي کې له ښځې سره کښېني ، پاڅي او که ضرورت وي نو د پردې ترشا دې ورسره وغږېږي .

## په یوه بستره کې یو ځای کېدل :

په یوه بستره کې ویده کېدل د دوه داسې کسانو لپاره چې جنسي غریزې پکې را ژوندی شوې وي شرعاً روا نه دي ځکه چې له هرچا سره شیطان ملګری دی که څه هم دی په ځان باور لري مګر بیا هم د شیطان دسیسې پیاوړې دي .

ټول علماء په دې متفق دي چې کوچنی کله لس کلنۍ ته ورسېږي باید بستره یې بېله شي د دوه سړیو یو ځای ویده کېدل ، د دوه ښځو ، د یوې

(۲۷۵) بخاري ، مسلم ، ترمذي ، احمد او مسند .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځې او دیو سړي یو ځای ویده کېدل بې له کوم شرعي سبب څخه لکه ښځه او خاوند یا له خپلې وینځې سره ) حرام دی که څه هم هغه یې مور او پلار وي .

حضرت ابوسعید الخدري (رض) روایت کوي چې رسول الله (ص) فرمایي :
(( هېڅ سړی دې دبل سړي عورت ته نه ګوري او هېڅ ښځه دې دبلې ښځې عورت ته نه ګوري او نه دې هېڅ سړی له بل سړي سره په یوه بستره کې یوځای څملي او نه دی هېڅ ښځه دبلې ښځې سره په یوه بستره کې څملي . ))[۲۷۶]

همدا راز فرمایي : (( اولاد ته په اوه کلنۍ کې پر لمانځه امر وکړئ او دلمانځه په نه کولو یې ووهئ کله چې لس کلن وي او بسترې یې بېلې کړه . )) [۲۷۷]

ځکه چې د انسان همیشنی بد ملګری ( شیطان ) له څو محدودو حالاتو پرته له انسان څخه نه جدا کېږي او په هر حال خپله دنده اجرا کول غواړي ، او په لوی خطر کې د انسان د واقع کېدلو ډېر ، امکانات راپیدا کېږي رسول الله (ص) فرمایي : (( فان ثالثهما الشیطان )) [۲۷۸]

یعنې : (( په دوی کې دریم شیطان دی )) همداراز فرمایي : (( شیطان په انسان کې د وینې په څیر ګرځي . ))[۲۷۹]

---

[۲۷۶] مسلم .
[۲۷۷] ابوداود مسند احمد او المستدرک للحاکم .
[۲۷۸] مسند احمد .
[۲۷۹] ابوداود .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په ټولنيز ژوند کې د ښځې او نارينه اختلاط :

ځينې وايي چې اسلام ښځو ته امر کوي چې له کور څخه ونه وزي او هماغه د ( ښځه يا په کور يا په ګور ) شعارونه زمزمه کوي حتى د عبادت او لمونځونو لپاره جومات ته د ښځو راتلل مکروه او حرام بولي او د خپلې دعوې لپاره دليل دفتنې وېره او دوخت فساد نيسي دوى وايي چې حضرت عايشه (رض) فرمايي چې : (( که رسول الله (ص) په هغه څه چې ښځو له رسول الله (ص) څخه را وروسته را وېستي دي پوه واى نو له جومات څخه به يې منع کړې واى . ))

خو د اسلامي شريعت د مصادرو په کتلو سره سړى ويلى شي چې د اسلام داېره دومره تنګه نده څومره چې دا ځينې خلک فکر کوي اسلام فطري دين دى او د بشري ټولنې ټولې طبعي اړتياوې په نظر کې لري په اسلامي نړۍ ليد کې د ښځو او نارينه و يو ځاى ژوند په خپل ذات کې منع نده حتى کله که د کومې سپېڅلې موخې او عالي مقصد لپاره وي نو دا ډول يو ځاى والى مطلوب دى د بر ځله ښځه اړه شي چې د زده کړې لپاره ، د يو نيک کار د تر سره کولو لپاره ، د خير ديو کار لپاره د امربالمعروف لپاره ، د جهاد لپاره ... له سړيو سره يو ځاى شي نو دا ډول يو ځاى والى مردود نه ، بلکې مطلوب دى .

اسلام د دى مخالف ندى چې د يو لوړ هدف او نېک کار ، يا د اړتيا په وخت کې ښځه او نارينه سره ووينې بلکې اسلام دفحشا ، فتنې او فساد

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخالف دی او کله که کومه ښځه پوهېږي چې بهرته وتل او له نارینه و سره یو ځای کېدل ، ملاقات او لیدنه یې له اړتیا پرته ده او هېڅ دیني او یا دنیوي ګټه ترې نه ترلاسه کېږي نو بیا ورته له نارینه وو سره یوځای کېدل او اختلاط منع ده ، د اسلام اصول دا دي چې د فرد او ټولنې ګټې محترمې شمېري خو افراط او تفریط دواړه محکوموي د اسلام یوه قاعده دا ده چې د اړتیا او ضرورت په وخت کې منع شوی کار روا کېږي او د هغه ځای لوښول هم روا دی چې په عادي حالاتو کې یې پټول فرض دي همدا رازکله که د فتنې او فسادوېره وه نو روا کار هم ناروا ګرځي یوه خبره ده چې که دا وېره ښځې ته پیدا کېدله او که نارینه ته خو وېره به حقیقي بنسټ ولري او خیالي ، موهومي او هوایي به نه وي وړاندې مو وویل چې اسلام ښځه ، د کور په څلورو دیوالونو کې نه ایساروي او هغه اړتیا او موخه په نظر کې نیسي د کوم لپاره چې ښځه له نارینه و سره ملاقات کوي او ورسره یو ځای کېږي.

له کور څخه د وتلو ګټې او تاوانونه دواړه څېړي او په هریوه کې چې ډېره ګټه وه هماغسې حکم کوي اسلام دنن ورځې غربي اختلاط او شرقي بې حیایي دواړه غندي او هر هغه څوک هم دغندلو وړ دي چې مسلمانانو ته دا ډول ازادي او اختلاط غواړي .

اوس یو ویشتمه پېړۍ ده کارونه ډېر شوي دي ، لګښتونه ډېر شوي دي ، ښځه مجبوره ده چې بهر ووځي کاروکړي ، زده کړه وکړي او په دې برخه کې به په حتمي ډول څه ناڅه له نارینه و سره اختلاط راځي له دې پرته ورته ژوند ستونزمن کار دی او داسې هم نده لکه ځینې خلک فکر کوي چې ښځه دشیطان جال یا وزر دی او یا دشیطان د لاس وسله یا ټول فساد

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی ښځې هم د نارینه په څېر عقل لري ، ضمیر لري ، وجدان لري ، نفس اللوامه او نفس المطمئنه لري ، د اسلام په صدر کې هم ښځې بندي یا په انزوا کې نه وي په غه وخت کې به ښځې جومات او جمعې ته راتللې دا داسې وخت وچې ښځو به له لنګ پرته پرتوګ هم نه پېژانده او نه به د نارینه و او ښځینه و ترمنځ څه دېوال ، لرګي ، ټوټه یا کومه بله پرده وه ښځې به ډېرې ډېرې جومات ته راتللې تر دې چې یوې ښځې د (ق) سورت د رسول الله (ص) له خولې څخه حفظ کړی و ، چې په لمانځه کې یې تر ډېر اوربدلی و د اخترونو په لمانځه ( د مسلمانانو په دې لوی جشن ) کې به یې ګډون کاوه ، له رسول الله (ص) څخه به یې زده کړه کوله له نارینه و سره یو ځای به د زده کړې غونډو ته راتللې ، تردې چې رسول (ص) ته به یې شکایت کاوه چې د زده کړو غونډو کې د دوی په پرتله نارینه ډېر وي او دوی ته وخت نه رسېږي نو باید چې ځانګړی وخت ورکړل شي چې رسول (ص) یې هم دا عرض په ورین تندي مني صحابیه و بیبیانو به له رسول (ص) څخه داسې پوښتنې کولې چې دنن ورځې ډېرې ښځې به یې زده کړه هم د ځان لپاره شرم و بولي ، په سیاست کې به یې هم ګډون کاوه او په جنګ او جګړه کې به یې هم ګډون کاوه د نارینه وو او ټپیانو خدمت به یې هم کاوه او د هغوی پرستاري هم .بي بي عایشې د احد په جګړه کې په داسې وخت کې ګډون وکړ چې د عمر دوهمه لسیزه یې وه په ټولنیز ژوند کې هم ښځو ونډه درلوده او دیوه داعي دنده هم ورسپارل شوې ده . 1 والمؤمنون

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولمؤمنـات بعضــهم او ليــاء بعــض يــاء مــرون بــالمعروف وينهــون عــن المنكر ][٢٨٠]

يعنـي : ((او سـړي مؤمنـان او ښـځې مؤمنـانې ځينـې د دوی د ځينـو نـورو دوستان دي حکم کوي دوی په نيکيو باندې او منع کوي له بد يو څخه . ))

حضرت عمر (رض) شفا بنت عبد الله په ښار محتسبه او نګرانه ټاکلې وه ،په تېرو شريعتونو کې هم ښځې پـه ټولينز ژونـد کـې پراخه ونډه درلـوده لـه نارينه و وسره يې اختلاط او ملاقات درلود او قران يې مـوږ تـه هـم حکايـت کوي .

قران کريم وايي چې حضرت موسی (ع) ځوانی پـه جوش کـې د شـيخ الکبيـر (چې ځيني يې شعيب (ع) بولي) له دوه پېغلو او ځوانـو لورګـانو سـره لـه تکليف او بنديز او دځه ګناه له وېرې پرته خبرې کوي او بيـا ورسـره مرسـته کوي ، اوبيا يې يوه خپل پلار ته سپارښتنه کوي چې د ده اجوره ورکړي .

ودې کتل شي القصص :٢٣_٢٢ . ايتونه

حضرت ذکريا (ع) له تکليف او دګناه له احساس پرتـه لـه حضرت مـريم (ع) سره خبرې کوي او پـه محـراب کـې د روزئ پوښـتنه تـرې کـوي ، او هغـه هـم دهرې پوښتنې ځواب ورکوي.[٢٨١]

همدا راز د سبا دملکې کيسـه هم قـران پـه تفصـيل سره بيـانوي چې دخپـل قوم مشران يې راټول کړل او د سليمان (ع) د ليـک د ځواب په هکله يې تـرې مشـوره وغوښـتنه ، هغـه لـه سـليمان (ع) سـره خبـرې هـم کـوي هغـه د يـوه

---

[٢٨٠] توبه : ٧١ .

[٢٨١]ال عمران : ٣٧ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مملکت مشره یا بادشاه وه او قران یې په استعداد او کفایت هم ګواه دی .[۲۸۲]

نو په دې ټولو یادو شویو مواردو کې د ښځه اړتیا پېښېږي چې ښځه او نارینه سره یوځای شي ، خلط ملط شي یو له بل سره ووینې ، خبرې وکړي او که څوک و وایي چې دا وروستني درې موارد تېر شریعتونه دي او په موږ یې اطاعت لازم ندی په ځواب کې یې باید وویل شي چې تېر شریعتونه زموږ د عبرت او زده کړې لپاره موږ ته بیان شوي دي او صحیح خبره داده چې ترڅو پورې زموږ شریعت په صراحت سره منسوخ کړي نه وي نو موږ ته هم شریعت دی . الله (ج) خپل رسول (ص) ته فرمايي : [ اولئک الذين هدی الله فبهدا هم اقتداه ] .[۲۸۳]

یعنې : (( دا هغه کسان دي چې الله (ج ) ورته هدایت کړی دی نو په طریقه د دوی اقتداء وکړه ))

دلته باید یو ځل بیا دې خبرې ته اشاره وشي چې د ښځو ازادي یا هغوی ته دضرورت په وخت کې له نارینه وو سره د اختلاط اجازه د دې معنا نه ورکوي چې د حیا ټول د یوالونه و نړول شي، هرډول قید دې پورته شي ، د هیچا مخه دې نه نیول کېږي دلته هدف د خیر ، یو له بل سره د مرستې ، ټولنیزې ګټې او ټولنیز پرمختګ دی .

او که څوک بهروځي نو بهرته د ښځو د وتلو هغه قوانین باید مراعات کړي چې اسلام ورته ټاکلي دي : لکه د شهوت او فتنې په وخت کې غض بصر د

---

[۲۸۲] النمل : ۴۲_۴۴ .

[۲۸۳] الانعام : ۱۰ .

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرعي او درنې جامې اغوستل چې بدن ترې ښکاره نشي په خبرو اترو کې په نرمي او ملاطفت نه کوي ، ناز او نخرې به نه کوي ، په تللو او حرکاتو کې به چاته تمایل نه کوي او اسلامي اداب به ساتي ، خوشبو او عطربه نه استعمالوي ، له پردیو سره له خلوت څخه به ځان ساتي ، په ملاقات کې به افراط ، او اسراف نه کوي او دضرورت او اړتیا په اندازه به له کوره بهر وځي .

## د ناروغتیا په وخت کې د ښځې او نارینه له خوا دیوبل پوښتنه :

اسلام یو ټولنیز دین دی او ټول مسلمانان نارینه او ښځینه یو دبل ورونه او خوېندې بولي ، اسلام مسلمانانو ته یوله بل سره په مینې ، محبت ، مرستې، همدردۍ او په غم او ښادۍ کې په ګډون سره امر کړی دی .

د ناروغ پوښتنه هم یوه له هغو ټولنیزو ادابو څخه ده چې اسلام یې مسلمانانو ته پر مراعاتولو ډېر تاکید کړی دی تر دې چې شریعت دا په یو مسلمان د بل مسلمان نارینه وي او که ښځه حق ګرځولی دی .

د ناروغ د پوښتنې په هکله ګڼ شمېر روایتونه راغلي دي ، د دې روایتونو پر اساس څرګندېږي چې په دې اړه خطاب نارینه اوښځو دواړو ته متوجه دی یعنې د ښځینه ناروغ په پوښتنه هم تاکید شوی دی او د نارینه ناروغ په پوښتنه هم ، نارینه وو ته هم دا خطاب متوجه دی او ښځینه وو ته هم .

رسول الله (ص) فرمایي : (( یو مسلمان پر بل مسلمان شپږ حقوق لري ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library

و پوښتل شول چې ای د خدای (ج) رسوله (ص) هغه کوم کوم دي ویې فرمایل: (( او کله چې ناروغ شو نو پوښتنه یې وکړه ))

(۱) (۱) مسلم ، ترمذي ، نسایي ، ابن ماجه .

(( اسیران خوشې کړئ ، مېلمستیا ته له بلونکو سره میلمستیا ته لاړ شئ ، وږي ته ډوډۍ ورکړئ ، او د ناروغ پوښتنه وکړئ ))[۲۸۴]

(( د ناروغ پوښتنه کوئ او جنازې ته ورځئ ، ځکه چې دا تاسو ته اخرت دریادوي )) ....بخاري ، احمد او جامع الصغیر .

قدسي حدیث دی چې (( الله (ج) د قیامت په ورځ فرمایي ای د ادم ځویه زه ناروغ وم او تا مې پوښتنه ونکړه ورته یې ووېل ای ربه څنګه مې ستا پوښتنه کړې وای پداسې حال کې چې ته پالونکی د مخلوقاتو وې. الله (ج) ورته وفرمایل ایا ته پوه نه وې چې زما فلانی بنده ناروغ شو خو تا یې پوښتنه ونکړه که د هغه پوښتنه دې کړې وای نو زه به دې ورسره موندلی وای ))[۲۸۵]

نو د ناروغ د پوښتنې فضیلت له دې روایاتو څخه ښه څرګند بږي ، تر دې چې رسول الله (ص) د یو یهودي ناروغ پوښتنه هم وکړه چې بیا یې ایمان راووړ .

دا خو هغه روایات دي چې ښځینه او نارینه وو دواړو ته متوجه دي د دې ترڅنګ داسې نور روایات هم شته دي چې څرګندوي د رسول الله (ص) په وخت کې ښځو د نارینه وو ناروغانو او نارینه وو دناروغو ښځو پوښتنه کړې ده .

---

[۲۸۴] بخاري ، مسند احمد .

[۲۸۵] مسلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

امـام بخـاري پـه خپـل صـحيح کـې د بـاب عيـادة النسـاء للرجال تـر عنـوان لاندې باب ځانګړی کړی دی. صحيح بخاري ليکي چې ام الدار داء (رض) د يو انصاري ناروغ پوښتنه وکړه .

بخـاري وايـي چـې حضـرت عايشـې (رض) د حضـرت بـلال (رض) د حـال پوښتنه وکړه او ورتـه يـې وويـل : (( يـا بـلا کيف تجدک )) يعنـې : ای بلالـه ځان دې څنګه مومې ))

کله چې کعب د مالک زوی د مرګ پر بستر پروت و نو د براء لـور ام مبشـر ورته راغله او ورته يې وويل (( ای د عبدالرحمن پلاره زما پـه زوی ( مبشـر) باندې سلام وايه )) .[۲۸۶]

نارينه وو هم پـه صدر اسلام کې د ډېرو ښځينه ناروغـانو پوښـتنه کړېده لکـه : رسول الله (ص) د زبيـر (رض) دلـور ، ضـباعې (رض) لخـوا ورغـی او ورته يې وفرمايل چې (( ښايي ته بـه د حج ارادہ لرې ؟)) هغـې (رض) ځـواب ورکړ ( پـه خدای سوګند چې ستا پرورانـدې ناروغـه پرته ده .))[۲۸۷]

جـابر بـن عبـد الله رض روايـت کـوي چـې رسـول الله ص د ام السـائب يـا ام امسيب خواته ورغی او ورتـه يـې وفرمايـل چـې ام السـائب ولـې رپېږې؟ هغې ځواب ورکړ چې تبه مې ده خدای دې پکې برکت نه اچوي.[۲۸۸]

ام علا وايي چې زه ناروغه وم او رسول الله ص زما پوښتنه وکړه.[۲۸۹]

---

[۲۸۶] ابن ماجه او مسند احمد .

[۲۸۷] متفق عليه

[۲۸۸] مسلم

[۲۸۹] ابوداود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابي امامه وايي چې دمدينې له اوسېدونکيو څخه يوه ښځه ناروغه وه او رسول الله ص بهترين هغه څوك وو چې دناروغانو پوښتنه به يې كوله .[۲۹۰]
په بخاري كې وايي چې كله حضرت عايشه رض د مرگ پر بستره پرته وه نو ابن عباس ترې اجازه وغوښته او ورغى اوترې يې وپوښتل ځان دې څنگه مومې ؟.هغې ځواب وركړ پخيرسره كه تقوا ولرم ،هغه ورته وويل چې انشاء الله ته په خير سره يې ځكه چې ته درسول الله ص مېرمن يې او له تا څخه پرته له بلې پيغلې سره رسول الله واده ندى كړى او ستا عذر (پاكي )له اسمان څخه راغلې ده .[۲۹۱]
نوښكاري چې په اسلام كې د ښځو له خوا د نارينه و ناروغانو او د نارينه و لخوا د ښځينه ناروغانو پوښتنه يواځې داچې كوم بنديز نشته دى بلكه په دې اړه يې د ډېرو اجرونو وعده هم وركړې ده او په ځانگړي ډول كه ناروغ داقاربو او دوستانو له ډلې څخه وي نو بيا خو دصله رحمۍ موضوع هم ورسره يوځاى شي او پر دې كار تاكيد هم ډېر شي يو ه د يادونې وړ خبره بله داده چې كله څوك په روغتيا كې له چا سره ناسته ولاړه او مراوده ولري نو په ناروغۍ كې خويې حتماً بايد د روغتيا او صحت پوښتنه وكړي ځكه چې هغه په دې وخت كې ډېر اړ او محتاج وي ، ډېر شفقت اوخدمت ته اړه لري.

## له ښځو سره په لاس سترې مه شي :

---

[۲۹۰] نسايي

[۲۹۱] بخاري كتاب التفسير .

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ښځو سره په ستړي مه شي کې د لاس په ورکولو کې فقهاء بېلابېل نظريات لري ، ځينې علماء له محرمو پرته له هرچا سره د ښځو په لاس ستړي مه شي ، يا هسې لاس ورکول نا روا بولي ، ځينې نور بيا په دې اړه تفصيل کوي او د بېلابېلو صورتونو لپاره بېلابېل حکم کوي ، نو ښه به وي چې د دې موضوع له څېړنې څخه وړاندې هغه صورتونو ته ګوته ونيسو ، چې دفقهاوو تر منځ پرې اختلاف نه شته او په پوره اتفاق يې منلي دي .

۱ ـ که چېرې د سړي او ښځې مصافحه د شهوت د راپارولو يا دجنسي لذت لامل کېږي او يا نارينه او يا ښځه پوهېږي ، چې له مصافحې څخه يو خوا يا دواړه خواوو ته فتنه راولاړېږي،نو په دې صورت کې د ښځې او نارينه مصافحه يا په لاس ستړي مه شي روا نه ده ، ځکه دا دفساد لامل کېږي او دهرې هغې لارې بندول واجب دي کومه چې فساد خوا ته غزېدلې وي ترديې چې علماء وايي خپل محرم ته لاس ورکول او يا له خپل محرم سره خلوت مباح او روا دي ، خو کله چې دفتنې وېره او ياد شهوت د خوځښت لامل شي ، نو همدا مباح کار هم حرامېږي .

۲ ـ له هغې زړې ښځې او کوچنۍ نجلۍ سره چې اشتها ورته نه راځي ، او دفتنې وېره نه وي ، مصافحه روا ده ، همدا راز که لاس ورکوونکی نارينه ، بوډا او سپين ږيری وي ، او د اشتها او شهوت اور په کې نه وي ، نو د ده لپاره هم له ځوانو او زړو ښځو سره مصافحه روا ده .

په رواياتو کې راځي چې ابوبکر صديق (رض) به له زړو ښځو سره په لاس ستړي مه شي کوله ، او عبدالله ابن زبير (رض) يوې زړې ښځې ته اجوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوله ، چې په ناروغۍ کې به يې د ده پالنه کوله او سربه يې ورته چاپي کاوه .

همدا راز الله (ج) هم زړو ښځو ته د ځينو هغو جامو له اغوستلو څخه رخصت ورکړی دی ، هغه چې ځوانو ته يې دا رخصت نه دی ورکړی .

[ والقواعد من النساء اللاتي لايرجون نكاحا فليس عليهن جناح ان يضعن ثيابهن غير متبرجت بزينه ] . [(۲۹۲)]

يعنې او هغه زړې ناستې ښځې چې دواده تمه نلري په دوی هيڅ ګناه نشته چې خپلې جامې وباسي په داسې حال کې چې دخپلې ښکلا ښکاروونکې نه وي .

خوله پورتنيو صورتونو څخه پرته په نورو برخو کې فقها ء د نظر اختلاف لري او ددې لپاره چې حق ته نږدې مسئله روښانه شي ،نو لږه څېړنه په کې ضرورده .

هغه ډله چې د مخ او ورغويو په شمول د ښځې ټول بدن عورت بولي او له (ما ظهر منها )څخه مراد هغه جامې اخلي ،چې پټول يې ممکن نه وي ،لکه چادري ،پړونی ،جامې ياهغه چې دکومې طبعي پېښې له امله يې لکه سخت باداو باران پټول ناشوني وي ، نو حتمي ده چې د دوی په نزد له پرديو سره مصافحه روا نه ده ځکه د دوی په نظر خو لاس ته کتل هم حرام دي او مصافحه خو له کتلو لاسخته ده خو د علامه ډاکټر قرضاوي په وينا د دې نظر خاوندان ډېر کم دي او دصحابه او تابعينو او نور فقهاءو جمهور په دې نظر دي چې له ( ماظهر منها ) څخه مراد مخ او ورغوی دی .

(۲۹۲)النور : ۲۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه نو د لومړي نظر خاوندان د خپلې دعوې لپاره څه دلایل لري ؟ دلته هم زموږ د څېړنې لوی ماخذ د علامه قرضاوي لیکنه او نظر دی، ډاکټر قرضاوي وایي : رښتیا خبره داده چې ما د دوی د دعوې د ثبوت لپاره د دلایلو د موندلو ډېرکوښښ وکړ خو څه قانع کوونکي دلایل مې ونه موندل خو ډېر قوي دلیل چې دوی پرې استناد کوي ، هغه سدالذریعه یا دفتنې دلارې بندول دي او له شک پرته ویلی شوو چې دا ښه خبره ده ، خو کله چې د شهوت یا دفتنې د رامنځته کېدلو وېره او یا دفتنې نښې او نښانې وي ، خو کله چې د فتنې او شهوت د نشتوالي خبره باوري وي ، نو بیا به د تحریم لپاره څه دلیل وي ؟

ځینې علماء دا دلیل نیسي چې رسول الله (ص) د فتحې په ورځ له ښځو سره په خپل مشهور بیعت کې چې دممتحنه په سورت کې یې یادونه شوې ده له هېڅ یوې ښځې سره لاس نه دی ورکړی ، خو باید وویل شي چې د رسول الله (ص) له خوا د یو کارپرېښودل خو حتمي د هغه کار په حرمت دلیل کېدلی نه شي .رسول الله (ص) کله کله یو کار د دې لپار نه دی کړی چې هغه کار حرام وځینې وخت یې د دې لپاره چې هغه مکروه و ، ځینې وخت د دې لپاره چې هغه کار خلاف اولی ( دغوره والي خلاف ) و او ځینې وخت یې یوازې د دې لپاره پرېښی چې رغبت او تمایل یې ورته نه کېده لکه د شکوڼ د غوښې خوراک ، سره له دې چې ( د شوافعو په نزد )خوړل یې روا هم دي نو د بیعت په ورځ له ښځو سره مصافحه نه کول د مصافحې حرمت نه جوتوي ، سره له دې چې په دې بیعت کې د رسول الله (ص) ل خوا له ښځو سره مصافحه نه کول هم اتفاقي خبره نه ده له ام عطیې انصاریې (رض) څخه داسې روایت دی چې دبیعت په ورځ له ښځو سره د رسول الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ص) په مصافحې دلالت کوي او دا د عایشې (رض) له روایت سره مخالف دی ، چې لوړه کوي چې رسول الله (ص) په بیعت کې د هېچا لاس مسه کړی نه دی.[۲۹۳]

ام عطیه (رضي الله عنها) د بیعت په کیسه کې وایي چې : رسول الله (ص) خپل لاس د کوټې له بهر څخه را اوږد کړ و مونږ خپل لاسونه د کوټې له دننه څخه ور اوږده کړل ، بیا یې وفرمایل : (( اللهم اشهد )) یعنې : ای خدایه ته شاهد اوسه ))[۲۹۴]

په بخاري کې د حضرت عایشې په پورتني حدیث پسې متصل یوبل حدیث دی چې امام بخاري یې له ایوب او هغه یې له حفصې د سیرین له لور څخه او هغه یې له ام عطیې څخه روایت کوي ، وایي چې رسول الله (ص) زمونږ سره بیعت وکړ نو په مونږ یې دا ایت ولوست (( ان لانشرکن بالله شیاء )) یعنې دا چې له خدای (ج) سره به هېڅ شی شریک نه ګرځوو .

او مونږ یې منع کړو له نیاحت څخه ( پر مړي په لوړ اواز ژړا څخه ) خو داسې روایتونه هم شته چې څرګندوي چې رسول الله (ص) له ښځو سره په بیعت کې د مصافحې پرځای نورې لارې کارولي دي لکه په اوبو کې د لاس غوټه کول اوبیا په هماغو اوبو کې د صحابه و ښځو لاسونه غوټه کول .

حافظ ابن کثیر وایي چې دا بېلابېل روایات څرګندوي چې رسول الله (ص) په بېلابېل ډول بیعتونه کړي دي په ځینو کې یې لکه عایشه(رض) چې وایي د هیچا لاس نه دی مسه کړی ، ځینو سره یې د پردې ترشا

---

[۲۹۳] بخاري .

[۲۹۴] ابن حبان ، بزاز او طبري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصافحه کړې ده، له ځینو نورو سره په اوبو کې د لاسونو د غوټه کولو په صورت کې او له ځینو نورو سره په مخامخ لاس ورکولو او مصافحې سره او بخاري هم د عایشې روایت ته بېل عنوان او دام عطیې روایت ته بیل عنوان ټاکلی دی .

د پورتنیو روایتونو له نقل څخه هدف دادی ترڅو څرګنده شي چې په بیعت کې له ښځو سره د رسول الله (ص) لاس نه ورکول د علماوو اتفاقي خبره نه ده لکه څرنګه چې ځینې خلک فکرکوي .

ځینې علماء له ښځو سره د مصافحې په نه رواوالي هغه حدیث دلیل نیسي کوم چې طبراني او بیهقي له معقل ابن ایسار (رض) څخه روایت کوي (( که له تاسو څخه دیو تن سر د اوسپنې په ستن سوری شي دا ورته بهتره ده له دې څخه چې هغه ښځه مسه کړي (لاس وروړي ) چې ورته روا نه ده ))

خو پر دې حدیث د استدلال په هکله علامه قضاوي وایي چې :

۱ : دحدیثو امامانو د دې حدیث پر صحت تصریح نه ده کړې او یوازې د هیتمي او منذري دا وینا چې راویان یې ثقه یا صحیح دي کفایت نه کوي ځکه کېدلی شي چې په سند کې یې انقطاع او یاکوم بل علت وي او همدا لامل دی چې داحادیثو مشهورو کتابونو دلیل نه دی ګرځولی .

۲ : حنفي او مالکي فقهاء وایي چې له قطعي دلیل پرته چې هېڅ شبهه په کې نه وي په بل څه حرمت نه ثابتېږي لکه ایت ، متواتر او مشهور حدیث خو که دکوم حدیث په ثبوت کې شبهه وي لکه احاد احادیث نو له کراهت څخه لوړ حکم نه شي ټاکلی نو دهغه په باره کې موفکر څه دی چې حتی په صحت کې یې شک دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳ : که فرض کړو چې دا حدیث صحیح دی او حرمت هم ترې ثابتېږي خو بیا هم د مصافحت حرمت ترې نه ثابتېږي ځکه د (( یمس امراه لاتحل له )) جمله یوازې او یوازې (( له شهوت پرته یو له بل سره د پوستکو دلګېدلو په معنی نه ده لکه څنګه چې په عادي مصافحه یا سترې مه شي کې وي بلکې د لمس کلمه په قران او حدیث کې د دوه کارو لپاره استعمال شوې ده ))

۴ : دا له جنسي یوځای والي ( کوروالي ) څخه کنایه ده او مشهور صحابي حضرت ابن عباس هم همدا ترې معنی اخستې ده ، د دې ایت په تفسیر [ا ولا مستم النساء ][۲۹۵]

کې وایي لمس ، ملامسه او مس الفاظ چې قران کې راغلی دی دا د جماع کنایه ده .

نور هغه ایتونه هم چې لمس په کې راغلی دا مطلب ښه روښانه کوي لکه د مریمې (ع) پرژبه د الله (ج) دا وینا : [ انی یکون لی ولد ولم یمسسنی بشر][۲۹۶]

یعنې څنګه به ز وی پیدا کړم ، حال دا چې مسه کړې نه یم هېڅ بشر ( نه په نکاح نه په زنا سره ))

[ و ان طلقتمو هن من قبل ان تمسو هن ] ......البقره : ۲۳۷ .

یعنې : (( او که طلاقې کړلی تاسې دوی مخکې له دې چې مسه یې کړئ (جماع )ورسره وکړئ )) په حدیث کې هم راځي چې رسول الله (ص) به خپلو بیبیانو ته نږدې کېده خو مسیس نه یعنې جماع کوونکی نه .

---

[۲۹۵] النساء ۴۳

[۲۹۶] آل عمران : ۴۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا له جماع څخه ټيټه معنى هم ورکوي لکه مچکه اخېستل (ښکلول) غاړه ورکول ، لوڅوالى او داسې نور هغه څه چې د جماع لپاره مقدمات او دواعي بلل کېږي .

حاکم وايي : بخاري او مسلم د هغو متفرقو احاديثو په وېستلو (اخراج) اتفاق کړی دی چې په هغوی دليل نيول کېږي چې لمس له جماع څخه راښکته نور حرکات دي ))

د ابو هريره دا حديث : (( فاليد زناها اللمس)) يعنې لاس چې ده زنا يې لمس ده يا د ابن عباس دا حديث : (( لعلک مسست )) کېدلی شي چې

د حضرت عايشې دا حديث : (( داسې ورځ به کمه وه مګر دا چې رسول الله (ص) به په موږ ټولو (بيبيانو) ګرځېده نو ښکلولو به يې او مسه کولو به يې پرته له جماع څخه او هرکله به چې هغې بي بي ته ورغی چې د نوبت ورځ به يې وه نو له هماغې سره به پاتې شوه ))

عبدالله ابن مسعود د (لامستم النساء) په تفسير کې فرمايي : (( دا له جماع څخه کمه درجه دی او په دې کې اودس دی ))

حضرت عمر وايي مچکه اخستل (ښکلول) لمس دی نو له دی څخه اودس کوه )) [(۲۹۷)]

شيخ الاسلام وايي چې څوک چې لمس او مس يوازې د پوستکي يا په بدن د بدن لګولو ته وايي چې شهوت په کې نه وي نو وينا يې کمزورې ده .

نو کله چې د الله (ج) په دې وينا (( اولامستم النساء)) کې لمس څخه هدف لکه څنګه چې ابن عمر او نور وايي ښکلول او په شهوت لاس وروړل وي

---

(۲۹۷) المستدرک للحاکم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو جوتېږي چې په قران او سنت کې چې هر چېرې دا کلمه راشي نو مراد ترې په شهوت سره لمس دی لکه دالله (ج) دا وينا چې .

[ ولا تباشروهن وانتم عاکفون فی المساجد ] [٢٩٨]

يعنې : (( مه نژدې کېږئ ښځو ته (په جماع سره )حال دا چې تاسې معتکفان يې په مسجدو کې )) او دا خو ښکاره خبره ده چې اعتکاف کوونکي ته له شهوت پرته مباشرت روا دی او کوم مباشرت چې منع دی هغه خو له شهوت سره ملګری مباشرت دی .

[ لم طلقتموهن من قبل ان تمسوهن ] [٢٩٩]

يعنې : (( بيا طلاقې کړلې تاسې دوی مخکې له دې چې مسه يې کړئ ))

[لا جناح عليکم ان طلقتموهن مالم تمسوهن ] [٣٠٠]

يعنې : (( نشته هيڅ تکليف پر تاسې که طلاقې کړئ تاسې ښځې تر هغې چې صحيح خلوت موورسره نه وي کړی )) نو له شهوت څخه پرته د ښځې مسه کول خو نه پرې عدت اړوي ، نه مهر ثابتېږي او نه حرمت مصاهرت. او دا د ټولو علماو اتفاقي مسئله ده .

نو څوک چې د لمس او يا مس له کلمې څخه مراد تش د لاس د پوستکي يو په بل لګول اخلي چې شهوت په کې نه وي نو د قران او عام عرف له ژبې څخه ووت .

او کله چې د ښځې او نارينه د يوځای والي او لمس خبره راځي نو معلومېږي چې له دې څخه په شهوت سره مسه کول هدف دی له دې څېړنې

---

[٢٩٨] البقرة : ١٨٧ .

[٢٩٩] الاحزاب : ٤٩ .

[٣٠٠] البقره : ٢٣٢ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه هدف دادی چې په دې پوه شوو چې کله چې د سړي لخوا ښځې ته د لمس یا مس کلمه استعمالېږي نو هدف یې یوازې د پوستکي لګېدل نه وي، بلکې هدف ترې جماع وي او یا هم د کوروالې مقدمات لکه ښکلول ، یا داسې لاس وروړل چې خوند او مزه ورسره ملګرې وي .

د کتور یوسف قرضاوي زیاتوي : که چېرې رانقل شویو روایاتو ته وګورو نو داسې دلایل به وموموو چې په ډاګه ترې څرګندېږي چې د ښځې او نارینه د لاسونو تش په بل لګېدل او مسه کول چې د شهوت او فتنې وېره نه وي په خپل ذات کې منع نه دي ، بلکې رسول الله (ص) دا کار کړی هم دی او درسول الله (ص) فعل او کړنه شریعت دی ،بلکې ورپسې د اقتدی غوښتنه کوي .

[ لقد کان لکم فی رسول الله اسوة حسنه] [۳۰۱]

یعنې : (( خامخا په تحقیق سره شته تاسې لره په (کارد) رسول الله (ص) کې اقتدا غوره نېکه ))

بخاري په کتاب الاداب کې له حضرت انس بن مالک څخه روایت کوي چې وایي : که چېرې د مدینې د خلکو له وینځو څخه یوې وینځې د رسول الله (ص) لاس نیولی وای نو چېرته یې چې خوښه وه نو هلته به یې بېولې وای )) له انس (رض) څخه د امام احمد او ابن ماجه بل روایت دی چې (( که چېرې د مدینې د خلکو له وینځو څخه یوه وینځه وای او د رسول الله (ص) لاس یې نیولی وای نو خپل لاس به یې ترې تر هغې نه وخوشې کړی تر دې چې هغه ځای ته یې بیولی وای چېرې چې د دې وینځې خوښه وای ))

---

[۳۰۱] الاحزاب : ۲۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

حافظ په فتح الباري کې وايي چې د دې حديثونو مطلب دا دی چې رسول الله (ص) دومره حليم ، نرم او خاکساره و چې که يوې وينځې هم له لاسه نيولی وای او هرچېرې يې بېولی نو رسول الله (ص) به تري خپل لاس نه وخوشې کړی او ورسره به تللی و ))

د حديث ظاهري معنی د وينځې په لاس کې د رسول الله (ص) د لاس ورکول دي او په خبرو کې اصل دا دی چې له خبرې څخه ظاهره معنی واخېستل شي مګر دا چې يوه قرينه يا دليل پيدا شي چې له اصلي او ظاهري معنا څخه يې وګرځوي دکتور قرضاوي وايي : (( او زه داسې کومه قرينه يا دليل نه وينم . ))

همدا راز حضرت انس (رض) روايت کوي چې رسول الله (ص) د ده (انس) د خاله ام حرام په خوا کې دقيلولې خوب کاوه چې خپل سر يې د هغې غېږه کې ايښی و .....))

پورتنيو رواياتو ته په کتنې سره د انسان زړه په دې باوري کېږي چې فتنه او شهوت نه وي نو د اړتيا په وخت کې يوازې لمس کول حرام نه دي او کله چې د اختلاط لپاره لامل هم پيدا شي لکه درسول الله (ص) او د ام حرام او ام سليم ترمنځ چې موجود و ( ام سليم د رسول الله (ص) د خادم مور وه نو دمخدوم رسول (ص) او خادم او د هغه د کورنۍ ترمنځ تګ راتګ پخوانی عادت و او د ام سليم (رض) او ام حرام (رض) ورور حرام بن ملحان (رض) له رسول الله (ص) سره په بئرمعونه کې شهيد شوی و .)

علامه دکتورقرضاوي د خپلې خبرې په پای کې ليکي چې کله دفتنې او شهوت وېره نه وي نو دضرورت په وخت کې لاس ورکول پروا نه لري لکه له سفر څخه راستنېدلو په وخت کې ، يا کله چې له کوم نږدې خپل سره مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي که څه هم محرم يې نه وي لکه د خاله او ماما لورګانې ، د تره او ترور لورګانې ، د تره او ماما ښځې او يا داسې نور او په ځانګړي ډول کله چې ملاقات يا مخ کېدل له ډېره ځنډه وروسته وي .

يو ځل بيا دوه خبرو ته ګوته نيول ضرور بولم او هغه دا چې مصافحه په هغه وخت کې روا ده چې د شهوت او فتنې وېره نه وي خو که له يوې خوا هم د خوند ، شهوت يا فتنې وېره پيدا شوه نو له شک پرته مصافحه حرامه ده .

حتى که دا دوه شرطونه نه وي او د فساد وېره وي نو له خپلو محرمو ښځو سره هم مصافحه روا نده .

دوهم دا چې په مصافحه کې اقتصار يا لنډوالى په کار ده يعنې په کوم ځاى کې چې مصافحه روا ده هلته هم بايد ډېره ونه شي او د ضرورت تر حده محدوده شي دا به د فساد دلارې د بندولو لپاره هم ښه وي ، له شبهې به هم خلاص وي او د رسول الله (ص) په طريقې به عمل هم وشي ځکه له رسول الله (ص) څخه دا ثابته شوې نه ده چې هغه بې ضرورته پردۍ ښځې ته لاس ورکړى وي .

او ديندار مسلمانانو ته په کارده چې که ښځه وي او که نارينه چې مصافحې ته رومبى نه شي خو که ده ته لاس اوږد شو نو دى دې هم لاس ورکړي .

دا دموضوع پاى نه دى او نور اجتهاد هم په کې کېدلى شي .

## ښځې ته د کتلو مباح عذرونه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅ انسان ته روا ندي چې د خپلې منکوحې او وينځې له عورت څخه پرته دبلې ښځې عورت ته وګوري ، همدا رنګه دې دواړو ته هم روا ندي چې د بل سړي عورت ته وګوري الله (ج) فرمايي : [ والذين هم لفروجهم حفظون الاعلى ازواجهم او ماملكت ايمانهم فانهم غير ملومين ] (۳۰۲)

يعنې : (( او کوم کسان چې دخپلو شرمګاهو حفاظت کوي مګر له خپلو بيبيانو او يا له خپلو وينځوسره پس پدوی هېڅ الزام نشته . ))

خو کله کله داسې راشي چې انسان نا چاره شي چې خپل عورت بل چاته وښيي او په نه ښودلو کې يې ستونزې وي نو لکه چې و مو ويل اسلام يو رښتونی دين دی او ټولې انساني اړتياوې تر نظر لاندې نيسي او له خپل توان او قدرت څخه زيات تکليف چا ته نه ورکوي . : [لايكلف الله نفسا الاوسعها] (۳۰۳)

يعنې : (( الله (ج) تکليف نه ورکوي هېچا ته مګر څومره چې د هغه توان وي )) همدا راز فرمايي : [ وماجعل عليكم فى الدين من حرج ] (۳۰۴)

يعنې : (( ما ندی ګرځولی پر تاسو په دين کې کوم تکليف . ))

همدا راز فرمايي : [ يريدالله بكم اليسر ولا يريد بكم العسر ] (۳۰۵)

يعنې : (( الله تعالی تاسو ته اسانتياوې غواړي او تاسو ته سختي او تکليف نه غواړي . ))

---

(۳۰۲) المومنون : ۴_۵ .

(۳۰۳) البقره : ۲۸۲ .

(۳۰۴) الحج : ۷۸ .

(۳۰۵) البقرة : ۱۸۵ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو انسان ته اجازه ورکوي چې پر هغه د واقع اثر ده دفعې لپاره حتى خپل عورت هم بل ته وښيي او دا اصول فقهې يوه مشهوره قاعده ده چې (المعذورات تبيع المحظورات)

يعنې: عذرونه منع شوي شيان هم مباح ګرځوي.

نو پر هم دی اساس دعذر او ضرورت په وخت کې خپل عورت هم بل چا ته ښودلی شي حتى ځينې وخت د مخ لوڅول پرې حتمي شي لکه:

١. کله ښځه دکومې دعوې په اړه ، د قاضي پر وړاندې ولاړه وي نو مخ به يې هرو مرو لوڅ وي.

٢. کله چې خپله د قاضي پر وړاندې ګواهي ورکوي نو هم مخ به يې لوڅ وي.

٣. کله چې قاضي خپله پربکړه صاروي نو هم.[٣٠٦]

**۴**: د زېږولو په وخت کې دقابلې لپاره روا ده چې د ښځې فرج ته وګوري او که ښځه نه وي نو سپين ږيری او صالح سړی دې دا کار وکړي که سپين ږيری نه وي نو ځوان هم دا کار کولی شي او خپل خاوند تر هر چا غوره دی.

**۵**: د بکارت د معلومولو لپاره يوه ښځه د بلې عورت ته کتلی شي.

**۶**: د ختنې په وخت کې عورت ته کتل روا دي.

٧. داحتقان (کله چې دبره کې دوا اچوي)په دې وخت کې هم.

**٨**: نکاح ته د غوښتنې په غرض (په خطبه) کې د هغې مخ لاسونو او قدمو ته کتلی شي.[٣٠٧]

---

[٣٠٦] سراج اولوهاج.

[٣٠٧] بخاري مسلم ،فتح الكبير او بدايع الصنايع.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹. کله چې ځوك کومه وينځه اخيستل غواړي نو هم کتل ورته روادي.

۱۰. ډاکټر دناروغ دناروغتيا د تشخيص لپاره د هغې د ناروغۍ ځای ته کتلی شي او ښه داده چې د ښځې درمل ښځه وکړي اکه ښځه نه وي نو نارينه يې هم کولی شي پدې شرط چې دښځې محرم ورسره وي.[۳۰۸]
داسې نه لکه د اوس وخت ډاکټران چې ښځه ګوښه کوټې ته بوځي او دعمليات خانې په نوم نه محرم ورپرېږدي اونه بل ځوك او ښځه هم بې هوښه او ځوورځې له ځانه هم خبره نه وي.

۱۱. د تعلم (زده کړې) په وخت کې هم مخ او لاسونه او قدمونه کتلی شي.[۳۰۹]

۱۲: د معاملې په وخت کې لکه پېرل او پېرودل او د داسې نورو اړتياوو په وخت کې هم.[۳۱۰]

## دښځې غږ عورت نه دی:

ځينې خلك تاکيد کوي چې له نامحرمو نارينه وو سره دښځو لپاره غږېدل رواندي او د ښځې اواز هم عورت دی خو که د اسلام ټولنيز اړخ ته وګورو نو دا دعو ه ناسمه ښکاري ځکه اسلام يو اجتماعي دين دی او نارينه او ښځې دواړه ددې ټولنې مهم عنصر بولي، دوی د ژوند په اوږدو کې يو له بل سره خبرو او مفاهمې ته اړ کېږي او له يوبل سره چورلټه پرېکون (مقاطعه) ورته ممکنه نده او اسلام هم هر چېرې د انسان اړتياوې پوره په پام کې نيولې دي، دښځې داواز د حرمت د پلويانو د نظر په هکله د اسلام

[۳۰۸] سراج الوهاب او البريقه شرح الطريقه،
[۳۰۹] سراج الوهاج او مغني المحتاج
[۳۱۰] الانصاف او مغني لامحتاج.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستر معاصر علامه دکتور قرضاوي وايي چې موږ کله له دې ډلې څخه و پوښتل چې په کوم دليل د ښځو اواز عورت بولي ؟ نو هيڅ دليل ورسره نه وه چې د خپلې دعوې دثبوت لپاره يې وړاندې کړي .

د اسلام په صدر کې له هيچا سره حتی د افکر هم نه چې ګوندې د ښځو اواز دې عورت وي صحابه که هغه به نارينه وو او که ښځينه (رض) د اړتيا په وخت کې په ازادانه ډول يو له بل سره خبرې کولې ،له يو بل څخه به يې د ديني مسايل پوښتل او رسول الله (ص) يو تن هم له پردې ښځې سره له خبرو څخه منع نه کړ په دې هکله دلايل ډېر دي چې ځينې يې دلته هم رانقلوو.

کومې بيبيانې چې درسول الله (ص)په حرم يا په نکاح کې وې نو د نورو عامو مسلمانو بيبيانو په پرتله پر دوی په شرعي احکامو او په ځانګړي ډول د ستراو پردې په هکله يو څه سختي ډېره وه او پر دوی په دې اړه ډېر تاکيد شوی و حتی ځينې داسې مسايل هم ووچې دوی ته حرام او نورو ته روا و خوبيا هم الله (ج) مسلمانانو ته اجازه ورکړې وه چې د پردې ترشا ورسره وغږېږي او ترې غوښتنې او پوښتنې وکړي الله (ج) فرمايي : [ و اذا سالتموهن ماعاً فاسئلوهن من وراء حجاب ] [۳۱۱]

يعنې : (( او هرکله چې غواړئ له بيبيانو څخه کوم د کار څيز ، نو غواړي يې د پردی ترشاه .))

او حتمي ده چې سوال ځواب غواړي ځکه ډېر وخت به له دوی څخه فتواګانې غوښتل کېدلې نو مبارکو بيبيانو به حتماً ځواب ورکاوه او ډېرو

---

[۳۱۱] الاحزاب : ۵۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته به يې احاديث بيانول او د احاديثو روايت به يې كاوه .

ډېر وخت به ښځو دنورو صحابه وو پر وړاندې له رسول الله (ص) څخه مسايل پوښتل چې هېڅا هم په دې هكله د تنګسې احساس نه كاوه او نه خو رسول الله (ص) منع كړي دي .

په جامع مسجد كې يوې ښځې د حضرت عمر (رض) نظر رد كړ په داسې حال كې چې هلته ډېر صحابه ناست وو او حضرت عمر (رض) خطبه لوستله خو هېچا دا كار بد ونه باله حتى تائيد يې كړ او په خپله عمر فاروق (رض) هم وويل چې (عمر خطاشو او دا ښځه حق ته ورسېدله ) اوټول خلک له عمر (رض) نه پوه دي .))

په قران كريم د حضرت موسى (ع) او د شيخ كبير ( چې ځينې مفسرين يې حضرت شعيب (ع) بولي ) د ځوانو لوركانو په كيسه كې فرمايي چې له دې ځوانو پېغلو څخه يوې حضرت موسى ( ع) ته وويل (( ان ابى يدعوک ليجزيک اجر ما سقيت لنا)) (۳۱۲)

يعنې :بيشكه زما پلاربولي تا ددې لپاره چې دركړي تاته مزد د اوبوور كولو ستا زموږ (پسونوته .)

او موسى (ع) هم له هغوى څخه تر هغولومړى وپوښتل چې هغوى هم مفصلا او داړتيا تر حده ځواب وركړ .ماخطبكما ،قالتالا نسقى حتى يصدر الرعاء و ابو نا شيخ كبير . (۳۱۳)

---

(۳۱۲)ال قصص۲۵ .

(۳۱۳)القصص ۲۳



www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعنې : څه حال دی ستاسې ،وويل هغو چې مور خپلو (پسونو )ته تر هغې اوبه نه ورکوو تر څو داشپانه بېرته لاړشي اوزموږ پلار ډېر زوړ دی .
همدا راز په قران عظيم الشان د حضرت سليمان (ع) او د سبا د ملکې ( چې ځينې مفسرين يې بلقيس بولي ) ترمنځ د خبرو حکايت کوي دبلقيس او دهغې د قوم ترمنځ د شورى پوره جريان يې حکايت کړی دی چې په دې ټولو صورتونو کې له يوبل سره د ځوانو ښځو ( دځينو رواياتو له مخې حتی د نبي د لورګانو) دخبرو حکايت شوی دی او دفقهاء وو په اتفاق سره شرع ماقبلنا (پخواني شريعتونه ) ترڅو چې زموږ په شريعت کې څرګند منع شوي نه وي قانون دی .څه چې منع دي په خبر و کې نزاکت ،نرمي ،مسخرې او خوږوالی دی چې د نارينه وو په زړونو اغېزمن لوېږي او خوند ترې اخلي چې په قران کې ورته خضوع ويل شوی دی
[ فلا تخضعن بالقول فيطمع الذی فی قلبه مرض] [۳۱۴]
يعنې : (( نو نرمي او نزاکت په خبرو کې مه کوئ چې ناروغان تمه ونه کړي . ))
نو په خبرو کې نرمي او اداکاري منع ده ځکه چې شهواني ناروغان ترې هيلې او تمې پيدا کوي. ټولې خبرې منع نه دي او غټ دليل يې هم د همدې پورتني ايت وروستۍ برخه ده .
(( وقلن قولا معروفا ))
يعنې : (( او وايئ خبره معقوله )) [۳۱۵]

---

[۳۱۴] الاحزاب : ۳۲ .
[۳۱۵] الاحزاب : ۳۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د معاصري دورې يو ستر او مشهور عالم صالح بن فوزان چې سلفو د اصولو لاروى دى او دحجاب او پردې په هكله هم ډېر سخت دريځ لري خو دښځو د غړو او له نامحرمو سره د خبرو په هكله دى هم وايي چې كه د فتنې وېره نه وي او په خبرو كې نرمي او زړه راښكونكې لهجه ونه كارول شي او خبرو ته اړتيا پېښه شي نوله پرديو سړيو سره ښځو ته خبرې كول روا دي .[٣١٦]

## د نرمو او نازكو جامو استعمال :

داسې تنګو جامو استعمال چې له هغې څخه د بدن جوړښت او سكلېټ ښكاره شي ، بدن پورې نښتې وي او دبدن هر غړى بېل ورڅخه پېژندل كېږي ښځو ته روا ندي همدا راز نرمې او نازكې جامې چې ټول بدن ورڅخه ښكاره شي د نارينه وو لپاره هم روانه دي مګر دښځو لپاره دا حرمت سخت دى ، رسول الله (ص) د داسې جامو پر استعمالوونكيو لعنت ويلى دى :

(( لعن الله الكاسيات العاريات المميلات المائلات ))[٣١٧]

يعنې : (( لعنت د خداى (ج) دې پر داسې ښځو وي چې په پټوالي كې هم لوڅې وي چې د نورو ميل ځانته اړوي او خپله نورو ته ميل كوي .))

همدا راز فرمايي : (( د دوزخ له دوه ډلو څخه چې ما هېڅكله ليدلې نه دي يوه ډله هغه ده چې په پټوالي كې هم لوڅې وي او دنورو د زړونو ميلان

---

[٣١٦] المراة المسلمة ١ ټوك : ٣٢٥ مخ .

[٣١٧] مسلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانته را اړوي او خپله د نورو خواته ميل کوي هېڅکله به جنت ته داخلې نشي او نه به د جنت بوی هم ومومي که څه هم د جنت بوی په دومره او دومره مسافه کې موندل کېږي)) [۳۱۸]

حضرت عايشه (رضي الله عنها) روايت کوي چې يوه ورځ د هغې خور اسماء (رضي الله عنها) د حضور (ص) خواته راغلله او هغې نرۍ جامې اغوستې وې رسول الله (ص)د هغې په ليدو مخ وګرځاوه او ويې فرمايل :
(( ای اسماء کله چې ښځه بلوغ ته ورسېږي نو روانده چې د هغې د جسم کومه برخه ښکاره شي پرته له مخ او لاسو څخه .)) [۳۱۹]

همدا راز حضرت جرير (رض) له حضرت عايشې (رضي الله عنها) څخه روايت کوي چې د هغې د مېرنۍ وررور عبدالله ابن طفيل لور حضرت عايشې (رضي الله عنها) ته راغلله رسول (ص) چې کورته تشريف راووړ او هغه يې وليدله نو مخ يې واړاوه حضرت عايشې (رضي الله عنها) عرض وکړ چې يا رسول الله (ص) دا زما وربېره ده هغوی (ص) وفرمايل کله چې ښځه بالغه شي نو روانده چې ښکاره شي ورڅخه مګر مخ او لاسونه))
نو کوم خلک چې ښځو ته نرمې نازکې جامې ميني ژوب ، مايو او تنګ پطلون ور اغوندي او بيا د مسلمانۍ دعوه هم کوي حقيقت دا دی چې دا ښاغلی له اسلام څخه لېری او ناخبره دي .

## د ښځو لپاره سينګار اندازه :

[۳۱۸] مسلم .
[۳۱۹] ابوداود .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام ښځو ته نه یوازې دا چې د سینګار کولو اجازه ورکړې ده بلکې دې کار ته یې تشویق هم کړی دی الله (ج) پاک او پاکیزه انسان خوښوي فرمايي : [قل من حرم زينة الله التى اخرج لعباده ] [320]
یعنې : (( و وایه چا حرام کړیدي الله (ج) ښکلا او سینګار هغه چې خپلو بندګانو ته یې پیدا کړیدی . ))
رسول الله (ص) به خوشبویې خوښوله او په دې اړه یې امر هم کړی دی .
ښځه باید د خاوند د پام د راښکون لپاره ټول کوښښونه وکړي له اسلام څخه وړاندې عربو هم د سینګار عادت درلود چې هغوی به حتی افراط کاوه خو اسلام هغوی له افراط څینې منع کړل ،سینګار او زینت کې باید اسلامي حدود مراعات شي او له افراط او مبالغې څینې باید د ځان ساتنه وشي ځینې ښځې د خپلې ښکلا ( DECORATION ) زیاتوالي لپاره خپل وزن کموي ،خپل بدن نرم او نازک کړي سپورتونه کوي ، د خپل ځان دجوړولو لپاره د ارایش او میک اپ د کانونو ته ځي د ارایشګر په مخ کې ډېرساعت شیشې ته مخامخ ناسته وي او په تورو زلفو اوښکلي مخ یې ورته ګوتې وهي تردې چې اخر د دواړو د صبر درجه له صفر څخه منفي ته راټیټه شي نو په دوی الله (ج) له قهر او غضب څخه پرته نورڅه دي ؟
داسې دودونه په عربو کې هم وولکه د وېښتانو سره د نورو ویښتانو یو ځای کول ، د غاښونو سوان کول ، د مالوچو په واسطه د مخ پاکول د وروځو وېستل او په مصنوعي توګه دهغوی جوړول ، په ستنو خالونه وهل ، مخ ته مصنوعي رنګونه ورکول ، د غاښونو په منځ کې ګردسوري جوړول

---

[320] الاعراف : ۳۲ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دا هرڅه اسلام حرام وګرځول او اوس خو طب ثابته کړېده چې دا پوډر او مصنوعي کریمونه د انسان روغتیااو پوستکي ته زیان رسوي او د دې لپاره چې دښځو مخ دځو دقیقو لپاره ښکلی وښايي د تل لپاره ورته غونجې پيدا کوي .

## د ښکلا ملکه :

خدای (ج) ادم (ع) او دهغه اولاده د ځو ورځو لپاره دنیا ته راولیږل او لارښوونه یې ورته وکړله چې په دې لار ځه او پدی لار مه ځه ، دا حق دی او داباطل دا تکلیف دی او دا راحت ، هغوی یې دخپل عبادت او پیژندنې لپاره پیدا کړل . [ وماخلقت الجن والانس الالیعبدون ] [٣٢١]

یعنې : (( ما ندي پیدا کړي انسانان او پیریان مګر دبنده ګئ او عبادت لپاره ))

او ځوټاکلې په شمېر ورځې وخت یې ورکړ چې ښه یې وکړل ښه به مومي او که بد یې وکړل ، دبدو جزا به ګوري نو دانسان له پیدا ینښت څخه هدف د الله (ج) بندګي او ستایل دي نور د دنیا ټول موجودات الله (ج) د انسان دخدمت لپاره پیدا کړل ترڅو دژوند غوښتنې پرې پوره کړي ، او د الله(ج) بندګي په ښه ډول وکړلی شي .

دلته که نارینه ته له ښځې او یا ښځې ته له نارینه ځ څخه فایده او خوند اخېستل روا شوي دي دا خپل ذات کې مهم مقصود نه ، بلکې غرض ته درسېدو یوه وسیله ده خو له بده مرغه چې ځینو خلکو دخپل ژوند اصلي

---

[٣٢١] الذاريات : ٥٦ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هدف او دخپل پیدا ایښت اصلي مقصد هېر کړی دی او په بلې خوا روان دي هغوی د ژوند څو ورځې خوند خپل وروستی هدف وګرځاوه او خپل ټول کوښښونه یې د مادیاتو د ترلاسه راوړلو لپاره په کار واچول ، د شهواتو په جذبه کې داسې راګیر شول چې خپل ځان ورځنې هېرشو ځینو ښځو د خپل ژوند اصلي هدف ښایست او ښکلا وګرځوله او دا یې وانګېرله چې هرڅنګه وي باید انسان ښایسته او ښکلې و اوسي .
په همدې فکر کې ډوب شول ،سوچ او اندېښنې ورسره ملګرې شوې په ځانګړي ډول له هغو ښځو سره چې دښکلا د شهرت پیریان یې د خپل ځان د ارامۍ ، سوکالۍ ، سکون او اطمینان ځینې ډک ژوند په سوچ ، فکر ، غم او اندېښنو بدل کړ ، چې ډېر په کې لېوني او په عصبي ناروغیو اخته شول ،خدای (ج) چې انسان ته کومه ښه ورکړېده هماغه غوره ښکلا ده ، هغه یې لکه د نورو ژویو په څلورو پښو ، ښکرور ، او لکۍ لرونکي ندی پیدا کړی په دنیا کې ټول مخلوقاتو ته ښه کره کتنه وکړئ بیا د انسان بڼې ته وګورئ نو خپله به دا الله (ج) د دې وینا مننه د زړه له کومې وکړئ چې فرمایي : [ لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم ][322]

یعنې : (( یقینا موږ پیدا کړی انسان په ښه اندازه سره )) نن په نړۍ کې بې شماره نر او ښځې دا غواړي چې دهغوی بدن دې له هغې پیمانې څخه چې ښایست پېژندونکیو د ښایست لپاره ټاکلې یوه ذره هم کم او ډېرنه وي ،په غیر اسلامي هېوادو کې خو که دا کار دود وي نو څه د ګیلې خبره نده

---

[322] التین : ۴ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګیلې او تشویش وړ خبر خو داده چې په اسلامي هېوادو کې اوس دا ناروغي ګډه شوې ده او له ټولو غټه د افسوس وړ خبره دا ده چې په افغانستان کې یو لوی مشهور تش په نامه ورحاني چې بې شمېره مریدان یې هم درلودل دې کار او په داسې پروګرامونو کې د ګډون د جواز فتوی ورکړېده چې هلته د ټول بدن غړي حتی مخصوص غړي هم اندازه کېږي.

له اسلامي هېوادو ځینې د لویو لویو کورنیو (څوک چې ځان اشراف او معززین ګڼي) لونې لوېدیځ ته ځي او د ښکلا په نړیوالو مسابقو کې ګډون کوي.

دوی د خپلې کورنۍ زیاته پانګه پخپل زېب او زینت لګوي تردې چې ډېرې کورنۍ د دې لګښت د پوره کولو توان نه لري په دوی کې دا جذبه دې حدته ورسېده چې خپل سرونه هم له خپل ښایست او ښکلا قربانوي.

سید مودودي د داسې ډېرو سرشارو نمونو یادونه کړې ده مثلاً: په ۱۹۳۷م کال کې د جوسی لاباس مشهورې ایکټرې (فلمي کارکوونکې) د زړه حرکت بند شو او مړه شوه له څېړنو څخه وروسته په ډاګه شوله چې دې قصداً په ځان نهرې تېرولې او داسې درمل به یې خوړل چې وجود یې نرې کړي.))

ماګدا برسیلي چې په ټول هنګري کې په خپلې ښکلا مشهوره وه د نازک بدنۍ د شوق ښکار شوله.

د یوې سندرغاړې لویسازابو وجود د ښکلا پر معیاربرابرنه و او لدې سره تل دا اندېښنه ملګرې وه تر دې چې د تماشه کوونکیو په وړاندې په ستېج را پرېوته او مړه شوه دې خپل وزن په دوه میاشتو کې ۲۰ پونډه کم کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایمولانومي یو اداکارۍ په مصنوعي تدبیر سره خپل ځان دومره کمزوری او نازک کړی وچې : عصبي ناروغي ورته پیدا شوه او دښکلا د ملکې د نوم پرځای یې لیونتون ( پاګل خانه) په برخه شوله. دې کار د ډېرو هېوادو په اقتصاد سخته ناوړه اغېزه وکړه .په انګلستان کې ښځې په خپل ډول او سینګار دکال شل میلیونه پونډه لګښت کوي او په امریکا کې دا لګښت یوسلو او پنځه ویشت میلیونو ته رسېږي او په سلو کې نوي ( ۹۰% ) ښځې د سینګار عادت لري .[۳۲۳]

## د ښځو لپاره د سرو زرو او ورېښمو استعمال :

اسلام ښځو ته اجازه کړېده چې دخپلې ښکلا لپاره هر روا څیز استعمال کړي ، زر او ورېښم د نارینه وو دښکلا لپاره حرام خو ښځو ته روا دي .
د رسول الله (ص) له وخت راهیسې تر دې ورځې پورې ټول فقهاء په دې متفق دي مګر یوازې شیخ محدث محمد ناصرالدین الباني دی چې د سرو زرو استعمال حتی دښځو لپاره هم روانه ګڼي .....اداب الزفاف فی السنة المطهرة ، محمد ناصر الدین الباني .
مګر سیي خبره داده چې د سرو زرو او ورېښمو استعمال د نارینه وو لپاره حرام او د ښځو لپاره روا دی پدې خبره ډېر دلایل ثبوت شته مثلاً :
ـ له ابو موسی اشعری (رض) څخه روایت دی چې رسول الله (ص) فرمایي :
(( حل الذهب و الحریر لاناث امتی و حرم علی ذکورها)) [۳۲۴]

---

[۳۲۳] پرده :سیدابوالاعلی مودودي
[۳۲۴] النسایي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

یعنې : (( حلال دی د سرو زرو او وریښمو استعمال زما د امت ښځو ته او حرام دي نارینه وته یې .))

ـ حضرت عایشه (رضي الله عنها) فرمایي : چې رسول الله (ص) ته نجاشي څه ګانې ډالۍ کې ورولېږله او په هغې کې یوه د سرو زرو ګوته وه رسول الله (ص) هغه خپلې لمسۍ (دلور لور) ته ورکړله او ورته یې وفرمایل : (په دې د ځان ښکلا برابره کړه). (۳۲۵)

ـ حضرت علي (رض) فرمایي : (رسول الله (ص) وریښم په ښي لاس او زر په کینړ لاس کې ونیول او ویې فرمایل : (دا دواړه زما د امت نارینه و وته حرام او ښځو ته حلال دي) (۳۲۶)

ـ حضرت عبدالله بن عمر (رض) وایي یوه ورځ رسول الله (ص) بهر راووت چې په لاس کې یې دوریښمو کپړه وه او په بل لاس کې یې سره زر و او ویې فرمایل : (( دا دواړه زما د امت په نارینه وو حرام او ښځو ته حلال دي )) (۳۲۷)

اوداسې نور ګڼ روایتونه شته چې ښځو ته د وریښمو او سرو زرو د استعمال جواز او نارینه وو ته یې حرمت ثابتوي .

## د نارینه او ښځو یو پر بل د سلام حکم:

د سلام په هکله چې څه شرعي حکمونه دي ، هغه د نارینه او ښځو دواړو لپاره دي او په دې اړه د ښځې او نارینه توپیر نه دی شوی لکه څنګه چې

(۳۲۵) فتح الباري .

(۳۲۶) ابوداود ، ابن ماجه ،النسایي او مسند احمد .

(۳۲۷) الطبراني .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور شرعي احکام نارینه او ښځینه دواړو ته مخ دي ، خو هغه احکام چې په یو خاص دلیل سره یې استثنا جوته وي الله (ج) نارینه او ښځو دواړو ته خطاب کوي .
(واذا حییتم بتحیة فحیو ا بآحسن منها او ردو ها).[۳۲۸]
یعنې : (( او څوک چې په درناوي سره تاسې ته سلام واچوي نو هغه ته له هغې نه په ښه توګه ځواب ورکړئ یا لږ ترلږه په هماغه ډول .))
نو د پورتني ایت د غوښتني پر اساس که چېرې یو مسلمان نارینه پر پردۍ ښځه یا کو مه ښځه پر پردي نارینه سلام واچوي ،نو د سلام ځواب ویل پرې واجب دي ،په کار خوداده چې د هغه یا د هغې له الفاظو څخه په ښو او نېکو الفاظو یې ځواب کړي ، که نه لږ تر لږه د سلام ویونکي د الفاظو ، په څېر خو به هرو مرو ځواب ورکوي .
رسول الله (ص) فرمایي : (( والذی نفسي بیده لن تدخلوا الجنة حتی تؤمنوا ولن تؤمنوا حتی تحابوا الا ادلکم علی شئ ان فعلتموه تحابتم ؟ افشوا السلام بینکم .)) [۳۲۹]
یعنې : (( په هغه ذات سوګند چې زما نفس یې په واک کې دی ، هېڅکله به جنت ته دننه نه شئ ، ترڅو چې ایمان راوړئ او تر هغې به مومنان نه شئ تر څو په خپلو کې مینه ونه کړئ ، آیا زه تاسې ته داسې شی در ونه ښییم چې که ومو کړ ، نو یو له بل سره به مومینه پیدا شي ؟ هغه مو په خپلو منځونو کې سلام اچول دي .))
ډېر نور احادیث شته چې په کې طعام ( خوړو) ورکولو ، عاطفې او صله

[۳۲۸] النساء۸۶
[۳۲۹] مسلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمي او تهجد ته انسان تشويق شوی دی او له دې پرته په صدر د اسلام کې داسې ډېرې بېلګې شته دي چې ښکاره وي چې په هغه وخت کې ښځو نارينه وو او نارينه وو ښځو ته سلام اچاوه لکه :

د رسول الله (ص) د تره لور ام هاني وايي : د فتحې په کال د رسول الله (ص) خواته ورغللم خو هغه مې د غسل کولو په حال کې وموند او د هغه (ص) لور فاطمې هغې ته پرده جوړه کړې وه نو ما ورته سلام واچاوه ، هغه (ص) وويل : دا څوک ده ؟ نو ما ورته وويل زه ام هاني د ابوطالب لور يم نو ويې فرمايل : ستړې مه شې ای ام هاني )) .

بايد وويل شي چې ام هانئ د رسول الله (ص) محرمه نه وه. امام بخاري د ښځو او نارينه وو پر يوبل د سلام د اچولو په اړه په خپل تصنيف ( بخاري شريف ) کې د ( باب تسليم الرجل على النساء والنساء على الرجال ) ترعنوان لاندې يو مستقل باب ليکلی دی چې دا دوه حديثه په کې دي او دواړه د دا ډول سلام پر روا والي دلالت کوي .

١_ حضرت سهل (رض) وايي مونږ سره څه زړې ښځې وې چې .... نو کله به مو چې د جمعې لمونځ وکړ نو را وبه ګرځېدو او په دوی به مو سلام واچاوه ، نو دوی به ( دا خواړه مونږ) ته راوړاندې کړل .

٢_ د عايشې (رض) حديث دی ، هغه وايي چې رسول الله (ص) راته وفرمايل چې (( ای عايشې ؟ دا جبريل دی او په تا سلام وايي ما وويل وعليکم السلام ورحمة الله .))

دکتور قرضاوي د دې اعتراض په ځواب کې چې جبريل خو انسان نه ، بلکې پرښته ده وايي چې جبريل به ډېرځله د سړي په شکل ښکاره کېده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت اسماء د یزید لور روایت کوي چې رسول الله (ص) زموږ ښځو پر یوې ډلې تېر شو اوموږ ته یې سلام واچاوه.[۳۳۰]
امام احمد په خپل مسند کې وایي چې ترمذي هم داروایت حسن ګڼلی دی چې : (( کله چې سعد ابن معاذ یمن ته لاړ نو د خولان یوه ښځه چې زامن یې ورسره وو او .... نو پاڅېده او معاذ ته یې سلام واچاوه . ))
حضرت عمر فاروق (رض) د ځینو مېرمنو څنګ ته ورغی او سلام یې ورته واچاوه او ویې ویل : زه تاسو ته د خدای (ج) د رسول الله (ص) استازی (رسول) یم ....))
حافظ ابوبکر ابن ابی شیبه په خپل تصنیف کې پر ښځو د صحابه وود سلام په هکله احادیث رانقلوي، چې یو په کې د اسماء پورتنی حدیث دی او بل هغه حدیث چې امام احمد په خپل مسند ، هیتمي په مجتمع الزوائد او طبراني هم له جریر نه روایت کړی دی (( رسول الله (ص) د ښځو پر یوې ډلې تېر شو او سلام یې ورته واچاوه )) مجاهد روایت کوي چې ابن عمر (رض) د یوې ښځې په څنګ کې تېر شو ، نو دې ښځې ته یې سلام واچاوه ، همدا راز لیکي حضرت عمر (رض) په یوې ډلې ښځو تېر شو او ښځو ته یې سلام واچاوه .
ابن عون وایي چې محمد ابن سیرین ته مې وویل چې ایا پرښځو سلام واچوم؟ هغه راته وویل چې : (( فکر کوم پروا نه لري .))
عبیدالله وایي چې عمرو ابن میمون به ښځو او کوچنیانو ته سلام اچاوه .

[۳۳۰] ابوداود باب الاداب، ترمذي باب الاستیذان ، ابن ماجه باب الادب ، دارمي باب فی السلام علی النساء .

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمرو بن عثمان وايي چې ما موسی بن طلحه ولید چې پر یوې ډلې ناستو ښځو تېر شو او دوی ته یې سلام واچاوه، حکم وایي چې شریح به هر چاته سلام اچاوه ما ورته وویل ښځو ته هم ؟ هغه وویل هرچاته .

نو پورتني دلایل په ډاګه څرګندوي ، چې د ښځو او نارینه وو یوبل ته سلام اچول روا دي او پدې هکله ډېر زیات تشدد او سختي د شریعت له روح سره سمون نه خوري او په صحابه وو، تابعینو او فقهاوو کې به هېڅوک هم داسې پیدا نه شي ، چې په مطلق ډول نارینه ووته د ښځو یا ښځو ته د نارینه وو له خوا سلام ناروا او یابیخي حرام وبولي لکه څنګه چې د نن زمانې ځینې خلک فکر کوي .

خو ډېر عالمان دا کار دفتنې په شتوالي او نه شتوالي پورې اړوند بولي ، یعنې که چېرې سلام ویونکی او سلام اخستونکی ، له فتنې څخه په امن وي ، نو سلام روا او که نه نو چپوالی غوره دی .

مهلب او حلیمي وایي چې : که چېرې څوک باوري وي او دشهوت او فتنې وېره نه وي نو دښځو او په ښځو دسلام کول روا دي او که نه نو جایز نه دي .

د کوفې فقهاء چې لوی امام او د مذهبونو پیشوا امام ابو حنیفه (رح) او ملګري یې هم په کې شامل دي ، وایي چې ښځې به له خپل محرم نه پرته نورو نارینه وو ته په سلام کې لومړۍ وړاندې کېږي نه .

د پورتنیو اقوالو ډېره برخه د فتاوي المراة المسلمة څخه رانقل شوې ده .

امام مالک وایي چې د فساد د لارې د مخنیوي لپاره دې د ځوانې او زړې ښحو تر منځ توپیر وي ، یعنې په ځوانې ښځې او ځوان سړي دې د سړي او ښځې له خوا سلام نه اچول کېږي او په زوړ باندې روا دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینې بیا وایي چې له ځوانې سره ښکلا او ښایست هم ضرور دی ، یعنې که ځوانه نجلۍ بدرنګه هم وي سلام ورته روا دی .

ابن عیینه له ابي ذر څخه روایت کوي چې وایي : ما له عطا څخه په ښځو د سلام په هکله وپوښتل هغه راته وویل چې که ښځه ځوانه وي نو نه .

دکتور قرضاوي وایي چې د ښځو او نارینه وو یوبل ته د سلام منع کوونکي غټ دلیل دفتنې شتوالی ښیي چې باید هر مسلمان ترې ځان وساتي خو دا د هرچاخپل وجدان او ضمیر پورې اړه لري او که اسلامي مصادرو ته وګورو نو وینو چې ډېر صحابه ، تابعین ، فقهاء او امامان په دې اړه څه باک نه ویني اویوبل مخ ته د دواړو جنسونو له خوا سلام روا دی او په ځانګړي ډول کله چې مخامخ کېدل د کومې اړتیا له مخې وي لکه ډاکټر ته ورتلل ، په زده کړه کې ، او یا د دوی ترمنځ څه دوستي او صله وي ، او یا استاد په ټولګي کې زده کوونکیو ته یا زده کوونکي استاد ته سلام اچوي ، دا ټول روا دي .

دا سې نه چې انجونې او هلکان دې په لارو او کوڅو کې یوبل ته مخ کېږي چې نه ورسره پېژني ، نه یې محرم وي ، نه دخبرو لپاره څه ربښتوني اړتیا وي او دوی دې یوبل ته سلامونه اچوي او یا دې په لیکنو کې دعشقي خبرو او سلامونو ډالۍ ورلېږي .

## ښځه په سفر کې :

اسلام ټولې هغه لارې بندول غواړي کومې چې دفساد خوا ته تللې دي ، او یا ترې دفساد خطر وي ، نو له همدې کبله نه غواړي ، چې ښځه دې په تنها

(c) ketabton.com: The Digital Library

صورت له خپل محرم څخه پرته سفر ته ووزي هغه خو يې له منع نه کړله ، خو له دې څخه يې هرومرو منع کړله چې هغه دې تنها يا له پرديو سره په مودو مودو کور ځيني بهر وخت تېروي .

رسول الله (ص) فرمايي : ((لايحل لامراة تؤمن بالله واليوم الاخر تسافر مسيرة يوم وليلة الامع ذي محرم عليها))[٣٣١]

يعني : (( نه دي روا هېڅ ښځو ته چې په الله (ج) او د اخرت پر ورځ ايمان لري چې د يوې شپې او ورځې په مسافه کې سفروکړي ، خو له خپل محرم سره .))

همداراز فرمايي : ((لايخلو رجل بامراة الاومعها ذو محرم ولاتسافر المراة الامع ذي محرم فقال له رجل : يا رسول الله ان امر اتي خرجت حاجة واني اكتتبت فى غزوة كذا وكذا قال : انطلق فليحجج مع امراتک ))[٣٣٢]

يعني : (( هېڅ نارينه دې له هېڅ يوې ښځې سره په ګوښه کې ليدل نه کوي ، ترڅو چې د هغې محرم نه وي او هېڅ ښځه دې سفر نه کوي ترڅو يې چې محرم ملګرى نه وي. يو سړي عرض وکړ ، چې زما ښځه حج ته تلونکې ده ، او زما نوم په فلانۍ او فلانۍ غزوه کې تلونکيو کسانو کې ثبت دى . رسول الله (ص) ورته وفرمايل وګرځه او له خپلې ښځې سره حج ته ولاړ شه .))

په ځينو رواياتو کې ښځه له يوې شپې او ورځې يوازې سفر څخه منع شوې ده په ځينو کې له دوه شپو او ورځو او په ځينو کې د درې شپو و ورځو يادونه شوېده خو دا اختلاف لکه چې سيد مودودي (رح) وايي دا روايتونه

---

[٣٣١] متفق عليه .

[٣٣٢] متفق عليه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خپل اعتبار څخه نه غورځوي ، ځکه چې په بېلابېلو ځايونو کې چې څنګه موضوع د رسول الله (ص) مخ ته راغلې ده د هماغې په لحاظ يې حکم کړی دی ، يعنې يوې ښځې به يوه شپه او ورځ سفر کاوه رسول الله (ص) به منع کړله بلې به دوه شپې اورځې اوبلې به درې شپې او ورځې سفر کاوه هغوی (ص) به منع کړله.[333]

خو اصل خبره داده چې هېڅ ښځه دې له محرم څخه پرته سفر نه کوي ، مګر نن صبا خو په کلونو کلونو په تنها ځان لوېديځ او نورو اروپايي عياشو ، عياشو هېوادونو ته په داسې ډاډه زړه سفر کوي چې حتی د ګناه تصور هم نه کوي .

## د ښځو تلل حمام ته :

دښځو لپاره حمام ته تلل بې عذره روا ندي ځکه چې دا د فتنې او فساد ستر مرکز دی او کله که سخت عذر پيدا شو لکه حايضې ، نفاسې ،يا بلې ناروغۍ ته بيا ورته په حمام کې غسل روا دی .

له حضرت عايشې (رض) څخه روايت دی چې رسول الله (ص)نارينه او ښځينه دواړه حمام ته له تللو څخه منع کړي وو بيا يې نارينه و ته اجازه وکړه چې په پرتوګ کې دننه ( له پرتوګ سره) ورننوځي .[334]

---

[333] تفهيم القران .

[334] ابو داود او ترمذي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(( هره ښځه چې د خاوند له کوره پرته بل چېرته جامې وباسي نو د دې او د الله (ج) ترمنځ پرده يې څيرې کړله .)) [٣٣٥]

يعني : (( د الله (ج) او د دې ترمنځ چې کومه د حيا پرده وه هغه يې څيرې کړله او د خپلې پوره بې حيايۍ اظهار يې وکړ .

حضرت جابر(رض) روايت کوي چې رسول الله (ص)فرمايي : (( من کان يوءمن بالله واليوم الاخر فلايدخلن حليلته الحمام لامن عذر .)). [٣٣٦]

يعني : (( څوک چې په الله (ج) او دقيامت په ورځ ايمان لري نو د هغه حلاله (ښځه) دې حمام ته نه ننوزي مګر دعذر له لامله .))

حضرت عبدالله (رض) روايت کوي چې رسول الله (ص) فرمايي : (( انها ستفتح لکم الارض العجم و ستجدون فيها بيوتا يقال لها الحمامات فلايدخلها الرجال الا بالازار ومنعواالنساء الا مريضة او نفساء)) [٣٣٧]

يعني : (( ژر دی چې فتحه به شي تاسو ته ځمکې د عجمو او ژر دی چې بيا به مومئ په دوی کې کورونه (کوټې) چې هغې ته به حمامونه ويل کېږي نو نه دې ننوزي ورته نارينه مګر له پرتوګ سره او منع کړئ ورځخه ښځې مګر ناروغې او يانفاسې . ))

نو داسې ډېر روايتونه شته چې د نارينه وو لپاره حمام ته د تللو جواز ثابتوي او هغه هم له پرتوګ سره او دښځو لپاره يې حرمت ثابتوي او د الله (ج) لعنت په حمام ته تلونکيو ښځو دی چې بې له عذره ورځي . ))

---

[٣٣٥] ابوداود ،ترمذي ،ابن ماج او مسند احمد .

[٣٣٦] نسايي او نيل الاوطار .

[٣٣٧] ابوداود او ابن ماجه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قبرونو زيارت ته د ښځو د تللو حکم :

يوه هم د نن او پرون د مسلمانانو ترمنځ له اختلاف څخه ډکه مسئله هديروته د ښځو د تللو مسئله ده. پدې کې هيڅ شک نشته چې دواړو خواوو ( منونکيو او نه منونکيو ) په دې اړوند له پوره بې انصافۍ، افراط او تفريط څخه کار اخيستی دی، ځينو خلکو هديرو ته تلونکيو ته مشرکان او بدعتيان وويل، بعضو ډلو بيا د دې کار منع کوونکيو ته کافران، وهابيان او .... وويل.

پدې اړوند رانقل شويو روايتونو ته که وګورو نو داسې جوتيږي چې قبرونو ته د ښحو ورتلل که ډېر شي نو مکروه ده او که کم وي مثلاً په کال يا دوه کالو کې يو ځل ورتلل نو بيا روا دي، که چيرې قبرونو ته تلل د دې غم زياتوي ، دا هلته چيغې او فرياد کوي نو د داسې ښځو تلل قبرونو ته په اتفاق سره حرام دي، رسول الله (ص) فرمايي : (( د الله (ج) لعنت دې وي د قبرونو پر ډېر زيارت کوونکيو ښځو .)) (۳۳۸)

سيد محمد عابدين الحسيني د ابن ملک په حواله وايي چې د مبالغې صيغه پدې دلالت کوي چې که د چاقبرونو ته تلل کم وي نو په لعنت کې شامل نه دي او د رسول الله (ص) زيارت ورڅخه مستثنی دی )) (۳۳۹)

هغه څوک چې د ښځو تلل قبرونو ته روا ګڼي دليل يې دا دی چې حضرت عايشې (رض) له رسول الله (ص) نه وپوښتل : کله چې د قبرونو زيارت کوم

---

(۳۳۸) ترمذي .

(۳۳۹) البريقه شرح الطريقه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو څه ووایم ؟ هغوی (ص) ځواب ورکړ چې داسې و وایې : (( السلام علی اهل الدیار من المؤمنین والمؤمنات ورحم الله المتقدمین منا والمتاخرین و انا ان شاالله بکم لاحقون .))[۳۴۰]

یعنې : سلام دې وي پر اهل ددې ځای له نارینه مؤمنانو اوښځو مؤمنانو څخه الله (ج) دې زموږ پر مخکینیو او وروستنیو ټولو رحم وکړي ، او موږ که د الله (ج) رضاوي تاسو پسې درتلونکي یو .

نو له دې حدیث څخه څرګندېږي چې د ښځو تګ قبرونو ته روا دی ځکه که روانه وای نو رسوالله (ص) به عایشه (رضي الله عنها) منع کړې وه چې ستاسو تلل قبرونو ته له سره روا ندي نو د کومې وینا په هکله پوښتنې کوي .

بل دا چې رسول الله (ص) فرمایي : (( کنت نهیتکم عن زیارة القبور الافزروها)).[۳۴۱]

یعنې : (( ما تاسې د قبرونو له زیارت څخه منع کړي وئ خبرې اوسئ د هغو زیارت کوئ او کوم کسان چې قبرونو ته د ښځو تلل حرام ګڼي دلیل یې هغه حدیث دی چې موږ وړاندې بیان کړ ځکه چې په هغه کې دقبرونو زیارت کوونکیو ښځو ته د الله (ج) د لعنت تهدید شوی دی .))

عراقي وایي : (( ښځې په دې رخصت کې داخلې ندي چې رسول الله (ص) وفرمایل : ( الافزروها ) .))

په تاتار خانیه کې وایي : قبرونو ته د ښځو دتللو د جواز په هکله مه پوښته پدې هکله وپوښته چې په دې تللو کې په څومره لعنت اخته کېږي .

---

[۳۴۰] مسلم او مشکوة .

[۳۴۱] رواه مسلم و اصحاب السنن الا الترمذي، مشکوة .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوه شه کله چې ښځه د وتلو هوډ وکړي نو د الله (ج) او د ملایکو په لعنت کې ګیره شي ، او کله چې قبر ته ورشي نو د مړي روح پرې لعنت وايي، او کله چې بېرته راستنه شي نو د الله (ج) پر لعنت اخته شي .

نو د دې او داسې نورو روايتونو له جمع کولو څخه دا نتيجه لاس ته راځي ، چې هره چې ښځه قبرونو ته کمه کمه ځي ، دوديزې ټوټکې نه کوي ، مړي له الله (ج) سره نه شريکوي او د زيارت کولو طريقه وپېژني نو داسې ښځې ته د عبرت لپاره هم ورتګ روا دی .

او کومه ښځه چې ډېره ډېره ځي هلته ژاړي ، چيغې او فريادونه کوي ، مالګې ځتې د قبر جاروګانې پر مخ او ځان وهي ، له قبر څخه طواف کوي ، جنډې پر ځان وهي په ټوټو کې غوټې اچوي او داسې نورې سل نخرې کوي نو دلته ښځې خو پرېږده چې نارينه وو ته هم تګ حرام دی .

خونن سبا چې د قبرونو زيارت کومه بڼه غوره کړېده ،فکر کوم چې هېڅوك به په دې ډول د ښځو قبرونو ته تلل روانه ګڼي ځکه چې ډېر تفصيل ته ضرورت نشته ده هر چا په خپلو سترګو ليدلي دي داسې سينګار چې هلته کېږي، داسې فحاشي چې په ځينو ځايونوکې د باباګانو په روضوکې کېږي هر چاته جوته ده نن سبا خو د قبرونو زيارت يوه تفريحي بڼه غوره کړېده اوس هلته عبرت نه، بلکې عياشي ده ،هلته ثواب نشته ګناه ده ، نن صبا خو د باباګانو دربارونه د عاشق او معشوقې د وصال او ذوق جمال يو اځينۍ مرجع ګڼلی شي .

د بته به څوک روا څه چې حتی مباح هم ووايي .

د ښځو تلل خو قبرونو ته په صحيح طريقه روا دي مګر دې خلکو په خپل ځان پخپله حرام ګرځولي دي ، دا د هر اسلامي حکومت فريضه ده چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې ناوړه اعمالو مخ ونيسي او له پاکو روضو څخه دفحاشۍ د مرکز د جوړولو مخه ونيسي او هېڅ ښځې ته اجازه ورنکړي چې په غير شرعي تو ګه قبرو ته ورشي خصوصاً د هغو وګړيو مخنيوی وکړي چې له سلګونو کيلو مترو واټنو څخه ورته راځي .

## ځان تشبيه کول :

الله (ج) چې انسان ته کومه بڼه ورکړې ده دا دهغه له فطرت سره سمه ده، پدې کې کنجکاوی اوځانته بله بڼه ورکول د فطرف خلاف دي، په همدې اساس نه نارينه ته روا دي او نه ښځې ته چې له يوبل سره په اغوستن کې ، په وينا کې، په تللو کې ، د غړيو په جوړښت کې سيالي او مشابهت ( ورته والی) وکړي .

ابن عباس(رض) فرمايي چې : (( لعن النبي المتشابهات من النساء بالرجال والمتشبهين من الرجال بالنساء )) [۳۴۲]

يعنې : (( لعنت ويلی دی نبي (ص) پر هغوځان تشبيه کوونکيو ښځو له سړيو سره او په تشبيه کوونکيو سړيو له ښځو سره ))

همدا راز روايت دی چې : (( لعن رسول الله (ص) المخنثين من الرجال والمترجلات من النساء )) [۳۴۳]

يعنې : (( رسول الله (ص) لعنت ويلی دی له ځان څخه پرښځه جوړونکيو

---

[۳۴۲] بخاري .

[۳۴۳] رياض الصالحين .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(هجړا) سړيو او له ځان څخه پر نارينه جوړوونکيو ښځو . ))
حضرت ابو هريرة (رض) فرمايي : (( لعن رسول الله (ص) الرجال يلبس لبسة المراة ، والمراة تلبس لبسة الرجل .))[٣٤٤]
يعني : (( لعنت ويلی دی د خدای (ج) رسول (ص)پر هغه سړي چې د ښځو جامې اغوندي او په هغې ښځې باندي چې د نارينه ووجامې اغوندي. ))
دفقهي اوحديثو په يو مشهور کتاب کې ليکي چې له ښځې سره دنارينه ځان تشبيه کول او له نارينه سره دښځې ځان تشبيه کول دواړه حرام دي .[٣٤٥] يو عالم وايي :که چېرې داسې څوك و ( ښځه وه اوکه نارينه چې له خپل مخالف جنس سره يې مشابهت کاوه او په ټولنه د هغې ضررونه پر بوتل او له ملك څخه په بهر شړلو (تبعيد)کې يې ګڼه وه او هغه له خپل خوی او عادت څخه نه اوښت نو له ملك څخه يې هم شړلی شي.[٣٤٦]

## د ښځې په لاس ذبحه ( حلاله) :

يوه بله غلطه انګېرنه چې زموږ له ملت سره پيدا شوې ده هغه دا چې د ښځو په لاس ذبحه صحيح نه ګڼي اود دوی په نظر که کومه ښځه هر ژوی حلال کړي نو د هغه غوښه خوړل حرام دي نو په همدې بنا موږ ليدلي نه دي چې ښځې چېرته کوم ځاروی څه چې حتی يوه چرګه حلاله کړې وي که څه هم ژوی مړ کېږي مګر دا بالکل غلطه مفکوره ده ، د ښځې د لاس ذبحه

[٣٤٤] رياض الصالحين .
[٣٤٥] نيل الاوطار
[٣٤٦] اللعباس و الزينة فی الشريعة الاسلامية \ محمدعبدالعزيزعمرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې ده لکه د نارینه . حتی د کافر په لاس حلاله چې اسماني کتاب ولري هم صحېح ده .

سید محمد عابدین الحسیني لیکي : دماشوم، لیوني اوښځې ټولو حلاله صحېح ده ، کله چې په تسبېح او تسمیې او دحلالې په طریقه پوهه شي یعنې کله چې پدې پوه شي چې کوم ځای غوڅېږي او دغوڅولو په وخت کې باید څه ووایي : د احنافو د مذهب دفقهې په مشهور کتاب ( هدایه) کې یې هم همدا شرطونه ښودلي دي او که په دې شرطونو پوه نشي نو بیا خو دښځو څه چې دنارینه وو حلاله هم صحېح نه ده ځکه چې همدا شرطونه په کې مهم دي چې انسان باید څه ووایي او کوم ځای غوڅ شي.

حضرت کعب ابن مالک (رض) روایت کوي چې یوې ښځې په تیږه ګډه حلاله کړله نو رسوال الله (ص) څخه وپوښتل شو چې غوښه یې حلاله ده که نه ؟ رسول الله (ص) ورته وفرمایل چې ( هو حلاله ده ). [(۳۴۷)]

---

[(۳۴۷)] بخاري او ابن ماجه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ټولنيز عبادات

## الف : په جماعت سره د ښځې لمونځ :

که کومه ښځه لمونځ په جماعت سره ادا کول غواړي نو اسلام يې جومات ته له راتللو څخه نه منع کوي او که جومات ته رانشي نو کور کې يې هم ورته لمونځ روا کړ، بلکې دا يې ورته غوره ګڼلې دی ام حميد ساعد يې (رضي الله عنها) عرض وکړ چې يا رسول الله (ص) زه په تاپسې د لمانځه کولو ډېره مينه لرم ،رسول الله (ص) ځواب ورکړ ستا لمونځ د کور په ګوښه کې له کوټې څخه غوره دی او په کوټې کې ستا لمونځ له دې څخه غوره دی چې د کور په دالان کې يې وکړې او ستا د کور په دالان کې لمونځ له دې غوره دی چې ته يې د خپلې محلې په جومات کې وکړې او ستالمونځ د محلې په جومات کې له دېنه غوره دی چې ته يې په جامع جومات کې وکړې.[٣٤٨]

ښايي د دې سبب هماغه وي کوم چې علامه مودودي فرمايي : هغه دا چې پر ښځې په مياشت کې څو ورځې داسې (حيض) وي چې هغوی پکې د مجبوريت له امله لمونځ نشي کولی او په دې ترتيب به هغه خبره افشا او رسوا شي کومه چې ښځې يې ښکارول نه غواړي او په ښکارولو يې شرمېږي حتی د پلار او ورور په مخ کې هم نو شارع وايي : تاسې داسې

[٣٤٨] مسند احمد او طبراني .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای کې ځان په لمانځه عادت کړئ چې که د څه مجبوریت په وخت کې لمونځ هم ونکړئ نو چاته معلوم نشئ او پدې ترتیب به دیوې حیا دارې ښځې شرم خوندي وساتل شي .

مګر دا صرف هدایت دی حکم نه دی مونږ وینو چې ښځو په صدر د اسلام کې په جماعت سره لمانځه کې ګډون کړی دی ، خپله یې د ښځو امامتي کړېده .

رسول الله (ص) ورقه بنت عبدالله ته اجازه کړې وه چې د ښځو امامتي وکړي .[٣٤٨]

حضرت عایشې (رضي الله عنها) به د ښځو امامتي کوله.[٣٤٩]

رسول الله (ص) وفرمایل چې ( د الله (ج) بندګاني د الله تعالی له کورو ځینې مه منع کوئ کله که د چا ښځې جومات ته د تللو اجازه و غوښتله نو منع کوئ یې مه)[٣٥٠]

همدا راز فرمایي : (( لاتمنعوا نساء کم المساجد . )).[٣٥١]

یعنې : ( خپلې ښځې له مسجدو ځینې مه ایساروئ . )

مګر جومات ته د ورتللو په وخت کې باید لاندې ټکو ته پاملرنه وشي .

١ : د ورځې به جومات ته نه ځي او یوازې په هغو لمونځونو کې به ګډون کوي چې تیاره کې وي لکه ماسخوتن او سحر رسول الله (ص) فرمایي :

(( ائذنوا للنساء باللیل الی المساجد . ))[٣٥٢]

---

[٣٤٨] ابوداود .

[٣٤٩] دارالقطني او بیهقي .

[٣٥٠] متفق علیه .

[٣٥١] ابوداود جلد ١ .

[٣٥٢] ترمذي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعني ښځو ته د شپې جومات ته د تګ اجازه ورکوئ .
حضرت عایشه (رضي الله عنها) فرمایي : ( رسول الله (ص) به د سحر لمونځ په داسې وخت کې کاوه چې ښځې به په خپلو څادرونو کې پټې پټې بېرته کور ته ستنېدلې نو دتیارې له کبله به دوی نشوای پېژندلی .) [۳۵۳]
۲ : جومات ته به له ښکلا سره نه راځي ، خوشبويي به نه لګوي، حضرت عایشه(رض) فرمایي : (يوځل رسول الله (ص) په مسجد کې ناست و چې د مزنيه قبيلې يوه ښځه ډېره ښکلې، سينګاره او په ناز او نخرو جومات ته راغلله حضور (ص) د هغې په ليدلو وفرمايل : ( ای خلکو خپلې ښځې ايسارې کړئ چې په ناز نخرو او سينګار شوې جومات ته رانشي .) [۳۵۴]
۳ : په وروستنيو صفونو کې به ودرېږي رسول الله (ص) فرمايي : ( خير صفوف النساء اخرها و شرها اولها .) [۳۵۵]
يعني : ( د ښځو لپاره غوره او بهتره صفونه وروستي دي ناکاره او بد يې لومړني دي .)
حضرت انس (رض) فرمایي : رسول الله (ص) زموږ کور کې لمونځ وکړ موږ په رسول الله (ص) پسې وروسته ودرېدلو او زما مور ام سليم (رضي الله عنها) زموږ څخه وروسته ودرېدله )) [۳۵۶]

---

[۳۵۳] بخاري ، مسلم ، ابوداود او ترمذي .
[۳۵۴] ابن ماجه
[۳۵۵] مسلم ، ابوداود ،ترمذي،نسايي او مسند احمد .
[۳۵۶] بخاري .



www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ : ښځه به په لمانځه کې اواز نه اوچتوي، که چیرې نارینه امام ته څه فتح ورکول غواړي نو سبحان الله یا الله اکبر دې ووایي ، او ښځه دې لاسونو ته پړق ورکړي.[۳۵۷]

حضرت عمر (رض) د ښځو لپاره بېله دروازه جوړه کړې وه.[۳۵۸]

## ب : په جنازه کې ګډون :

په جنازه کې ګډون پر مسلمانانو کفایي فرض دی ولې ښځه له دې څخه خلاصه ده ، که پدې هکله رانقل شویو روایتونو ته وګورو نو ښکاري چې په جنازه کې د ښځو ګډون خو جائز دی مګر مکروه دی .

حضرت ام عطیه (رضي الله عنها) روایت کوي چې رسول الله (ص) موږ د جنازې له لمانځه څخه منع کولو مګر دا منع یې په موږ سخته نه کړله.[۳۵۹]

یوه ښځه په جنازه کې ښکاره شوله او حضرت عمر (رض)لږ ورته غصه غوندې شو رسول الله (ص) ورته وفرمایل : (( پریږده یې عمره . ))[۳۶۰]

له دې روایتونو څخه ښکاري چې ښځه په جنازه کې له ګډون څخه منع خو ده مګر دا منع ډېره سخته نه ده او که وغواړي څوک یې مخه نیولی نشي .

## ج : په جمعه او اخترونو کې ګډون :

---

[۳۵۷] صحاح السته او مسند احمد .

[۳۵۸] ابوداوود .

[۳۵۹] بخاري ، ابن ماجه .

[۳۶۰] ابن ماجه او نسایي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول فقها پردې اتفاق لري چې داخترونو د لمانځه وجوب دښځو پر غاړه نشته دی او نه پرې د جمعې په ورځ جماعت ته تلل فرض شوي دي ولې که ښځې وغواړي چې د جمعې په ورځ يا د اختر په ورځ په لمانځه کې ګډون وکړي نو د هغو شرطونو په نظر کې نيولو سره ګډون کولای شي کوم چې وړاندې موږ بيان کړل مګر يو شرط پکې نشته هغه دا چې د ورځې ( د جمعې او يا داختر ) هم راتللی شي .

حضرت ام عطيه (رضي الله عنها) روايت کوي چې رسول الله (ص) به ځوانې انجونې د کور خاوندانې او حايضې ښځې د اختر لمونځ ته بيولې کومو ښځو به چې لمونځ نه کاوه هغوی به له جماعت څخه بېلې وې او په دعا کې به يې ګډون کاوه.[٣۶١]

ابن عباس (رض) روايت کوي چې رسول الله (ص) به خپلې بيبيانې او لورګانې په اخترونو کې ويستلې.[٣۶٢]

په جومات کې بايد د ښځو لپاره د پردې انتظام وشي او بېل ځای ورته وټاکل شي چې هلته نارينه ورنشي او ښځه هر وخت خپل لمونځ په ښه ډول ادا کړي .

## د : ښځه په حج کې :

حج دنارينه وو په څېر پر ښځو هم فرض دی او دنارينه وو په څېر مخاطبه ده ښځه د حج په ټولو مناسکو کې د سړي په څېر ده مګر دا چې سر به نه

[٣۶١] ترمذي .

[٣۶٢] ابن ماجه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوڅوي ځکه چې سر يې عورت دی ،مخ به لوڅوي ، د تلبيې په وخت کې به اورېې پورته پورته کوي نه ، سعې او رمل (منډه) به نه کوي ، سر به نه خريېي، او که چېرې يې د ډېر سخت بير او بار له کبله حجراسود مسح کولی نشو نو مسح کوي به يې نه ، کله چې ښځه وغواړي حج ته ولاړه شي نو يا به له مېړه يا محرم سره ځي کله که د هغې او دمکې ترمنځ د درې ورځو فاصله وه ، نو تنها ورته سفر روا ندی .

امام شافعي (رح) وايي : (( که نورې ښځې ورسره ملګرې وې او خپل امن او امنيت يې نيولی شو بيا له محرم يا خاوند څخه پرته هم ورته سفر روا دی . ))

او کله يې چې محرم ( د سفر ملګری ) پيدا شي نو خاوند يې له حج څخه ايسارولی نشي ځکه چې مېړه يې د فرض له ادا کولو څخه منع کولی نشي .

مګر که ښځه نفلي حج کوي نو البته د مېړه اجازه ضرور ده لکه نفلي روژه .

محرم به نېک سړی وي کافر، فاسق او منافق به نه وي او که مسافه له درېنه کمه وه نو تنها هم سفر کولی شي .

او که کومه ښځه له ځان سره مېړه يا محرم حج ته بيايي د هغه کرايه لګښت او نور ټول ضروريات پر همدې ښځې دي .

## هـ : ښځه په جنګ کې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام ښځو ته اجازه ورکړېده چې د خپلې عقيدې، ابرو ، ايمان او ناموس څخه دفاع په غرض وسله او چته کړي .

مګر په فوځ کې داخلول، په اردو کې هغوی ته ځای ورکول ،په کلونو کلونو له کور ځينې جدا کول ، د سرحدونو ساتل ، د ټانګ دپاسه کښېنول، الوتکې ، لوی او غټ توپونه د هغې په لاس ورکول د هغې د طبيعت او فطرت خلاف کړنه ده، لکه نن سبا چې په لوېديځ ، ختيځ او اروپا کې ليدل کېږي .

په صدر د اسلام کې ښځو ډېر جنګي خدمتونه ترسره کړي دي لکه دټپيانو مرهم پټيځ ، تږو ته اوبه ورکول ، مجاهدو ته ډوډۍ پخول د مجاهدو د مرکزو ساتنه .

هغې ته روا دي چې جنګي لباس واغوندي او حتی د بدن مستوره برخه يې هم ښکاره شي ، د رسول الله (ص) خپلو بيبيانو په ډېرو غزواتو کې ګډون کړی دی غازيانو ته به يې اوبه ورکولې ، دټپيانو درملنه به يې کوله ، او پدې وخت کې د حجاب احکام هم نازل شوي وو.[٣٦٣]

دبني مصطلق په غزا کې د حضرت عايشې (رضي الله عنها) ګډون ټولو د سيرت کتابونو روښانه کړی دی ، ام سليم (رضي الله عنها) او دانصارو ځو نورو ښځو به په ډېرو غزاګانو کې ګډون کاوه.[٣٦۴]

د احد په غزا کې کله چې ظاهراً مسلمانان له ماتې سره مخ شول نو عايشې (رضي الله عنها) او ام سليم (رضي الله عنها) به د اوبو مشکونه ( ژيونه)

---

[٣٦٣] بخاري .

[٣٦۴] ترمذي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

راچلول او په غازیانو به یې اوبه څښلې دا وخت د عایشې د عمر دوهمه لسیزه ده ))[۳۶۵]

حضرت انس (رض) وایي : (( مالیدلې چې دوی پینځې بډوهلې وې او په منډه منډه به تللې او راتللې )).[۳۶۶]

د ام سلیط (رضي الله عنها) په هکله حضرت عمر (رض) له رسول الله (ص) څخه نقل کوي چې د احد په جنګ کې به چې ما ښي او کیڼ طرف ته کتلې نو ما با ام سلیط (رضي الله عنها) لیدله چې زما د ساتنې لپاره به یې توري وهلې .

په دې جنګ کې ربیع بنت معوذ او ورسره نورو ښځو به د ټپیانو ټپونه پټې کول او مدینې ته به یې رسول .))[۳۶۷]

د حنین په غزاکې ام سلیم خنجر په لاس ګرځېدله رسول الله (ص) تري وپوښتل چې دا د څه لپاره ؟ هغې ځواب ورکړ چې که دښمن مخې ته راشي نو ګېډه به یې څیرې کړم .))[۳۶۸]

د حضرت ابوبکر صدیق (رض) په خلافت کې د دمشق د فتح کولو لپاره یوه فوځي ډله ولېږلی شوه قوماندان یې خالد بن ولید (رض) و او ابوعبیده بن جراح هم پکې و ډېرو مېرمنو پدې ډله کې برخه .حضرت ام سلمه اسماء بنت یزیدرض یوه زړوره او ایمانداره ښځه وه ،له رسول الله ص یې په

---

[۳۶۵] مسلم .

[۳۶۶] متفق علیه .

[۳۶۷] بخاري .

[۳۶۸] مسلم او حیاة الصحابة .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرو غزواتو کې ګډون کړی وو ، د هجرت په دیارلسم کال د یرموک په غزا کې یې د خېمې په تیر نهه رومیان وژلي وو.[۳۶۹]

د یرموک په غزا کې چې کله خالد بن ولید د جنګ قوماندان وټاکل شو نو مسلماني خویندې یې راوغوښتلې او توري یې په لاس کې ورکړلې او دمسلمانانو د لښکرشاه او خواته یې څوکۍ (پهره) ودرولې ترڅو مسلمانان د شاه له خوا څخه ایسارنشي .

د مسلمانانو او رومیانو په جنګ کې ام حکیم چې لاناوې وه او دناوېتوب د خوشبو ورمې یې له بدن څخه الوتلې ګډون وکړ او خاوند یې د سترګو په وړاندې شهید شو بالاخره د ناوېتوب لباس یې وو‌ېست او د هغې خېمې تیر یې راووېست چې دا پکې ناوې وه ، او اوه کسان یې پرې دجهنم کندې ته ولېږل دا واقعه د هغه پله سره نژدې شوې وه چې نن صبا هم دا پول دام حکیم په نامه یاد ېږي.[۳۷۰]

حضرت ام عطیه (رضي الله عنها) روایت کوي : چې ماله رسول الله (ص) سره په اوو غزاګانو کې ګډون کړی دی ، چې بارونه به مې ورته ساتل ، خواړه به مې ورته برابرول ، او دناروغانو پرستاري به مو کوله.[۳۷۱]

امام احمد (رح) روایت کوي ، چې په هغه لښکر کې چې خیبر یې محاصره کړی و ، د مدینې شپږ ښځې شاملې وې ، چې مجاهدینو ته یې خواړه تیارول ، ستوان به یې جوړول ،د ټپیانو په ټپونو به یې پټۍ لګولې ،

---

[۳۶۹] المراة في منظور الاسلام دکتور حسن مونس .

[۳۷۰] الاستیعاب لابن عبدالبر .

[۳۷۱] ترمذي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعرونه به يې زمزمه کول ، د خدای (ج) په لار کې به يې مرسته کوله ، او رسول الله (ص) په غنيمت کې برخه هم ورکړله .

دام عماره نسيبې (رضي الله عنها) د احد په غزا کې وسله په لاس کې وه او دښمن يې پرې واهه تردې چې رسول الله (ص) د هغې په هکله وفرمايل :

(( يقيناً چې دهغې موقف او ځای له فلاني او فلاني څخه ډېر غوره دی .))

د رسول الله (ص) په وخت کې صحابه و ښځو دمديني او حجاز په شاوخوا کې په غزا کې په ګډون بسوالی ( اکتفا) نه دی کړې ، بلکې د اروپا وچې ته هم د جهاد لپاره تللې دي او دسمندرونو مزلونه يې هم کړي دي لکه حضرت ام حرام د عباده (رضي الله عنها) ابن صامت مېرمن چې له خپل مېړه سره د قبرص غزا ته تللې وه ، او بيا هملته شهيده او ښخه کړل شوه .

له ټولو څخه عجيبه خو لا دا ده چې په ډېرو ځايونو کې چې ښځې واک ترلاسه کړی دی بيا په دښمن سوبمنې (غالبې) شوې دي مثلاً : وګورئ دقسطلې ملکه ويزابيلا چې پر غرناطه  په غلبه کې يې ستر رول لوبولی دی .

کاترين روسي په خپل وخت کې د ځينو قوماندانو په واسطه عثماني ترکانو ته ماتې ورکړله ، د ملکې وکتوريا په وخت کې انګرېزانو د اسلامي هېوادونو په دريمه برخه قبضه وکړله.[٣٧٢]

د ممالېکو په تاريخ کې دشجرة الدرحکمت، سياسي پوهه هوښياري ، بهادري او زړورتيا ، تر چا پټه نه ده وګورئ چې دښمن ته يې څنګه او په څه ډول حکمت ماتې ورکړله .

---

[٣٧٢] المراة منظور الاسلام دکتور حسن مونس .

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښځینه ناروغتیاوې

## الف : حیض :

تعریف : په هدایه کې وایي چې حیض په لغت کې وتلې وینې ته وایي ، او په بریقه کې لیکي چې حیض په لغت کې بهېدلو ته وایي، او دېته ځکه حیض وایي چې دې وخت کې وینه بهېږي او پیاوړی همدا نظر دی .
په هدایه کې د حیض پېژندنه داسې کوي :
حیض هغه وینه ده چې د یوې روغې او سالمې ښځې رحم یې شیندي .
د حیض کمه موده درې شپې او درې ورځې یعنې پوره دوه او یا (۷۲) ساعته ده که لدې څخه لږ هم څه کمه وي حیض ندی .
په رسائل ابن عابد کې لیکي چې مثلاً : که چېرې د یکشنبې په ورځ سحر دلمر ختلو په وخت کې په ښځه وینه راغلله او دچهارشنبې په ورځ د صبح صادق په وخت کې وینه بنده شوله نو دا حیض ندې .
د حیض په موده کې مو دښځو ستونزو ته په تېرو صفحو کې ګوته ونیوله ، د اسلام څخه وړاندې به عربو له حایضې ښځې څخه نفرت کاوه ، د هغوی دبسترې او کاسې برسېره به یې هغوی هم له ځانه څخه جدا کولې او په بده سترګه یې ورته کتلې .
په فارس کې به په حیض کې ښځه ګنده او ناولې ګڼلی شوه ، لېرې د ښتې ته به یې وشړله هلته به یوازې اوسېدله هېچا ته اجازه نه وه چې له هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره کښېني یا خبرې ورسره وکړي مرئیانو به ډوډۍ ورته وړله حتی دوی (مرئیانو) به هم پوزې لاسونو او غوږونو ته ټوټه نیوله له دې وېرې چې هسې نه چې په ناڅاپي او ناپامۍ کې د حایضې له خېټې سره ولګېږي .

د مرګ او ژوند مطلق واک یې د خاوند په لاس کې و.[٣٧٣]

مګر اسلام دا ناوړه دودونه یو مخییزه له منځ وړل او د هغې بایللی حیثیت یې بېرته ورکړ او له هغې سره یې د کوروالي څخه پرته هره لوبه ..... یو ځای ویده کېدل ، خوراک ، څښاک ، کښېناستل او پاڅېدل ..... روا کړل ، پخپله رسول الله (ص) به دخپلو بیبیانو سره په حیض کې ویده کېده، د پرتوګ له پاسه هره لوبه به یې ورسره کوله او اعلان یې وکړ چې ( اصنعوا کل شئ الاالنکاح )[٣٧٤]

یعنې : (( هرڅه کوئ مګر کوروالی ))

او په حیض کې چې کوروالی دواړو خواو ته کوم زیان رسوي هغه خو اوس طب په ډاګه کړی دی .

د حیض کمه موده لکه چې وموویل درې شپې او درې ورځې ده رسول الله (ص)فرمايي : (( اقل الحیض للجاریة البکر والثیب ثلاثة ایام ولیالیها ))[٣٧٥]

یعنې : (( د حیض کمه موده پېغلې او کونډې ته درې شپې او درې ورځې ده . ))

---

[٣٧٣]المراة فی السلام\ استاد محمود العقاد ، الاسلام بلامذاهب\ دکتور مصطفی الشکعه نقل له THE SPIRIT OF ISLAM څخه .

[٣٧٤]صحاح سته مګر بخاري ، نیل الاوطار او مشکوه .

[٣٧٥]دار القطني .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او وروستئ موده يې لس ورځې او لس شپې ده .

د حيض په موده کې چې ښځه هر څه سوروالی ، زيړوالی ، يا خړوالی ويني هغه ټول حيض دی .

حيض په وړې نا بالغې انجلۍ او په شنډې ځوانې او په زړې ښځې چې د اولاد له زيږولو څخه نا اميده وي چې تقريباً (۵۵) پنځه پنځوس کالو په شاه او خوا کې وي نه راځي .

حايضه ښځه به لمونځ نه کوي ، روژه به نيسي د لمانځه ګرځونه يې پرې نشته خو دروژې قضا به راوړي او روژه نيول ورته روا ندي د مسافر په څېر هم نده چې نيول يې عظمت او خوړل يې رخصت وګڼل شي .

نه به جومات ته ننوزي نه به د بيت الله طواف کوي نه به دقران تلاوت کوي او نه به مصحف پورته يا مسه کوي ، مګر له پوخ سره .

کومه ښځه چې ټاکلې عادت ونلري کله که له لس ورځو څخه وړاندې له وينې ځينې پاکه شوله نو تر څو چې غسل ونکړي کوروالی ورسره روا ندی او که په يوولسمه ورځ هم غسل ونکړي بيا ورته بې له غسله هم کوروالی روا دی .

او کومه ښځه چې په يوولسمه ورځ هم پاکه نه شي نو چې غسل هم ونکړي کوروالی ورسره روا دی، خو ښه نه دی .

او کله که وينه له لسو ورځو څخه زياته شوه نو غسل دې وکړي او لمونځ به کوي خو د هرلمانځه لپاره په بېل اودس کوي ، ځکه دا ناروغتيا ده ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

روژه به هم نیسي د قرات تلاوت هم کولی شي او کوروالی هم ورته روا دی.[۳۷۶]

## ب : نفاس :

تعریف : نفاس له تنفس یا دنفس له وتلو څخه اخېستل شوی ، او په اصطلاح کې هغه وینه ده چې د ولادت (زېږولو) څخه وروسته یې د ښځې رحم شیندي.[۳۷۷]
د نفاس کمه موده شریعت ټاکلې نه ده او وروستۍ موده یې څلويښت (۴۰) شپې او ورځې ده ، او که له دېنه ډېره شوه نو بیا ناروغتیا ده بیا ورته لمونځ، روژه، کوروالی هر څه روا دي.[۳۷۸]
نفاسه ښځه په ټولو احکامو کې د حایضې په څېر ده .

---

[۳۷۶] درالمختار او حاشیه ابن عابدین .
[۳۷۷] الهدایه .
[۳۷۸] الهدایه .



www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څو مسئلې

## الف : په ښځه دکوراو خاوند خدمت :

په ښځه د کور او خاوند د خدمت په هکله فقها بېل بېل نظريات لري لکه :

ـ ابن تيميه وايي : علما پدې هکله اختلاف لري چې ايا د خاوند خدمت پر ښځه لازم دی او که نه ؟ځينې وايي چې د خاوند خدمت په ښځه نشته دی ځکه دنکاح تړون له ښځې څخه دخوند د اخېستلو لپاره دی نه دخدمت لپاره.[۳۸۰]

ـ ځينې وايي : اسان کارونه لکه د کور پاکوالی او خواړه تيارول پرې شته دي .

ـ ځينې وايي : اعتبار رسم او رواج ته دی په عرف کې پېژندل شوي کارونه پرې شته دی .

ـ شيخ ناصر الدين الباني وايي : د کور کاراو د اولاد تربيه پر ښځه لازم دي.[۳۷۹]

ـ په فتاوي بزازيه کې وايي : که ښځې د ډوډئ پخولو يا .... څخه انکار وکړ د څه علت له لامله وي او که له لوړې کورنئ څخه وي نو خاوند دې ورته څوک پيدا کړي چې خدمت ورته وکړي.[۳۸۱]

---

[۳۸۰] فتاوي ابن تيميه .

[۳۷۹] اداب الزفاف اسنة امطهرة .

[۳۸۱] فتاوي بزازيه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ په بريقه کې وايي : د کور خدمت په ښځه واجب دی که څه هم د لوړې کورنۍ وي لکه پخول جارو کول ، دلوښو او جامو وينځل او که ويې نکړل نو ګنهګاره شوه .

له دې مختلفو وينا ګانو څخه ښکاري چې که چېرته خاوند نېستمن او فقير و او د کور د کار لپاره يې خدمتګاره نيولای نشوه نو په دې وخت کې دکور کار پر ښځه لازم دی ځکه چې کور خو د خاوند او ښځې ګډ کور دی نارينه يې هم د همدې کور لپاره ګټي او که خاوند شتمن و او وسه يې رسېدله نو د کور کار پرې لازم نه دی او خدمتګاره به ورته نيسي او په کار يې مجبوروولی نشي ، د زيات معلومات لپاره دې زادالعماد د ابن قيم جوزي وکتل شي .

## ب : وينځه :

وينځه هغې کافرې ښځې ته ويل کېږي چې په جګړه کې بندي راوستله شي او د هغوی کافر مېړونه په دارالحرب کې موجود وي .

له دغو ښځو سره نکاح هم کېدلای شي او هغه کسان يې هم استعمالولی شي چې د چا ترلاس لاندې وي او نکاح يې له پخواني مېړه سره ماته ده البته که ښځه او خاوند دواړه بنديان راوستل شي نو امام ابوحنيفه (رح) وايي : نکاح يې پاتې ده او دواړه د پخوا په څېر ښځه او خاوند دي .

امام مالک او امام شافعي (رح) وايي : نکاح يې ختمه ده او دواړه له يوبل ځينې بېل دي له اسلام څخه دمخه دا لړۍ دېره توده وه د وينځو او مرئيانو شمېر نه وو له هغوی سره ظلم کېده ،بې ګناه وهل کېدلې دهغوی څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حيثيت نه وو وينځې په زنا مجبورېدلې پدې هکله د ابوجهل او لوی منافق عبدالله بن ابی کارنامې له هېچا پټې ندي اسلام د مرئيتوب او وينځې توب لړئ ختمول غواړي د غلامانو او وينځو ازادونکي ته يې دېې ساري اجرونو وعده ورکړېده ، هغوی سره يې په ښه اخلاقو باندې امر وکړ په دوی له ظلم کولو څخه يې خلک منع کړل او اعلان يې وکړ چې په لوېمارئ ، بد اخلاقی او زنا يې مه مجبوروئ اسلام د دوی په ازادولو سخت حريص دی ، اسلام په مختلفو لارو د دوی ازادولو ته رښتوني بڼه ورکړله او مختلفې وسيلې يې په کار واچولې مثلاً : په کفارو ( دګناهونو په رژولو) کې لومړی مريئ ازادول دي .

چا به چې مريی ازاد کړنو رسول الله (ص) به ډېر خوښاوه د هغه قدر به يې کاوه درسول الله (ص) په وخت کې به داسې صحابه ډېر کم ليدل کېدل ، چې هغه به يو يا دوه وينځې يا مرئيان نه و ازاد کړي پدې هکله د حضرت ابوبکر صديق (رض) او حضرت عثمان (رض) د ژوند تاريخ د لمر په څېر روښانه دی .

ـ اسلام وايي : وينځو سره ښېګړه او ښه ګذاره وکړئ ازادې يې کړئ په نکاح يې واخلئ او هغوی ته تعليم ، پوهه ورزده کړئ رسول الله (ص) فرمايي :

(( ايما رجل كانت عنده وليدة فعلمها فاحسن تعليمها و ادبها فاحسن تاديبها ثم اعتقها فله اجران ))[٣٨٢]

---

[٣٨٢] بخاري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ يعنې : هر سړی چې وينځه ولري او هغې ته تعليم ورکړي ښه ادب پوهه او تهذيب ورزده کړي بيا يې ازاده کړي او واده يې کړي نو هغه لره دوه اجره دي ))

ـ د وينځو په هکله ځينې ضروري مسايل چې سيد مودودي ورته نغوته کړېده او يادول يې دلته حتمي دي دا دي.[٣٨٣]

١ : کومې ښځې چې په جګړه کې ونيول شي له هغو سره دهر عسکر لپاره کوروالی روا ندی داسې ښځې دې اسلامي حکومت ته وسپارل شي او دحکومت سياست چې څه ايجابوي هغسې دې وکړي ، مثلاً که خوشې کوي ( ازاده وي ) يې او که فديه ( بدل) ورڅخه اخلي که د مسلمانانو له بنديانو سره يې تبادله کوي او که د عسکرو په منځ کې يې وېشي .

٢ : يو عسکر ته يوازې له هغې ښځې سره کوروالی روا دی چې د حکومت له خوا په قانوني توګه د هغه په ملکيت کې داخله شوې وي .

٣ : تر هغې ورسره کوروالی روا ندی ترڅو يې چې مياشتنی عادت تېر شوی نه وي او که حامله وي نو تر هغې چې حمل وزېږوي .

۴ : که هغه د کفر په هرډول کښې وي که اهل کتابه وي او که مشرکه وينځه کېدلای شي .

۵ : وينځه چې دهر چاپه برخه ورسېده له هماغه ورڅخه ګټه اخېستلای شي او اولاد يې هم د هماغه سړي د سکه اولاد حيثيت لري .

٦ : کله يې چې اولاد پيدا شي بيا يې خرڅولای نه شي او د مالک له مرګ څخه وروسته ازادېږي .

---

[٣٨٣] تفهيم القران .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷ : کومه وینځه چې بادار یې بل چاته په نکاح ورکړي د هغې له نکاح څخه وروسته هرخدمت پرې کولای شي یواځې کوروالی ورسره نشي کولای .
۸ : حکومت ته دا روا ندي چې یوځل یې چاته وینځه ورکړله بیا یې ورڅخه واخلي لکه خپله منکوحه ښځه .
۹ : یو عسکري قوماندان په موقتي توګه چاته دا اجازه نشي ورکولای چې په بندیانو خپله شهواني او جنسي تنده ماته کړي او یا یې په موقتي ډول پر هغوی وویشي .
۱۰ : د وینځو د ساتلو کوم ټاکلی حد نشته ده مګر مطلب دا ندی چې شتمن خلک دې بې شمېره وینځې واخلي او دعیاشۍ مرکز دې جوړ کړي .

www.melitahrik.com 0777 400 116

## د ښځو نبوت :

د ښځو د نبوت په هکله علما درې ډلې دي یوه ډله د ښځو نبوت بالکل نه مني بله ډله چپ پاتې دي او بله ډله وایي چې په ښځو کې نبیانې تېرې شوې دي خو جمهور علماء د ښځو له نبوت سره مخالف دي ځوک چې د ښځو له نبوت څخه انکار کوي بنیادي دلیل دا ایت نیسي [ وما ارسلنا قبلک الارجالانوحی الیهم ][۳۸۴]
یعنې : (( او موږ مخکې له تا څخه نه دي لېږلي مګر نارینه چې موږ هغوی ته وحی کوله . ))
دوی وایي چې پدې ایت که د رسالت لپاره نارینه یاد شوی دی یعنې پدې ایت کې الله (ج) فرمایي چې مانه دي لېږلي رسولان مګر په نارینه وو کې

---

(۳۸۴)الانبیا :۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د ښځو د نبوت پلویان وايي چې پدې کې هېڅ شک نشته چې په ښځو کې رسولان نه دي تېر شوي، دلته خبره په رسالت کې نه، بلکې په نبوت کې ده نو د حق پلټونکي ته په کار دی چې لومړی نبوت وپېژني او بيا حکم وکړي.

د نبوت لفظ له نباء څخه اخېستل شوی دی چې اعلام او خبرولو ته يې وايي.[۳۸۵]

نو چا ته چې الله (ج) په یوه څه خبر ورکړي چې دا به کېږي مخکې له دې چې هغه وشي او یا دیو څه په کولو ورته وحې وکړي نوا بن حزم وايي دا بيشکه نبي دی دا چې الله (ج) فرمايي: [ وليس الذکر کالانثی ]

يعني: ((نارينه د ښځې په څېر ندي)) راشد الغنوشي وايي: معنی دا چې دا دواړه ډلې ديوبل د دندو د سرته صلاحيت نلري ځکه چې دا دواړه هريو مختلفی دندې لري د راشد الغنوشي د وينا په اساس امام قرطبي (رح) هم د دې خبرې په ثبوت تاکيد کړی دی چې په ښځو کې نبياني تېرې شوې دي.

ځيني وايي چې رسالت دعوت او رسولو ته اړه لري خلک به الهي شريعت ته رابولي ستونزې او تکليفونه به تېروي او دا کار د ښځې له توان څخه وتلی دی نو لکه چې مخکې مو وويل ټول پدې اتفاق لري چې د رسالت مرتبه ښځو ته ورکړل شوې نده د رسالت او نبوت ترمنځ توپير شته دی.

---

[۳۸۵] لسان العرب ابن منظور افريقی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول هغه چاته ویل کېږي چې په دعوت او تبلیغ مکلف وي خپل رسالت به خلکو ته رسوي خلک به الهي شریعت ته رابولي او دا کار په نبي نشته .[386]

نبي هغه چا ته ویل کېږي چې د الله (ج) لخوا ورته دیو کار په عملي کېدلو او یا دیو کار په کولو وحې شوې وي ، او قران ګواه دی چې داسې وحې ډېرو ښځو ته شوې دي ابن حزم د ښځو د نبوت په هکله پخپل کتاب کې یو لوی فصل لیکلی دی .....الفصل فی الملل ولاهواء و النحل، امام ابي محمد علی ابن احمد بن سعید بن حزم ج : ۳ ص : ۱۷ .

په قران کې ثابته ده چې الله (ج) د اسحاق (ع) مورته پرښتې ورولېږلې او په حقه او سیې وحې یې ورته په اسحاق زیری ورکړ .

(( و امراء ته قائمة فضحکت فبشرناها باسحاق ومن وراء اسحاق یعقوب قالت یا ویلنا ااُلد وانا عجوز وهدا بعلی شیخاً ان هذا لشئ عجیب قالوا اتعجبین من امرا الله رحمت الله وبرکاته علیکم اهل البیت انه حمید مجید .))[387]

یعني : (( د ده ښځه ولاړه وه بیا دې وخندل بیا موږ ، زیری ورکړ دې ته د اسحاق په پیدا کېدلو باندې او له اسحاق څخه وروسته په یعقوب باندې دې وویل افسوس دی ایا زه به بچی وزېږوم حال دا دی چې زه بوډۍ یم اوز ما خاوند بوډا دی دا یوه عجیبه خبره ده هغوی وویل ایا تعجب کوې له حکم د الله (ج) څخه ، د الله رحمت او برکتونه دي په تاسو ای دکور خلکو یقیناً الله (ج) دی ستایل شوی لویي والا .))

---

[386] شرح العقیده الطحاویه قاضي صدر الدین ابن العز الحنفي .

[387] هود : ۷۰_۷۳ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ابن حزم وايي د أتعجبين من امر الله ›› وينا هېڅ امکان نلري چې دا خبرې به د ملائکو پواسطه له نبي څخه پرته بل چاته شوي وي .
الله (ج) جبريل د عيسى (ع) مور بي بي مريمې ته له خپل خطاب سره ولېږه او ورته يې ويل . [ انما انا رسول ربک ، لاهب لک غلاما ذکيا .] .[388]
يعنې : يقيناً زه خورا لېږل شوی يم له جانبه د رب ستا چې تاته يو هلک پاک درکړم . ››
نو دا په سيي وحې سره سيي نبوت دی چې الله (ج) ورپه برخه کړ او زکريا (ع) يې چې په خوا کړی لېږل شوې روزي وليدله نو دهمدی فوق العاده او غير معمولي حالت په ليدلو يې له الله (ج) څخه د نېک اولاد غوښتنه وکړله .
د موسی (ع) مورته سيند ته د زوی په غورځولو وحې وشوه او په دې يې خبره کړله چې دا مور ببرته تاته راستنوو او بيا يې په رسالت لېږو .
[ اذ اوحينا الى ام موسى ان ارضعيه ] .[389]
يعنې : ‹‹ هغه وخت چې مور وحې ولېږله مور د موسی ته چې ده ته تی ورکوه .››
[ اذ اوحينا الى امک ما يوحى ] .....طه : ۳۸ .
يعنې : ‹‹ او کله چې مور وحی ولېږله مور ستا ته کوم چې وړاندې ويلی شي ›› نو د دې په نبوت کې هېڅ شک نشته دی .

---

[388] مريم : ۱۹ .
[389] القصص : ۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله (ج) په صورت مریم کې انبیاء یاد کړي چې د هغوی په لیکه کې یې بي بي مریم هم راوستې ده او بیا فرمایي : [ اولئک الذین انعم الله علیهم من النبیین من ذریة ادم وممن حملنا مع نوح ][390]

یعنې : (( دا هغه خلک دي چې الله (ج) پرې انعام کړی د ادم (ع) له اولاد څخه او له هغه څخه چې مونږ د نوح (ع) سره سواره کړي . ))

او د الله (ج) دا وینا چې ( مور یې رښتونې وه ) دا د هغې د نبوت مانع نه ګرځي ځکه چې الله د یوسف (ع) په هکله هم همداسې ویلي دي ، [ یوسف ایها الصدیق ][391]

یعنې : (( یوسفه ای رښتونیه )) او دا سره له دې هم نبي و ))

ابن حزم وایي که د موسی (ع) مور دالله(ج) لخوا څخه په نبوت کلک یقین نه درلودلای نو یوائې په خوب لیدلو یا په زړه کې د څه شي په تېرېدلو به یې خپل زوی سیند ته نه غورځاوه او که بل څوک داسې کار وکړي نو د داسې چا ماغزه باید په روغتون کې تداوي شي داد هغې وحې په خبر وه چې الله (ج) ابراهیم (ع) ته دهغه د زوی ذبیح الله (اسماعیل (ع) په هکله خوب ښودلی و نو که ابراهیم (ع) پخپل نبوت او رسالت اعتبار نه درلودلای نو یوائې په خوب لیدلو به دخپل زوی قربانئ ته نه و چمتو شوای او که له انبیاوو څخه پرته بل څوك داسې کار وکړي چې په خوب لیدلو خپل اولاد دریاب ته وغورځوي یا یې حلال کړي نو دا به لوی ظلم غټه ګناه او لېونتوب وي .

---

[390] مریم : ۵۸ .
[391] یوسف : ۴۶ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه وحې هغه طبعي الهام هم ندی چې الله (ج) مچیو او نورو مرغانو ته کړې دی چې په خپل طبیعت ځان ته کورونه او جالې جوړوي ، همګئ اچوي بچیو ته روزي پیدا کوي او نه ګومان و چې له لېوني څخه پرته بل څوک یې رښتیا نه ګڼي او نه د کوم نجومي یا کاهن څخه اخېستل شوی معلومات و ، بلکې دا هغه وحې وه چې هدف او غرض ترېنه نبوت و رسول الله (ج) فرمایي : [ کمل من الرجال کثیر ولم یکمل من النساء الامریم بنت عمران و اسیة بنت مزاحم امراة فرعون ].(۳۹۲)

یعنې : (( کمال ته له نارینه و څخه زیات رسېدلي او له ښځو څخه کمال ته نه دي رسېدلی مګر مریم د عمران لور او اسیه د مزاحم لور[ فرعون مېرمن ] )) کمال خو په نارینه و کې له انبیاوو څخه پرته بل چا کې نشته ځکه چې بې له شکه نور ټول انسانان ناقص او نیمګړي دي او تخصیص د مریمې او اسیې له نورو هغه ښځو څخه چې نبوت ورکړې شوی دی د فضیلت په خاطر دی ځکه چې که یو دبل له درجې څخه ډېره کمه اندازه هم وروسته وي نو دا د هغه په پرتله له هغه ځینې ټیټ دی او کامل نه دی الله (ج) فرمایي : [ تلک الرسل فضلنا بعضهم علی بعض ].(۳۹۳)

یعنې : موږ دا پیغمبران ځینې په ځینو نورو غوره ګرځولي دي . ))

کامل هغه څوک دی چې له نوع او جنس څخه هېڅوک هم ورپسې ونه رسېږي .

راشد الغنوشي وایي چې : د ښځو نبوت یوه یقني خبره ده.(۳۹۴)

---

(۳۹۲) بخاري ، مسلم ، ترمذي ابن ماجه او مسند احمد .

(۳۹۳) البقره : ۱۵۸ .

(۳۹۴) د مصباح اوونیزه . ۱۴_۱۱_۱۳۷۰ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

والله اعلم

پای

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درنو لوستونکو ؛

دا کتاب چې تاسو ولوست ـ انشاء الله ـ دا حقیقت به مو اوس منلی وي چې په اسلام کې د ښځو د حقوقو په هکله بالکل د حقیقت پربنسټ ولاړ، له افراط او تفریط څه پاک دی دا چې څه مو ولوستل دا زما خپله پوهه او قابلیت نه و، بلکې د مختلفو علماء و نظریات او افکار دي چې د مسئلې دښې روښانتیا په غرض دلته رانقل شوي دي.

هیله لرم چې له تعصب څخه په پاک ذهنیت او فکر به قضاوت وکړئ چې ښځوته حقوق په اسلام کې ورکړل شوي دي او که په نورو مذهبونو او وضعي قوانینو کې؟ او د پردیو پروپاګند څه حقیقت لري او که نه ؟

هیله ده چې د خپلې ټولنې په اصلاح کې به کوښښ وکړئ او ورور مو له دعاګانو هېر نکړئ.

په درنښت

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذ او مراجع


١. معارف القران : د پاکستان لوی مفتي مولنا محمد شفيع .
٢. جامع البيان عن تاويل القران : محمد ابن جرير طبري (رح) .
٣. الکشاف عن حقايق التنزيل وعيون الاقاويل : ابي القاسم محمدبن عمر زمحشري .
۴. روح المعاني : علامه شهاب الدين سيد محمد الوسي بغدادي .
۵. صفوه التفاسير : محمد علي صابوني .
٦. الجامع الاحکام القران : ابي عبدالله محمد بن احمد الانصار القرطبي .
٧. تفسير القران العظيم (ابن کثير) حافظ عماد احمد بن ابي الفداء اسماعيل بن کثير .
٨. روائع البيان فی تفسير ايات الاحکام: محمد علي صابوني .
٩. تفسير سورة النور: شيخ محمد اباصيري .
١٠. صحيح بخاري : ابي عبدالله محمد ابن اسماعيل ابن ابراهيم البخاري .
١١. صحيح مسلم : ابوالحسن مسلم بن الحجاج نشاپوري .
١٢. سنن ابن ماجه : ابوداود سليمان ابن الاشعث سجستاني .
١٣. جامع ترمذي : ابي عيسى محمدابن عيسى .
١۴. سنن ابن ماجه : ابي عبدالله محمد ابن يزيد القزويني .
١۵. سنن نسائي : ابو عبدالرحمن محمد ابن شعيب بن علي بن بحرالنسائي .


www.melitahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲. سنن دار قطني : عبدالله ابن محمد دار قطني .
۱۷. المستدرک : حافظ ابي عبدالله محمد عبدالله حاکم النشاپوري .
۱۸. المسند: امام احمد بن حنبل .
۱۹. موطا: امام مالک .
۲۰. فتح الباري : احمد ابن علي محمد ابن حجر العسقلاني .
۲۱. شرح مسلم : ذکریا محی الدین بن شرف النووي .
۲۲. ریاض الصالحین : ابي ذکریا محي الدین شرف النووي .
۲۳. معالم السنن : امام ابي سلیمان الخطابي .
۲۴. نصب الرایه: علامه جمال الدین ابي محمد الزیلعي .
۲۵. السنن الکبري : ابي بکر احمد ابن حسین ابن علي البیهقي .
۲۶. سنن الدارمي : ابي محمد عبدالله ابن بهرام الدارمي .
۲۷. الاصابه فی تمیز الصحابه : احمد ابن علي ابن محمد ابن حجر العسقلاني .
۲۸. نیل الاوطار : محمد ابن علي ابن محمد الشوکاني .
۲۹. جامع الصغیر : امام عبدالرحمن ابن کمال الدین السیوطي .
۳۰. مشکوة المصابیح .
۳۱. معجم الکبیر : ابن القاسم سلیمان ابن احمد الطبراني .
۳۲. الفصل فی الملل ولاء هواء و النحل : امام ابي محمد علي ابن احمد ابن سعید ابن حزم .
۳۳. شرح العقیده الطحاویه : قاضي صدرالدین ابي العزالحنفي .
۳۴. بحرالرزائق : زین الدین نجیم مصري .
۳۵. بدائع الصنایع فی ترتیب الشرایع : علاوالدین ابوبکر کاساني .

(c) ketabton.com: The Digital Library

٣٦. فتح القدير : امام كمال الدين محمد ابن عبدالواحد ابن الهمام .
٣٧. المبسوط : ابي بكر محمد ابن احمد شمس الائمه السرخسي .
٣٨. مجمع الانهر شرح ملتقي الابحر : عبدالله محمد ابن سليمان .
٣٩. ردالمختار علي الدرالمختار :سيد محمد امين المعروف بابن عابدين .
٤٠. الاختيار لتعليل المختار المسمي بالاختيار لشرح المختار : عبدالله ابن محمود ابن مودود النسفي .
٤١. فتاوي هنديه (عالمګيريه) مولنا شيخ نظام او د هند د علماء و ګډ تاليف .
٤٢. حاشيه ابن عابدين : سيد محمد امين المعروف بابن عابدين .
٤٣. الهدايه : شيخ الاسلام برهان الدين ابو الحسن ابن ابي بكر المرغينائي فرغاني .
٤٤. البريقه شرح الطريقه : ابي سعيد خادمي قونوي .
٤٥. مختصر القدوري : مولنا عبدالحميد .
٤٦. الاشباه والنظائر : شيخ زين العابدين ابن ابراهيم ابي نجيم .
٤٧. تحقه المحتاج : شهاب الدين ابن حجر الهيتمي .
٤٨. نهايه المحتاج الى شرح المنهاج : شمس الدين محمد ابن ابي العباس الرملي .
٤٩. المهذب : ابو اسحاق ابراهيم ابن علي يوسف .
٥٠. الوجيز : امام ابي حامد الغزالي .
٥١. المجموع شرح المهذب : ابي ذكريا محي الدين ابن شرف النووي .

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۲. مغنـي المحتـاج الـى معرفـه الفـاظ المنهـاج : محمـد شـربيني الخطيب .
۵۳. حاشيه الباجوري : شيخ ابراهيم الباجوري .
۵۴. الميزان : امام شعراني .
۵۵. بدايه المجتهد و نهايه المقتصد : محمد ابـن احمـد ابـن محمد ابن رشد .
۵۶. شـرح الكبيـر علـى مـتن المقنـع : شـمس الـدين اوبـو الفرج عبدالرحمن .
۵۷. المغني : ابن محمد عبدالله ابن احمد ابن قامه .
۵۸. غايه المنتهي : شيخ مرعي بن الكرمي الحنبلي .
۵۹. زاد المعـاد فـى هـدي خيـر العبـاد : محمـد ابـن ابي بكـر ابـن القـيم الجوزي .
۶۰. فتاوي ابن تيميه : امام ابن تيميه .
۶۱. احيا علوم الدين : امام حامد الغزالي .
۶۲. كتاب الفقه على المذاهب الاربعه : عبدالرحمن جزيري .
۶۳. الفقه الاسلامي وادلته : دكتور وهبه الزحيلي .
۶۴. فقه السنه : سيد السابق .
۶۵. حجته الله البالقة : احمد ابن عبدالرحمن الـدهلوي معـروف پـه شـاه ولي الله دهلوي .
۶۶. اللباس والزينه فى الشرية الاسلاميه : محمد عبدالعزيز عمرو .
۶۷. الانكحه الفاسده : عبدالرحمن بن عبدالرحمن شميلة الامدل .
۶۸. النكاح والقضايا المتعلقه به : دكتور احمد الحصري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦٩. الاحوال الشخصيه فى الشريعة الاسلاميه : محمد محي الدين عبدالحميد .
٧٠. فقه الزكوة : دكتور يوسف قرضاوي .
٧١. المحلي : امام ابي محمد علي ابن احمد ابن سعيد ابن حزم ظاهري الاندلسي .
٧٢. الموافقات في اصول الشريعة : ابو اسحاق الشاطبي .
٧٣. المستصفى من علم الاصول : امام ابي حامد الغزالي .
٧٤. اصول الفقه : عبدالوهاب خلاف .
٧٥. الطبقات الكبري : الابن سعد .
٧٦. الاستيعاب في معرفه الاصحاب لابن عبدالبر .
٧٧. سيرة النبي : ابي محمد عبدالملك ابن هشام .
٧٨. الكامل في التاريخ : المبارک ابن احمد ابن اثير الجزري .
٧٩. تاريخ الامم والملوک : محمد ابن جرير الطبري .
٨٠. الاحكام السطانيه : امام ابي الحسن علي ابن محمد ابن حبيب بصري الماوردي .
٨١. السياسه في الفكر الاسلامي : دكتور احمد الشلبي .
٨٢. الوسيط في النظم الاسلاميه : دكتور قطب محمد قطب الطبيله .
٨٣. مبادي نظام الحكم في الاسلام : دكتور عبدالحميد متولي .
٨٤. من اين نبدا : استاد عبدالمتعال سعيدي .
٨٥. الخليفه توليته وعزله : دكتور صلاح الدين دبوس .
٨٦. مذكره في التاريخ التشريع : شيخ عبدالمتولي عبدالباسط .
٨٧. مبدا المساوات في اسلام : دكتور فواد عبدالمنعم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸۸. الخلاقه والملک : سيد ابو الاعلي مودودي .
۸۹. نظام الحکم في الشريعه : شيخ احمد الفاضل .
۹۰ . نظام الحکم في الشريعه : شيخ احمد الفاضل .
۹۱ . ملامح الشوري : عدنان النجوي .
۹۲ . الشوري واثرها في الديمقراطيه : دکتور عبدالحميد اسماعيل الانصار .
۹۳. طرق الحکميه في السياسه الشرعيه : محمد ابن ابي بکر ابن القيم الجوزي .
۹۴. اسلامي سياست : مولنا گوهر الرحمن .
۹۵. عمر ابن خطاب : دکتور سليمان الطحاوي .
۹۶ . فرد او دولت : دکتور عبدالکريم زيدان .
۹۷ . فرد او دولت : دکتور عبدالکريم زيدان .
۹۸. تلبيس ابليس : محمد ابن ابي بکر ابن القيم الجوزي .
۹۹.
الاغاني : امام ابوالفرج الاصفهاني .
۱۰۰ . اداب مباشرت يعني ميان بيوی کې د رميان جنسي تعلقات کا صحيح طريقه داکتر افتاب احمد شاه .
۱۰۱ . تحفة العروس : محمود مهدي استانبولي .
۱۰۲ . رفاه المسلمين : حضرت مولنا شاه اسحاق دهلوي .
۱۰۳ . پرده : سيد ابوالاعلی مودودي .
۱۰۴ . المقدمه : عبدالرحمن ابن محمد ابن خلدون .
۱۰۵ . الحياة الاجتماعيه عندالعرب : استاد ظافر القاسمي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰۶ . اداب الزفاف فی السنة المطهره : شیخ محمد ناصرالدین الالباني .
۱۰۷ . الاسلام بلا مذاهب : دکتور مصطفی الشکعه .
۱۰۸ . الانسان ذلک المجهول : دکتور کیسس کاریل.
۱۰۹ .مبادي علم التشریع و وظایف الاعضا : دکتور شفیق عبدالملک .
۱۱۰ . المرأة في القران والسنه : محمد عزه دروزه .
۱۱۱ . حقوق المرأة في الاسلام : عبدالقادر شبیه الحمد .
۱۱۲ . المرأة في القران : استاد محمود العقاد .
۱۱۳ . وظیفه المرأة المسلمه : علي القاضي .
۱۱۴ . المراة بین البیت والعمل : دکتور حسین مونس .
۱۱۵ .المراة في الشریعه الاسلامیه : شیخ محمد متولي الشعراوي .
۱۱۶ . المراة في منظور الاسلام : دکتور حسین مونس.
۱۱۷ . نظام حقوق زن در اسلام : مرتضی مطهري .
۱۱۸ . زن وشوهر :محمدعلي صفري .
۱۱۹ .المراة المسلمه : عبدالله جارالله .
۱۲۰ . فتاوي المراة المسلمه شیخ عبدالله ابن حمید سلفي .
۱۲۱ .حیاة المراة المسلمه : دکتور یوسف القرضاوي .
۱۲۲ . النقاب المراة : دکتور یوسف القرضاوي .
۱۲۳ . فتاوي المره المعاصرة : دکتور یوسف قرضاوي .
۱۲۴ . فتاوي المرء ة المسلمه : ابو محمد اشرف عبدالمقصود .
۱۲۵ . حیاة المراة المسلمه : شیخ عبدالله جارالله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا ډول په دې کتابونو کې له مختلفو پښتو ، فارسي ، اردو او عربي خپرونو ( ورځپاڼو) او ونیزو او میاشتنو خپرونو ) څخه استفاده شوې ده .

www.melitahrik.com
0777 400 116

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**